# د پښتو ژبې ننني مسأَلې

د پښتو د ولي او ملي بابا (لوی استاد - علامه حبيبي)

د عالمانه نظريو په رڼا کې، انتقادي څېړنه

ليکوال: محمد هارون خپل شعشعي

Ketabton.com

لندن، ۲۰۰۷ ميلادي کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: د پښتو ژبي ننني مسألې

د پښتو د وتلي او منلي بابا ( لوی استاد- علامــه حبيبي ) د عالمانه نظريو په رڼا کي، انتقادي څېړنه

ليکوال :: محمد هارون خپل شعشعي

چاپکال :: لندن، ۲۰۰۷ ميلادي کال

کمپوز/ ډيزاين ::خپله ليکوال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اهدأ**

د پښتو ژبي د ننييو مهمو مسألو په اړه دا کوچنی کتابگوټی، د افغاني فرهنگ د تر ټولو لوړ ليکوال او څېړونکي ( لوی استاد - علامه عبدالحي حبيبي) سپېڅلي اروا ته وړاندي کوم، چي پاخه او نوښتگر علمي اثار به يې، تل تر تله د بې شماره ليکوالو او څېړونکو د لاري مشال وي .

محمدهارون خپل شعشعي

د چاپ ټول حقوق له ليکوال سره خوندي دي دانلان چاري بېنوا ويب پاڼه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مخکنۍ خبري

## د لوی خدای په نامه

زه په یوه سوچه پښتني کورنۍ کي زوکړی یم . د لوی او مهربان څښتن له برکته او د خپل فاضل او عارف پلار په زيار مي، په کورني چاپېر کي تل د پوهي او څېړني خورا په زړه پوري اثار مونډل کېده . دا هم د هغه بې ساري غني او سخي ذات پېرزوينه وه، چي له کوچني والي څخه مي د دې مادي نړۍ تر هر نعمت له کتاب او قلم سره ډېره مينه لرله . د ښوونځی کتابونو به مي د زده کړي او پلټني تنده نه ماتوله، نو ځکه به زیاتره د بېلابېلو ورځپاڼو، مجلو او کتابونو په لوست بوخت وم . په پیل کي مي د نورو ژبو په پرتله، له خپلي مورنۍ او پلرنۍ ژبي ( پښتو ) سره مينه او څوَب ډېر زيات ؤ . د ځينو پخو او پیاوړو پښتنو لیکوالو د خوږو لیکنو خوند مي تر اوسه هم له زړه نه وزي . باور وکړئ، چي د ځينو ليکوالو خوږو علمي مضمونونو او داستاني اثارو به د کهربا په څېر په ځان پوري موښلولئ وم ؛ يوګړی به يې بلي خوا ته نه پرېښووم . ښه مي په یاد دي، چي ځيني رسالې او کتابګوټي به مي هيڅکله دوهمي ورځي ته نه پرېښوول ؛ په دوبي کي به کله په خونه او کله به د باندي د تاکانو تر يخ سيوري لاندي، په داسي جوش او جذبه د هغو په لوستلو اخته وم، چي د دونيا ټولي ښې او ښادۍ به مي هېري وې . د مني او ژمي په پيتاوي کي به مي هم، د داسي اثارو په لوستلو سره د زړه ګرمي لا زياتيده؛ خو له بده مرغه په پښتو کي د داسي ليکنو او اثارو شمېر له لويه سره ډېر لږ ؤ ؛ او هغه په دې، چي له يوې خوا د زمانو ډول ډول ناخوالو زموږ د لرغوني او سپېڅلي پښتو ډېر ارزښتناک او ګران بيه اثار له خاورو سره خاوري کړي دي؛ او له بلي خوا ځينو بې دردو پښتنو واکمنانو هم په خپلو ناسمو سياستونو سره، د خپلي سپېڅلي ژبي او اصيلو دودونو پر ځای، د نورو ژبو او فرهنګي ميراثونو، روزني او پالني ته ملاوي تړلي وې؛ او تر اوسه پر دې پله پل ږدي . تاريخ شاهد دئ، چي د دې خاوري د ننګ او ناموس په ساتنه کي، تر هر چا مخکي د اتلو او زړورو پښتنوويني توی سوي دي؛ او لا پسي تويېږي؛ خو په ډېر تأسف سره چي د هيواد زياترو سياسي حاکمانو يې لرغوني او وياړلي ژبي ته ، د دوهمي درجې ژبي په سترګه کتلي؛ او لا کتل کيږي . دې بې رحمانه چلند، پښتو له ښارونو او مدني ژوند څخه ليري په غرونو او رغونو کي ايسار کړې وه ؛ د ودي او پرمختګ ټولي لاري يې بندي سوي وې . د همدې دلايلو له مخي، ناڅاپي نه ده چي پښتو اوس له ادبي او علمي اړخه، ډېره خواره او نېستمنه پاته سوې ده. . .

که څه هم نن سباپه پښتنو کي د خپلي لرغوني ژبي او پښتني رواجونو د را ژوندي کولو مينه، تر بل هر وخت ډېره سوې ده؛ مګر د پښتو د ودي او غوړېدو په لار کي پېچومي او کړاونه تر پخوا نه دي لږ سوي . د بې شماره ستونزو او ربړونو له ډلي څخه يوه مهمه ستونزه د � معياري � او � سوچه � پښتو په نامه د ځينو پښتنو ژورناليستانو، شاعرانو، ليکوالو او پوهانو افراطي هلي ځلي دي، چي زموږ د مندو او پلرونو ساده، اسانه او خوږه پښتو يې په يوه زموخته، پېچلي او کړکېچنه ژبه اړولې ده . د هري ورځي په تېرېدو سره د پښتو په وينګ او کښنګ ( شفاهي او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحريري بڼه) کي، توپير مخ په ډېرېدو دئ . دې کار د ژبي طبيعي ښکلا، اساني او خوږوالی تر ډېره ځايه له منځه وړی دئ؛ پښتو نه يوازي د دې ژبي بهرنييو مينه والو ته د رياضي او فزيک تر فارمولونو گرانه سوې ده؛ بلکي موږ ټول پښتانه هم د � معياري � او� سوچه � پښتوله ناوړو اغېزو خلاص نه يوو . ځينو بې پلټني او څېړني په چټکۍ سره د نوو ټکو او اصطلاحاتو جوړولو ته پونده ورکړې ده؛ هر څه چي يې پر دماغ ښه ولگېږي، سمدلا سه يې د نوي لغت او نوي اصطلاح په نامه را باسي؛ او بيا يې د خپلو سياسي ملگرو، شخصي خواخوږو او شاگردانو په مرسته په بېلابېلو مطبوعاتي وسيلو کي د پخو کاڼو او وروستيبو پرېکړو په توگه خپروي؛ ځيني د ټولنيزو ژوند د مسلطلو قوانينو، په تېره بيا د کليماتو د مرگ او ژوند د قانون پر خلاف، په تکلف او تصنع سره کوښښ کوي، چي هر څه د امير کروړ په ژبه و وايي او وليکي؛ ځيني نور بيا يوازي د خپلي خوښي لرغونو او وضعه کړو ټکو يو بد خونده کيچړې د � معياري پښتو � په توگه ټولني ته وړاندي کوي؛ او له هر چا څخه په کلکه غواړي، چي په پټو سترگو يې ومني؛ او خپرولو ته يې ملاوي وتړي.

د خلگو په ژبه او نورو اصيلو فرهنگي ميراثونو دا چپه غوبل، په واقعيت کي د هغو کسانو له خوا کيږي، چي له يوې خوا ځانونه د پښتو ژبي او پښتني دودونو سرسپارلي ساتونکي گڼي؛ او له بلي خواپه ډاډ او جرأت سره ادعا کوي، چي د پښتو ژبي، ادب او تاريخ په څېړنه کي هيچيري تر دوی لوړ علمي او مسلکي مقام نسته؛ نو ځکه پرهر هغه چا د جهالت او بې سوادۍ ټاپه وهي، چي د دوی پر هر ناسم او ناسره نوښت د انتقاد گوته نيسي . د هيواد مطبوعات او د بېلابېلو تعليمي او تحصيلي مؤسسو د زده کړي کتابونه خوڅه چي د شعر رنگارنگي، لطافت او نوښتگري هم د � معياري � او � سوچه � پښتو له شر او ناوړه اغېزو خوندي نه ده پاته . سربېره پردې، د دې افراطي غورځنگ پلويانو له څو کلونو راهيسي کرار کرار دې خبري ته هم لستوڼي را نغښتي دي، چي د پښتو گرده پخواني اثار هم د خپلو جعل کړو معيارونو پر بنسټ له سره چاپ کړي؛ او په دې توگه د پښتو ژبي او ادب په تاريخ کي، د بېلابېلو لهجه يي توپيرونو او ځانگړتياوو ټولي نښي نښاني له منځه يو سي؛ په بله وينا هر څه له امير کروړه تر دې دمه، د خپلو ناسمو معيارونو په خوم ( خم ) کي ورنگوي؛ د مثال په توگه هر چيري چي د � سو � او � سي � ټکی وگوري، سمدستي يې په � شو � او � شي � اړوي . همدغه راز د � څلرم � او � نونسم � په څېر ټکي بې هيڅ پلټني او گروېږني په � څلورم �، � نولسم � او داسي نورو بدلوي؛ اما په دې عيني واقعيت ځانونه نه خبروي، چي د خدای بخښلو شاعرانو يا ليکوالو له سلو پښتو څخه يو پښت هم د دوی په شان پښتونه ويل او نه ليکل . همدا اوس د احمدشاه بابا، پيرمحمد کاکړ، شمس الدين کاکړ او نورو له شعري ديوانونو څخه رانيولې د لوی استاد - علامه عبدالحي حبيبي، منلي شاعر او ليکوال - استاد عبدالرؤف بېنوا، فاضل استاد - علامه عبدالشکور رشاد او ځينو نورو شاعرانو، ليکوالو او څېړونکو له لوړو ادبي او علمي اثارو سره همداسي لوبي کيږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې کبله د اريانۍ ( حيرانۍ ) خبره نه ده، چې نن سبا د پښتو په هغو اثارو کې، هيڅ خوند او خوږوالی نه ليدل کېږي ، چې د � معياري � پښتو په اومه او کرغېړن رنګ لړل سوي وي . د � معياري � او � سوچه � پښتو په نامه دغو بې ځايه او بې ګټې کوښښونو زياتره پښتانه دې ته اړ کړي دي، چې د خپلو ذوقي او علمي اړتياوو د ليري کولو په مقصد نورو ژبو له هغې ډلي څخه پارسي او اُردو ته مخه کړي . د داسي پښتنو شمېر لږ نه دي، چې له نورو تېرونو سره د دوستۍ او خېښۍ په وجه اوس په کورونو کې پارسي يا اردو وايي؛ خو د زړه له کومي هيله لري، چې د خپلو پلرونو او نيکونو په خوږه ژبه ليک او لوست زده کړي . ليکن په خواشينۍ سره د � معياري � پښتو پلويانو، زموږ د پلرونو او نيکونو خوږه پښتو اوس دونه پېچلې او ګرانه کړې ده، چې نه يوازي يې هغوی زده کړي ته زړه نه ښه کوي؛ بلکي زموږ په څېر سوچه پښتانه يې هم له ډېرو ربړونو او پېچومو سره مخامخ کړي دي .

دغو ټکو ته په پام سره مي، له ډېرو کلونو راهيسي په زړه کي وه، چې د پښتو د بې خونده کولو او ګرانولو پر دغه ناسم بهير څه وليکم؛ او په دې توګه د خپلي اسانه او خوږې ژبې په خوندي کولو او روزلو کي خپله ونډه واخلم . له نېکه مرغه تر ما مخکي زموږ د هيواد تکړه ليــــکوال او څېـــــړونکي ، ښاغلي محمد معصوم هوتک، د يوې پراخي ليکني په ترڅ کي، د معياري او سوچه پښتو پر ځينو مهمو اړخونو علمي او مستدلي خــــبري وکړې، چـــې د � معـيــــاري پښتو� د ځيـــــنو ټېکه دارانو له ناوړه غبرګونونو سره سره يې، د پښتو ژبې په پراخو کورنيو او بهرنيو مينه والو کي پراخ هرکلی را وپاروه ( عُمر دې ډېر او قلم دې غښتلۍ وي .)

په دې لنډه ليکنه کي، چې اوس ستاسي درانه حضور ته وړاندي کيږي، د معيار او معياري ژبې پر بېلابېلو اړخونو او د ژبې د سوچه تابه پرڅو اړخيزي څېړني سربېره، په ننۍ پښتو کي د ځينو التباسونو او ناوړه ترکيبونو د څو بولګو او په پای کي د پښتو ژبې د ريښتني بشپړتابه په باره کي، ځيني تحليلي او انتقادي خبري سوي دي .

په دې خاطر چې په افغانانوکي د اثارو علمي کره کتنه تر ډېره حده نوی ګام او نوې پېښه ده؛ او ډېر ځله يې د علمي نقد اصلي هدفونو ته د خدمت پر ځای، د ليکوالو او څېړونکو تر منځ راز راز تربګنييو ته لاره هواره کړې ده، نو ځکه مي قصداً وپتېيله، چې په خپلو ماتو او ګوډو خبرو کي، د هـــيچا پر ليکنه او نظـــريه مستقيماً ګــــــوتـــــه و نه نيسم . د طرحه سوو مسألو په څېړنه او شننه کي مو د خپلو دلايلو د لاروښانولو او استناد له پاره مو ځای ځای د افغاني فرهنګ په تېره بيا پښتو ژبې او ادب د وتلي او منلي بابا، لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي، ځيني ويناوې او نظريې هم د يوه باوري سند او دقيق محک په توګه وړاندي کړې، چې پر ژبپوهني او ادبپوهني سربېره د ټولنپوهني او فلسفې له اړخه هم خورا لوی ارزښت لري . د پښتو ژبې ټول کورني او بهرني مينه وال په ډېري اسانۍ سره کولای سي د برهان المحققين، لوی استاد علامه حبيبي، د عالمانه او مستدلو نظريو په رڼا کي، زموږ د لرغوني ژبي او شتمن فرهنګ په اړه هر سم له نا سمه بېل کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي ځيني ژبپوهان، ليکوال او څېړونکي د دې انتقادي طرحي له ځينو برخو او ځينو ټکو سره پوره هوکړه ونه لري، چي دا کار په علمي څېړنو کي څه نوې او عجبه خبره نه ده . سره له دې هم له ټولو درنو پوهانو اوګرانو لوستونکو څخه په درناوي هيله کوم، چي د دې ماتي ګوډي ليکني په ټولو برخو کي د ناپوهی، کمــزوري استدلال او نا رسا بيان له امله د دې عاجز پر تېروتنو او نيمګړتياوو سترګي پټې کړي؛ او په خپلو لوړو نظريو او علمي څېړنو سره د هغو په بشپړتيا کي برخه واخلي . د دې ليکني اساسي مقصد هم دا دئ، چي ګرده پښتانه ژبپوهان، ليکوال، څېړونکي، شاعران او صاحب نظران بايد د ساده کولو، اسانه کولو او لا په زړه پوري کولو له لاري، زموږ د وياړلي ژبي ( پښتو ) د ودي او پراختيا له پاره نه ستړي کېدونکي او پرله پسې هڅي وکړي . په بشپړ باور سره، هيڅوک د دې خبري په سموالي او کره والي کي شک نه لري، چي يوازي د اسانی، سادګی او پوخوالي له لاري کولای سو، د هيواد په دننه او بهر کي د پښتو ژبي د مينه والو لمن پراخه کړو؛ او په دې توګه د دې لرغوني او سپېڅلي ژبي د لا پرمختيا او غوړېدو په لار کي ارزښتناک ګامونه پورته کوو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## معيار او معياري ژبه څه ته وايي ؟

د معيار عربي ټکی د عین په زېر سره د � عِيار � له کليمې څخه اخيستل سوی دئ . په لغت کي اندازې، گڅې، مېزان، مقياس، پيمانې، ثابت او منــــــــل سوي ماډل، د سرو او سپينو زرو د پېژندلو ډبري ( محک ) او ترازو، د توپک د ميل بر ( سور )، نورم، قاعدې، اصل او داسي نورو ته ويل سوی دئ، چي معاييـــــــــر يې د جمعي حالت دئ . په انگرېزي ژبه کي د معيـــــــار له پاره، د" Standard " ، " Touchstone "، "Guage"، "Calibre" ، " Norm "، " "Measurementټکـــــي کاروي ( عميد ۳: ۲۲۷۹)، ( Wher 661 )او . ( Robinson 1371 ) په هندي او اردو ژبو کي، همدا عربي ټکی د � مايار يا معايار � په بڼه ادا کوي.

معياري ژبه ، د ويلو او ليکلو هغه بڼه ده، چي زياتره لوستي او پوه کسان يې کاروي ؛ او د زياترو خلگو له خوا د ژبي د سم او کره ډول په توگه مــنله سوې وي . دا ډول ژبه له ښوونځيو او پوهنتونو څخه نيولې بيا تر ټولو دولتي ادارو، قضايي اورگانونو، د چاپ او خپرولو په ټولو مؤسسو، ټولو رسمي ليکنو او ويناوو، حقــوقي او تجارتي چاروکي کارېږي . په دې توگه، معياري ژبه په حقيقت کي د يوې ژبي د لغتونو، اصطلاحاتو، ترکيبونو، تعبيرونو، محاورو، گرامري قاعدو او ځينو نورو ژبنيو جوړښتـونو له منځه تر ټولو غوره سوي او چاڼ سوي شکل ته وايي . په پښتو کي هم معياري ژبه د ويلو او ليکلو هغه متحده او غوره سوې بڼه ده، چي د پښتنو د هري لهجې ويوونکی يې په ويلو او ليکلو کي هيڅ ستونزه او کړاو ونه لري؛ هر چا په خوښۍ او خوشالۍ سره منلې وي .

شک نسته، چي ژبه هيڅکله په څو مياشتو او کلونو کي د معيار تر مقامه نه سي رسېدای . د دې کار له پاره اوږدو او پرله پسي کوښښونو ته اړتيا ده، چي چټکتيا او کراري يې د ټولنيز ژوندانه په بېلابېلو بدلونونو پوري اړه لري . په راتلونکو څپرکو کي د معيار او معياري ژبي پر بېلابېلو اړخونه يوه لنډه کتنه کوو.

## د معيار ټاکلو اړتيا

لکه څنگه چي پوهېږو، په ټولنيز ژوندانه کي د يوه مقصد له پاره د بېلابېلو معيارونو کارَونه، ډول ډول ستونزي او کړاوونه پيدا کوي؛ د مثال په تـــــوگه په کندهار او شاوخوا سيمو کي د يوه سېر وز ن له هغه سېر څخه په تول کي ډېر فرق لري، چي په کابل او ځينو نورو سيمو کي باب دئ . دغه راز، د کندهار من دکابل او ځينو نورو سيمو له منه څخه په وزن کي ډېر بېلوالی لري . په انگليستان کي تر اوسه د پيسو واحداو تقريباً يو پاوي وزن ته پونډ وايي . داسي التباس او گډوډي د سودا کولو پر مهال هر چا؛ په تېره بيا بهرنييانو ته لوی مشکلات پېښوي . کله چي له دوکاندار سره د ځينو شيانو د اخيستو په اړه خبره کيږي، څوک په اسانۍ نه پوهېږي، چي د پونډ په يـــــادولو سره وزن ته اشاره ده که پيسو ته . د لته د بېلابېلو خلگو تر منځ د ډول ډول پيمانو او تولونو په باره کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې کوچنۍ واقعي کيسې يادونه بې ګټې نه ده . يو وخت د کنـــدهار د سيمې يوه پردېس په کابل کې له يوه دوکاندار څخه د يوه سېر بورې د اخيستو غوښتنه وکړه. پلورونکي د بورې مرتبانۍ ته وکتل او د بخښنې په غوښتلو سره يې ورتــه وويل، چې يو سېر بوره نه لري . کندهاری اخيستونکی د دې خبرې په اورېدو سره غوسه سو . ده ويل : � زه فقط يو سېر بوره غواړم؛ خو دوکاندار وايي زه يو سېر بوره نه لرم . � په حقيقت کې دواړه سم ږغېده؛ ځکه چې له يوه سېر وزن څخه د کندهاري پېرېدونکي ( خريدار ) مقصد يوازې يو کيلو بوره وه؛ چې په مرتبانه کې تر هغـــــــــې ډېره مالومېده؛ خوکابل مېشتي دوکاندار د سېر وزن داوو کيلو په مانا پېژنده . دې خبرو ته په پام سره دا نتيجه اخلو، چې د ژوندانه په هره برخه کې د عام او واحد معـــــــيار نټاکـــــل، ډېـــري غلط فهمۍ او پېچومې له منځه وړي.

د ټولنيز ژوند په هره برخه کې، د مختلفو مقياسونو او پيمانو په څېر، د يوې ژبې د بېلابېلو لهجو تر منځ ډول ډول توپيرونه هم ، د هغې ژبې د ودې او پرمختګ په لاره کې راز راز خنډونه او ځنډونه پيدا کوي . د تلفظ او ليکدود په چارو کې بېلابېلې ستونزې، پر ښوونه او روزنه سربېره د ټولنيز ژوند ټولو ګډو ارمانونو ته د رسېدو لاره ډېره ګرانوي؛ نو ځکه د هرې ژبې د ټولو لهجو د لغوي، اصطلاحي، ادبي او علمي زېرمو را غونډول؛ او د پياوړو څو اړخيزو اړيکو له لارې د يوې بشپړې کره او معياري ژبې پر لور هڅه، په ريښتيا سره لوی او ارزښتناک کار دئ.

د بشر د تاريخ لوړې او ژورې د دې انکار نه منوونکي حقيقت ښکارندوی دي، چې د هرې ټولنې په سياسي، اجتماعي، فرهنـــګي او اقتصـــــادي ژوند کـــې هر اړخيز بدلونونه په خپله د نوو معـــيارونو د ايجاد شرايط او امـــکانات برابروي؛ مثلاً د اروپايـــــــي ټولنې ( European Community ) او بيـــــا اروپـــــايي اتحـــــاديــــــې ( European Union ) په جوړېدو سره، اوس د اوويشتو هيوادو د ژوندانه په زياترو برخو کې، خورا ژور او په زړه پورې معيارونه را منځ ته سوي دي . د دغو هيوادو وګړي د يوبل هيواد ته د سفر پر مهال وېزې ته اړتيا نه لري؛ د پيسو د خورا ډېرو واحدونو پر ځای د � يورو � په نامه نوی پولي واحد غوره سو؛ او د سياسي، اجتماعي، فرهنـــګي او اقتصادي ژوند په ډېرو ډګرونو کې داسې نوي اصول او معيارونه را منځ ته سول، چې د ټولو منشأ او ريښه د نړيوالو اړيکو په تيره بيا همدغو اروپايي هيوادونو او سيمې په ډول ډول بدلونونو او پرمختګونو کې نغښتې ده . په دغه راز بدلون او اوښتون کې انسانان ستره او مهمه ونډه لري . انسانان د تکامل له اړتياوو سره سم د خپل ټولنـــــيز ژوند مادي او مانوي ( معنوي ) شرايط اړوي . دا نوي شرايط او حالات په خپل وار سره د نوو بدلونونو لاره هواروي . ترڅو د ژوندانه په مادي او مانوي شرايطو کـــــــــې د پـــــام وړ تغييرات رانه سي، د نوي غوښتنې يا نوي معيار تحقق ګران او حتا نا ممکن کار دئ؛ ځکه نوې پديدې او معيارونه، د انسانانو، ژوو، بوټو او نورو ژونديو موجـــــــوداتو په شان، د خپل پايښت او ودې له پاره د خاصو شرايطو غوښتنه کوي . په دې ډول ګورو، چې د ژوندانه په هره برخه کې د معيار جوړول يو کمپيوټري يا مېخانيکي عمل نه دئ، چې د يوه کليک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کولو یا د یوه سویچ په کښېکښلو سره را منځ ته سي . بالعکس د هر معیار رامنځ ته کول او بریالیتوب یو تدریجي او تکاملي بهیر دئ، چي دانسانانو له بېلابېلو اړیکو او پر له پسې ګډو هڅو سره نېغ په نېغه تړاو لري .

د پښتو ژبي په لیکدود او نورو برخو کي، د نوو معیارونو د غوره کولو مسأله هم باید د ټولني سیاسي، اجتماعي، کلتوري او اقتصـــادي بدلونونو ته په ژوري پاملرني سره و څېړله سي . تر هغه مهاله، چي د پښتنو د خورو ورو پرګنو تر منځ د ټولنیز ژوندانه بېلابېلي اړیکي لا ټینګي او پیاوړي نه سي، د کاغذ پر مخ د معیـــــــارونو ټاکل هیڅ ګټه نه لري . په پښتو ژبه کي، د معیارونو را منځ ته کول یوازي د څو شاعرانو، لیکوالو او پوهانو کار نه دئ . ژبه د نورو ټولنیزو موجوداتو په څېر د خلــــــګو په مــنځ کي زېږي او د ډېرو اوږدو مودو په ترڅ کي وده کوي؛ له دې امله ژبه او ټول فرهنګي میراثونه تر هر څه مخکي د خلګو مال دئ . په بله وینا، خلګ د خپلو پلرونو او نیکونو د دې لرغوني میراث په روزنه او پالنه کي، تر ټولو لویه برخه لري . که څوک د جادوګرانو د منتر په څېر، په وچو فرمانونو او پرېکړو د ژبي په ګډون د خلګو په اجتماعي او کلتــــــوري ژوند کي، د نوو لارو او معیارونو د رامنځ ته کولو خوبونهویني، باید یو پلا د افغانستان د تېر دېرش کلن خونړي تاریخ سیاسي درسونو ته په ځیر سره پام واړوي . زموږ ټولو هیـــــــــوادوالو د سر په سترګو ولیدل، چي په افغانستان کي بېلابېلو سیاسي او پوځي واکمنو ډلو، په خپلو و چو فرمانونو او فتواوو سره د خلګو په اجتماعي، کلتوري او اقتصادي ژوند کي هیڅ ګټور بدلون را نوست . هر څوک پوهیږي، چي اجتماعي او فرهنګي بدلونونه (ژبه هم له هغو سره موازي حرکت کوي ) هیڅکله د سیاسي تغییراتو په شان، د سترګو په رپ کـــــــــــي نه پېښیږي . د ولسونو په ژبه او نوروکلتوري دودونو کي، پاییدونکي تحولات داوږدو کلونو او پراخو ګډو کوښښونو غوښتنه کوي؛ لکه څنګه چي په ونه کــــــــــي د مېوې پخېدل پر هوا، خاوري، اوبو، سرې او نورو عناصرو سربېره وخت ته اړتیا لري، په ژبه کي هم د نوو او منلو معیارونو را منځ ته کول، د خلګو په سیاسي، کلـــــــــــتوري، اجتـــماعي او اقتصادي ژوندکي، د پرمختګ او پوخ والي لازمو شرایطو ته اړتیا لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایا د بېلابېلو شیانو او پدیدو اوسني منل سوي معیارونه، په ناڅاپي ډول جوړ سوه ؟

لکه څنګه چي تاریخ شاهد دئ، د ژوندانه په بېلابېلو برخوکي هر شاخص او معیار هیڅکله په ناڅاپي ډول نه دئ جوړ سوی . هر شی او هره پېښه یوه منلي معیار ته تر رسېدو پوري، د تر قیٔ او پرمختګ تر بېلابېلو پړاوونو تېر سوي دي . د پر مختیا او لوړتیا دا بهیر، سره له ځینو خنډونو او ځنډونو، هیڅکله په بشپړه توګه نه دئ درېدلئ . پرونیيو شاخصونو او معیارونو، د تکامل او پرمختګ له غوښتنو سره سم، خپل ځای ننییو شاخصونو او معیارونو ته پرېښی دئ . د نن منل سوي معیارونه هم بې شکه د سبـــــا د له پیاوړو، څواکمونو او په هره مانا پرمختللو معیارونو سره، د مقابلې وس نه لري . په بله ژبه، هر معیار یوازي د خپل چاپېر او خپل مهال غوښتنو ته جواب وایي . د وختونـــو په تېرېدو سره نوي غوښتني، نوي ذوقونه او نوي اړتیاوي راپیداکیږي . په طبیعت او ټولنیز ژوندکي دا پرله پسې او ناپایه بدلونونه ، تل د نوو معیارونو د جوړولو اړتیا وړاندي کوي . که د وخت، تول، واټن، مساحت ، تېزوالي، ځیرکتیا، پیسو او نورو سلګونو معیارونو تاریخي تګلاري ته یو ه سرسري کتنه وکړو، له ورایه مالومیږي، چي ټول نننــــــي معیارونه تر ډېرو بدلونونو او پرمختګونو وروسته، دې پړاو ته رسېدلي دي . په بېلابېلو سیمو، توکمونو او ډول ډول مدنیتونو پوري تړلو کسانو، پخوا د ژوندانه د هـــــري اړتیا لپاره جلا او ځانګړي معیارونه کارول . نه یې د وزن او واټن معیارونه یو شان وه؛ او نه یې په ټولنیز او سیاسي ژوند کي نور بېلابېل معیارونه . د وزن، ظرفیت، فاصلې او نورو اړتـــیاوو له پاره اوسنی میټریک سیستم په یوه وار منځ ته نه دئ راغلئ . اوسني معیارونه هم هیڅکله پر همدې دې حال نه پاتیږي؛ د مثال په توګه موږ د سر په سترګو ولیـــــــــدل، چي د اروپایي اتحادیې څه د پاسه شلو غړو هیوادو د پر مختګ له غوښتنو سره سم، د خپلو هیوادونو د پیسو د بېلابېلو واحدونو پر ځای، چي هر یو یې په حقیقت کي د راکړي ورکړي بېل معیـــــــار ؤ، د یورو ( Euro) په نامه د پیسو نوی واحد یا معیار را منځ ته کړ . په ځینو هیوادونو کي د پونډ، اونس، میل ، یارډ او نورو په شان � امپېرییل � معیـــــــارونه ورو ورو خپل ځای د � میټریک � نړیوالو منل سوو معیارونو ته پرېږدي؛ او د پر مختګ دا بهیر به تل تر تله جاري وي.

## د ژبي معیارونه څوک ټاکي ؟ اود معیارونو د پایښت قانونمندي څه ده ؟

اصلاً هر معیار په ټولنه کي د یوه اوږده عِلمي، تاریخي، سیاسي، اجتماعي، کلتوري او اقتصادي تړون زېږنده دئ . په بېلابېلو جغـــــرافیایي او سیـــــــــاسي چاپېرونو کي اوسېدونکي خلګ، د خپلو بې شماره غوښتنو او اړتیاوو پر بنسټ د زړو دودونو او معیارونو په له منځه وړلو سره، د نوو معیارونو په جوړولو کي فعــــــــاله برخه اخلي؛ مثلاً خلګ د لویو جرګو، پارلمانونو یا ورته غونډو په جوړولو سره تر پراخو بحثونو، اعتراضونو او غوښتنو وروسته، په خپل هیواد کي د اساسي قانون د تصـــویب او نفاذ لاره هواروي . هر نوی اساسي قانون په حقیقت کي، د یوه هیواد او ملت په مدني، سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي ژوندکي نوي معیارونه ټاکي . د دې نـــــــوو معیارونو د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه والي يا بدوالي محک د همدغي ټولني د خلگو په قضاوت کي نغښتی دئ . په دې مانا که نوی اساسي قانون، د ټولني د ټولو قومونو، طبقو، قشرونو او بېـــــلابېـــلو سياسي، اجتماعي، کلتوري او اقتصادي سازمانونو اساسي غوښتنو او اړتياوو ته مثبت جواب ووايي، نو داسي نتيجه اخيستل کيږي، چي په نوي اساسي قانون كــــي وړاندي سوي معيارونه ډېر معقول، منطقي او گټور دي . د دې پر خلاف که اساسي قانون په ټولنه کي بېلابېلو ستونزو ته لمن ووهي، نو په بشپړ يقين سره هر څوک قضاوت کوي، چــي په هغه کي ټاکل سوي معيارونه ډېره اوومه ،کمزوري او نامعقول دي.

د اساسي قوانينو بله مهمه او نه بېلېدونکې ځانگړتيا داده، چي داسي قوانين په هره ټولنه کي تر اوږدو تاريخي، سياسي، فرهنگي او اجتمـــــــاعي کوښښونو وروسته د تصويب او چلند پړاو ته رسيږي . په بابلي مدنيت کي د همورابي قانون ، په انگرېزي ټولنه کي مگناکارټا ، زموږ په پېر کي د ملگرو ملتونو د سازمـــــــان منشور او دبشر د حقوقو نړيواله اعلاميه او په دې وروستييو ورځو کي د اروپايي اتحاديې د نوي تړون د تصويب په لاره کي اوږدې هڅي، گرده د دې خبري روښانه ثبوتونه دي.

ژبني معيارونه هم د ټولو نورو ژونديو موجوداتو او پېښو په څېر د طبيعي او اجتماعي قوانينو تر اغېزې لاندي وده او پر مختگ کوي . د هري ټولني تاريخي، سياسي، اجتماعي، کلتوري او اقتصادي پېښي د ژبنييو معيارونو په ټاکلو کي لويه برخه لري . که د پښتو په گډون د نړۍ دهري ژبي د بېلابېلو ليکــــــــــدودونو، لهـــــجه يې توپيرونو او نورو ژبنييو معيارونو د را منځ کېدو تاريخي مسير ته پام وکړو، په ډاگه گورو چي د خلگو په ژوندانه کي تاريخي، سياسي، اجتماعي، فرهنگي او اقـتصادي حالات د هر ډول ژبني اوښتون د پيدايښت زانگو ده؛ د مثال په توگه زموږ په لرغوني هيواد کي د هخامنشيانو تر يرغل وروسته لوی فرهنگي بدلونونه راغلل . وروسته زموږ پر پخواني ټاټوبي ( آريانا) باندي د مقدوني سکندر په واکمنۍ سره، زموږ پر ژبو او فرهنگي کړو وړو باندي يوناني ژبي او کلتور ژوره اغېزه وکړه . څه موده وروسته، د همدې ژورو کورنييو او بهرنييو اړيکو له امله، په لرغوني آريانا کي د يوه پياوړي گډ يوناني - باختري مدنيت بنسټ کښېښوول سو . په هندوستان کي د موريايي کورنۍ د آشوکـــــــا پـــاچاله واکمنۍ سره جوخت، زموږ په پخوانۍ مېنه کي د بودايي دين ،کلتور او هونر ريښې ټينگي سوې . همدې نوو بدلونونو په پای کي، د � گندهارا� په نامه ځانگــــــړی تهذيب او مدنيت ايجاد کړ . کوشانيانو په خپل وار سره، زموږ د ژوندانه په ټولو برخو کي نوي ژبني، کلتوري او فکري تحولات و زېږول . د اسلام د سپېڅلي دين تر راتگ وروستـــــه، نه يوازي زموږ د خلگو په فکري، کلتوري او اجتماعي ژوند کي هر اړخېز بدلونونه راغلل؛ بلکي دې ستر بدلون پر پښتو، پارسي او نورو بومي ژبو باندي د عــــــــربي ژبي او ادب ژورو اغېزوته هم لاره پرانيسته . په دې پسې تورکانو( ترکانو )، ايرانيانو، مغلو، انگرېزانو، روسانو، پاکستانيانو، عربو ؛ او اوس د امريکايانو په مشرۍ د اروپايـــيانو نوي ټـــــلوالي ( ائتلاف )له خپل سياسي، پوځي، کلتوري، فکري او اقتصادي نفوذ څخه په گټې اخيستني سره، زموږ د خلگو پر مادي ژوند، ژبو، دودونو او نورو فرهنـــــــــگي ارزښتونو ستري اغېزې ښندلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي؛ او لا يې ورځ په ورځ ښندي . دا پياوړي بدلونونه ښايي تر ډېرو کلونو پوري زموږ د ژوندانه بېلابېلي مادي او فرهنګي برخي اغېزمني کړي . دهمدغو لويو سياسي، تاريخي، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي بدلونونو له کبله د پښتو په لوېديزه ( لوېديځه ) لهجه کي، د � رُود �، � سبب �، � سايه �، � تاريکه � او نورو په ځېـــــر پارسي ټکو، د کوزي پښتونخوا په لهجه کي د � رُوړ �، � اسپتال �، � کالېج �، � يونيورسيټۍ �، � سکول �، � کمرې �، � ټانګې �،� بروسې �، � اچانک �، � پاټک �، � ټيک �، � جـــــي � � ګبراو �، � ميلاو � او سلګونو نورو په شان انګرېزي، سنسکريت، هندي او پنجابي ټکو لاره موندلې ده . د پښتو په نورو سيمو او نورو لهجو کي هم د پردو ټکو ، اصطلاح ګانو او ترکيبونو شمېر لږ نه دئ . که د سليمان ماکو تذکرة الاولياْ ( په ٦١٢ ق کي ليکل سوی ) او د بايزيد روښان ( ٩٣١- ٩٨٠ هـ ق ) خيرالبيان ته يوه سرسري کتنه وکړو،له ورايه ګورو چـــــي هـــــر ليکوال د بېلي لاري او بېلو معيارونو څښتن دئ . د سليمان ماکو نثر د خپل وخت له غوښتنو سره ساده، خوږ او متين دئ . په دې پېرکي د غزنوي او غوري دورو د پارســـــــي ژبـــي د منثورو ليکنو په دود د پښتو ژبي منثور اثار هم د فصاحت او بلاغت اصولو ته نيژ دي وه ( حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ، ٢ ټ ١٤٥) د دې پر خلاف، د � خــــــيرالبيان � نثر د خپل عصر د بېلابېلو اغېزو له امله د روانۍ، سادګۍ او خوږوالي له ارزښتناکو صفتونو بې برخي دئ . د پير روښان سياسي دوښمن - اخوند درويزه ننـــــــګرهـــــــــاری ( په ١٠٢٨ ق کي مړ ) هم د وخت له غوښتنو سره سم اړ ؤ، چي په خپلو ليکنو کي د ده په اصطلاح د وزن او قافېې تومنه ګډه کړي، تر څو افکار او نظريې يې د خلـــګو په زړونو کي ځای ونيسي ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ١٧ ) . دا بدلون او اوښتون د نړۍ په ټولو ژبو او فرهنګونو کي، د لمر په څېر روښانه دئ؛ او د دې کـــــــار تر شا خـــــــــورا زورور تاريخي، سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي عوامل پراته دي.

دغو ستروسياسي، فکري، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي بدلونونو ته په دقيقي پاملرني سره، اوس هر څوک په اسانۍ سره قضاوت کولای سي، چي پښتو ژبي ته د اوستا، سنسکريت، هندي، پهلوي، عربي، پارسي، تورکي او داسي نورو ژبو لغتونه، اصطلاحات، محاورې، ترکيبونه، تعبيرونه او ډول ډول نور ژبني جوړښتونه پر خپلسر نه دي راغلي . دا لوی تغييرات او بدلونونه د اوږدو زمانو په ترځ کي پېښ سوي دي . له دې کبله هيڅوک نسي کولای د سترګو په رپ کي، د هغو له ښو يــــــا بــــــدو اغېزو ځان وژغوري . له دې ډلي څخه ځيني لغتونه، اصطلاحات، محاورې، ترکيبونه، عبارتونه، او نور ژبني جوړښتونه د وخت په تېرېدو سره له منځه ځي؛ او پر ځای يې د نوو سياسي، اجتماعي، کلتوري او اقتصادي اړيکو د ژوري اغېزې له امله نوي ټکي، اصطلاح ګاني، تعبيرونه او ترکيبونه پيداکيږي . د کليمو او لغتونو د ژوند موده، له نوو شرايطو سره ، د هغو په مطابقت او سمون پوري اړه لري . د ځينو عُمر د يوه ورځني ګل په څېر، د ځينو عُمر د څو مياشتنيو بوټو او د ځينو نور ژوند د داسي ونو په شان وي، چي د زمانې هر ايسته و را ايسته باد و باران يې پياوړو څانګو او غښتلو ريښو ته زيان نسي رسولای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولني او طبيعت د پرمختګ عامه قانونمندي او زموږ په لاس کي پراته سندونه دا ښيي، چي په پښتنوکي تر روښانيانو دمخه د پښتو شعر او نثر دواړو بېل رنګ او مضمون درلود . بايزيد روښان اورمړ ( ۹۳۱- ۹۸۰ هـ ق ) د خپل مهال له غوښتنو او اړتياوو سره سم، په پښتو ليکدود او نورو ژبنيپو خصوصياتو کي جلا معيارونه وټاکل . دا نوي اصول او معيارونه د روښاني طريقت د پلويانو او د دغه سياسي، عرفاني او فرهنګي شوونځي د معاصرانو له خوا په ډېره مينه و پالل سوه . تر روښانيانو وروسته خـــوشال خان خټک ( ۱۰۲۲- ۱۱۰۰ هـ ق ) ، د هغه کورنۍ او د دوی د وخت نورو شاعرانو، ليکوالو او څېړونکو د خپل عصر د ايجاباتو او شرايطو له مخي، د نوو معـــــــيارونو په وړاندي کـــــــــولـــــو سره په پښتو ليکدود، شعر او نثر کي نور بدلونونه را منځ ته کړه . د پښتو ادب په معاصره دوره کي هم، د وخت له مقتضياتو سره سم نوي معيارونه و ټاکـــل سوه . په افغانستان کي د امير شير علي خان په زمانه کي د نوو مطبوعاتو له پيل، او د پښتو ژبي را ژوندي کولو ته د هيواد د سياسي واکمنانو له نِسبي پاملرني سره جوخت هم ، د دغي ژبي په ليکدود او نورو برخو کي، د نوو بدلونونو لاره پرانيستل سوه . د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته، د شهيد مولوي عبدالواسع کاکـــړ کندهاري ( د پښتنو دا نامتو عالِم په ۱۳۰۷ ش د بچهٔ سقاو له خوا په توپ کي والوزول سو) په مشرۍ پښتو مرکې ( ۱۳۰۱ ش / ۱۹۲۲م ) هم په خپل وار سره په پښتو ليـــــــــکدود کـــــــي نوي بدلونونه راوسته ؛ او په هغې پسې د پښتو ټولني ( ۱۳۱٦ش ) په جوړېدو سره هم په پښتو ليکدود کي نوي بدلونونه راغله . دغه راز، نامتو افغـــــــــان سياستوال، ژبپوه او اديب - وزير محمد ګل خان مومند ( ۱۲٦۳- ۱۳۴ ش ) او ځيني نورو هم د پښتو ليکلاري پر نوو معيارونو څه نا څه ور زيات کړه ( رشاد، � د خيرالبــــــــيان ليکـــــــدود، � خير البيان د بايزيد روښان ۷۴) . تر دې وروسته هم د نوو معيارونو د را منځ ته کولو په هيله، بېلابېلي غونډې او سيمينارونه جوړ سوه . د هري غونډې او سيمينار برخــه والو هم په خپل روڼ نوي طرحي او نوو لاري وړاندي کړې، چي ځيني يې منلي سوي او ځينو يې له څو محدودو کسانو پرته چا نه دي منلي . د بدلونونو او تغييـــراتو دا لړۍ تر اوسه هم روانه ده؛ او تل تر تله به جاري وي . البته په دې لنډو خبرو کي مقصد دا نه دئ، چي د پښتو ليکدود د معياري کولو په لار کي ټول کوښښونه او هڅي په زېر او زور بيان کړو؛ بلکي دلته يوازي د دې واقعيت په يادونه بسنه کوو، چي د پښتو ژبي په ګډون د هري بلي ژبي او هر بل معيار په جوړولو او ټاکلو کي ډېرو اوږدو وختونو ته اړتيا سته؛ هر معيار د پر مختګ د يوې ټاکلي دورې غوښتنو ته په جواب ويلو سره، خپل ځای داسي معيار ته پرېږدي، چي د خلګو راتلونکو غوښتنو او اړتياوو ته جواب ووايي .

د پښتو ژبي، ادب او تاريخ وتلئ او منلئ استاد - علامه عبدالحی حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) په يوه علـــــمي څېړنه کي، د ژبنيپو بدلونونو او معيارونو د ريښو، عواملو او ټاکوونکي ځواک په اړه خورا ارزښتناک بيانونه لري، چي دلته يې ځيني اړخونه په لنډ ډول وړاندي کوو .

لوی استاد د خپلو خبرو په پيل کي د يوه مشهور ليکوال په استناد د ژبي ويوونکي پر درو ډلو وېشي : � لومړۍ ډله خواص، علمأ او پوهان دي، چـــــــي ژبه د خپل فکر تابع کوي . دوهمه ډله اوسطه طبقه ده . دريمه ډله عوام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، چي فکر يې د ژبي تابع دئ . � وروسته د ژبي په پرمختګ او بډاينه کي د خواصو او عوامـــــــو د دوو اړخـــــيزو اړيکو په اړه داسي ليکي : � په لوی سر کي خو ژبه لکه د دنيا نور شيان او د انساني ژوندانه نور لوازم يو اجتماعي مخلوق دئ، چي د بشري ژوندانه ټول اجتمـــاعي قوانين پر تطبيق کيږي، نو چي سړی په لومړني نظر وګوري، اجتماع پر ژبي حکمراني کوي؛ او ځکه چي داجتماع افراد اکثر وګړي او عوام وي، نو ګويا پر ژبه حکمـــرانه او غالبه ډله هم عوام دي، مګر پسله لږ څه غوره دا خبره هم ښکاره کيږي، چي د اجتماعي ژوندون ډېر مواد او لوازم داسي هم دي، چي پر هغو باندي يوه خاصه ډله حـــــکومت کوي؛ او تر خپل تأثير لاندي يې راولي، او ډېر شيان په خواصو پوري مخصوص دي او عوام نسي کولای، چي پر هغو باندي خپله اغېزه په ښکاره او ځرګند ډول خپره کړي . عــــــلم او ساينس او الهيات او هغه معلومات، چي د مادې له حده څخه لوړ دي، عموماً د خواصو د افکارو نتيجې دي؛ او دا ټول شيان مستقيماً د بشر په خاصه طبقه اړه لري؛ او د بشر فکــــــــري نوابغ دي، چي دغه ښېګڼې يې ډېري کړي ؛او هم يې تر موږه پوري را رسولي دي . بالعکس ډېر دودونه او اجتماعي مراسم او د بشري حيات لوازم او عـــــــــوايد دي، چــــــــــي مخصوصاً د عوامو د ډلي تر اثر لاندي پيدا کيږي او پرورښت کوي او د مثبتو مباديو پر ځای دريږي او ډېر عمر ژوندون لري ( حبيبي، آيا د ژبي واګي د چـــــا په لاس کـــي دي ؟ شل مقالې۷، ۲ ) . لوی استاد د همدې خبرو په دوام ليکي : � هغه وخت چي موږ د بشر د ژبو تاريخ ګورو او په تحولاتو کي يې دقيق سو، نو دا هم د جامعې مال دئ، او يوه جامعه په پېړيو پېړيو اوږدو زمانو کي ژبي پېدا کوي، او له يوه حاله يې بل حال ته اړوي، د خپلو احتياجاتو سره توسيع ورکوي، نوي الفاظ او مواد پکښي ګډوي، مګر سره ددغه هم سړی داسي نه سي ويلای، چـــــــي د جامعې خاصه طبقه او علمأ او پوهان په دې کار کي هيڅ برخه نه لري، او د ژبو په حياتي چارو کي د دوی لاس کوم کار نه سي کولای ( حبيبي، آيا د ژبي واګي د چا په لاس کي دي ؟ شل مقالې۷، ۳ ) . دهري ژبي د ژوندانه د تاريخ پاڼي چي وکتلي سي، ډېري برخي يې لکه په عوامو چي اړه لري، يوه غوره برخه يې په خواصو پوري هم مربوطه ده . عوام خو ژبه جوړوي، پراخوي يې ، هري خوا ته يې سره کشوي، مګر خواص هم په ژبه کي مهم مواد ګډوي . يو شاعر کولای سي، چي د عوامو د ژبنيو مواد څخه بېل نور نوي مـــواد او الفاظ په ژبه کي موجود کړي، او داسي يې پکښي حل او مزج کړي، چي عوام يې ور سره ومني ، او د دوی ادبي سُلطې ته غاړه کښېږدي.

په حقيقت کي دا خبره د ژبو په ژوندانه کي ډېره مهمه ده، چي بايد ژبه فقط د يوې طبقې تر اثر لاندي نه وي، بلکي په داسي ډول وروزله سي، چي له دواړو ډولو څخه استفاده وکولای سي� .

لوی استاد د ژبي په پيدايښت ، وده او ارتقا کي د ټولني د عامو ولسونو او پوهو کسانو؛ په تېره بيا ژبپوهانو، اديبانو او شاعرانو ارزښتناکي برخي ته داسي ګوري : � زه غواړم چي په دې ليک کي خپلو ښاغلو لوستونکو ته دا حقيقت لڅ کړم، چي پر ژبي باندي د دغو دواړو ډلو حکمراني په مساوي ډول ده؛ او که د يوې ژبـــــــي واګي فقط يوې ډلي ته ور وسپارل سي، نو به هغه ژبه ډېر خپل مزايا او ښېګڼې بايلي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوی سرکي که غور وکړو، خواص هم د ټولني او وګړو اجزأ او غړي دي . خواص چي ژبه زده کوي په عوامو او وګړوکي وي؛ او د دوی د ژبي لومړنۍ تعــليم هم د وګړو چاپېر دئ . وروسته چي یو انسان دخواصو سره ناسته ولاړه وکړي ؛ او د خواصو په محیط ګډ سي، د دوی افکار او عقاید زده کړي، د دوی په ژبه ژبور سي بیـــــانو د دوی په رنګ رنګيږي، او د ژبي د افادې هغه طرز زده کوي، چي په خواصو پوري اړه ولري .

د ژبو اصلي او حقيقي پرورشګاه هم د وګړو غېږ ده؛ او دا محیط ژبي ته د مور په دود تربیه ورکوي . دوهم محیط د خواصو او پوهانو چاپېر دئ، چـــــــي ژبه له لومړنۍ مرحلې څخه ورته راځي . په دې محیط کي ژبه خپل طبیعي جمال لا پسي ښایسته کوي، او رنګارنګ زېوروته او ګېڼې په پوري کيږي . ښایست يې داسي رنـــګ او رونق مومي، چي له ډېري ښکلا نه پېژندله کيږي .( حبيبي، آیا د ژبي واګي د چا په لاس کي دي ؟ شل مقالې۷، ۳ - ۴) .

د پښتو ژبي او ادب منلئ بابا، لوی استاد علامه حبيبي، د خپل علمي بیان په یوه بله برخه کي، د ژبي د مانوي (معنوي ) او لفظي ښکلا په زیاتولو کي د پوهو او هونرمندو کسانو پر لويي برخي داسي ټينګار کوي : � د ژبي د طبيعي حسن او ښکلا د ډېرولو او ښه دلچسپ کولو لپاره د خواصو د لاس مشاطګي لازمه ده . همدوی دي، چي د دې ښکلي ناوي په غاړه کي د ښکلا ښې ګېڼې ور اچوي، او په خپله استادي او مهارت يې لا ښه پسي ښکلي کوي .

لوی استاد، په همدې مستدله ليکنه کي، دې روښانه حقيقت ته ګوته نيسي، چي په ژبه او ادب کي د ژبپوهانو، شاعرانو، ليکوالو او نورو هونرمندو کسانو هر ډول ذهني، عندي او پر خپلسر لاس وهني، د ژبي د ښایست او شتمنۍ پر ځای، کراهت او بد خوندي را منځ ته کوي . دی کاږي : � ډېر ځله داسي هم پېښيږي، چي د یو طبیعي حسن په ښایسته کولو کي له سليقې څخه کار وانخیستل سي، او ناولي ګېڼې بې رونقه او بې یوې خاصي سليقې پر مخ او تندي کتار کړل سي . دلته د ذوق خاوندان دا فېصله کولای سي، چي تر دغي ګېڼې بې ګېڼې والی ښه دئ؛ او دا ناوړه تحليه بې کاره ده . د ليدونکي تره ځني کيږي، او تر دغي ګېڼې هغه طبيعي جمال ښه دئ . د ژبي د آرایش په مرحله کي هم کټ مټ دغه خبره واقع کيږي .

د خواصو او پوهانو او ادیبانو د نقش و نګار او ګېڼې ایښوولو ځای د ژبي طبیعي او عامي څېره ده . که دوی د ذوق خاوندان وي، او په مناسب او وړ ډول يې مخ په ادبي ګېڼو ښکلی کړي، خو ډېر ښه! اما که دا ګېڼه په بې سليقګۍ او بې ذوقۍ پر مخ کښېښوولي سي یا دوني ډېري ګېڼې پر مخ ور کوټه کړه سي، چي بالکل يې مخ په پټ وي، او طبيعي جمال يې ورک سي ، دلته نو سړی ویلای سي چي دا ښه کار نه دئ، او مثلاً د میرزا مهدي درهٔ نادره به ځني جوړه سي یا به د پارسي ژبي د تاریخ وصاف انشأ پردازي سي چي ډېره مکروهه ده . بالعکس که د حافظ غوندي شعر یا د سعدي غوندي روانه او سليسه انشأ وي هر څوک يې خوښوي، ځکه چي دوی ژبي له عامي موقف څخه ډېره نه ليري کوي، او ډېري مناسبي ګېڼې يې پر مخ ور ایښي، او طبيعي رنګ يې ور غبرګ کړئ دئ . په پښتو کي هم باید موږ دغسي وکړو� .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی استاد، له خپل ټول علمي نبوغ سره سره د ځان په ګډون هیڅ ژبپوه، شاعر، لیکلوال او محقق ته دا حق نه ورکوي، چې د خلګو ژبه تر خپلو، سیاسي او ایدیالوژیکو نظریو، شخصي غوښتنو او ذوقي تمایلاتو قربان کړي؛ په خپلو ناوړو تصرفاتو سره یې له خپل طبیعي او ولسي بهیره بلي خوا ته بوزي . علامه حبیبي، دې مسألې ته په اشارې سره، په ډېرو څرګندو او روښانه ټکو وایي : � ژبه باید چې دعمومي محاورې او ادأ له پلوه کرغېړنه نه کړو . البته لیکوال او نویسندګان یې د مناسبي ګېنې ایښوولو حق لري . یو سړی که څه هم ډېر زبردست لیکوال او عالِم وي داسي نه سي کولای، چي له ځانه ژبه جوړه کړي . هو ښایسته کوي به یې.

د ژبي په ښایسته کولو کي باید هر وخت دا خبره د لیکوالو په فکر کي وي، چي د ژبي طبیعي جمال ورک نسي او هم بارد تصرفات په ژبه کي و نکړي . ډېر ځله داسي لیدل کیږي، چي یو لیکوال د خپل فکر د قالب جوړولو لپاره په ژبه کي داسي مواد زیاتوي، چي هغه مناسب نه وي . زما په خیال خو بهترین لیکوال هغه دئ، جي ژبه په نامناسب ډول ښایسته نکړي او تر خپل فکر یې قربانه نه کړي، او په ناوړه توګه په ژبه کي تصرف ناروا وبولي، ځکه چي دا حق ډېرو لویو پوهانو او عالِمانو ته هم نه ورکول کیږي، چي دوی په ژبه کي ناوړه شیان داخل کړي . � ( حبیبي، آیا د ژبي واګي د چا په لاس کي دي ؟ شل مقالې۷، ۵ - ٦ ).

لکه څنګه چي د پښتو ژبي، ادب او تاریخ بې ساري استاد ، علامه حبیبي، په خپله عالمانه څېړنه کي یادونه وکړه، د ژبنیو معیارونو په غوره کولو کي باید، د شخصي ذوق، لهجه یي تنګ نظرییو او نورو غېر علمي معاملو په ټینګه مخه ونیول سي . ژبه هغه څه نه ده، چي ځیني کسان یې د خپل مال او متاع په څېر په خپل لاس کي ونیسي؛ او د زړه په غوښت یې دې خوا او ها خوا ته واړوي . د ژبنیو مسألو په حلولو کي باید د ماهرانو او پوهانو پر ازرښتناکي ونډې سربېره ، د خلګو او ولسونو ټاکوونکی رسالت هیڅکله له پامه و نه غورځول سي؛ مثلاَ د � خلق � ټکی پېړۍ پېړۍ مخکي له عربي څخه پښتو ته راغلئ دئ . همدا کلیمه په افغاني چاپېر کي تر خپل نوي رنګ اخیستلو یا مغفن کېدو وروسته د پښتو په لوېدیزه ( لوېدیځه ) لهجه کي د � خلګ � په بڼه او په مرکزي او ختیزه ( ختیځه ) لهجه کي د � خلق یا خلک� په ډول ویل کیږي . پېړۍ پېړۍ دمخه ددې کلیمې تر څنګ د � اولس یا ولس � کلیمه هم له تورکي ( ترکي ) ژبي څخه په پښتو ژبه ننوتې ده، چي اوس د خلګو په لیکنو او ورځنییو خبرو کي، خورا زیاته کارېږي . دې دوو پردو( عربي او تورکي ) لغتونو اوس په پښتو کي داسي تابعیت او اهلتیت موندلئ دئ، چي څوک یې پردي نه ګڼي . په داسي حال کي چي موږ په خپله پښتو کي ددې ټکي پر ځای د � وګړي � په نامه ډېره زړه او سوچه کلیمه لرو، چي بولګې یې نه یوازي د پښتو په کلاسیک ادب کي خورا ډېري دي؛ بلکي ډېر پښتانه یې اوس هم د یوې ژوندۍ کلیمې په توګه، په خپلو ورځنییو محارو کي استعمالوي .

د دې درو ټکو (خلق، ولس، وګړي) تر منځ ، چي دوه یې دخیل او یو یې سوچه پښتو دئ، له ډېري مودې راهیسي سخته سیالي روانه ده . اوس داسي برېښي، چي د � خلګ یا خلک � مغفن سوي ټکي د خلګو په لیکنو او خبروکي له نورو میدان ګټلئ وي . دا چي ولي د � خلګ یا خلک � کلیمې، تر ډېره حده زموږ د سوچه ټکي ( وګړي ) او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



توركي الاصله مفغني كليمې ( اولس یا ولس ) ځای نیولۍ دئ، په ریشتیا هم د غور او تأمل وړ خبره ده . ښایي په پښتو او نورو نیژدې ژبو؛ لکه پارسي کې ځيني کسان د وګړي یا ولس په مانا ښه پوه نسي؛ خو د خلګو یا خلکو په مانا یې ژر سر خلاصیږي . دا کار نه خوشال خان خټک یا رحمان بابا کړی دئ او نه هم زموږ د عصر لویو پوهانو؛ لکه لوی استاد علامه حبیبي، علامه رشاد، استاد الفت، استاد بېنوا او نورو . په دې کار کي یوازي د هغي قاعدې لاس دئ، چي موږ او تاسي یې نن د اسانتیا، لنډوالي، خوږوالي، پوخوالي، عمومیت او داسي نورو په نامه یادوو . دغه راز، پښتانه په بېلابېلو سیمو او لهجو کي د پارسي ژبي � کودک �، د عربي ژبي � طفل �، د هندي او اردو ژبو � چهوټا � او د انګرېزي ژبي چایلډ (Child ) ته د کوچني ، کمکي، ماشوم، ووړکي، ووړ، طفل او حتا حیوان ټکي کاروي . د پښتنو په بېلابېلو سیمو او قبیلو کي، د پارسي د � زن �، د تورکي د� خانم او خاتون �،د عربي د � نسوة او المرآة �، د انګرېزي د � Wife� کلیمې له پاره مېرمن ، ماینه، ماندینه ، ښځه، خانم، کوروالا، د کوچنیانو مور، اورته، ارتینه، کورودانه، کډه او داسي نور ټکي کارېږي . په دغو ټکو کي تر ټولو غوره او معیاري ټکی هغه دئ، چي دسلیم عقل، ژور منطق، اسانی، سادګی، ښایست، عاموالي، یووالي او داسي نور و په څېر اصولو ته په بري سره جواب ورکړي . پله بله وینا، د ژبي ټولي برخي او جوړښتونه باید د طبیعت او ټولني د نورو پېښو او څیزونو په څېر د خلګو د منښت ازموینه تېره کړي . هرڅه چي خلګو ومنل؛ په خپله دمعیار مقام ته رسیږي . هر هغه څه چي ټولو خلګو نه وي منلي، له خپل ټول قوت او ملاتړ سره سره د معیار ویاړ نسي ترلاسه کولای . د مزدک، مسجد، ماجیت، ماجت، جومات او په سلګونو نورو مترادفو ټکو تر منځ د معیاري توب مسأله به د عامو خلګو او ژبپوهانو د ګډو هڅو او پرېکړو په مرسته اواریږي . په دې کار کي د خلګو د فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي ګډون او ګډو اړیکو لوی لاس پروت دئ . دا خبره به هم وخت او پرمختګ حلوي، چي د خلګو یا خلکو همدا عربي الاصله مفغن ټکی باید د یوه منل سوي معیار په توګه ( په ګ وکښل سي که په ک ) په دې ډول خلګ په خپله خوښه او انتخاب د څو ټکو تر منځ د یوه د معیاري کېدو پر لور ګام اخلي . د ژبي په هره ستونزمنه او نا حل سوې مسأله کي، همدا قانون واکمني لري . ژبپوهان ، ادیبان او څېړونکي باید هرومرو د معیاري ټکو، معیاري اصطلاحاتو، معیاري ترکیبونو، معیاري لیکدود او نورو ژبنیيو معیاري جوړښتونو په غوره کولو او ا نتخاب کي د خلګو رایو او غوښتنو ته لوړ ارزښت ورکړي؛ ځکه ژبه او نور ارزښتمن فرهنګي میراثونه له یوې خوا د همدغو خلګو په چاپېر کي وده او پرمختګ کوي؛ او له بلي خوا د ژبپوهانو او ادیبانو علمي ارزښتونه هم په خپله له ټولني او خلګو څخه ترلاسه کیږي . د پښتو ژبي د بېلابېلو لهجو ( ګړدودونو ) فونولوژیک توپیرونه هم د یوه یا څو کسانو په پرېکړو نه لیري کیږي . دلته هم وروستی چاڼ او غوراوی د ولسي پرګنو په لاس کي دئ . خلګ د بدلونونو او پرمختګونو په هره دوره کي، تر ټولو مخکښ او خوځوونکی ځواک دئ . د هري ژبي په لیکلي او شفاهي ادب کي د خلګوپرګنې ستره ونډه لري . لنډۍ، نارې ، متلونه، انګېرني، ټوټکې، لغتونه، تعبیرونه، ترکیبونو، اصطلاحات، ولسي شعرونه، سندري او په لسګونو نور ادبي ژانرونه ټول د عامو او حتا نالوستو خلګو له خوا زموږ ژبي او ا دب ته لاره موندلې ده . هغه څه چي وګړو د خپل معیار په توګه منلي وي، د ژبپوهانو او ادیبانو په وچو پرېکړو نه بدلیږي . ځیني وختونه خو د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلګو د اوږد مهاله او پخو پرېکړو اړول ګرسره ناممکن کار وي . کله کله د ژبنييو معیارونو په ګډون، د ژوند په هره برخه کي نوي معیارونه د کارپوهانو او متخصصانو له خوا را منځ ته کيږي؛ خو د ماهرانو او پوهانو له خوا جوړ سوي معیارونه، یوازي هغه مهال د منلو او پایښت وړ وي، چي د ټولني د عامو خلګو د اړتیاوو او ذوقي غوښتنو جواب ووایي . هغه ژبپوه او عالِم، چي د خلګو ژبه د خپل ذوق، فکر او غوښتنو تابع کوي، په حقیقت کي ژبه او ولسي ادب له خپل اصلي تګلاري څخه پر بله بیایي . داسي � معیاري � ژبه او ادب په خلګو پوري اړه نه لري . د چاخبره داسي � کره او معیاري � ژبي ته باید د یوه قوم پر ځای د احمد او محمود نوم ورکړه سي؛ ځکه داسي جعل سوي معیارونه هیڅکله خلګ نه خوښوي؛ او نه د خلګو په ژبه او فرهنګ کي ډېر عمر دوام کولای سي .

شک نسته، چي د پښتو ژبي په بېلابېلو لهجو او بېلو جغرافیایي سیمو کي د علمي ټکو او اصطلاحاتو بېلوالی تر ډېره ځایه، د دې ژبي د ودي او پر مختګ مخه نیسي؛ خو دا کار هم د پښتنو تر منځ د سیاسي، کلتوري، اجتماعي او اقتصادي اړیکو له ټینګښت او پوخوالي پرته ممکن نه بریښي؛ مثلاً د کوزي خوا پښتانه د انګرېزي او اردو ژبو د څرګندو اغېزو له کبله ځیني علمي ټکي او اصطلاحات؛ لکه : � ژبپوهنه �، ټولنپوهنه �،� ارواپوهنه � ، � مځکپوهنه � ، � ستورپوهنه � ، � پوهنتون �،� پوهنځی � ، � ښوونځی � ، � روغتون �او په سلګونو نور د � لسانیات، � سوشیالوجي �، � نفسیات � ، � جیولوجي � ، � استرالوجي � ، � یونیورسیټي � ، � کالیج � ، � سکول � ، � اسپتال � په نومونو یادوي . د علمي ټکو، ترکیبونو او اصطلاحاتو په نوم ایښوونه کي داسي بېلوالی او رنګارنګي، د پښتو د یوه منلي معیار په لار کي له سترو خنډونو څخه دي . په بشپړ باور سره ، همدا خنډونه او اختلافونه، په بېلابېلو پښتني سیمو کي، تر ډېره ځایه د پښتو ژبي د خپرېدو او غوړېدو بهیر ټکنی کوي؛ مګر بیا هم دې لوی او لوړ ارمان ته رسېدل د وچو ناستو پاستو؛ پر پکړو او فرمانونو کار نه دئ . پښتانه ژبپوهان، شاعران، لیکوال، څېړونکي او نور ولسونو یوازي د ټینګو او مزبوتو اړیکو له لاري کولای سي، د پښتو ټکو او اصطلاحاتو د یوه واحد او منلي معیار په لور ګټور ګامونه پورته کړي . لر او بر پښتانه د خپلو هر اړخیزو او پیاوړو اړیکو له برکته د دې وس مومي، چي بیا هم د اسانۍ، سادګۍ، سپېڅلتیا، خوږوالي او پوخوالي د اصولو په رڼا کي ښه له بدو بېل کړي . د یو رنګۍ او سراسري معیار مقام ته رسېدل، د پښتنو په ټولنیز ژوند کي د بېلابېلو اړیکو او بدلونونو په چټکتیا او پراختیا پوري اړه لري . ټول پښتانه باید په ټینګ هوډ او سړه سینه، د داسي اړیکو او بدلونونو په چټکتیا کي برخه واخلي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په معیار ټاکنه کې تلوار

ژبه په ټولنه کي له هغه سیاسي اوښتون سره ورته والی نه لري، چي په څو شېبو کي یو حکومت په بل حکومت یا یو رژیم په بل رژیم واړوي . ژبه د ټولو اجتماعي او کلتوري پېښو په شان، د پېړیيو په اوږدو کي وده او پرمختګ کوي . په ژبه کي د نوو معیارونو ټاکل هم اوږده وختونه غواړي . تلواري او تصنعي معیارونه د هغو اوومو خوړو په څېر دي، چي خوړونکی یې نه د ژوولواو هضمولو واک لري؛ او نه یې هم له خوړلو څخه خوند اخلي . داسي خیالي اوبېړني ګامونه ډېر ځله د یووالي او پیوستون پر ځای، د یوې ژبي د بېلابېلو سیمو او ویونکو تر منځ دښمنییو، تربګنییو او ناوړه غبرګونونو ته لمن وهي . بې شکه د داسي ژبنییو او فرهنګي اختلافونو حتمي نتیجه دا وي، چي د یوه قوم ژبه او ډول ډول فرهنګي ارزښتونه، په لوی لاس له سترو خنډونو سره مخامخ سي.

ټول پوهېږو، چي د اسلام په سپېڅلي دین کي تل د یوه خدای، یوه قرآن او یوه پیغمبر خبري کیږي؛ مګر په عمل کي ګورو، چي مسلمانان د اسلام د دغو اساسي اصولو پر خلاف پر بېلابېلو ډلو او فرقو وېشل سوي دي؛ او هره فرقه زموږ په پښتني اصطلاح د خپلي شوروا خوند تر نورو ښه ګڼي . د حق خبره خو داده، چي د نړۍ ټول مسلمانان د عظیم شان قرآن د عمران د سورې د دریم مبارک آیت � وَ اعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِیعاً وَ لاَ تَفَرَّقُواْ � په رڼا کي، د یوه څښتن تعالی، یوه سپېڅلي قــــرآن او یـــوه خاتم الانبیأ، حضرت محمد ( ص ) پر شاوخوا را ټول سي؛ او له هر راز دوښمنییو او مخالفتونو ډډه وکړي؛ اما دا کار په یوه ورځ کي نه کیږي؛ ځکه په مسلمانانو کي د دغه راز اوږدو فکري او فقهي اختلافونو له منځه وړل، په اسلامي ټولنو کي د بېلابېلو شرایطو او امکاناتو چمتو کولو ته اړتیا لري، چي دا ګرده د وخت او زمان غوښتنه کوي . هر ریښتنی مسلمان ایماني وجیبه لري، چي د نړۍ د مسلمانانو تر منځ د اختلافونو او توپیرونو په له منځه وړولو کي هڅه او کوښښ وکړي. . .

پښتو هم د یو لوی او لرغوني قوم ژبه ده . دا قوم په سلګونو قبیلې، خېلونه او پښې لري .کله کله دو ښمنانو او مغرضینو د تاریخ په اوږدو کي، زموږ له همدغه قومي او قبیلوي جلاوالي څخه ډېري ناوړه ګټې هم اخیستي دي . د لمر په څېر روښانه ده، چي د پښتنو یو موټې توب او پیوستون، پر سیاسي خپلواکۍ او اقتصادي پر مختګونو سربېره، د هغوی د ژبي، ادب او نورو فرهنګي میراثونو د روزني او پالني غښتلی ضامن دئ . د دې انکار نه منوونکي حقیقت په پوهېدو سره خو د سلیم عقل او پیاوړي منطق خبره داوه، چي پښتنو باید پېړۍ پېړۍ مخــــکي له دغـــه راز بـــې بنسټه قبیله یي تربګنییو او اختلافونو لاس اخیستی وای؛ مګر بیا هم ګورو، چي، په بېلابېلو قبیلو، خېلونو او پښو پوري تړلي پښتانه، خپلي قبیله یي ریښې او اړیکي د سترګو په رپ کي نه سي هېرولای . د یوه پیاوړي، متحد او نه جلاکېدونکي پښتون قوم په نامه د ټولو پښتنو یو ځای کېدل؛او تر خپلو محدودو قبیله یې پیوندونو تېرېدل، په هیڅ وجه د یوې ورځي خبره نه ده . دې ستر او سپېڅلي ارمان ته رسېدل، د ټولو پښتنو په ژوند کي تکامل او پوختیا ته اړتیا لري، چي دا کار بیا هم د وخت او زمان غوښتنه کوي . هو ملي او قومي ولولې کولای سي د دې بهیر په چټکتیا کي مهمه برخه واخلي؛ خو د یوه ایشېدلي او نه بېلېدونکي پیوستون له پاره پر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومي احساساتو سربېره، زموږ د ټولنيز ژوندانه په بېلابېلو برخو کي د پر مختيا او پوختيا مسأله تر هر څه ټاکوونکې ده . په بله وينا د پښتنو د ګردو ټبرونو او قبيلو تر منځ ژوري او هر اړخيزي کلتوري، اجتماعي، او اقتصادي اړيکي د يوه غښتلي او پر مختللي قوم، يوې کره او منلي معياري ژبي د را منځ ته کولو په لاره کي، تر ټولو لومړی ضروري او مهم شرط دئ . هر څونه چي د خلګو تر منځ سياسي، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي اړيکي ټينګي او نيژدې سي په هغه ګچه د خلګو ژبه ، مادي او مانوي کلتور د يوه منسجم، متحدالشکل او منلي معيار پر لور ګام اخلي .

د نړۍ ځينو ژبو د خپلو صرفي او نحوي معيارونو په ټاکنه کي، ډېره بېړه او تلوار کړی دئ . د ليکني له پاره يې داسي معيارونه غوره کړي دي، چي له ځينو محدودو ګټو پرته يې، د زده کړي په برخه کي لويي ستونزي پېښي کړي دي . تاسي په پارسي، انګرېزي، فرانسوي او ځينو نورو ژبو کي بې شماره ټکو ته ځير سئ ، چي په ويلو او کښلو کي يې ډېر زيات توپير سته . په انګرېزي ژبه کي، نه يوازي نالوستي کسان يا د ښوونځييو او پوهنتونونو زده کوونکي، په ويلو او ليکلو کي له جدي مشکلاتو سره مخامخ دي؛ بلکي د زده کړي د لوړو درجو خاوندان هم کله کله د ځينو ټکو د سمي املا په خاطر د ژبي قاموسونه لټوي يا خپلي ليکني په کمپيوټرونو کي د ځای پر ځای سوو فرهنګونو په مرسته، له املايي او ګرامري تېروتنو ژغوري . زه نه پوهېږم د داسي املايي معيار ګټه په څه کي ده، چي څوک د عقل او هوښ په مانا � خِرد � د � خيرد / x ɪ rad /� [ د � خ � په زېر ] په ډول ووايي؛ خو د � خرد � په بڼه ( بې ی ) يې وکاږي . د � خِرد � دا املايي دود د نامه ( اسم ) په حالت کي، سمدستي د � خُرد � / x u rd /[ د � خ � په پېښ ] له کليمي سره التباس مومي، چي د کوچني يا وړوکي په مانا ده . لوستونکی وار د واره نه پوهيږي، چي د � خرد � په ليکلو سره د پارسي ژبي ليکوال مفهوم څه دئ ؟ يا د سمسور او شين په مانا د خورم / x u ŕ a m / ] د � خ � په پېښ ] کليمه، چي د � خرم � په ډول يې کاږي؛ او د خوړولو په مانا د � خورم � له فعل سره ګډوډوي پېښوي . په پارسي کي د � سهراب � ، � رستم � ، � ګناه �، � جرم �، � هنر�، � جمله � او سلګونو نورو په شان داسي خپل او پردي ټکي سته، چي د عربي ليکدود له مخـــې په ژ به کي دود سوي دي؛ او په هيڅ ډول د دې ژبي د اصلي ويوونکو له املايي ځانګړتياوو سره سمون نه لري . د بړغونو په مخرجو کي هم د پارسي ژبي د افغــــاني ( دری )، ايراني ( فارسی ) او تاجيکي لهجو تر منځ ډېر توپير او ليري والی سته، چي دا په خپله هم د يوه پاخه او منلي معيار په لاره کي لويي ستونزي ګڼلي کيږي .

په اوسنۍ پارسي ژبه کي د اوومو او چټکو معيار اينښوولو په لړ کي، د معروفي او مجهولي � ی � ( په پښتو کي ځيني ليکوال معروفي � ی � ته لنډه � ی � او مجهولي � ی � ته اوږده � ی � هم وايي ) تر منځ توپير هم له منځه ورک سوی دئ . او س د دواړو � ی � ګانو له پاره له يوه ګرافيم (توري) څخه استفاده کيږي . په داسي حال کي، چي په پارسي ژبه کي د دې دوو بېلو بړغونو يا دوو� ی �ګانو تر منځ بېلوالی، په ډېرو کليمو کي له ورايه څرګـــــند دئ . په راتلوونکو کرښو کي، د دغه راز بېلوالي څو بولګې وړاندي کوو، چي د پارسي په اوسني معياري ليکدود کي دواړه په يوه بڼه کښل کيږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیر / �rɪ / [ په معـــــــروفه یا لنډه � ی � ]، چي د شیـــدو مانـــا لري؛ او شیر / �r e/[ په مجهوله یا اوږده � ی � ]، چي د زمري، غضنفر یا اسد مانا لري .

سیر / r ɪs /[ په معروفه � ی � ]، چي د هوږي مـــــانا لري؛ او سیــــــــر / r e s / [ په مجهوله � ی � ]، چي د ماړه په مانا دئ.

خیر / r ɪx /[ په معروفه � ی � ]، چي د تیره او تاریک ، خیره، هرزه، چټي ، بې گټي او نورو په مانا دئ ؛ او خیر / rɪax/ د � ی � په سکون ]، چـــــــي د ښېگني، ښه والي، صدقې او مال په مانا دئ .

په پارسي کي بله لویه ستونزه، په صامت یا بې ږغه توري (consonant ) سره د ځینو ټکو لوستل دي . دامشکل په اُردو او هندي ژبوکي تر پارسي هم ډېر او پراخ دئ . د پارسي ژبي ویوونکي، هره هغه کلیمه سمه نه سي ویلای، چي په سرکي یې وچ یا ساکن توری راغلئ وي . د داسي ټکو د لوستلو له پاره باید له هماغه ساکن توري سره یو صانت یا ږغیز توری ( vowel ) وتړي؛ مثلاً سپوږمۍ، خپل، ستاسو، روزگان یا د انگرېزي ژبي ځیني ټکي لکه سکول ( ښوونځی، مکتب )، سټریټ ( سړک، کوڅه، واټ، جاده )، سټار ( ستوری )، سټایل ( سبک، لاره، روش ) او په سلگونو نوري کلیمې، چي پارسي ژبي خلگ یې د خپلو ژبنیو ستونزو له امله د � اِسپوژمۍ �، � اِخپل �، � اِستاسو �، � اُرزگان �، � اِسکول �، � اِسټریت �، � اِستار �، � اِستایل � په بڼو وایي؛ او په دې توگه د بېلابېلو ټکو په وینگ کي، اضافي هجاوي یا څپې ور زیاتوي.

په هندي او اُردو ژبو کي د ټکو پر پیل سربېره، د هغو په منځ کي هم د وچ یا صامت توري لوستل خورا گران او ستونزمن کار دئ؛ په دې خاطر د دغو ژبو ویوونکي مجبور دي، چي د یوه واول یا ږغیز توري په منبلولو سره د ویلو ستونزه لیري کړي؛ مثلاً په همدغو ژبو کي پر � سکول �، � سټریټ � ،� سټار� ، � سټایل � او داسي نورو ټکو سربېره د � پارک �، � کارډ �، � وارډ �او داسي نورو په شان انگرېزي کلیمو کي د � r � له توري سره له ځانه بل ږغیز توری یا بله هجا تړي؛ او په دې توگه داسي ټکـــي د پـــارَک(k ŕaā p ) ، کارَډ ( d a ŕā k )، وارَډ ( dŕaāw ) په بڼو وایي . یا د پارسي ځیني ټکي لکه � بخــــت �، � سخــــت �، � شنــــــاخت � او داسي نور د بَخَـــــــــت( t a x́ab ) ، سَخــــــــَت( ta x́a s ) ، شناخَت (� t a x́ā nɪ ) په ډول ادا کوي.

په اردو ژبه کي د � اصول �، � حکومت � او � حضور � په شان ټکي، د اصلي عربي تلفظ پر خلاف ټول د الف په زوَر سره وایي، په داسي حال کي چي همدغه کلیمې په پښتو او پارسي کي، د سوچه عربي تلفظ په څېر د الف په پېښ سره ویلي کیږي.

البته دا څو مثالونه په هیڅ ډول د پارسي او اردو ژبو د وروسته پاته والي په مانا نه دي . د پارسي ژبي پراخي ادبي او علمي زېرمي او د اردو ادب چټکه وده، هر چا ته د لمر په څېر روښانه ده؛ خو په دې لنډه شننه کي د ژبپوهني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اړخه دغو اوومو او نیمګړو معیارونو ته په پاملرنې سره دا نتیجه اخلو، چي موږ باید له نورو سره د سیالۍ او شریکۍ په خاطر، په پښتو کي داسي ناوړه او کرکېچن معیارونه جوړ نه کړو، چي زموږ له ژبنیو دودونو او جوړښتونو سره سمون و نه لري . زموږ د لیکلو او ویلو پښتو باید کرار کرار یوه بڼه ولري . پښتانه په هیڅ ډول اړ نه دي، چي مفغني او دخیلي کلیمې په خپل اصلي شکل و وایي . موږ پښتانه، د خپلي ژبنۍ ځانګړتیا له امله ځیني اروپایي، روسي، هندي، عربي او پارسي لغتونه په خپله اصلي بڼه نسو ویلای . زموږ په ژبه کي مروج ږغیز واحدونه د هغو د ویلو وس نه لري . هیڅ شک نسته، چي دا کار د ښووني او روزني له لاري په اسانۍ سره کېدای سي؛ خو ژبه یوازي د څو لوستو او پوهو کسانو مال نه دئ . کله چي د یوې ژبي په اړه خبري کوو، باید د هغې ټول ویوونکي په پام کي ونیسو؛ نه یو څو محدود لیکوالان، شاعران او لوستي کسان.

د همدې د لایلو پر بنسټ دا ډېره ښه خبره ده، چي د معلوم، خوشحال، تسبیح، ګناه، ګمان، هنر، دښمن او نورو په څېر عربي او پارسي کلیمې د مالوم، خوشال، تسبې یا تسپې، ګونا، ګومان، هونر، دوښمن په شان و وایو او ولیکو . د پښتو په معیاري لیکدود کي باید دکلیمو د وینګ او کښنګ تر منځ توپیر تر وسه وسه لیري سي؛ خو دلته د دې خبري یادونه ډېره ضروري ده، چي د خپلو او پردو ټکو د اسانه لیکلو په دې بهیر کي باید زیات پام او غور وسي، چي د کلیمو او اصطلاحاتو په نوي یا اسانه لیکدود کي د ګډوډییو او التباسونه مخه ونیوله سي . په ځینو ځایونو کي باید د نوي لیکلاري تر څنګ د کلیماتو پخوانۍ اصلي املایي ډولونه هم په لیندییو کي وکاږو، چي خلګو ته د زړو او مروجو ټکو نوې بڼه روښانه سي؛ او په دې توګه له ربړونو او ستونزو و ژغورل سي . که د تلواري معیار جوړولو په اړه، خپلي خبري په څو ټکو کي را غونډې کړو، باید و وایو چي هر څه باید د ولس په ژبه ولیکل سي؛ ژبپوهان، شاعران، لیکوال او څېړونکي باید پر خپلسر د خلګو په ژبه کي بې ځایه تصرفات او لاس وهني ونه کړي، که نه نو ډېر ژر به د پښتنو د بېلابېلو سیمو خلګ څه چي حتا له خپلو کورنییو او خپلوانو سره هم د ترجمان له لاري خبرو اترو ته اړ اوسو؛ ځکه هغوی به زموږ په جعل سوو ټکو او ترکیبونو نه پوهیږي.

په انګرېزي ژبه کي، دا ستونزي تر پارسي هم ډېري پراخي دي . انګرېزان په سلګونو ټکي، یو راز وایي او بل راز یې لیکي . دې کار د ښووني او روزني طبیعي او منطقي بهیر له خورا سختو خنډونو سره مخامخ کړی دئ؛ د مثال په توګه انګرېزان� Knife �، � Knight � ، � Colonel�او بې شماره نور ټکي د � نایف �، � نایټ � او � کرنل � په څېر وایي، چي د وَیَنګ او کْښَنګ تر منځ یې ډېر توپیر سته.

سربېره پردې ګیچوونکو ربړونو او پېچومو، د انګرېزي ژبي په خورا ډېرو لهجو کي، د ځینو ټکو ږغیز توپیرونه تر اوسه پوري، د یوې معیاري انګرېزي ژبي په جوړښت کي غټ خنډونه دي . همدا اوس هم د هري لهجې ویوونکي، د ویلو او کښلو پر خپلو خاصو لارو، ټینګ ولاړ دي . انګرېزان تر اوسه پوري په خپلو لیکنو او ورځنیو محاورو کي، د امریکایانو جوړ کړي ټکي؛ لکه� Elevator � ، � Diaper �، � Airplane �، � Freeway �، � Gasolineاو ډېر نور نه کاروي؛ بلکي د هغو پر ځای خپلي جوړي کړي کلیمې؛ لکه� Lift � ، Nappy �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



� Motorway � ،� Aeroplane � ،� Petrol� او نورو ټکي استعمالوي . همدغه راز، انګرېزان تر اوسه پوري خپل ليکدود، د دې ژبې د هري بلې لهجې تر ليکدود غوره ګڼي . له دې امله يې د� Labour �، � Honour � ،� Cheque � او ډېرو نورو لغتونو املأ، له امريکايي ليکدود سره توپير لري .

د انګرېزانو، امريکايانو، آيرلنډيانو، سکاټلنډيانو، استراليايي وګړو او ډېرو نورو تر منځ د ځينو انګرېزي ټکو په ويلو کي هم د کتني وړ اختلافونه سته ، مثلاً انګرېزان د کله کله، ځيني وختونه، ندرتاً او داسي نورو په مفهوم د � � oftenکليمه د � آفتِن / n atf ā / په ډول تلفظ کوي . امــريکايـــان دا ټکـــی بـــې تـــي ( t ) د آفـــن / n af ā / � په بڼه ادا کوي . انګرېزان د ښووني او روزني په مانا د � education � ټکی د ايجوکېشن /nae�kuǰɪ/ په بڼه وايي؛ خو امريکايـــان هغـــــه د ايـــډوکېشن / n ae�kduɪ / په ډول تلفظ کوي ؛ انګرېزان د ګټور او مساعد مهال، فرصت، موقـــع او داسي نورو په مـــانـــا د � opportunity � ټکی د اپرچـــونيـــــتــــــي /ɪ tɪ n u č rə p ́a/ په بڼه ياني په ( چ ) سره وايي؛ خو امريکايان همدغه کليمه د اپرټونيټي / ɪ tɪ n u t rə p ́a /په ډول يا ني په ( ټ ) سره وايي . داسي لهجه يي توپيرونه نه يوازي په انګرېزي او امريکايي لهجو کي خورا ډېر دي؛ بلکي د انګليسي ژبي په ډېرو نورو لهجو کي يې هم مثالونه لږ نه دي، چي يادوَنه يې دلته د تلواري معيارونو په اړه خبري نوري هم پسي اوږدوي . لېکن دا طبيعي توپيرونه او رنګارنګی د خلګو د سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي اړيکو د لا ټينګښت پر بنسټ، چي نـــن سبا د نوي والي( Modernism ) او ګلوباليزم ( Globalism ) په نومونو تعبيرېږي ،کرار کرار مخ پر لږېدو دي . خلګ د سليم عقل، لوړ ذوق، اسانی، سادګی، يووالي او نورو اصولو په رڼا کي ښه له ناوړو بېلوي؛ او په دې توګه ديوه منلي ملي او بين المللي معيار پر لور ګامونه اخلي . دا ډول معيار هيڅکله په يوه ورځ کي نه را منځ ته کيږي؛ تل د پوختيا او بې قېدو شرطه منلو له پاره اوږده پړاونه تېروي ؛ هيڅ ژبپوه، اديب او ليکوال د خپلسرو پرېکړو او فتواوو له لاري نه سي کولای داسي معيارونه پر خلګو و تپي . که په وچو پرېکړو او فتواوو سره څه کېدای سوای، نو زموږ په جنګ ځپلي هيواد کي به د کوکنارو کرنه او سوداګري ډېره پخوا په ټپه درېدلې وای؛ ځکه ډېرو ملايانو، پوهانو او دولتي مشرانو يې په غندنه کي، پرېکړي او خبري کړي دي .

ټولو ته مالومه ده، چي د پرمختګ اوږدو پړاوونو د پښتو په صرفي او نحوي برخو کي ژور بدلونونه راوستي دي . اوس د همدې بدلونونو په رڼا کي ټول پښتانه په پوره باور او خوښی سره دې خبري ته غاړه ږدي، چي � خوشحال � د � خوشال �، � ګمان � د � ګومان �، � بلکه � د � بلکي � ، � معلومات � د � مالومات � ، � معنی � د � مانا يا معنا �، � چه � د � چي � او په سلګونو نوري پښتو، پارسي، عربي، تورکي، هندي او اروپايي کليمې له خپلو فونولوژيکو ځانګړتياوو او ژبنيو دودونو سره سمي وليکي . په پښتو کي دا کار له تاريخي پلوه، نن يا پرون نه دئ پيل سوی . لکه څنګه چي د پښتو ژبي د منځني پېر منظوم او منثور اثار په ډاګه ښيی د دې ژبې له خاصو ږغږونو او ولسي تلفظ سره سم د خپلو او پردو ټکو ليکل، په پښتو ادب کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږد تاريخ لري . طبيعي خبره ده، چې د پښتو ليكدود دا بهير په پيل كې، د هري بلې ژبې په شان له ځينو خنډونو او ځنډونو سره مخامخ ؤ . له نېكه مرغه دا كار په دې وروستيو وختونو كې، ډېر خوځښت او چټكتيا موندلې ده . پوره باور لرم، چې د پښتو ليكدود به په راتلونكو كلونو كې تر دې هم په تلوار او چټكۍ سره پر مختګ وكړي . په پښتو ليكدود كې به د اسانۍ ، سادګۍ، پوخ والي داسي نورو قواعدو پر بنسټ، دا ګټور بدلونونه د خلګو اړتياوو او غوښتنو ته مثبت جواب ووايي . هيڅوک به د وخت په تېرېدو سره پر دې خبره اعتراض او نيوكه و نه كړي، چې پښتانه شاعران او ليكوال ولي خپلي او پردۍ كليمې د پخواني ګران او كړكېچن ليكدود له مخي نه ليكي . په دې كار كې هيڅ منطق او ګټه نسته، چې پښتانه تل تر تله خپل او پردي ټكي، په سختۍ او تكلف سره، د نورو ژبو د اصلي ويوونكو په شان ووايي؛ او په ليكلو كې يې بيا هم په پټو سترګو د نورو ليكدود په پام كې ونيسي . د پښتو ژبي له فونولوژيكو خصوصيتونو سره سم د خپلو او پردو ټكو د ليكني د قاعدې پر خلاف په زياترو پخوانييو پښتو خطي نسخو كـــــې، ځيني سوچه او اصيل پښتو لغـــتونه؛ لكـــه � غونــــــدي �، � باندي � ، � وړاندي �، � مي �، � شي � او په لسګونو نور د عربي ټكو په څېر د � غُندِ يا غوندِ �، � باندِ �، � وړاندِ �، � مِ �، � شِ � په بڼه د پېښ، زېر او زور په مرسته كښل سوي دي، چې په پښتني چاپېر كې په هيڅ وجه د منلو وړ نه دي . شك نسته، چې د پښتو ټكو دغه رنګه املايي بڼه، زموږ په ژبه كې د عربي ژبي او ګرامر د ژوري اغېزي څرګنده نخښه ده؛ چې دلويو شاعرانو او ليكوالو په ګډون يې هيڅوک له اثره خوند ي نه وه؛ مګر كه دې مسألې ته د ژبپوهني او ژبښووني د اوسنيو علمي او منطقي قواعدو له مخي په ځير سره وګورو، پر دې حقيقت هيڅكله سترګې نه سو پټولای، چې زموږ مخكښو شاعرانو او ليكوالو په پوهې يا ناپوهۍ سره خلګو ته د پښتو ليك لوست چاري ګرانولې . تر هغه مهاله چې په پښتو ليكدود كې د بېلابېلو ږغونو د بيان له پاره ځانګړي توري او نخښې وي، د عربي تورو او نخښو كارول، له لويه سره سم او ګټور كار نه دئ . د عربي ژبې د زور، زېر، پېښ او نورو نخښو په مرسته د � غوندي �، � وړاندي �، � باندي �، � شي �، � مي � او داسي نورو سوچه پښتو ټكو ليكنه اوس هيڅ منطق او جواز نه لري؛ ځكه په پښتو كې خو د دغه راز ټكو او تركيبونو د ليكلو له پاره د تورو كمي نسته . په پښتو كې خو د يوې � ی � پر ځاى پينځه � ی � ګاني كاريږي، نو موږ ولي خپلي سپېڅلي كليمې د عربي زېر په مرسته وليكو ؟ زه خو د پښتو په داسي ليكدود كې هم هيڅ ستونزه او نيمګړتيا نه وينم، چې پښتانه د � دُعا � عربي ټكى د � دوعا � ( ځيني پښتانه همدا اوس دا كليمه د� دوا � په څېر وايي او ليكي، چې دا كار د دارو درملو له ټكي سره د ګډېدو ستونزه پيدا كوي )، د � دُكان � ټكى د � دوكان � ( ځيني پښتانه د د وكان پر ځاى د هټۍ لُغت كاروي، چې له هندي ژبي سره ګډه ريښه لري؛ او له ډېرو وختونو راهيسي په پښتو ادبياتو كې هم استعمال سوى دئ ) او د � دُښمن � مفغنه كليمه د � دوښمن � په بڼو وكاږي . داسي لغتونه او كليمې له پېړيو پېړيو راهيسي زموږ په ژبه كې كاريږي؛ او اوس زموږ د ژبې نه بېلېدونكې برخه ده . موږ هيڅ اړتيا او مجبوري نه لرو، چې داسي ټكي د پردو ژبو له ږغيزو ځانګړتياوو او معيارونو سره سم ووايو؛ او يا يې د هغوی له ګرامري أُصولو او قواعدو سره خوله په خوله وليكو . تر هغه ځايه چې د دغه راز كليمو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي یا اسانه جوله، التباسونو او ګډوډیيوته لاره هواره نه کړي، زموږ له ځانګړو ژبنییو صرفي او نحوي خصوصیتونو سره سم، د هغو کاروَنه هیڅ تاوان نه لري .

پښتو باید د اسانی، روانی، سپېڅلتیا، خوږوالي، پوخوالي، منطق او سلیم عقل پر لور وده وکړي . سلیم عقل او ژور منطق دا هیڅکله نه سي منلای، چي د کلیمو د ویلو او لیکلو تر منځ مځکه او اسمان توپیرونه وي . هو یو وخت په زیاترو ژبو کي داسي توپیرونه تر سترګو کېدل؛ خو دا خبره له پیاوړي منطق سره څنګ نه لګوي، چي موږ باید همېشه د نورو پر چپه او راسته لارو روان اوسو . که نورو ځان په څاه او کنده کي اچوه ، موږ یې هم باید وا چوو . پوهه او عقل حُکم کوي، چي موږ بایدپه چټکی خو ځیرتیا او غَوَر سره ، په خپلو ویلو او لیکلو کي توپیرونه له منځه یوسو . د تاریخي شواهدو په استناد، زموږ خلګ له پېړییو پېړییو راهیسي � روزګان �، � ارغسان �، � ارغنداو �، � سپېروان �، � تلوکان � او په لسګونو نور جغرافیایي نومونه په خپلو اصلي او سمو بڼو وایي ؛ مګر د نورو ژبو مؤرخینو او لیکوالو داسي جغرافیایي نومونه د خپلو ژبنییو ستونزو یا تېروتنو له امله د � أرزګان �، � ارغستان �، � ارغنداب �، � سفید روان �، � تلقان � په بڼو دود کړي دي . د دغو سیمو اصلي اوسېدونکي د پردو له خوا دغه ډول جعل سوي نومونه بېخي نه پېژني؛ او په اروېدو سره یې کټ کټ خاندي . زموږ د هیواد د تاریخي جغرافیې په ډېرو نومونو کي د داسي تېروتنو موضوع د یوه اوږده بحث غوښتنه کوي، چي دلته یې ځای نه دئ . همدغه راز، � ساپی �، � ورکزی �، � ساکزی �، � پوپلزی � او داسي نور د پښتنو ځینو قبیلو نومونه دي، چي د نورو خلګو د ژبنییو ستونزو یاد ځینو لیکوالو، مؤرخینو او څېړونکو د بې خبری او تېروتني له امله د � صافي �، � اورکزي �، � اسحق زي �، � فوفلزي � په بڼو باب سوي دي . زه نه پوهیږم، چي پښتانه د څه منطق له مخي دا سوچه او لرغوني پښتو ټکي د پارسي یا عربي ژبي په ناوړه رنګ لړي . موږ باید د خپلو قبیلو او پښو نومونه په خپله اصلي بڼه ووایو او ولیکو . هغه څه چي دلته یې یادونه ضروري برېښي دا خبره ده، چي د کلیمو په وینګ او کښنګ کي د توپیرونو او ختلافونو له منځه وړل، په ښوونه او روزنه، پوهاوي او راپوهاوي یا افهام او تفهیم کي ډېر ګټور کار دئ؛ نو ځکه باید د پښتو د ورته یا مشابهو ټکو په لیکلو کي هم تر وسه وسه د ګډوډی او التباس مخه ونیسو؛ د مثال په توګه په پښتو کي، باید د دغه راز مشابهاتو په لیکلو کي هر ډول پېچومي لیري سي :

زړه / əṛz / [ د ز په سکون ]، چي مانا یې دِل یا قلب دئ .

زړه / a ́ṛ a z / [ د ز په زور ، خج یا فشار پر دوهم سپوڼ ] چي د پخواني، مخکني، تېري سوي، ګذشته، سابقه او داسي نورو ماناوي لري .

توره / ar �t / [ په معروف واو ] چي د سپلاوې، شمشېر او داسي نورو ماناوي لري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



توره / a ́r o t / [ په مجهول واو، خج یا اکسینټ پر دوهمه هجا ] چې دتورمخي، خیره، سیاه او داسي نورو په مانا ده.

مېره / ́a ṛm / [ د میم په سکون، خج پر دوهمه څپه ] چې د مېره سوي یا مرده په مانا دئ .

مېره / aṛ a m / د سېر، شکم پُر یا هغه ښځې یا بل ښځینه حیوان په مانا، چې خېټه یې ډکه وي.

مېره / aṛ́ a m / [ خج پر لومړۍ څپه ] د تکیه کلام هغه ټکی، چې د پښتو په ختیزه ( ختیځه ) لهجه کي خورا باب ده.

کوټه / ́a ṭ o k / [ فشار یا خج پر دوهمه څپه ] یاني خونه، اوتاک ( اتاق )، کمره او داسي نور.

کوټه / a ṭ á w k / [ خج پر دوهم سپوږ ] خره، خرمن ، ډېران، انبار یا امبار.

په پښتو کي داسي مشابې کلیمې خورا ډېري دي، چي هم د لغتونو د ریښه پېژندني ( ایتیمولوژۍ ) له پلوه ډېر توپیر لري؛ او هم یې په تلفظ او ماناوو کي بېلوالی سته؛ مگر موږ یې تر اوسه پوري په یوه بڼه لیکو . شک نسته، چي د نړۍ نوري ژبې هم له دې کړاوه نه دي ژغورلي؛ خو په پښتو کي د یوه څرگند او روښانه معیار د را منځ ته کولو په لړ کي باید دا موضوع هم له پامه لیري نه کړو . د خج ښوولو یوه کوچنۍ نخښه په اسانۍ سره د دغه راز ورته ټکلو په ویلو کي د التباس او گډوډۍ مخه نیسي.

دغه راز د کلیمو په لیکنه کي د زور لرونکي، معدوله ، معروف او مجهول واو ( ښایي ځیني کسان له دې نومونو سره موافقه ونه لري ؛ او د هغو پر ځای د لنډ واو، اوږد واو او نورو په څېر نومونه غوره کړي ) یوشان والي هم د التباس او گډوډۍ ډېري ستونزي پیدا کړي دي؛ ځکه د واو توری په زور لرونکي، معدوله، معروف او مجهول حالت کي، گرده په یوه بڼه کښل کیږي؛ په داسي حال کي چي د فونولوژۍ له اړخه ټول بېل بږغونه دي، چي باید په لیکلو کي هم د بېل توري ( گرافیم ) یا نخښي ( سیمبول) په لیکلو سره جلا سي؛ د مثال په توگه موږ اوس د غه ټکي ټول په یوه واو کاږو:

ولاړ / ṛ́ā l a w / [ په زور لرونکي یا ساده واو ] ایستاده ، د ناست په خلاف.

وژل / l á � a w / [ په زور لرونکي یا ساده واو ] او داسي نور.

سور / r�s / [ په معروف واو ] سور رنگ ،سرخ، قرمز.

بوره / ́ar�b / [ په معروف یا لنډ واو ] خوږه، شکر، چیني، د لرگو یا فلز میدگي .

بوره / a r �b / [ په معروف یا لنډ واو ] زوی مړې، هغه ښځه چي بچې یې مړ وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوره / a rob / هغه سمسوره مځکه، چي له کره پاته وي.

تور / ro t / [ په مجهول یا اوږد واو ] تور رنګ ، تور مخی، تاریک ، سیاه.

تور / ort / [ په مجهول یا اوږد واو ] پړه، ګونا ( ګناه )، تقصیر، اتهام، الزام.

کور / or k / [ په مجهول یا اوږد واو ] استوګنځی، مېنه، خانه، مسکن .

همدغه رنګه د خویش، خویشتن، خواستن، خواهر په شان نور پارسي ټکي ، چي په لیکلو کي یې واو شامل دئ، خو په ویلو کي واو برخه نه لري .

ځیني ژبپوهان او قاموس لیکوونکي ، د اوسنیو قاموسونو په څېر د پښتو ټکو د دغه راز مشکلاتـــــو د له منـــځه وړلو لـــه پاره، د فونــــیمیکــــي الفـــــبا ( Phonemic Alphabet ) د تورو او نخښو سپارښتنه کوي . دا نظر تر ډېري اندازې علمي اړخ لري؛ ځکه یوازي د یوې علماً تنظیم سوي فونیمیکي الفبا توري او نخښي کولای سي، د هر ټکي ټول ږغیز واحدونه په دقیقه توګه بیان او ښکاره کړي؛ خو زموږ په هیواد کي د فونیمیکي الفبا د تورو او نخښو کاروَنه، یوازي د علومو اکاډیمۍ او پوهنتونو تر پوله پوري محدوده ده . عام خلګ څه چي حتا لږ لوستي کسان هم د دغه راز الفبایي سیستم له تورو او نخښو سره هیڅ اشنایي نه لري . له دې امله زموږ په هیواد کي د بېلابېلو ټکو د وینګ یا تلفظ پر نوو علمي لارو سربېره، د دودیزو لارو چارو استعمال هم بې ګټې نه دئ .

ښایي ځیني پوهان له لویه سره استدلال وکړي، چي دهري ژبې لیکدود باید تر وسه وسه ساده او اسان وي . د دوی له نـــظره، په لیکدودنو کـــي د نوو تـــــــورو ( ګرافیمونو ) یا نخښو ( سیمبولونو ) ډېرول، د لیکني دودیزي لاري چاري نوري هم پېچلي کوي؛ او په نتیجه کي خلګ له نورو پېچومو او مشکلاتو سره مخامخ کوي . له دې امله، په املایي سیستم کي د زور او زورکي، زور لرونکي، معدوله، معروف او مجهول واو، بېلابېلو � ی � ګانو او نورو تر منځ توپیر ته په لوړه سترګه نه ګوري . دا خبره سمه ده، چي په لیکدود کي د لږو تورو او نخښو کاروَنه د لیکني چاري تر ډېري ګچي اسانه کوي؛ خو که په ژبه کي د هر ږغ له پاره ځانګړی توری نه وي، نو دا کار له خپلي اسانۍ او سادګۍ سره سره، د وَیَنګ ( تلفظ ) او کښنګ ( لیکلو ) تر منځ پراخ توپیرونه پیدا کوي؛ او دا توپیرونه ورو ورو له یوه پښت څخه بل پښت ته لاره مومي . په پای کي خلګ نه د خپلو اصیلو ږغیزو خصوصیتونو پر بنسټ؛ بلکي د یوه میخانیکي او کرکېچن تعامل له مخي د ړندو په شان په لیکلو او لوستلو لاس پوري کوي . همدا مېخانیکي او کرکېچن جال دئ، چي خلګ په خوله � روستم � وایي؛ خو د � رستم � په بڼه یې کاږي . هیڅوک د دې ګران او ربړوونکي دود له مشکلاتو سترګي نه سي پټولای . زما په دې خبره سر نه خلاصیږي، چي د لیکني دا ډول کرکېچن دود او دستور باید ولي تل تر تله جاري وي؟ موږ ټولو ته څرګنده ده د الفبأ هغه سیستمونه، چي د ژبې ټول ږغونه د بېلو تورو او نخښو په مرسته نه سي لیکلای، د لیک - لوست په چارو کي لوی خنډونه را منځ ته کوي . د دې خبري په ریښتینوالي او سموالي کي هیڅ شک نسته، چي د هري ژبې د بېلابېلو ږغونو له پاره د څو نوو تورو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا نخښو ټاکل، سره له ځینو لنډ مهاله کړاونو، د هماغه ژبي د اصلي ویوونکو له رغونو سره سم، د لیکنۍ یا تحـــــــــریري ژبي پـــــــه پر مختګ کي د ډېرو ګډوډییو او تېروتنو مخه نیسي.

په پای کي د دې ټکي یادونه بې ځایه نه ده، چي د پښتو ژبي د یوه منلي او پاییدونکي معیار له پاره باید تر هر څه مخکي د خلګو د نیژدې والي او پیوستون په لاره کي عملي ګامونه پورته سي . پښتو د یوې ژوندۍ او فعالي ژبي په توګه د کور او کلي له کوچني او محدود چاپېر څخه د ټولنیز ژوند هر ډګر ته وایستله سي؛ او په بشپړ ځواک سره یې ودې او پر مختګ ته کار وسي . په داسي شرایطو کي دئ، چي پښتو ژبي د پخو او منلو معیارونو د را منځ ته کېدو خبري په ډېري اسانۍ تحقق مومي . هر لیکوال، شاعر او څېړونکی چي خپلي عقیدې، نظریې او بیانونه په اسانه ، ساده او خوږو ټکو کي وړاندي کړي؛ او تر وسه وسه زیار وباسي، چي په وینګ او کښنګ یا خبرو او لیکنه کي یې ډېر توپیر نه وي، په خپله د معیاري پښتو په رامنځ ته کولو کي لویه برخه اخلي . د پښتو ژبي معیاري بڼه په واقعیت کي د ویلو او لیکلو هغه اسانه، ساده، منطقي او معقوله لاره ده، چي هر څوک یې په ورین تندي منلو ته غاړه ږدي . ټول پښتانه په تېره بیا پوهان او د قلم خاوندان، د داسي لاري په جوړولو کي خپله ونډه لري . باید په هر اړخیزو او پرله پسې کوښښونو سره د پښتو د معیاري کېدو پر لور ګامونه پورته کوو؛ او په دې کار کي تل د پوهي، منطق او تدریجي پرمختګ لاره غوره کړو . وچي پرېکړي او تش احساسات ، د پښتو ژبي د پاخه او منلي معیار په را منځ ته کولو کي ګټوره برخه نه سي اخیستلای. . .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يوې کره او معياري پښتو په لار کې پرتې ستونزې

د پښتون قام د ټولنيز ژوند بېلابېلو اړخونو ته په يوه سرسري او ځغلند نظر سره دا حقيقت له ورايه ښکاري، چې د يوې کره او معياري پښتو په را منځ ته کولو کې خورا په پېخر ستونزي او پېچومي پرتي دي؛ چې ليري کول يې په هيڅ وجه د دوو يا درو ورځو کار نه دئ . لکه څنګه چې مخکې هم يادونه وسوه، دا ستر رسالت په تشو ولولو او وچو پرېکړو هم نه بشپړېږي . د دې لوی او ارزښتناک کار له پاره علمي او عملي کړنلارې ته اړتيا ده، چې د ټولو پښتنو په ګډو کوښښونه سره ګام په ګام او پړاو په پړاو بشپړه سي.

د پښتو ژبې د ويلو او ليکلود يوه معياري سبک د جوړولو له پاره بايد، تر هر څه مخکې دغه سپېڅلې او لرغونې ژبه په افغانستان کې د پارسي او په پاکستان کې د انګرېزي او اُردو ژبو له ناوړه اغېزو و غوژورله سي . د دې خبرې مانا دا ده، چې پښتو بايد په افغانستان او پښتونخواکې د ترجمې يا دوهمــې ژبې له دريځـــه ووزي . په بله وينا، پښتو بايد د ښوونځييو، پوهنتونونو، دولتي او خصوصي ادارو، چاپوونکو او خپروونکو مؤسسو، تجارتي راکړې ورکړې او ټولنيز ژوندانه په يوه ژوندی، فعاله او خوځنده ژبه واوړي . د افغانستان په پلازمينه ( کابل ) کې تر اوسه پوري پښتانه زده کوونکي د کافي پښتو ښوونځييو د نسته والي له امله جبراً د پارسي ژبې ښوونځييو ته ځي؛ دکابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له پښتو څانګي پرته د کابل پوهنتون، کابل پوليتخنيک، کابل طب، حربي پوهنتون، هوايي پوهنتون او نورو ټولو تحصيلي او دولتي ادارو په بشپړه توګه ژبه پارسي ده . ښه مې په ياد دي، چې دکابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې حتا له پښتانه استاد څخه هم په پښتو ژبه پوښتنه کول د کوپر ( کفر ) په څېر ناوړه کار ګڼل کېده؛ د دولت په مطبوعاتي او خبري مؤسسو کې ټول متنونه لومړی په پارسي ليکل کيږي؛ او بيا يوازې د تش په نامه حساب پوره کولو له پاره، په پښتو ژبه ترجمه کيږي؛ په پښتو ژبه ژباړل سوي کتابونه، ورځپاڼې او نور چاپي مواد تل د پارسي ژبې تر کتابونو، ورځپاڼو او نورو خپرنيزو موادو په ډېر ځنډ او ټيټ کيفيت چاپيږي . البته په پښتو ژبه د نوو علمي او تحقيقي اثارو ترجمه، پر خپل ځای ډېر ارزښتنمن او ګټور کار دئ؛ خو هيڅ ژبه له هغو څخه پښتو بايد يوازې د ژباړې هغه هم ناوړه ژباړې ژبه نه وي . پښتانه شاعران، ليکوال او څېړونکي بايد په خپله پراخه او شتمنه ژبه د نوښتګرييو، خلاقيتونو او هستونو لوی فرصتونه ولري . د همدغو موخو او هدفونو له پاره يې استعدادونو لا وغوړيږي؛ خو په پښتني چاپېرکې ترخو او ځورونکو شرايطو، پښتو ژبه يوازې د يوې کمزورې او بې خونده ژباړې مقام ته ټيټه کړې ده . نور ولسونه په نوښتګرو او تحقيقي ليکنو سره خپلې ژبې ارتوي؛ او موږ د دوهمې ژبې په توګه يوازې د نورو پر ښو او بدو شخوند وهو . په داسې حالاتو کې ناڅاپې نه ده، چې هر څوک ( پښتون، تاجيک، هزاره، اوزبک، بلوڅ او نور وروڼه قومونه ) پارسي ژبې ته مخه کوي؛ ځکه په خپله مورنۍ ژبه يې د څه موندلو او څه لوستلو ټولې لارې بندې سوي دي.

په افغانستان او پاکستان کې سياسي واکمنانو تل د مځنکنۍ بشپړتيا، سياسي خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او نورو ملي ارزښتونو د ساتنې او دفاع پر مهال تر بل هر قوم مخکې، زړورو پښتنو ته د قربانۍ او سرښندنې بلنه ورکړې ده؛ او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو سیاسي ګټو د ساتنې په مقصد یې له پښتو ژبې او پښتو دودونو سره لوبې کړې دي؛ خو کله چې په هیواد کې سوله او امنیت ټینګ سوی دئ، بیا نه یوازې پښتو او پښتني دودونو ته شا ګرزول سوې ده؛ بلکې د پښتون ولس او پښتو ژبې پر خلاف د ځینو پوچ مغزو د ملنډو او زهرجنو تبلیغاتو مخنیوي ته هم هیڅ پام نه دئ اړول سوی .

پښتو ژبه له اوسني ځپلي او نتلي حالت څخه خپل وړ مقام ته رسول، په هیڅ ډول خدای مه کړه له پارسي او نورو وطني ژبو سره د دښمنۍ او تربګنۍ په مانا نه ده . بایددا عیني واقعیت په ورین تندي و منو، چې پښتو ته شا ګرزول؛ او د ټولنیز ژوندانه په هره برخه کې د پارسي ژبې تسلط او واکمني په هیڅ ډول زموږ د ملي یووالي سیمبول نه دئ . که څوک فکر کوي، چې د پښتو او نورو افغاني ژبو پر ځای د پارسي ژبې جبري خپرول او رواجول د دې هیواد د ملي وحدت ضامن دئ، ډېر تېروتلي دي . د دې لرغوني او ویاړلي خاوري هیڅ قوم او هیڅ وګړی د دې حق نه لري، چې پښتانه یا نور ورونه قومونه د خپلي خوږې او سپېڅلي ژبې پرېښوولو یا کم رنګه کولو ته اړباسي . له دې مسألې سره د عِلمي چلند لاره دا ده، چې د افغانستان د ټولو وروڼو قومونو بېلابېلو ژبو ته د هغو د ویوونکو په تناسب، د ودې او پرمختګ هر اړخیز امکـــــانات برابر سي . په دې کې هیڅ شک اوشبه نسته، چې پر شتمني او پراخي پارسي ژبې سربېره، د دې هیواد د نورو وروڼو قومونو د ژبو زده کړه هم، د هر ریښتیني افغان له لویو ښېګڼو او هونرونو څخه ګڼل کېږي . پښتنو دا فضیلت او هیواد پالنه په عمل کې ښوولې ده . د پښتنو شاعرانو، لیکوالو او محققانو له خوا په پارسي ژبه د شعري دیوانونو، تاریخونو، ادبي او علمي اثارو شمېر دونه اوږد او مفصل دئ، چې د یوه جلا کتاب د لیکلو اړتیا را منځ ته کوي؛ خو په دې لنډو ټکو کې د پارسي ژبې، ادب، تاریخ، تاریخي جغرافیې، کتاب پېژندني، لرغونپوهني او ډېرو نورو علمي څانګو په بډاینه او پرمختګ کې، یوازې د افغاني فرهنګ د معاصر پېر د مخکښ او تر ټولو وتلي شاعر، لیکوال، مؤرخ او څېړونکي - لوی استاد علامه عبدالحي حبیبي (۱۲۸۹ ش / ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ش/ ۱۹۸۴م ) د بې سارو علمي اثارو یادونه کافي ده، چې د نړۍ په ټول پارسي ژبي قلمرو ( افغانستان، ایران او تاجیکستان ) کې یې هیڅ حقپال لیکوال ، څېړونکی او عالِم له علمي مقام او فیوضاتو انکار نسي کولای . د دې یادوني مقصد فقط دا دئ، چې پښتنو هیڅکله د نورو وروڼو قومونود ژبو؛ په تېره بیا پارسي په زده کړه او غوړېدو کې تعصب او بې پروایي نه ده کړې . سره له دې روښانه حقیقتونو، پښتانه نه یوازې له خپلي لرغوني او سپېڅلي ژبې سره تر هرې بلې ژبې ډېره مینه لري؛ بلکې پښتو ژبه او پښتني دودونه د خپلي تاریخي پېژندني مهمه برخه ګڼي . د دې څو لنډو خبرو په یادولو سره اوس دلته دا پوښتني پیداکیږي، چې پښتو ژبه په داسي شرایطو او حالاتو کې، څنګه وده او پرمختګ کولای سي ؟ ایا په داسي شرایطو او امکاناتو کې، د پښتو ژبې د ویلو او لیکلو نوي معیارونه را منځ ته کېدای سي؟

جواب ساده او روښانه دئ، تر څو چې له امو تر اباسینه ، له چتراله تر بولانه او له بولانه تر غوره، د پښتنو په منځ کې ټینګې او مزبوتې ( مضبوطې ) اړیکې پیدا نه سي؛ او ټول پښتانه په یوه وجود او یوه اواز خپله اصیله او لرغونې ژبه د ښوونځی، پوهنتون، رادیو، تلویزیون، مطبوعاتو، دولتي او خصوصي ادارو، سوداګرۍ، لیکنو، مشاعرو، علمي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تحقیقي غونډو، کلتوري او هونري بانډارونو او نورو ډول ډول اجتماعي او اقتصادي فعالیتونو ژوندۍ او واکمنه ژبه نه کړي ، تر هغه مهاله د پښتو په ویلو او لیکلو کې د نوو لارو او معیارونو مسأله د اوبو پر مخ کرښې دي؛ ځکه هر معیار او هر سبک د بقا او پرمختګ له پاره لازمو شرایطو ته اړتیا لري . که غواړو، چې پښتو ژبه په ټوله نړۍ کې د یوه عام او منلي معیار تر مقامه ورسو، باید تر ټولو دمخه په خپله ټولنه او چاپیرکي د داسي لوی ارمان د تحقق حال اومجال پیدا کوو . په ټولنه کې د عیني او ذهني شرایطو له برابرۍ او چمتووالي پرته څو شاعران، ادیبان ، ژبپوهان، لیکوال او څېړونکي په یوه یا څو غونډو کې د ژبې او ادب نوي معیارونه نه سي را منځ ته کولای . د نوو معیارونو او نوو لارو ایجاد، یوازي د ټولني د واکمنو عیني او ذهني شرایطو په چوکاټ کې ممکن دئ . چټکتیا او کراري یې له یوه سره د ټولني د مادي او مانوي ( معنوي ) ژوند په بدلونونو پوري اړه لري . د افغاني فرهنګ وتلئ او منلئ بابا، لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي، د پښتو د معیاري لیکلاري په اړه همدغو واقعیتونو داسي اشاره کوي :

�زما په خیال د پښتو لپاره یو تخیُلي او حقیقي � معیار � ټاکل د اوس کار ندئ ؛ او نه دا کار یو یا دوه تنه کولای سي . معیاري لیکنه هغه وخت کېدای سي، چي د پښتو له ټولو لهجو څخه د اجتماعی او مدني اختلاط او ادبي ګډون او تفاعل په اثر کي یو معیار را ووزي ؛ او دا هغه وخت ممکنه ده، چي پښتانه له قبیله یي ژونده ووزي؛ او تګ راتګ دوني یکښي ډېر سي، چي ټولي لهجې او خصوصي تعبیرونه او اداوي او ګرامري خصایص سره ګډ سي؛ او د � بقای اصلح � له قانونه سره برابر ناوړه ووزي؛ او � وړ � پاته سي . � ( حبیبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۵).

د لوی استاد په دغه بیان کي له ورایه څرګنده ده، چي د پښتو ژبي د معیاري لیکدود یا معیار ي سبک را منځ ته کول، تر هر څه وړاندي د ټولو پښتنو په منځ کي د سیاسي، فکري، کلتوري، اجتماعي او اقتصادي اړیکو ټینګښت او پراخوالي ته اړتیا لري . طبیعي خبره ده، چي د انساني ټولنو تر منځ د بېلابېلو اړیکو پیاوړتیا، تدریجي او تکاملي بهیر دئ . په بله وینا د پښتنو تر منځ د بېلابېلو اړیکو پراختیا او مزبوتوالی په خپله د معیاري توب شرایط او امکانات برابروي . دا کار د یوه یا څو کسانو تر وس وتلئ دئ . که څوک د پښتنو بېلابېلو لهجو او رنګارنګو فرهنګي میراثونو ته په شا ګرزولو سره د خپلو جعل سوو معیارونو د تپلو او بابولو هڅه وکړي، داسي هلي ځلي پښتو ته د ګټي پر ځای ورانۍ او زیانونه رسوي .

د معیاري پښتو د را منځ ته کولو په لړ کي، د ځینو لیکوالو او پوهانو کوښښونه علمي تاداو نه لر ي . دا هڅي او تلاښونه تر ډېره حده احساساتي بڼه لري . لکه څنګه چي ګورو، کله کله د پښتو ژبي یوې او بلي لهجې ته د بې قاعدې لهجې په توګه ګوته نیوله کیږي؛ کله کله د پښتو � معیاري � کولو له پاره، د حساب او هندسې په شان د فیصدۍ فارمولونه وړاندي کیږي؛ او کله کله بیا د ژبي علمي مسألې دسیاسي لانجو غوڅولو په څېر د ډېرو ( اکثریت ) او لږو ( اقلیت ) د اصولو له مخي حلیږي . زموږ دې ښاغلو پوهانو تر اوسه پوري دا مسلم واقعیت نه دئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژندلئ، چي ژبه نه د فیصدۍ په فارمولونو او نه هم د � اکثریت � او � اقلیت � د اصولو په مرسته، معیاري توب ته رسېدای سي .

عجبه خو دا ده، چي د پښتو په بېلابېلو لهجو کي د قاعدې او بې قاعدې خبره خو نه منلو او دقیقو او نه هم تېروتلو او مغرضو افغانستان پېژندونکو کړې ده . د پښتو ژبي او ادب وتلو استادانو- لوی استاد علامه عبدالحي حبیبي، علامه عبدالشکور رشاد، پوهاند صدیق الله رشتین، ګل پاچا الفت، عبدالرؤف بېنوا، قیام الدین خادم او ډېرو نورو هیچا نه په پښتو لهجو کي د یوې ځانګړي لهجې د قاعدې او بې قاعدې خبره کړې ده؛ او نه یې د یوې کره او معیاري پښتو په لار کي، د و نېو د وېش؛ او د دې یا هغې لهجې د اکثریت او اقلیت په اړه خبري کړې دي . د افغاني فرهنګ په تېره بیا پښتو ژبي منلي بابا ، لوی استاد علامه حبیبي، او تر هغه وروسته د پښتو ژبي او ادب وتلي استاد، علامه رشاد، له خپلي ټولي پوهي او تبحر سره سره بیا هم هیڅکله ونه ویل، چي لیکوال او څېړونکي باید د دوي په کندهارۍ لهجه خبر ي او لیکني وکړي . بالعکس یې ټول لیکوال، شاعران او څېړونکي هڅول، چي له هر ډول تکلف او تصنع پرته د خپلو عامو خلګو په ژبه لیکني وکړي . هغوی په ډېري اسانۍ سره کولای سوای ، چي د خپلي پراخي پوهي او علمي مقامونو په استناد، په پښتو ژبه او ادب کي د خپلي خوښي معیارونه وټاکي؛ او بیا یې د خپل نامه د غځولو له پاره د هیواد پر علمي، تحقیقي او مطبوعاتي مؤسسو و تپي ؛ خو لکه څنګه چي ټول معاصران شاهد دي ، هغوی هیڅکله خپله لهجه، خپل سبک، خپل فکر ا و خپل لاره د معیار په توګه وړاندي نه کړه . تاریخي تجربې ښیي، چي د بېلابېلو ژبپوهانو، شاعرانو، ادیبانو او عالمانو له خوا وړاندي سوي معیارونه هیڅکله عام،کُ ُلي او ابدي خصوصیت نه لري . د ژوندانه په هره برخه کي د پرون پیاوړي او پاخه معیارونه، د نن له زورورو معیارونو سره سیالي او مقابله نسي کولای؛ سبا هم په هره ټولنه کي نوي بدلونونه، نوي معیارونه او نوي دودونه له ځانه سره راوړي . د همدي اصل او قانونمندۍ پر بنسټ باید هیڅ معیار په پټو سترګو و نه منل سي . هر څه د نوو بدلونونو او پر مختګونو په رڼا کي و څېړل سي . په بله ژبه هر هغه څه، چي د نوي عصر غوښتنو او اړتیاوو ته معقول جواب و وایي، د خلګو له خوا په ورین تندي منل کیږي؛ او د معیار جامه اغوندي .

حقیقت دا دئ، چي د پښتو ژبي په بېلابېلو لهجو کي د بې قاعدګیو او ګډوډیو په اړه څېړنه باید د پوهي او منطق پر پاخه تاداو ولاړه وي . له بده مـــــرغــه د � معیاري پښتو � ځیني لارښوونکي، د پښتو ژبي د بېلابېلو موضوع ګانوپه اړه څېړنه له راکیټ ساینس سره ورته ګڼي؛ او په دې توګه چا ته اجازه نه ورکوي، چي د خپلي مورنۍ او پلرنۍ ژبي پر بېلابېلو اړخونو او موضوعاتو ورغېږي . د دې ناوړه دریځ یوازنی مقصد له دې پرته بل څه نسي تعبیر کېدای، چي هر څوک په پښتو کي د خپلسرو معیار جوړوونکو ناوړه لاس وهني، په پټو سترګو نعوذبالله د قرآن دکرښو په شان ومني؛ اوپر هیڅ ناسمو جعلیاتو یې د انتقاد ګوته کښېنږدي . د پښتو ژبي او ادب لویو استادانو هیڅکله داسي بیانونه نه دي کړي . د دې پر خلاف یې هر چا ته بلنه ورکړې ده، چي په خپله مورنۍ لهجه او خپلو سیمه ییزو محاورو د پښتو ژبي او ادب په غوړېدو کي فعاله برخه واخلي . .. هر چاته څرګنده ده، چي پښتو د یوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر او لرغوني قوم ژبه ده . د دې ژبې د يوې ځانګړي لهجې په تړاو ناسم ګومان يا ناسمه پرېکړه، د ټولې ژبې ادبي اصالت او قاعده له پوښتني سره مخامخ کوي؛ ځکه همدا لهجې او ژبني جوړښتونه، زموږ د ادبي مخکښانو په لوړو او ګران بيو اثارو کې هم په پــراخ توګه کار سوي دي . شک نسته، چې د هرې ژبې په بېلابېلو لهجو او ادبي اثاروکي کله کله ځيني ناوړه او بې قاعدې ټکي، ترکيبونه، عبارتونه او جوړښتونه تر سترګو کيږي، چې پښتو هم له دې طبيعي خصوصياتو ليرې نه ده؛ مګر دا نيمګړتياوې هيڅکله په يوه خاصه لهجه پورې نه دي تړلي .

زه په خپله په تېرو دېرشو کلونو کې د خپلو اوږدو پر دېسيبو په ترڅ کې، د نړۍ پر بېلابېلو توکمونو او ژبو سربېره د خپل پښتون ټبر له خورا ډېرو قبيلو، خېلونو او پښو سره مخامخ سوى يم . د هغوی له رنګارنګو دودونو او بېلو لهجو څخه مي په ريښتيا سره ډېر نوي شيان زده کړي دي . د زده کړي دالړۍ نه يوازې ما غوندې نالوستي سړي؛ بلکي هر پوه او سترګه ور سړي ته هم خورا په زړه پوري ده . د افغانانو د مهاجرتونو دې اوږد بهير او د خلګو دکلتوري، اجتماعي او اقـــتصادي اړيـــــــــکو لا ټينګښت، د پښتو د مختلفو لهجو او بېلو رواجونو تر منځ پخواني توپيرونه تر ډېرې ګچې لږ کړي دي . د بېلابېلو سيمو او قبيلو خلګو اوس په خپلو ناستو ولاړو کې داسي حقيقتونه موندل، چې پلرونه او نيکونه يې په هغو هيڅ خبر نه وه . هر څوک له نورو سره په راشه درشه کې، خپل ناوړه پرېږدي؛ او د نورو ښه خپلوي . د پر مختګ او تکامل دا قانون، زموږ د مادي او مانوي ( معنوي ) ژوند په ټولو برخو کي جاري او ساري دئ.

د � معياري پښتو � ځيني جذباتي پلويان په واقعيت کې، د پښتني ټولني سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي شرايطو ته په نه پاملرني سره، د نورو ژبو د اومو او نيمګړو معيارونو پيښې کوي؛ او له هغو سره د سيالۍ او رقابت په هيله غواړي په يوه پلا له لومړۍ زينې څخه د بام سر ته ټوپ و وهي . له دې امله يې په لېونتوب سره لستوڼي را نغښتي دي، چې خپل ناوړه او جعل سوي معيارونه، په پښتو کې د نوو کشفياتو په شان د ډله ييزو رسنييو له لارې پر خلګو وتپي . دې کار زموږ په ښکلي او سپېڅلي پښتو داسي شوډنګ کړی دئ، چې زه له شلو پښتونو سوچه پښتون هم، د دوی په ډېرو اختراع کړو ټکو او ترکيبونو نه پوهېږم؛ او يا مي په اروېدو سره پښتورګي له خندا چوي.

که په څرګندو او روښانه ټکو و وايو، تر هغه مهاله چې په ټولنه کې له پښتو سره د سياسي واکمنانو د مور او ميرې چلند نه وي ختم سوی؛ او موږ خورو ورو پښتنو د خپلې ژبې او نورو کلتور ي ارزښتنو د غوړېدو له پاره پياوړې او ګړندي ګامونه نه وي اخيستي، د يوې معياري پښتو را منځ ته کول، کټ مټ په ناړو د کاغذ له موښلولو سره ورته والی لري . بايد د پښتو د پرمختيا او پراختيا مسأله له ريښو او تاداوه حل سي . دا اساسي او بنسټيز حل په ګرده پښتني ټولنه کي د لازمو مادي او مانوي شرايطو په را منځ ته کولو سره ميسر دئ، چې د هغو د بشپړتيا رسالت بيا هم زموږ پښتنو پر اوږو پروت دئ . بايد له همدې شېبې څخه هوډ وکړو، چې د دې لوړ انساني او ملي هدف د تحقق له پاره په علمي تياري او سره سينه کار کوو؛ او د پښتني فرهنګ د هر اړخيز ي ودې او پرمختګ په لاره کې، له هيڅ راز قربانييو ډډه نه کوو . په پاکستان کې د پښتو د معياري کولو په وړاندې پرتې ستونزې تر افغانستان هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېري او پراخي دي، چي دلته يې په شمېرلو او څېړلو نور وخت نه نيسم . که و غواړو چي د پښتو د ويلو او ليکلو اوسنۍ پاشلۍ سبک تر يوه علمي او منلي معياري مقام پوري ورسو، نو تر ټولو لومړی شرط د دې ژبي په وړاندي د بېلابېلو سياسي او تبعيضي خنډونو ليري کول دي، چي د هغه په تحقق کي هم د پښتنو ګډې هڅي او ټينګ يووالی ډېر ارزښتناک ځای لري.

## د ژبي سوچه کول ياني څه ؟

د ژبي سوچه کول، لکه څنګه چي له نامه څخه يې ښکاري د پردو کليمو، ترکيبونو، تعبيرونو او اصطلاحاتو پر ځای د خپلو ټکو کاروني ته وايي . د ژبي د سوچه کولو خيال په ظاهره خورا ښکلی او په زړه پوري برېښي؛ خو په عمل کي ډېر ګران او حتا ناممکن کار دئ . علمي څېړني او تاريخي شواهد جوتوي، چي بشري ټولني په بېلابېلو لارو او ډولونو يو پر بل اثر ښندي؛ او د نړۍ هيڅ بشري ټولنه د نورو له اغېزې خوندي نه ده. په داسي شرايطو او حالاتو کي، د ژبو د بشپړ سوچه کولو فکر له خپل ټول جذابيت سره سره، کټ مټ له يوه غولوونکي سَراب سره ورته والی لري . د انسانانو په ژوند کي سياسي، فکري، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي بدلونونه او متقابلي اړيکي د ژبو د سوچه پاته کېدو ټول خوبونه له منځه وړي .

د ژبي د سپېڅلتيا خوندي کول او د ژبي د يومخيز سوچه توب په لاره کي کوښښونه دوې بېلي نظريې او مسألې دي . شک نسته، چي د هري ژبي اصلي ويوونکي، له هغو څخه پښتانه بايد د خپلي ژبي اصالت او سپېڅلتوب ته د زړه له کومي پام وکړي؛ د خپلو اصيلو ټکو، ترکيبونو او اصطلاحاتو په روزنه او پالنه کي نه ستړی کېدونکی زيار وګالي؛ په ورځنيو خبرو او ليکنو کي پردو ټکو، عبارتونو او محاورو ته په اسانۍ سره ځای ور نه کړي، چي زموږ د پلرونو او نيکونو د لرغوني ميراث ځای ونيسي . له بده مرغه د ژبي د پرمختګ تګلوری تل زموږ په لاس کي نه وي، نو ځکه تل د يوه ژوندي موجود په توګه د طبيعي او غير طبيعي عواملو د اثر ښندني له امله خپله څېره بدلوي ؛ خو د ژبـــــي يو مخيز سوچه کول، د يوه تنګ نظره ملت پال او غير علمي جريان په توګه، په حقيقت کي له ژبي څخه د ټولو پردو ټکو، ترکيبونو، اصطلاح ګانو شړل او د هغو پر ځای د سترګو په رپ کي د نورو ټکو درول دي . دا کار د ټولنيز ژوند بېلابېلو بدلونونو ته شا اړول؛ او په نتيجه کي د ژبي د ډېرو ارزښتناکو پانګو د ضايع کولو او کم رنګه کولو په لار کي هلي ځلي دي . داسي انقلابي غورځنګونه، خلګو ته د ژوندانه په ټولو چارو کي لوی کړاونه او پېچومي پېښوي . په راتلونکي څېرکي کي د ژبي ددغه راز سوچه تابه په اړه لنډې خبري او ځيني مثالونه وړاند ي کوو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبو د سوچه کولو افراطي لار

د ژبو سوچه کولو افراطي لار ، تر ډېره حده سياسي ختېه لري . په ډېرو ملتونو کي ملتپالو شخصيتونو او گوندونو ، د سياسي او فرهنگي خپلواکۍ په ترلاسه کولو سره د ژبو د يومخيز سوچه توب کړنلاري غوره کړي دي؛ خو حقيقت دا دئ چي د هري ژبي، له هغې ډلي څخه د پښتو سوچه کول، هيڅکله د ملي جذباتو او ولولو کار نه دئ . د نړۍ په ټولو ژبوکي د بېلابېلو طبيعي او غير طبيعي عواملو له امله، د پردو ژبو او فرهنگي جريانانونو ژوري اغېزې له ورايه ځرگندي دي . هيڅوک دانسانانو په ټولنيز ژوند کي، د هغو د متقابلو اړيکو او هر اړخيزو بدلونونو له ستري ونډې څخه سترگي نه سي پټولای . د ژبو د سوچه کولو افراطي چلند، د يوه پوخ علمي او منطقي تاداو پر ځای د احساساتو او هوس پر وچو بوسو ولاړ دئ؛ نو ځکه بې ناکامۍ بله نتيجه نه لري . د جرمني، تورکيې او ايران د افراطي سوچه کولو کړنلاري گرده د دې واقعيت روښانه بولگې دي . زموږ په هيواد کي هم د پردو ټکو د سراسري شړني غورځنگ د علمي او منطقي اساساتو پر ځای، نيشنليستي منشأ او بنسټ لري .

په دې مبحث کي د پارسي ژبي د سوچه کولو پر ځينو غېرعلمي اساساتو او تاريخي مثالونو څو لنډې خبري کوو، چي د پښتو د� سوچه کولو � مدعيان يې په غور سره وگوري؛ او هيڅکله د نورو د افراطي او غير علمي کړنلارو پيښې ونه کړي . لکه څنگه چي پوهېږو ايرانيانو څو لسيزي مخکي په ډېر جديت سره د پارسي ژبي د سوچه کولو بهير پيل کړ؛ او غوښتل يې چي دټولو دخيلو ټکو او اصطلاحاتو پرځای خپلي پارسي کليمې او اصطلاحات وټاکي؛ د دې افراطي او غير علمي طرحي له مخي بايد هر څه په څو مياشتو او کلوکي پارسي رنگ اخيستی وای؛ خو له دې امله چي دغو افراطي کړنلارو او کوښښونو، په ژبه او نورو فرهنگي مسألوکي د ټولنيزو بدلونونو د قانون پر خلاف عمل کاوه، نو ځکه يې د پام وړ نتيجې تر لاسه نه کړې . د ايران د پارسي کولو نه ستړې کېدونکې فابريکه، په حقيقت کي له ډول ډول پېچومو او کړاونو سره مخامخ سوه . تر ټولو لومړۍ ستونزه يې دا وه، چي د پارسي کولو په ايرانۍ فابريکه کي د ځينو اروپايي، عربي، تورکي او هندي کليمو له پاره هيڅ ډول معادل ټکي ونه موندل سوه . له دې امله يې په ناچارۍ سره په سلگونو ټکي او اصطلاحات؛ لکه اسلام ، دنيا، آخرت، زکات، صدقه، قانون، حقوق، ميراث، مجاز، مشروع، مجلس، ثابت، مستحکم، کتاب، مطب، مجتهد، مجاهد، تصادف، تصادم، خانم، خاتون، کتک، کمک، چماق، تلگرام، تلگراف، اتوبوس، اتومبيل، ماشين، سيگار، ژنرال،کالوري، کروات او داسي نور په خپله اصلي بڼه ومنل . د پردو ټکو او مصطلاحاتو د پارسي کولو له پاره د ايران بله ستونزه دا وه، چي د مروجو ټکو پر ځای يې خلگ په لوی لاس د پردو ټکو کارولو ته اړ کړه؛ مثلاً په ايران کي اوس زياتره خلگ د � تشکر � يا � مهربانۍ � پر ځای د ميرسي ( Mercy ) اروپايي ټکی کاروي . دغه راز د � شهراه � يا� شارع � پر ځای د اتوبان ) موټر ( + Auto = سړک ( Bahn = جرمنۍ کليمه او د سبزي پالک له پاره د انگرېزي ژبي د ( Spinach ) ټکی د� اسفناج � په بڼه استعمالوي . د داسي عربي، تورکي، هندي او اروپايي ټکو فهرست خورا اوږد دئ، چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایراني لغت جوړوونکو یې پر ځای پارسي کلیمې ایښي دي؛ خو عام خلګ یې په بهرنییو نومونو بولي . دا کار د افراطي سوچه کولو له ناکامۍ پرته بله مانا نه لري .

په ایران کې د پارسي ژبې د سوچه کولو یو بل مشکل دا دئ، چې د ځینو پردو ټکو له پاره یې داسې بې خونده پارسي کلیمې غوره کړي دي، چې د سلیم عقل، ژور منطق، او پوخوالي یا په بله وینا فصاحت او بلاغت ازموینه نسي تیرولای؛ د مثا ل په توګه ایرانیانو رادیو تلویزیون ته، چې د ډله ییزو اطلاعاتو د جهاني وسیلو په توګه په ټوله نړۍ کې منل سوي کلیمې دي، د � صدا و سیما � نومونه غوره کړي دي . په دې دوو ټکو کې لومړی ټکی � صدا� بیرته عربي لغت دئ . په دې ډول ایرانیانو د � رادیو � د جهانشموله، اسانه او منلي کلیمې پر ځای د عربي � صدا � ټکی کښېښود . څوک نه پوهیږي، چې د دې کار ګټه په څه کې ده ؟ ولي باید په نړیواله ګچه منلې او عامه سوې پردۍ کلیمه د بل داسې بهرني ټکي له خوا وشړل سي، چې خلګ یې له نوي مانا او مفهوم سره هیڅ اشنایي هم نه لري . یا په بله ژبه دا ټکی په فصیح او بلیغ ډول د نوي مفهوم ( تلویزیون ) د بیانولو ورتیا نه لري . دا یوازي د مسألې د شکلي او ظاهري اړخ مشکلات دي؛ خو د � صدا � او � سیما � اصلي ستونزه د هغو په مانا کې نغښتې ده؛ ځکه د � صدا � عربي ټکی د اواز په مانا دئ؛ او د � سیما � کلیمه د مخ، څېرې، تندي او داسې نورو په ماناوو راغلې ده . د � سیماء � ټکی په عربي ژبه کې د علامت او هیئت په ماناوو کاریږي ( عمید ۲: ۱۵۰٦) چې دا په خپله هم له یوې خوا له پارسي مانا سره د التباس بېله ستونزه پېښوي ؛ او له بلې خوا د رادیو تلویزیون نړیوال ټکي یوازي د اواز او څېرې په ماناوو نه دي . په بله ژبه هر ږغ او اواز ته هیڅکله رادیو نه سو ویلای . همدغه رنګه هر تصویر، څېره او مخ په هیڅ ډول تلویزیون نه سي بلل کېدای.

که حقیقت ته تن ور کوو، نو دا خبره باید په ورین تندي ومنو، چې د رادیو او تلویزیون په نړیوالو ټکوکي د اواز او انځور تر لفظي ماناوو ډېر غټ او ارت مفهومونه نغښتي دي . رادیو داسې برقي او تخنیکي وسیله ده، چې د هغې په کومک خبرونه، خبرتیاوې، موسیقي او نوري اطلاعاتي مسألې له زرونو کیلومتره واټن څخه اورېدل کیږي . هو په رادیو کې اواز سته؛ خو هر اواز رادیو نه ده . که خر، سپی، چرګ یا نور ژوي اوازونه باسي، د دې مانا دا نه ده چې هري خوا ته رادیوګاني چالانه دي . که لږ څه ځیر سو په تلیفون، مخابره، ګویا ( ږغ خپروونکې آله ) مایک ( ږغ ثبتوونکي آله) او ډېرو نورو تخنیکي او برقـــــــي وسیلوکي هم اوازونه سته . دلتـــــــه هم دا پوښتنه پیدا کیږي، چې ولي دغه ږغ خپروونکو وسیلو ته رادیو نه وایو؟ د اواز خپروونې پر ګډ خصوصیت سربېره، د دغو وآلو په میخانیکي او برقي جوړښت کې ډېر توپیر سته . هغه خپرونې، چې د رادیو له لاري کیږي، هیڅکله د تیلفون، مخابرې، ګویا، مایک او داسې نورو په مرسته نه کیږي . همدغه شان، په تلویزیون کې ریشتیا هم څېره او تصویر ښکاري؛ خو هر شکل او انځور د هیڅ منطق له مخي تلویزیون نه بلل کیږي . په تلویزیون کې د ځانګړو تخنیکي او برقي وسایلو په مرسته له اواز سره د ټولو ژوندییو پېښو تصویرونه هغه هم له سوونو او حتا زرونو کیلومتروفاصلې څخه مالومیږي . هر عکس او انځور د ژوندي موجود په شان خبري کوي . تلویزیوني انځورونه او ږغونه، په حقیقت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي له ليري واټن څخه د خلګو ژوندي عکسونه او مخامخ خبري ښيي ؛ مګر يو بې سا او بې اوازه تصوير، چي دوی يې � سيما � بولي، څنګه د تلويزيون لوی، پراخ او پرمختللي مفهوم افاده کولای سي ؟!

ايرانيانو د ميزايل ( Missile ) د لاتيني ټکي له پاره د � موشک � کليمه جوړه کړې ده . زه نه پوهيږم، چي دوی د موش يا موږک ټکی له کمه ځايه وموند، چي وروسته يې د تصغير د نخښې ( ک ) په زياتولو سره هغه نور هم پسي کوچنی کړ؛ ځکه د ميزايل په ټکي کي خو د موږک هيڅ يادونه نسته . که دا نوم ايښوونه، له موږک سره د ميزايل د شکلي او ظاهري جولې د ورته والي پر بنسټ سوې وي، نو بايد د � موشک � ايراني لغت جوړوونکو په دې خبر ه سر خلاص کړی وای، چي هر ميزاييل له موږک سره په څېره او بڼه کي ورته والی نه لري . تخينکي وسيلې هم د هر بل موجود په څېر، د نوو ساينسي بدلونونو او پرمختګونو له کبله خپلي بڼې او جولې اړوي . نه پينځوس کاله مخکي توپک او توپ پر خپله پخوانۍ بڼه پاته دئ؛ او نه هم ورځ په ورځ پرمختلوونکي راکيټونه . که يې پرون د موږک په څېر غټ غوږونه او اوږده لکۍ لرله، اوس ښايي ګرسره د پراخو غوږو او اوږدې لکۍ په شان ميکانيزم و نه لري . د دې خبري مقصد دا دئ، چي لغت جوړوونکی بايد د نوو ټکو په جوړولو کي داسي نومونه غوره نه کړي، چي ونه او ګونه يې د وخت په تېرېدو سره بدلون ومومي؛ او تر څه مودې وروسته د وضعه سوي ټکي مانا او مفهوم د شي له ظاهري او فزيکي جوړښت سره سمون و نه لري . سربېره پر دې ايا دا خبره منطق لري، چي پر داسي لويي او ستري وژونکي وسلې د � موشک � نوم کښېښوول سي، چي زر ګونه کيلومتره واټن وهي؛ او د بېلابېلو مقصدونو له پاره په ټنونو سوځونکي يا چاودېدونکي مواد له ځانه سره وړي ؟ د دې نوم ايښووني پر خلاف ايرانيانو د کمپيوټر موس ( Mouse) ته د� موش � ټکی غوره کړی دئ، چي تر لسو سانتيبو ډېر اوږدوالی او تر پينځو سانتيبو زيات بر ( سور ) نه لري . دونه کوچنۍ وسيلې ته � موش � او هغونه لويي وسيلې ( توغندي ) ته � موشک � وايي . اوس نو لوستونکي په خپله قضاوت کولای سي، چي د � موشک � جوړه سوې کليمه څنګه د لوړ ذوق او ژور منطق اصولو ته جواب ويلای سي؟

په دې وروستيبو وختو کي مي د بي بي سي راديو د پارسي څانګي په خپرونو کي يو نوی ترکيب اورېدلئ دئ ، چي کله کله يې د دغه څانګي زياتره افغان کارکوونکي هم د نورو ايراني ټکو؛ لکه دادستان، دادګاه، دادرسی، پيګرد، بازداشت، بازجويی، بازرسی، بازدشتګاه، باشګاه،، فرودګاه، دانشګاه، دانشکده، دانشـــــــــجو، دانش آموز، شهرداری، شهردار، پروفسور، راهبرد، راهکار، پزشک، بازرګان او داسي نورو تر څنګ په وياړ سره کاروي . دا نوی ټکی د � دوست دختر � ترکيبي کليمه ده، چي په واقعيت کي د انګرېزي ژبې د ګرل فرېنډ ( Girlfriend ) تحـــــــــت اللفظـــــي ترجمه ده . مخکي تر دې چي د دې بې خونده او ټکي په ټکي ترجمه سوي ترکيب په اړه څو خبري وکوو، هغو افغان فرهنګيانو ته د دې ټکي يادونه ضروري ګڼم، چي که د � دوست دختر � په شان د پردو هر ښه او بدپه پټو سترګو را اخلي، نو له دې څخه څه شرم کوي، چي د خپلو خوږو پارسي نومونو لکه : � خوشو �، � خُسر �، � خسربره �، � يازنه �،� کاکا �، � ماما � ، � سونو �، � ييور � او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي نورو پر ځای په خپلو ورځنيو خبرو او ليکنو کي ايراني نومونه لکه : � مادرزن �، � پدر زن �، � برادر زن �، � داماد �، � عمو �، � دايی � او داسي نور استعمال کړي ؟ که دغو ښاغلو ته د ايراني ټکو کاروَنه هيڅ ربړ او تکليف نه ور کوي، نو بيا په دي کي هم هيڅ بدي نسته، چي د خپلي ژبي د خورا ډېـــــرو اشنــــا او مانوسو ټکو پر ځــای د � هويـــــــــج �، � اسفناج �، � سيب زمينی �، � گوجهٔ فرنگی �، � خيار �، � کـــــــره �، � رازيـــانه �، � خردل �، او داسي نور و په څېر سلگونه ټکي هم په پراخه توگه دودکړي؛ تر عامو نومونو چي تېر سو، بيا نو وار د خاصو نومونو راځي، چي پر ايراني پارسي مين افغان فرهنگيان يې بايد په خپل شخصي ژوند کي په ټينگه مراعات کړي . هر چا ته مالومه ده، چي د انسانانو په نوم اېښوولو کي هم د ايران د پارسي ژبو او افغاني پارسي ژبو تر منځ ډېر توپير سته؛ خو دا کار په تشو لاسونو د غرونو هوارول دي، چي زموږ جذباتي ايران مآبان به يې هيڅکله تر عهدې و نه وزي . له دې کبله چي د پېښه گرو دا عملونه له هيڅ راز علمي معيارونو سره سمون نه لري، نو له شرموونکي ناکامۍ پرته بله نتيجه هم نه سي را منځ ته کولای . موږ ټول بايد په دې روښانه حقيقت ځانونه پوه کړو، چي هره جغرافيايي محدوده ځانته بېل خصوصيات او مشخصات لري . ځيني ځانگړتياوي او مشخصات له يوه ځايه بل ځای ته نه وړل کيږي؛ ځکه هر ملت بېله روحيه، بېل تاريخ او بېل وياړونه لري . زموږ ژورناليستان، ليکوال او څېړونکي هم بايد په پټو سترگو د هغو ټکو، ترکيبونو او اصطلاحاتو د کاپي کولو هڅه و نه کړي، چي زموږ د خلگو له ژبي، تاريخ او ملي دودونو سره سمون و نه لري . تر دې لنډې تبصرې وروسته اوس بيرته راگرځو د � دوست دختر � د بدرازه او بد خونده تر کيب په اړه څو خبرو ته . د سلـــــــــيم ذوق څښتن په خپله قضــــاوت کولای سي، چـــي د � دوست دختر � نامأنوس، نازېبا او ناوړه ترکيب څنگه د انگرېزي ژبي د گرل فرېنډ مفهوم افاره کولای سي؟ ځکه چي په � گرل فرېنډ � کي دهري همزولي، ملگري، دوستي، شريکي يا خواهر خواندې مفهوم نه دئ نغښتی؛ بلکي دا ترکيبي ټکی اصلاً د هغي نجلۍ په مانا کارېږي، چي له خپل نارينه انډيوال سره جنسي اړيکي ولري . داسي اړيکي په افغاني، ايراني او نورو اسلامي ټولنو کي نامشروع يا غير قانوني بڼه لري؛ خو په لوېديزه نړۍ کي د عيسوي دين له ظاهري واکمنۍ او اغېزې سره سره د دې خبري پوښتنه نسته . په پارسي کي د دې مفهوم له پاره رفيقه، معشوقه، محبوبه، يار، شاهداو داسي نور ټکي سته، چي هم د انگرېزي � گرل فرېنډ � مانا په بشپړه توگه افاده کوي؛ او هم په پارسي ژبه اوادب کي له پېړيو پېړيو راهيسي اشنا او ښايسته ټکي دي .

شک نسته، چي د هري ژبي د ودې او پرمختگ په بېلابېلو پړاونو کي د تکلف او مشکل تراشۍ راز راز مکتبونه او لاري راغلي دي، چي پيروانو يې په لوی لاس د ژبي او هونر ساده مفهومونه د خپل ادبي او هونري کمال په توگه، پېچلي او کړکېچن کړي دي؛ خو دا خبره هر چاته د منلو وړ ده، چي داسي ادبي او هونري ښوونځيو په عامو ولسونو کي، چندان ځای او مقام نه دئ موندلئ؛ ځکه تکلف او تصنع د يوه دروند پېټي په څېر هيچا ته د زغم وړ نه دي . له دې امله د ټولني عام وگړي د هيچا گرانو ټکو، پېچلو ترکيبونو او کړکېچنو تعبيرونو ته زړه نه ښه کوي . له دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانه واقعيت سره سره، زموږ په ټولنه کي د پارسي او پښتو ژبو ځينو ژورناليستانو، ليکوالو او شاعرانو په پوهي يا ناپوهۍ سره د هيواد د ملي ټرمينولوژۍ د ښکلو او خوږو ټکو پر ځای د پردو ژبو د نااشنا، ناوړه او بې خونده کليمو داسي لاس خلاصي کاروَني ته ملاوي تړلي دي، چي ډېر ژر به خپله اصيله ژبه په خلګو کي پردۍ کړي . د دغه ورانوونکي فرهنګي بهير پلويان بايد په دې خبره ځانونه پوه کړي، چي د هري ورځي په تېرېدو سره د خلګو اسانه او خوږه ژبه د خپلو ړندو پېښه ګرييو قرباني کوي؛ او په خپلو لاسونو ځانو ته قبر کيني .

دلته بايد د ژبي د ورانولو او ملي هويت د له منځه وړولو دوو بېلو مسألو ته په ځير سره پام وکړو . که په افغانستان کي د ايراني پارسي بې خبره او افراطي پلويان غواړي په خپلو خبرو او حتا شخصي ليکنو کي، د خپلي خوږې پارسي پر ځای د ايران جعل سوي کليمې کار کړي، د دې کار په وړاندي هيڅ بنديز او پابندي نسته؛ ځکه هغوی په خپلو نااشنا او کله کله نامعقولو ټکو سره ځانونه له خپلو عزيزانو او خپلو خلګو بېلوي؛ عام ولس څه چي آن د خپلي کورنۍ غړي او نيژدې خپلوان او انډيوالان به يې هم په خبرو او ليکنو نه پوهېږي . ژورناليست، شاعر ، ليکوال، څېړونکي او د فصاحت او بلاغت د ډګر نورو کسانو ته تر دې لويه سزا نسته، چي خلګ له بيانه شکايت او کرکه وکړي . لکه څنګه چي افغانانو هيڅکله د نورو صادر سوي ايډيالوژۍ نه دي منلي، همدغه راز به هيڅکله د نورو ملتونو صادر سوو ټکو ته هم زړه ښه نه کړي . بله مهمه او ارزښتناکه مسأله د افغانستان د پېژندګلوۍ او هويت خبره ده، چي هيچا ته بايد له هغې سره د لوبو کولو اجازه ور نه کړه سي . زموږ زړور او توريالي ولس د افغانستان لرغوني تاريخ او وياړلو دودونو ته په ژوري کتني سره په ټينګه پرېکړه کړې ده، چي په دې هيواد کي بايد تل د ځينو علمي، اداري او فرهنګي نومونو له پاره له ملي ټرمينالوژي څخه کار واخيستل سي . دې ملي ټرمينالوژي د اوږدو کلونو په ترڅ وده کړې ده؛ او زموږ ټول هيوادوال بايد د دې لرغوني او وياړلي خاوري د ملي تشخص او پېژندګلوي په خاطر هغه په ګردو رسمي او دولتي چارو کي په جدي توګه په پام کي ونيسي . داسي ملي ټرمينالوژۍ د نړۍ په نورو متمدنو او مهذبو هيوادونو کي هم باب دي . ايرانيانو د خپل ملي هويت د ښوولو له پاره د � فرهنګستان �، � دانشګاه �، � دانشکده � او داسي نورو په څېر نومونه غوره کړي دي . موږ هم بشپړ حق لرو، چي د افغانستان د پېژندګلوۍ له پاره خپله ملي ټرمينالوژي کار کړو؛ او د هيواد په رسمي او دولتي ژوند کي د انګرېزي � يونيورستۍ � او � فاکولتې � پر ځای د � پوهنتون � او � پوهنځی � ټکي استعمال کړو . دغه راز بايد � لويه جرګه �، � ولسي جرګه �، � مشرانو جرګه � � ستره محکمه �، � لويه څارنوالي �،� څارنوال �، � قضأ �، � قاضي � ،� ولسوالي �، � ولسوال �،� پوهيالی �، � پوهنيار �، � پوهنمل � ،� پوهندوی � ، � پوهنوال � ، � پوهاند� او سلګونو نورو پر ځای د پردو ټکو د کاروني او خپروني مخه ونيوله سي . هر چاته څرګنده ده، چي افغانستان له سياسي، اجتماعي او فرهنګي پلوه يوه خپلواک هيواد دئ . همدا ملي ټرمينولوژي افغانستان له ايران، پاکستان او ټولي نړۍ څخه بېلوي . ګرده افغانان بايد په خوښۍ سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې واقعیت ته غاړه کښېږدي، چې افغانان سرونه بایلي خو په هیڅ ډول حاضر نه دي، چې د خپلو پلرونو او نیکونو ژبه، تاریخ او دودونه هېر کړي .

د اینټرنیټ له برکته په دې وروستیو لسو - پینځلسو کلونو کې د نړۍ خلګ له یوې نوې ترکیبي کلېمې سره اشنا سوي دي، چې ایمیل ( e - mail ) نومیږي . هر څوک په دې خبره ښه پوهیږي، چې ایمیل د اینټرنیټ له لارې د لیکنو او ډول ډول نورو اسنادو لېږلو او رالیږلو ته وایي . د ایران د پارسي ژبې د سوچه کولو ښاغلو ماهرانو دا ټکی د � پُست الیکترونیک � په بڼه ترجمه کړ . عجبه او اریانونکې ترجمه، چې انګرېزي اصطلاح ته یې د پارسي تر کیب پر ځای بیرته انګرېزي ترکیب غوره کړ ؟ ! د ایرانیانو دا هو به هو اړول سوی ترکیب،پر خپل نامأنوس والي او نوي توب سربېره، تر خپل اصلي حالت ډېر اوږود او بې خونده دئ . څوک نه پوهېږي، چې ایراني لغت جوړوونکو د � پُست الیکترونیک � په ناوړه جعل او اختراع کې څه ګټه لیدلې ده ؟ ځکه ایمیل ( e - mail ) له یوې خوا په ټوله نړۍ کې پېژندل سوې او منل سوې کمپیوټري اصطلاح ده؛ او له بلې خوا په وضعه سوې بڼه ( پُست الیکترونیک ) کې د پارسي ژبې هیڅ نخښه نه لیدله کیږي . په وضعه سوې اصطلاح کې خو نه د پُست ( Post ) ټکی پارسي دئ، او نه هم د الیکترونیک ( Electronic ) ټکی . هغه څه چې د ایرانیانو په دې خوښه کړې ترکیبي کلیمه کې د لمر په څېر روښانه دي، د اصــــلي نړیوالي او مــنل سوې بــــــڼې ایمـــــیل ( e - mail) په پرتله د دې ټکي اوږدوالی، بې خوندي او نوی توب دئ . دلته بیا هم د سلیم عقل خاوند، په خپله قضاوت کولای سي، چې د ایرانیانو په � پُست الیکترونیک � کې څه مانوي ( معنوي ) او ظاهري ښېګنه پرته ده ؟ زه باور لرم، چې د سلیم ذوق څښتن هیڅکله په خپله ژبه کې، هغو جهانشمولو ټکو او اصطلاح ګانو ته د داسې معادل ټکو د جوړولو پلوي نه کوي، چې نه یې شکل او جوله د خپلې ژبې په شان وي؛ او نه هم تر اصلي بڼې اسانه او په زړه پوري . د� ایمــیل � د انګرېزي ټـــکي له پــــــاره، د پښتـــــو � برېښنا لیک � تر ایراني � پُست الکترونیک � ډېر غوره دئ؛ ځکه د� ایمیل � مفهوم یې په روانه، ساده او خوږه پښتو بیان کړی دئ؛ اوتر ایراني وضعه سوي ترکیب ډېر لنډ او اسانه دئ . د لغت جوړولو هونر ( هنر ) او کمال هم په دې کې نغښتی دئ، چې نوې کلیمه باید د مانا له پلوه دقیقه او جامع او د ظاهري شکل له پلوه لنډه، اسانه ، خوږه او په زړه پوري وي . که د فصاحت او بلاغت د اصولو له مخې جوړ سوي ټکي او اصطلاحات، په خلګو کې د بهرنیو کلیمو ، ترکیبونو او اصطلاحاتو تر تعمیم او خپرېدو مخکې وړاندي سي، په پوره باور سره به هري خواته په لږ وخت کې باب سي .

په انګرېزي کې یوه مرکبه کلیمه سته، چې هاټ واټر باټل ( Hot - water - bottle ) نومیږي . دا ترکیبي نوم لکه څنګه چې مالومیږي له درو بېلو ټکو څخه جوړ سوی دئ . ایراني ژباړونکو په خپلو اثارو کې د � کیسهٔ آب گرم � په ډول ټکی په ټکی ترجمه کړی دئ؛ خو پښتنو د دې دواړو اوږدو او بې خونده انګرېزي او ایراني مرکبو کلیمو پر ځای یو لنډ او اسانه ټکی غوره کړی دئ، چې ځیني پښتنانه یې � مشکوله � او ځیني یې � منبکوله � بولي ( په پښتو کې په � ښ � باندي د � ش � اوښتل خورا ډېر مثالونه لري ) . د مشکولې په لغت کې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړي هيڅ رنګ نه ليدل کيږي . لنډه، اسانه، ساده او خوږه کليمه ده؛ نو ځکه خلګو په ډېري خوښۍ سره منلې ده؛ او ددغه شي له پاره يې د هري ژبي د وضعه کړو ټکو په وړاندي لاره بنده کړې ده . د همدې استدلال له مخي که په هره نوې کليمه کي د غه راز خصوصيتونه خوندي وي هيڅ دليل نسته، چي نوې جوړه سوې کليمه، د خلګو له خوا په خوښۍ سره و نه منل سي.

د داسي کليمو او اصطلاحاتو فهرست ډېر اوږد دئ، چي د ټولو يادونه يې حتا په يوه مقاله کي هم نه ځايېږي . دلته د دغو څو مثالونو يادونه يوازي د دې خبري د اثبات له پاره ده، چي وښيو د ژبي داسي سوچه کول نه هيڅ علمي او منطقي تاداو لري؛ او نه يې خلګ په خپلو ورځنيو محاورو او مکالمو کي کارولو ته تيار دي؛ د باد راوړي کاغذ په څېر، تر څو مياشتو او کلو وروسته يا بيرته پر بله خوا په هوا کيږي يا د کليماتو د ژوند او مرګ د قانون له مخي تل تر تله، له منځه ځي .

زموږ د سيمي ژبي، فکري او فرهنګي دودونه يوله بله داسي اخښلي او بخښلي دي، چي که دسوچه کولو په کار کي علمي او منطقي لار غوره نه سي، زموږ د ژبو او کلتور له ارزښتناکو لرغونو اثارو، فکري او فرهنګي سرچينو سره اړيکي، د نابودۍ تر حده کمزوري کيږي . په تورکيه ( ترکيه ) او د منځنۍ اسيا په پخوانيو شوروي جمهوريتوکي همداسي وسوه . د ژبي او فرهنګ لرغوني اثرونه په داسي بې رحمۍ له منځ يووړل سوه، چي اوس لوستو کسانو ته هم د خپلو پلرونو او نيکونو د علمي، ديني، ادبي او تاريخي اثارو پوهيدنه ډېره ګرانه او ربړوونکې ده .

که څوک د پښتو په سوچه کولو کي دغه راز افراطي او نامعقول ګامونه واخلي، زموږ پښتنو راتلونکي پښتونه ( نسلونه ) به هم له لويو سرګرادنييو او پېچومو سره مخامخ وي؛ ځکه که يوازي د پښتو ژبي د منځنۍ دوري اثار په پام کي ونيسو، ګورو چي په ټولو ليکنو کي داسلام د سپېڅلي دين عقايد او نظريې مرکزي مقام لري . پر فقهي او مذهبي موضوع ګانو سربېره، د پښتو عرفاني شاعري هم په ژوره توګه له عربي ژبي او اسلامي فرهنګ سره ټينګي اړيکي لري . دغه رنګه د سيمي تاريخي، سياسي، فکري، کلتوري، اجتماعي او اقتصادي بدلونونو ته په پاملرني سره هم دا خبره په بشپړه توګه جوَته ده، چي د ګاونډيو ولسونو ژبو، فکري او فرهنګي بهيرونو، د پښتو پر ګردو اثارو ژوره اغېزه ښندلې ده . له اوستا، سنسکريت، هندي او پنجابي څخه نيولې بيا تر زړې پارسي، پهلوي، عربي او تورکي پوري ټولي ژبي او په دغو ژبو ليکلي ديني، ادبي او علمي اثار، د پښتو ژبي او ادبياتو په ېېلابېلو برخو کي ارزښتناک ځای لري .

که څوک په بې باکۍ سره د دغو ژبو د يومخيزي شړني او ايستني هڅه وکړي، په حقيقت کي زموږ راتلونکو نسلونو ته د پښتو ادب د لرغونو ميراثونو په پېژندنه او څېړنه کي، جبران نه منوونکې ستونزي پيدا کوي . د پښتو د معاصر ادب او تاريخ بابا - لوی استاد علامه حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) له ځينو اريايي ژبو سره د پښتو ټکو او ترکيبونو د ګډوالي او ورته والي او د پښتو ژبي د سوچه کولو په اړه خورا درنې او علمي نظريې وړاندي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي، چي دلته يې د څو جوملو يادونه ډېره ګټوره ګڼو . لوی استاد ليکي : � د پښتو او دری او هندي ژبو ډېر لغات سره مشترک يا سره نژدې دي، دا ځکه چي يو خو په ريښه کښي سره شريک دي او بل دا چي دد غو خلکو په منځ کښي تل اقتصادي او تجارتي او فرهنګي روابط او تګ او راتګ موجود ؤ، نو ډېر کلمات له غربه شرق ته نقل سوي، يا له شرقه غربي خواته تللي دي . د پښتو� آس �، د دری � اسپ �، د سنسکريت � اشو � څوني سره نژدې دي . د پښتو ډېوه، او د سنسکريت ډېوه سره مشتر ک دي . د پښتو� لس � او د هندي � دس � او د دری � ده � د تبديل تر خاص قانون لاندي دي، او ځکه چي هيڅ ژبه له مشترکو لغاتو او کلماتو څخه نه ده خالي، نو آيا د يوې ژبي تخليص د نورو ژبو له اثره څخه ممکن دئ ؟ زما په عقيده، يا ! اما دلته بايد دا خبره هم وکم، چي د ژبي سوچه کول خو بالکل ممکن نه دئ، مګر د ژبي بنياد قوي کول او روزل او پالل ښه کار دئ . په ژبه کښي چي کوم کلمات اوس مستعمل دي، هغه په دې ګناه ايستل، چي له بلي ژبي څخه راغلي دي، معقول کار نه ښکاري، مګر دغه کلمات په ثقافتي تعامل کښي اچول او له هغو څخه کار اخيستل ډېر ښه کار دئ ( حبيبي، ژبي او د تکامل قانون : آيا د ژبو سوچه کول ممکن دي ؟ ۱۹۹ ) .

د افغاني فرهنګ وتلئ او منلئ استاد، علامه حبيبي، له زړې پارسي سره د پښتو د نيژدې والي په اړه ليکي : � حتا په هغو درو کرښو کي، چي د هخامنشانو د پاچا- داريوش ( ۵۲۲- ۴۸٦ ق م ) له خوا په زړه پارسي د بغستان پر ډبره ليکل سوي دي، هم له پښتو سره ورته مالوميږي ( حبيبی، نظری به ادبيات پښتو ۴ ).

لوی استاد علامه حبيبي، د� قرب زبان پشتو به پارسی باستان � تر سرليک لاندي په يوه تاريخي او فلالوژيکه مقاله کي ډاډ او باور ښيي، چي که د زړې پارسي موندل سوي اثار په دقيقه او ژوره توګه و سپړل سي، د پښتو ژبي په مرسته به يې ډېر تاريک او مبهم اړخونه روښانه سي، ځکه د دې ژوري علمي ليکني په استناد د ژبو تر منځ نيژدېوالی له ورايه څرګند دئ ( حبيبی، قرب زبان پشتو به پارسی باستان ، يغما ۱، ۲۰- ۲۴ . د نور مالومات له پاره وګورئ : حبيبي، پښتو او پخوانۍ آريايي ژبي او د ځينو لغاتو مقايسه او پرتله ۴۵- ۴۹ او حبيبي، د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښي ۲۱- ۲۴).

د افغاني فرهنګ روښانه او تلپاته ستوري، دغه راز د يوې ژوري ژبنۍ او تاريخي شنني په ترڅ کي، د بغلان د � سرخ کوتل � په هغه ډېرليک کي، چي په ۱۹۵۷ م کال د � نوشاد � په معبد کي وموندل سو، د زړې دری ژبي ( تخاری ) له ځينولغتونو سره د پښتو ژبي پر ګډوالي او ورته والي ټينګار کړی دئ ( حبيبی، نظری به ادبيات پښتو ۴) او ( حبيبی، زبان دو هزار سالۀ افغانستان يا مادر زبان دری ( تحليل کتيبۀ بغلان ) ۳۰- ۱۳۹) .

په بېلابېلو اريايي ژبو کي د پلار، مور، خور، ورور او ځينو نورو ټکو ورته والی او نيژدې والی ټول د دې روښانه حقيقت ښکارندوی دي، چي اوستا، سنسکريت، پښتو، پارسي او ډېري نوري اروپايي ژبي له آره ګډې او نيژ دې ريښې لري . علامه حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ په لومړي ټوک کي د اريايي قومونو د پيدايښت، خپرېدو، ژبو او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو تاريخي حقايقو په اړه خورا ژوره او مستنده څېړنه لري . دا علمي څېړنه د دې واقعيت بېلابېل اړخونه سپړي، چي پښتانه په ختېځ اريايان دي؛ او ژبه يې د نورو اريايي قومونو له لرغونو ژبو سره په ډېرو ټکو، عبارتونو او تعبيرونو كي يوشانتي والى يا نيژدې والى لري ( حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ، لومړی ټوک ۱۳- ۲۴ ).

له اريايي ژبو سره د پښتو ټكو او تركيبونو د ګډوالي او ورته والي په اړه، د لوی استاد د نظريو تر لنډېز وروسته اوس بايد په دې خبره پوره باور ولرو، چي په ځينو نورو اريايي ژبو كي كارېدونكي ټكي، تركيبونه او تعبيرونه د پښتو مسلم مال او ميراث دئ؛ او هيڅكله بايد د هغو په له منځه وړلو يا هېرولو كي هڅه و نسي . تر ټولو مهمه خبره دا ده، چي پښتو ژبه بايد هر چاته ساده، اسانه او په زړه پوري وي . د پښتو د سوچه كولو په نامه د دې ژبي د منلو او پيژندل سوو كليمو، تركيبونو او اصطلاحاتو پر ځای د وحشي، ګرانو او بې خونده ټكو وړاندي كول، پښتو ژبه د رياضي او فزيک تر فارمولونو هم سختوي . طبيعي خبره ده، چي داسي ګرانه او كړكېچنه ژبه ، نه يــوازي د زده كړي او څېړني له پاره د بهرنييانو مينه نه سي پارولای؛ بلكي د پښتني ټولني په اصلي ويوونكو كي هم خورا ډېري ناخوالي را منځ ته كوي . دا چي ولي په اروپايي ژبو كي انګرېزي او زموږ د سيمي په ژبو كي پارسي او اُردو په ډېري اسانۍ سره پراختيا او پرمختيا موندلې ده؛ او په سيمه كي يې د خپل او پردي دلچسپي ځان ته اړولې ده، د نورو دلايلو تر څنګ يې لوی راز په دې حقيقت كي پروت دئ، چي دغو ژبو له بېلابېلو ژبو څخه ورغلي كليمې، تركيبونه، تعبيرونه او اصطلاحات په مينې سره خوندي كړي دي . له دې امله يې د ځينو پردو ژبو ويوونكي، خپلو مورنييو ژبو او فرهنګي دودونو ته نيژدې ګڼي؛ خو د ايرانيانو د سوچه كولو افراطي كړنلاري ، بې شكه د پارسي ژبي پخواني خوږوالي، اسانۍ او سادګۍ ته ستر زيان رسولئ دئ . ايراني پارسي د ناوړه او خپلسرو جعلياتو په خپرولو سره اوس د دې ژبي پر پردو لوستونكو او ويوونكو سربېره، د پارسي ژبي له نورو لهجو لكه دری، تاجيكی او نورو څخه هم ډېره ليري سوې ده . نن خو نه يوازي ما غوندي پښتون ؛ بلكي د افغاني پارسي ( در ی ) او تاجيكي ژبي هر ويونكی هم د ايراني پارسي په ويلو او لوستلو كي ډېري جدي ستونزي لري . د دې زياتېدونكو مشكلاتو اصلي علت دا دئ، چي افغاني پارسي ( دری ) تر ډېري ګڃي خپل پخوانی اصالت ساتلئ دئ؛ ليكن ايرانۍ پارسي د سوچه كولو په نامه پر داسي لار روانه ده، چي د پارسي ژبي له ارزښتناكو لرغونو اثارو او دودونو سره هيڅ سمون نه لري . د دې كار وروستۍ نتيجه به داوي، چي د ايران عام وګړي به د وخت په تېرېدو سره د رودكي، فرخي، نظامي، مولانا، سعدي، حافظ او په سلګونو نورو مخكښو شاعرانو او ليكوالو په اثاروهيڅ نه پوهېږي ؛ ځكه ايرانيانو د دې ژبي د لرغوني ادب لاره تر ډېري ګڃي پريښې ده.

د پښتو ژبي د سوچه كولوافراطي او پيښه ګرو پلويانو هر پر دي ټكي، اصطلاح او تركيب ته د پښتو رنګ وركولو په ترڅ كي، د حقوقو ډېره عامه او مشهوره اصطلاح ( شخصيت های حقيقی او حُكمی ) په � رښتينو او حُكمي شخصيتونو � ژباړلې ده ) وګورئ : د ټوليزو رسنيو يا مطـــــبوعاتو قـــــانون، دري دېرشمـــــه مــــــــــــــاده (www. benawa.com. په دې حقوقي اصطلاح كي، چي د حقوقو په زياترو څانګو، په تيره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا خصوصي حقوقو کي خورا ډېره کارېږي، درې ټکي سته چي درې سره عربي دي . حتا د ایرانیانو د پارسي کولو په فابریکو کي هم د نورو سلګونو حقوقي اصطلاحاتو په شان، دې اصطلاح ته تر اوسه پارسي معادل نه دئ جوړ سوی . زموږ پښتون لالا په دې درو عربي ټکو کي یوازي یوه ټکي ( حقیقي ) ته پښتو معادل ومونډ؛ او دوه نور ټکي ( حُکمي او شخصیونه ) یې پر خپل حال پرېښوول . ستونزه دا ده، چي زموږ ژباړونکی په دې نه پوهېږي، چي په دې اصطلاح کي � حقیقي � ټکی د بل مترادف لغت ( صادق ) په شان د ریښتني په مانا نه دئ کار سوی . ټول حقوق پوهان پوهېږي، چي په حقوقو کي شخیصتونه دوه ډوله دي :

۱ -حقیقي یا فزیکي شخصیت ( Individual Personality )

۲ -حُکمي شخصیت ( Personality Corporate )

شخصیت په حقوقو کي د یوه شخص د حقوقو او وجیبو مجموعه ده . حقیقي یا فزیکي شخصیتونه په حقوقي عملونو او تړونونو( قراردادونو یا عقدونو ) کي د خپلي ارادې د تمثیل واک لري؛ لکه انسانان . حُکمي شخصیتونه، د حقیقي یا فزیکي شخصیتونو پر خلاف په حقوقي عملونو او تړونونو کي د خپلي ارادې د تمثیل واک نه لري . انسانان په خپله خوښه دغه راز حُکمي شخصیتونه جوړوي؛ او بیایې په خپله خوښه له منځه وړي؛ لکه ډول ډول شرکتونه، ګوندونه، اتحادیې، سازمانونه، مؤسسې او نور( Gifis 343 ) & (Dictionary of Legal Terms 121 ) .

دحقیقي او حُکمي شخصیتونو څېړنه اوږده حقوقي مسأله ده، چي غزول یې په دې ژبنۍ څېړنه کي ځای نه لري . هغه څه چي دلته یې باید هرومرو یادونه وکړو، دا خبره ده چي زموږ پښتو ژباړونکي باید د هري اصطلاح د یوې یا ټولو برخو په ناوړه ژباړي سره د هغې مانا او مفهوم زایل نه کړي . په ټوله نړۍ کي د حقوقو زده کوونکي د حقیقي او حُکمي شخصیتونو له اصطلاح سره اشنا دي . باید پر همدې حال پرېښوول سي . که څوک په سرزورۍ سره د هغو ترجمې ته هڅه کوي، نو باید لومړی د هغو په حقوقي مفهومونو ځان ښه پوه کړي؛ او د � حقیقي شخصیت � حقوقي اصطلاح د صادق، راستګو او داسي نورو په شان په � ریښتني شخصیت � و نه ژباړي؛ ځکه چي په دې اصطلاح کي اصلاً د ریشتیا او درواغو خبره نسته .

هو د ژبي په سوچه کولو کي ډېري ګټي نغښتي دي؛ خو دا کار باید د ټولنیزو قوانینو له حُکمونو یا په بله وینا علمي موازینو او اصولو سره سم وسي . په دې کار کي احساسات او تعصُب هیڅ ځای نه لري . که څوک په ریشتیا هم د پښتو ژبي او ادب له ودې او غوړېدو سره مینه لري، نو د ې لوړ ارمان ته د رسېدو له پاره باید، زموږ په ژبه کي د د خیلو او مغغنو ټکو د یو مخیز شړلو پر ځای د هغوخنډونو او مشکلاتو له منځه وړلو ته ملا وتړي، چي تر اوسه پوري په پاکستان او افغانستان کي د یوې پراخي او غوړېدلي پښتو ژبي په وړاندي پر اته دي . لکه څنګه چي د ژبي په سوچه کولو کي تنګ نظري او افراطیت ، بې شماره ستونزو او تاوانونو ته لاره هواروي، په هماغه اندازه د خپلو خوږو او سپېڅلو ټکو پر ځای د پردو ټکو او ترکیبونو بې ځایه کارونه؛ یا د پردو ټکو، عبارتونو او اصطلاحاتو د سرکښ سېلاو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندي لاس تر زني کښېنستل هم زموږ د ژبي بېخ او بنياد له منځه وړي . بايد د پښتنو په بېلابېلو سيمو او لهجو کي تر هر اړخيزي پلټني او ژوري څېړني وروسته، د هري پردۍ کليمې او اصطلاح پر ځای د خپلي ژبي مروج او اشنا ټکي را وړاندي کوو؛ او په دې توګه د خپل قام اصيل او لرغوني امانتونه له تباهۍ څخه و ژغورو . په دې کار کي علمي او معقوله لار بيا هم د خپلو سوچه او سپېڅلو ميراثونو تر څنګ د اوړدو بدلونونو په ترڅ کي د راغلو پردو ټکو، تعبيرونو، محاورو او اصطلاح ګانو خوندي کول او پالل دي، چي په هيڅ ډول بايد د تعصبونو او تنګ نظريو قرباني نه سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایا پښتو ژبه سوچه کېدای سي ؟

ژبه د یوه ټولنیز مخلوق په توګه تل د بدلونونو او تحولاتو په بهیر کي ده . د ټولني په ژوند کي سیاسي، اجتماعي، فرهنګي، فکــري او اقتصادي تغییرات، هرومرو د ژبو په ټولو برخو کي ستر بدلونونه را منځ ته کوي . پر یوه ملت د بل هیواد سیاسي او پوځي واکمني، له یوه سیاسي او جغرافیایي چاپـــېر څخه نورو سیـــــــمو او هیوادونو ته د خلګو مهاجرتونه، د بېلابېلو ملتونو تر منځ فرهنګي، فکري او ډول ډول اقتصادي اړیکي، له هغو عواملو او سببونو څخه دي، چي د یوې جغرافیایـــــــي او کلتوري سیمي د خلګو پر ژبه او نورو ټولنیزو پدیدو د بهرنیيو ژبو، فکري او فرهنګي جریاناتو ښو یا بدو اغېزو ته لاره هواروي . دا اغېزې له یوې خوا د یر غلــګري ژبي او فرهنګ په سیاسي، پوځي، اجتماعي او اقتصادي پیاوړتیا او له بلي خوا د ځېل سوو ملتونو د ژبو او دودونو په ټینګښت او غښتلوالي پوري اړه لري . هغه ژبي، فرهنګي، فکري او اجتماعي دودونه، چي بې پیاوړو او مزبوتو ( مضبوطو ) ریښو زموږ خاوري ته راغلي وه، د تندر او برېښنا په څېر بیرته ولاړه . د دوی پر خلاف هغو ژبو، مـــادي او مانوي اړیکو، چي د راز راز علتونو او اسبابو له مخي يې په دې مځکه کي ژوري او پلني ریښې و ځغلولې، د پېړیو پېړیيو له پاره يې زموږ پر ژبو، فـــــکري، فرهنګـــــــي، اجتماعي او اقتصادي ژوندانه داسي پراخي او زوروري اغېزې پرېښوولې، چي په بشپړ باور سره اوس زموږ د هیواد او خلګو د ټولنیز ژوندانه په نه بېلېدونکي برخي اوښتې ده . په اروپـــایي ژبو کي د یوناني او لاتیني ژبي او زموږ په سیمه کي د اریایي، عربي او تورکي ( ترکي ) ژبو متقابل تأثیر د همدې سیاسي، فرهنګي، دیني، اجتماعي او اقتصادي اړیکو او بدلونونو غوره مثال دئ . لکه څنګه چي مو د � معیار او معیاري ژبه څه ته وایي ؟ � تر سرلیک لاندي دې خبري ته لنډه اشاره وکړه، زموږ پر لرغونې مېنه( اریانا، خراسان او افغانستان ) د هخـــــــامنشانو، یونـــاني سکنـدر، هندي موریایانو، عربو، مغولو، انګریزانو، روسانو، امریکایانو او نورو له پوځي، سیاسي او فرهنګي یرغلونو سره په ژبه، کلتور ، فـــکري او اجتمـــاعي ژوند کـــي ژور بدلونونه راغله ؛ او تر اوسه پوري د دې بدلونونو لړۍ روانه ده . په دې ډول، دا مسلم او انکار نه منوونکی حقیقت دئ، چي د نړۍ هیڅ ژبه او فرهنګ له نورو ژبو او تهذیبونو څخه بې اغېزې نه دئ . د یوې ټولني په ژبو او کلتوري ژوند کي د نورو ولسونو د ژبو، فکري او فرهنګي جریانونو تر څنګ د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي اړیکو د اغېزو کم رنګــي یا بیخي نسته والی ، په واقعیت کي د بشري بدلونونو له تګلوري څخه د داسي ټولني د لیري والي ؛ یا د بهرنۍ نړۍ په وړاندي د هغې د پیاوړي مقاومـــت په دې مـــانا دئ . بشري ټولنه د راز راز تمدنونو زانګو ده . په نړۍ کي هیڅ ټولنه تل تر تله له نورو خلګو او ولسونو څخه جلا ژوند نه سي کولای . د بشري اړیکو په دې پرمختللي پړاو کي زموږ پراخي نړۍ د یوه کلي بڼه اخیستې ده . د نړۍ ټول هیوادونه او ملتونه د ځنځیر د کړیيو په څېر سره تړل سوي دي . له دې ځنځیر څخه وتل له هره اړخه ناممکن کار دئ . انسانان د همدې ارادي او غیر ارادي بدلونونو، اړیکو او پرمختګونو له امله د یو بل کلیمات، ترکیبونه، تعبیرونه او نور مادي او مانوي دودونه یا په خپـــله خوښه اخلي؛ یا د وخت له غوښتنو سره سم په زور او جبر سره پرې تپل کیږي . دا نوي بللي یا نابللي مېلمانه د خپل نوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



والي او اغېزمنتيا له کبله د محکومو خلګو ژبو او رواجونو ته لار مومي؛ او تر اوږدې مودې وروسته کټ مټ د انسانانو غوندې په خپل نوي محيط کې لومړی د اهليت او تابعيت حق تر لاسه کوي؛ او په پای کې د نوي ټولنـــې او نوي ژبې په نه بېلېدونکې برخه اوړي؛ کرار کرار نوره وده کوي؛ اوتر لازم پوخوالي وروسته په خپل نوي ټاټوبي کې د نوو ټکو، نوواصطلاحاتو او نووترکيبونو په بڼه نوي نسلونه زېږوي . راغلي ټکي او ترکيبونه په نوي ژبه او نوي ټولنيز چاپېرکې، زياتره په بدله يا اوښتي جوله ؛ خو کله کله په خپله اصلي او ابتدايي ګونه ژوند ته دوام ورکوي.

پښتو هم د نورو ژبو په دود، په افغاني ټولنه کې د سياسي، اجتماعي، فکري، فرهنګي او اقتصادي بدلونونو او پر مختياوو په ترڅ کـــې له بېلابېـــلو ژبو او ټولنو څخه خورا ډېر لغتونه، ترکيبونه، اصطلاحات او محاورې اخيستي دي، چې اوس په خوښۍ سره زموږ د ژبې اوکلتور نه بېلېدونکې برخه ده . په بېلابېـــــــلو ژبو کـــــې دکليمـــــــو، اصطلاح ګانو او عبارتونو د راکـــړې ورکـــړې مسأله اوس دونـــه ( دومره ) پراخه او روښانه ده، چې آن د مثال او بولګې وړاندې کولو ته يې هم هيڅ اړتيا نه ليـــــدله کيږي؛ ځکه د هر لوستونکي په ذهن کې د داسې ټکو او اصطلاحاتو بې شماره مثالونه سته .

د انسانانو تر منځ ګډو اړيکو، د ژبې او فرهنګ په ګډون د ژوندانه هيڅ برخه، د نورو ملتونو له ژبو او دودونو څخه ليرې او بې اغـــېزې نه ده پريـــښې . د پښتو ژبې او ادب ځلانده او تلپاته ستوري - لوی استاد علامه عبدالحي حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴ م) د خپل نامتو اثر � سپېڅـــــلي پښتو � په دقيقه او عالمانه سريزه کې د سيوطي د � المزهر � په استناد ، په قرآن عظيم الشان کې هم د پردو ژبو د اثر ښندنې او ځينو معربو ټکو يادونه کړې ده، چې په هغو کې د پارسي ژبې � اباريق � او � سجيل �، د رومي ژبې � قسطاس � او � شيطان �، د حبشي ژبې � جبت � او � درى �، د سرياني ژبې � سرادق � او � طور �، د زنګي ژبې � خصـب � او � سرى �، د عبري ژبې � فوم �، د تورکي ژبې � غساق �، د هندي ژبې � مشكاة �، د قبـــطي ژبې � هيت لک � شامل دي؛ او د داسې ټـــکو شمېر سلو تـــــه رسيږي ( حبيبي، سپېڅلې پښتو کج ) .

که په اروپايي ژبو کې د انګرېزي ، فرانسوي او اسپانوي او په سامي ژبو کې د عربي ژبې په څېر بډايه ژبه سوچه نه ده پاته سوې، ايـــــــا پښتـــــو د اوستـــــا، سنسکريت، هندي، عربي، پارسي، تورکي او ځينو نورو ژبو له ژورو اغېزو سره سره ،سوچه او خالصه پاته کېدای سي ؟ جواب کاملاً روښانه او اسانه دئ . د پښتـــو د سوچه کولو خوبونه هم زموږ په ژبه او ټولنه کې د بدلونونو له طبيعي او اجتماعي قوانينو څخه ستړګې پټول دي . د انسانانو او بېلابېلو ژبو متقابلو اغېزو ته په پام سره، د سوچـــه ژبې اصطلاح اصلاً علمي تاداو نه لري . بايد د ژبې د سوچه توب پر ځای د ټولنې د عيني واقعيتونو پر بنسټ د هغې سموالي او کره والي ته فکر وسي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پښتو کې د پردو ټکو ډولونه

معظم استاد- علامه عبدالحي حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م ) له نن څخه تقريباً اويا کاله مخکې، پښتو ژبې ته د هغو پردو ټکو او اصطلاحاتو ډولونه پـه ژوره توګه بيان کړي دي، چې د پېړيو په اوږدو کې يې زموږ د ټولنيز ژوند په بېلابېلو برخو کې د بشپړ اهليت او تابعيت حق تر لاس کړی دئ؛ او ځينو يې په پښتو ژبه کـــــې دونه ژ ورې ريښې او ښاخونه غزولي دي، چې د نوو ټکو، ترکيبونو او اصطلاحاتو په بڼه يې نوي نسلونه زېږولي دي . دلته د لوی استاد له نظره د داسي مفغنو ټکو پېژندني او ډولونو ته يـــوه لنــــډه کتنه کوو.

د کليماتو او اصطلاحاتو د راکړې ورکړې په لړ کې، له بېلابېلو ژبو څخه پښتو ژبې ته پرېمانه لغتونه، اصطلاح ګاني او ترکيبونه راغلي دي، چې ځيني يې په خپله اصلي بڼه او مانا په پښتو کې بـــاب سوي دي؛ او ځينو نورو يې په افغاني چاپېر کې پښتني رنګ اخيستی دئ . په لومړۍ ډله کې د مثال په توګه : اسلام، دنيـــا، قيامت، آخرت، عقبی، قضا، قاضي، نکاح، طلاق، عدت، قـــتل، جــــــرم، جنحه، جنايت، ديت او په سلګونو نور ټـــکي، اصطـــلاحـــات او ترکيبونه شامل دي، چې پښتو له عربي ژبې څخه اخيستي دي . يا ډېوه، هټ ( هټۍ )، هډ، ګاڼه ( ګېڼه ) اوپه لسګونو نور، چې ظاهراً له هندي ژبې څخه راغلـــي دي؛ خو په حقيـــقت کـــي د ډېرو آريايي ژبو ترمنځ مشترک دي . دغه رنګه د اوبچه ، ورشو، غښتلي او ډېر نورو په څېر ټکـــي، چـې له اوستا څخه پښتو ته راغلي دي . يا د اپت، لـــچن ( لېچن )، ښکلـــي ( کښـــلي ) او داسي نورو په څېر لغتونه، چي له سنسکريت څخه په پښتو ژبـــه ګـــډ سوي دي . يا د ټيليـــګـــراف، ټيليګرام، راديو، تـــــلوېزون، سينما، مايکروســـکوپ، کمـــــپيوټر، اينټرنيټ او داسي نـــورو پـه څېر نړيوال تخنيکي ټکي او علمي اصطلاحات، چي زياتره له اروپايي ژبو څـخه پښتو ته راغلي دي؛ او د نورو هيوادو په شان په پښتو کي هم په خپله اصـــلي بڼـــه يا ډېر لږ بدلون بـــاب ســـوي دي . دوهمه ډله هغه ټکي دي، چې پښتني ټولني ته تر راننوتو وروسته له مانوي ( معنوي ) او شکلي پلوه اوښتي دي؛ کله يې مانا اوکله يې ظـاهري بڼې پښتـــــو رنـــګ اخيستی دئ . دې بهير ته د ژبپوهني په اصطلاح دخول او تفغين وايي . مفغن ټکي په خپله هم پر څو ډلو وېشل کيږي، چې دلته يې لنډه پېژنګلوي او څو مثالونه وړاندې کيږي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی : مانوي ( معنوي ) مغنات

هغه پردي ټکي دي، چي خپل اصلي حالت يې لږ و ډېر ساتلئ دئ؛ خو مانا يې اوښتې ده . دا ډول ټکو په پښتني چاپېر کي داسي نوې مانا او نوی مفهوم موندلئ دئ، چي له خپلي اصلي مانا سره نيژدې والی او ټينګي اړيکي لري؛ د مثال په توګه د � بشر � کليمه، چي په عربي ژبه کي د انسان د ظاهري پوست په مانـــا ده؛ خو په پښتو کي دا ټکی د انسان د ټول بدن او وجود په مانا کاريږي؛ چي � بشرکی � يې د تصغير بڼه ده ( حبيبي، سپېڅلې پښتو کد � کهـ ) .

د پښتو په لوېديزه ( لوېدځه ) لهجه کي د � بشر � کليمه خورا ډېره استعماليږي؛ لکه چي وايي : � ته زما بشر يې ! � ياني ته د ځان په شان راته ګران يې ؛ � خدای دي روغ بشر درکي ! � ياني خدای دي جوړ او روغ لره ؛ � بشر دي ومره! �، � بشر دي سرخوره سه ! �، � بشر دي خاوري سه �، � خوار بشری � او داسي نور، هغه ترکيبونه او تعبيرونه دي، چي د بشر تر عربي ټکي په نسبتاً پراخه او بېله مانا کاريږي ( حبيبي، سپېڅلې پښتو کهـ ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم : اوښتي مفغنات

اړول سوي مفغنات هم په خپل وار سره پر دوه ډوله دي : د اوښتو مفغناتو په لومړي ډله کي هغه کليمې راځي، چي يوازي يې ظاهري جوله څه نا څه اوښتې وي؛ خو خپله اصلي مانا يې خوندي کړي وي . د دغه راز ټکو په ظاهري بدلون کي زياتره د � ش � توری په � ښ �، د � د � توری په � ل �، د � چ � توری په � څ �، د � ج � او � ز � توري په � ځ �، د � ب � توری په � و �، د � ن � توری په � ڼ �، د � ث � توری په � ت � يا خپلو اصلي مخرجونو ته په نورو نيژدې ږغونو اوښتي دي؛ مثلاً:

آبدست - اودس روزه - روژه

اشک - اوښکي يا اوښي روشن - روښان

ا طاق - هوتاک شاد - ښاد

افعی - اپي شادی - ښادي

بهادر- باتور شور - ښور ( ږوږ، غوغا )

بهشت - بهښت شهر - ښار، ښهر

پشت - پښت ( نژاد ) فراخ - پراخ

تفنگ - توپک يا ټوپک فرشته - پرښته يا پريښته

جوان - ځوان فيروزه - پېروژه

خداوند - خاوند گريبان - گرېوان

خرج يا خرچ - خرڅ مثل - متل

خوش - خوښ معصوم - ماشوم

ميراث - ميرات

هيچ - هيڅ ( حبيبي، سپېڅلې پښتو کو).

د اړول سوو مفغناتو په دوهمه ډله کي هغه ټکي شامل دي، چي هم يې ظاهري جوله اوښتي وي؛ او په هم يې په مانا کي بدلون راغلئ وي؛ مثـــــلاً � اسي � هغه کليمه عربي ده، چي د عربي له � عاصي � ټکي څخه مفغن سوي ده، چي عربان يې د طاغي او گوناکار( گنهگار/گنهکار ) په مفهوم کاروي؛ خو پښتانه دا ټکی د بخيل،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم، منحوس، مړاوي او پژمرده په ماناوو استعمالوي؛ او � اسپګی � یې د تصغیر بڼه ده ( حبیبي، سپېڅلې پښتو کو) . دغه راز، عورت په عربي کي د انسان د وجود هغو ځایونو ته وایي، چي پټــول یې لازم وي؛ خو پښتنو له دې ټکي څخه بله کلیمه جوړه کړې ده، چي � اورته � نومېږي؛ او د مایني، ماندینې، ښځې، میرمني، کوروالا، کورودانې او داسي نورو په مانا کارېږي . پښتـــــنو وروسته د تورو په اړولو سره له همدې ټکي � اروته � جوړه کړه . ورپسې د همدغو مورفولوژیکو بدلونو په لړ کي له دې کلیمې څخه بل ټکي سر پورته کړ، چي � ارتیـــنه � بلل کیږي . د عربي ژبي � نعره � په پښتو کي، په � ناره � واوښته . وروسته له همدې ټکي څخه په پښتو کي داسي اصطلاح ګاني جوړې سوې، چي له عربي مانا سره یې هیڅ تړاو نه درلود؛ د مثال په توګه د زیاتره د کندهار او شاوخوا سیمو پښتانه وایي : � پلانۍ ناره وکړه . � د دغو سیمو پښتانه دا اصطلاح، د هغي نجلۍ یا ښځې له پاره استعمالوي، چـي د مور او پلار د خوښۍ او ټولنیزو دودونو پر خلاف ځانته د ژوند ملګری غوره کړي . دغه رنګه په پښتو کي، نارې هغو نظمونو ته هم ویل کیږي، چي له ملي وزنونو سره سم، د پښـــــتو د ولسي نکلونو په منځ کي ویلي کیږي؛ او زموږ ولسي نکلونو ته لا نوره ښکلا او جذابیت ور بخښي ( حبیبي، سپېڅلې پښتو کز) . په دې ډول ګورو، چي له عربي � نعرې � څخه په پښتني چاپېر کي داسي نوي ټکي او اصطلاحات و زېږېدل، چي پر خپلي ظاهري جولۍ سربېره، د مانا له اړخه هم له اصلي ټکي سره مځکه او اسمان توپیر لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم : منقلب مفغنات

هغه مفغن ټکي، چي په ترتيب او اوډنه کي يې ډېر بدلون راغلئ وي . د اِبدال، تخفيف، تزييد، حذف او ترخيم له کبله يې اصلي بڼه بېــــخي اوښتې وي؛ او پــه پښتو ژبه کي يې نوی رنګ اخيستی وي؛ لکه منځوی، چي د � ميان � او � منځ � له ټکو څخه پيدا سوی دئ؛ صباح او سبا، سحر او سهار ( د دې لغت له پاره، د پښتــو اصلي ټـــکی ګهيځ دئ )، فاتحه او پاتا، آويزان او الوېزاند، آزمايش او ازمايښت ( ازميښت، ازمويښت يا ازموينه)، کاهش او کاهښت، خواهش او خواهښت، خارش او خارښت او داسي نـــور په دې ډله کي دي ( حبيبي، سپېڅلې پښتو کز) .

په پښتو ژبه او ادب کي په سلګونو داسي ټکي ، ترکيبونه او اصطلاح ګاني سته، چي له پېړييو پېړييو راهيسي د پښتنو په ورځنييو خبرو او محاورو کي داسي ګـــــډ سوي دي، چي اوس يې څوک د پردي والي ګومان هم نه کوي . ځينو ځينو خو يې په پښتو کي خورا ډېر بچي هم پريښي دي؛ او هر يو يې د پښتو ژبي په لغوي او مانوي شتمنۍ کي لويه برخه لري .

مخکنيو خبرو ته په پام کولو سره ويلای سو، چي د سوچه کولو په نامه له پښتو ژبي څخه د داسي ټکو، اصطلاحاتو او ترکيبونو ايستل ډېر ناوړه او تـــاواني کار دئ؛ ځکه ژبه تر هر څه مخکي د پوهېدو او پوهولو وسيله ده . په هغه څه چي زموږ مندي او پلرونه، وروڼه او خوندي، خپل او اشنا او په پای کي د ټولني هر وګړی په ډېري اسانۍ سره پوهېږي، ولي بايد د داسي جعل سوو او نامأنوسو ټکو له خوا وشړل سي، چي زموږ خلګو يې له سوونو کلونو راهيسي نوم هم نه وي اورېدلئ؛ او نه يې د استعمــال په ځايونو پوهېږي . موږ بايد په دې روښانه حقيقت ځانونه پوه کړو، چي د امير کروړ ( د پټي خزانې له روايت سره سم په ۱۵۴ هـ ق کي مړ ) عصر زموږ څخه تقريباً ديارلس سوه کاله پخوا تېر سوی دئ . د زمانو سرړو او تودو زموږ په ژبه، ادب او تاريـــخ کي ډېر ژور بدلونونه راوستي دي . د دغو بدلونونو څو اړخيزو اغېزو ته په ژوري کتني سره اوس دا خبره ناممکنه برېښي، چي د امير کروړ د عصر او پېر ژبه بيرته له سره راژوندۍ کـــړو . لکه څنګه چي په دې سوونو کلونو کي زموږ د خلګو د ژوندانه هيڅ شی پر خپل حال نه دئ پاته، نو څنګه کېدای سي چي ژبه د يوه ژوندي او خوځنده ټولنيز موجود په توګه پر خپل پخـــواني حال پاته وي ؟ په هماغه ډول، چي زموږ پخوانييو پښتونو ( نسلونو ) خپل ځای موږ ته پرېښود، په ژبو کي هم د لرغونو ټکو، ترکيبونو او اصطلاحاتو پخواني نسلونه خپـــل ځای نوو نسلونو ته پرېږدي . زاړه کليمات مري او پر ځای يې نوي زېږي . بايد ټول دا ومنو، چي دا د تکامل او پرمختګ قانون دئ . هو په دې کي هيڅ شک نسته، چــــي په اوسنۍ پښتو کي بايد، زموږ د لرغوني ژبي نښې نښانې هم تر ډېره خوندي او ژوندۍ وي؛ ځکه دا زموږ د لرغونو اثارو او وياړونو د خونديتوب ښه لاره ده؛ مګر بيا هم د ادې مانا نه لري، چي موږ په ژبه، ادب، مادي او مانوي کلـــتور، اجتماعي او اقتصادي اړيکو کي د بدلون، پرمختګ او متقابلو اغېزو حقيقت تر پښو لاندي کړو . که څوک ډېري ته په سر نيولو سره، د پښتو د سوچه کولو په نامه د اسانه، بــــــاب سوو او منلو ټکو پر ځای، هغه ټکي او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکیبونه دروي، چې ښېله دوی بل هیڅوک نه په پوهېږي، دا نو په لوی لاس د پښتو د ارزښتناکو پانګو د تباهۍ او ورانۍ له پاره د لستـــــــونـــو را نغاړل دي؛ ځکه ټول په دې پوهېږو، چې هره ژبه د ګرانو،درنو او نابابه ټکو له امله ویوونکو ته بېلابېل ربړونه او کړاونه پیدا کوي؛ او په پای کې یې خلګ له ویولو او لیکلو ډډه کوي . . .

په داسې حال کې، چې د نړۍ لویې او پرمختللې ژبې تر ګرده له نورو ژبو څخه نوي ټکي او اصطلاحات اخلي، په پښتو کې له سوونو کلونو جال سوي لغتونه او اصطلاح ګاني په دې نامه له ژبې ایستل کیږي، چې ګوندې له بلې پردۍ ژبې څخه راغلي دي . دا چې دا پردۍ کلیمې او اصطلاحات څنګه او ولې زموږ ژبې ته را ننوتـــــي دي؛ او تر کمه ځایه یې زموږ پـــــه ژبه او ادب کې ریښې ځغلولي دي، د ژبې د یو مخیز سوچه کولو د ې ښاغلو پلویانو ته هیڅ بیه او ارزښت نه لري . انـــــګرېزي ژبه له خپل ارتـــوالـــــي او بډایتوب سره سره بیا هم هره ورځ د نورو ژبو لغتونه، عبارتونه او محـــــــاورې اخلي؛ د مثـــــال په ډول د سنسکریت ، هنـــــدي، عـــربي، تـــــورکي او پارســــــــــي ژبو ګــــــــورو( Guru ) ، پـــــنډیـــــت(Pandit/ Pundit ) ، لوټ(Loot ) ، پـــــرده / Pardah ) (Purdah، شال( Shawl ) ، کــــارما( Karma ) ، کشمیــــــــــره( Cashmere ) ، خاکي( Khaki ) ، کباب Kebab ) (، شیش کباب( Shishkebab ) ، حنا( Henna ) ، استاد ( Ustad ) او په لسګـــــــونو نور ټکي همدا اوس په خپله اصلي بڼه کاروي . په داسې حال کې، چې د دغو مفهومونو د بیان له پاره، په انګرېزي کې پرېمانه لغتونه سته . موږ د انګرېزي ژبې او نورو مهــذبو ژبو د داسې ژوندیو مثالونو پر ضد، د خلګو پر ژبو ناسټې کلیمې او ترکیبونه، د څو کسانو په وچو پرېکړو او فرمانونو سره، په داسې ټکو او عبارتونو اړوو، چې ظاهـــــــــراً پښتو رنګ او جوله لري، خو په حقیقت کې پښتنو ته د نورو پردو ټکو په شان، نا اشنا او بېګانه بربښي . د داسې ټکو او لغتونو فهرست ډېر اوږد دئ، چې په اصـــــــــــطلاح د � سوچه پښتو � سر سپارلو پلویانو زموږ په ژبه کې، د مروجو او منلو کلیمو پر ځای وړاندې کړي دي . اسوېلاند( سراښ، حریص )، پیلیزه (سریزه،مقدمه) ډانـــــــګ لــــکـۍ ( بلبل )، رنځمن ( رنځور، ناروغ، مریض )، زر پېښ ( زرګر )، سماو ( نیاو، عدالت، انصاف)،کتابخونه ( کتابتون،کتابخانه )، اوسمهال ( اوس، دا ګـــــــړی، دم ګـــړی، سمدستي) او پـه سلګونو نور له دې ډلې څخه دي.

## د پښتو سوچه کول که پردۍ کول ؟

د ا فراطي سوچه کولو پلویان په خپلو لغت جوړونو او اختراعاتو کې اوس دې پولې ته رسېدلي دي، چې سړی ښېرېږي یوه ورځ به خپل عربي او پارسي نومونه/ تخلصونه هم په پښتو ترجمه کړي؛ او په دې ډول به له خوږې او سپېڅلې پښتو څخه داسې کیچړی یا خرېړی جوړکړي، چې هیڅوک به یې خوند اخیستل څه چې، د خوړولو پـــه لاره هم نه پوهېږي . دکورنۍ غړي او عام خلګ خو پرېږدئ، چې زیاتره لوستي او پوه کسان هم د داسې کسانو د لغوي اختراعاتو په مانا نه پوهېږي . زه په خپله خو د ځینو ټکـــــــو پــــه اړوېدو داسې هک پک سم، چې باور وکړئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چینایي او جاپاني ژبي تر کلیمو هم راته نا اشنا او سخت وي . د � سوچه کولو � د لېوني غورځنګ ځیني پلویان په خپـــــــلو خبرو او لیکنو کي ادعا کوي، چي ګوندي په دې کار سره پښتو د پردو ژبو له اغېزې پاکوي ؛ خو په دې واقعیت خبر نه دي، چي په خپلو جعل کړو ټکو او ترکیبونو سره یې زموږ اسانه او خوږه پښتو تر پخوا زیاته په پردو ژبو پوري ترلې ده . هغوی د پردو ژبو د ځینو اسانه ټکو او ترکیبو له پاره داسي لغتونه او ترکیبونه اختراع کوي، چي په هیــــځ ډول پښـتو روح او خټه نه لري . په وضعه سوو ټکو او اصطلاحاتو کي له ورایه مالومیږي، چي د � سوچه کولو � � غازیانو � یوازي د کلیمې بهرنۍ جامه اړولې ده، نه د هغــــــې مانا او مفهوم؛ مثلاً د � پیشنهاد � مرکب ټکی د � پیش نهادن � له مرکب مصدر څخه اخیستل سوی دئ، چي د ډاکټر محمد معین او حسن عمید په فارسي فرهنګونو کي په دغو ماناوو راغــــــلئ دئ :

١ -هوډ کول، نیت کول، قصد کول، د کوم کار دکولو یا کوم شي د رانیولو او خرڅولو په اړه خبرتیا .

٢ -د شنني یا هوارۍ له پاره د یوې موضوع یا مطلب طرحه کول ( معین ١: ٩٣٦ ).

د � پیش نهادن � مصدر هم په دغو درو ماناوو راوړل سوی دئ :

١ -مخ ته کول، له خپل اصلي ځایه ځانته نیژدې کول ( د شاته ایښوولو پر خلاف ).

٢ -خنډ جوړول، په لاره کي د تېرېدو مخه نیول.

٣ -د سترګو په وړاندي ایښوول .

د � پیشنهاد � مرکبه کلیمه، د پارسي ژبي او ادب د ډېرو باوري متنونو په استناد، په دغو ماناوو بیان سوې ده:

١ -هغه سوچ او فکر، چي د کوم کار په اړه انسان ته پیدا کیږي .

٢ -قصد، هوډ، عزم، اراده، نیت، نیامت، مقصود، مراد او غرض .

٣ -قدر، تقدیر.

۴ -هیله، ارزو، اومید ( امید)، امل .

٥ -مقدمه.

٦ -قضیه.

٧ -د یوه سوداګر یا هونرمند ( هنرمند )، خرڅوونکي ( پلورونکي ) یا اخیستونکي ( پېرېدونکي ) عمل، چي په ټاکلو او مشخصو شرایطو سره د یــــوه کار د کولو خبرتیا ورکوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ -د ښه والي او بدوالي مالومولو له پاره د کومي موضوع طرحه کول او څرګندول ( معين ۱: ۹۳۵ ).

په پارسي کي د دې ټکي د جمعي سمه او منلې بڼه � پيشنهاد ها � دئ، نه � پيشنهادات �، چي د عربي ګرامر د قاعدو له مخي د � ات � په شاتړلو سره جمع سوی دئ .

په � فرهنګ فارسی عميد � کي هم د � پيشنهاد � مرکب ټکي ته زياتره د ډاکټر معين د فارسي فرهنګ په څېر همدغه ماناوي ليکلي سوي دي . وګورئ ( عــميد ۱: ۶۰۸- ۶۰۹ ) .

د پارسي ژبي په ورځنييو محاورو او مکالمو کي هم، د � پيشنهاد � مرکب نوم اصلاً د يوه کار يا مسألې په اړه د چاد سوچ، فکر، خيال، نظــــريې، غوښتنــــي او مقصــــد پــه مفهوم کاريږي؛ لکه څنګه چي څوک له بل چا څخه د پوښتني پر مهال وايي : � پيشنهاد تان دربارهٔ فلان موضوع چيست ؟ � ياني د پلانۍ موضوع په اړه دي نظـــــــر، خيــــال، سوچ او مقصد څه دئ ؟ د � پيشنهاد � ټولي ماناوي په حقيقت کي، د دې مرکبي کليمي مجازي يا اصطلاحي ماناوي دي، نه د هغې لغوي او تحت الفظي ماناوي . که څوک په پارسي کي له چا څخه وپوښتي : � نظر تان در بارهٔ فلان مسأله چيست ؟ � يا � خواست تان در فلان مورد چيست ؟ � او داسي نور دا ټول په حقيقت کي د � پيشنهاد � مفهموم رسوي . پـــه هـــره ژبه کي داسي ټکي، ترکيبونه او اصطلاحات خورا ډېر دي، چي د بېلابېلو علتونو او عواملو له کبله پر اصلي مانا سربېره، اوس په بله مانا کاريـــــــــږي . داسي ټـــــکــــــي او اصطلاحات پر پښتو او پارسي سربېره په نورو ژبو کي هم په پېځر دي؛ د مثال په توګه د � مغول � ټکی په اصل کي د يوه ځانګړي توکم نوم دئ؛ چي موږ ټول يې ښه پېژنو؛ خو په انګرېزي کي اوس دا ټکی د موګول ( Mogul ) په بڼه د مهم، متنفذ او بارسوخه کس په تيره بيا هغه چا په مانا استعماليږي، چي په سوداګرۍ يا فيلمي صنعت کي لــــوی لاس ولري . ( Robinson 881 ) دغه رنګه د � جهودا � يا � يهودا � ټکی، چي په اصل کي د حضرت عيسا ( ع ) په يارانو کي د ( Judas Iscariot ) له نامه څـــــخه اخيستل سوی دئ؛ خواوس په انګرېزي ادبياتو کي هر خاين، هر غدار، د لستوني هر مار او هر هغه چا ته ويـــــــل کيږي، چي خپلو يارانو او ملګرو ته خيــــــانت کوي Encarta online )& ( Robinson 733 ) Dictionary ) . په پښتو کي هم د داسي ټکو شمېر لږ نه دئ؛ مثلاً برېڅ د پښتنو يوه مشهوره قبيله ده . وروسته په دې قوم کي د� فتــــح خان برېڅ � په نامه يو څوک پيدا سو . دا سړی له خپلوشپېتو سرتېرو ملګرو سره هندوستان ته ولاړ . د فتح خان برېڅ ملګرو په هندوستان کي ډېري مېړاني او قربانۍ وکړې . د � فتـــــح خان برېڅ کندهاري � او � رابيا � د ميني او د هغه د سرتېرو يارانو کيسه د پښتو په ولســـي ادب کي ډېره مشهوره ده . له دې تاريخي پېښو سره د � برېڅ � ټکي، چي پخوا يــــوازي د يوې قبيلې له پاره استعمالېده، وروسته بله مانا هم ومونده . اوس ګورو، چي د دې لغوي تطور له مخي د � برېڅ � ټکی د تېروني يار، ملګري او همکار په مانا هم کارسوی دئ . . . ( حبيــبي، � د پښتو لغوي تطور، کابل � ۱۲۸ ) .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دي څو بولګو او مثالونو وروسته بيرته راګرځو د � پيشنهاد � کليمې ته . دپښتولغتونو او اصطلاحاتو ښاغلو مخترعينو د پارسي ژبي دا ترکيبي نوم تــکی په ټکی ترجمه کړ؛ او په � وړانديز � يې وړاوه . لکه څنګه چي ګورو � وړانديز � له � وړاند � او � يز � څخه جوړ سوی دئ؛ او د� يز � شاتړ يې نن سبا دونه ډېرکاريږي، لکـــــه د دوبي د موسم مچان، چي په هره کاسه کي لوېږي . په دې شک نسته، چي د � يز � شاتړ يا شاوندی د پښتو په ځينو سوچه ټکوکي کار سوی دئ، خو دا د دې مانا نه لري، چي حق او ناحق د هري کليمې په شا پوري وتړل سي . د � وړانديز � په ترکيبي نوم کي خو د سوچ، فکر، خيال، اند، نظريې، مقصد، مراد، ارادې، غوښتني هيڅ نښه او نښان نستــــــه؛ ځکه � وړاند � د پارسي د� پيش � ټکي مانا ده؛ او � يز � د � نهاد � له پاره په شا پوري ور تړل سوی دئ . اوس نو د سليم عقل او لوړ ذوق څښتنان بايد په خپله قضـــاوت وکړي، چي ايا د پښتو لغتونو ښاغلي واضعين او مخترعين، په دغه راز ټکي په ټکي ترجمه کړو ترکيبونو سره، د پښتو ژبي د سوچه کولو له پاره هڅي کوي که يـــــــې په پوهـــــي يـــــا ناپوهۍ سره تر پخوا زيات په نورو ژبو پوري تړي ؟ د � وړانديز � مخ او شا ټوله په غوَر سره وګورئ، د � پيشنهاد � له تحت الفظي ژباړي پرته د بل هيڅ شي مانا نه افــاده کوي . دا چي د پارسي ژبي د � پيشنهاد � ترکيبي کليمه تر کومي اندازي د خپلي مجازي مانا له پاره وړ او موزونه ده، زموږ د دې ليکني موضوع نه ده . دلته دا پوښتنه پيدا کيــــــږي، چي که څوک په پارسي، عربي او نورو ژبو کي هره تېروتنه يا شوډنګ کوي، بايد موږ يې هم پېښې وکوو، ځکه موږ بايد د ځينو په ناسم ګومان له هغو سره سيالي او شريکــــي وکوو ؟ جواب په ټولو حالاتو کي منفي دئ . موږ بايد د نوو ټکو په جـــوړولو کي تل د مانا اسانۍ، سادګۍ، لنډوالي، خوږوالي، پوخوالي او داسي نورو اصولو ته په ټينـــګـه پام وکړو . زموږ پوه او مستدل لوستونکي ښه پوهېږي، چي وړاندي کېدونکی شی کېدای سي کتاب، قلم، کاغذ او داسي نور وي، چي دا يو هم د سوچ، فـــــکر، خيـــــــال، غوښتني، مقصد، مراد، ارادې مانا نه لري . په دې ډول ګورو، چي د � وړانديز � ټکی د خپل اصلي او اساسي مفهوم هيڅ اړخ نه بيانوي .که څوک هرومرو د � پيشنـهاد � له پاره پښتو کليمه جوړوي، نو هغه بايد د � وړانديز � د نامعقول او ټکي په ټکي ترجمه سوي ترکيب پر ځای د سوچ، خيال ، هيلي، غوښتني، نظر، اند، هوډ په څـــــــبر څـــــــه وي نـه د � پيشنـهاد � د مرکب ټکي هو په هو تر جمه؛ مثلاً که څوک له بل چا پوښتنه وکړي : � د پلانۍ مسألې په اړه دي څه خيال دئ ؟ �، � په دې اړه څه سوچ کوې ؟ �، � په دې باره کي دي نظر څه دئ ؟ � يا � تاسي څه غواړئ ؟ � او داسي نوري جوملې ( جملې ) ټولي ساده، اسانه او سمي دي . عجبه داده، چي د پښتو په سپېڅلې او خوږه ژبه کي، د ډېرو شيــــانو له پاره داسي ټکي سته، چي مانا يې د لمر په شان روښانه دي؛ خو ځيني کسان په پوهي يا ناپوهۍ سره د هغو پر ځای د نورو ژبو داسي لغتونه او ترکيبونه ټکي په ټکي ترجمه کوي، چـــي عامه او مروجه مانا يې نه په اصلي ( پيشنهاد ) او نه هم په ترجمه سوې بڼه ( وړانديز ) کي د پوهېدو وړ ده . په بله وينا په پارسي او پښتو دواړو کي، عام وګړي � پيشنهاد � او � وړانديز � تر ټکو د نظر، خيال، فکر، غوښتني، خواست او نورو په مانا وو ښه پوهېږي . د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي استدلال په رڼا کي اوس په جرآت سره ويلای سو، چي خلګو ته د � سوچه � پښتو په نامه، د داسي ترجمه سوو ټکو وړاندي کول، يوازي د وخت او انرژۍ بې ځايه لګول دي او بس.

�ديدګاه � هغه بل ترکيبي نوم دئ، چي نن سبا په ايراني پارسي او افغاني دری کي خورا ډېر استعماليږي . د � ديد + ګاه � ترکيبي نوم له لغوي اړخه د ليدو ځای، د څارلو يا څارکولو ځای، د ترصد ځای او داسي نورو ته ويل کيږي ( عميد ١: ١١٧١ ) خو په پارسي کي ژورنالیستان او ليکوال دا ټکی د نظر، خيـــــال، فـــکر، ســـوچ، انديښي په مجازي او اصطلاحي ماناوو کاروي؛ مثلاً کله چي له چا څخه پوښتنه کوي، وايي : � ديدګاه تان در بارهٔ فلان موضوع چيست ؟ � يا � فلان مسأله از ديدګاه شما چګونه است ؟ � او داسي نـــور . په حقيقت کي د پارسي ژبي د � ديدګاه � مجازي ماناوي د انګرېزي ژبي د � Viewpoint or Point of view � ترکيب ترجمه ده، چي پخوا به يې په پارسي کي د � نقطـــه نظـــر يـــــا نکته نظر � په بڼو ويل . دا چي � ديدګاه � يا � نکته نظر � په پارسي ژبه کي د خپلو باب سوو ماناوو له پاره وړ او پر ځای دي که يا ؟ بيا هم زموږ د بحث او څېړني موضـــوع نه ده . هغه څه چي يادونه يې دلته ضروري ده، د دې خبري سپيناوی دئ، چي زموږ پښتو لغت جوړوونکو ولي د � ديدګاه � له پاره د� ليدلورى � ترکيب غوره کـــــــړی دئ؛ څـــکه پـــه � ليدلوري � يا � ليدځای � کي خو بيا هم د نظر، خيال، رايي، فکر، اند، سوچ او داسي نورو په څېر مفهومونه په دقيقه توګه نه ښکاري . د� ليدلــــوري � ترکــــيب تر ډېره حده د ايراني پارسي د � چشم انداز � له جوړسوي ترکيب سره برابري لـــري، چـــــي هغه هــــــم د انـــــګرېـــــــزي ژبــــي د � vista, angle, picture, side prospect, outlook, view, attitude, viewpoint, point of view, standpoint, scene, perception, perspective, � او داسي نـــــورو ټـــــکو ترجمـــه ده Gilmour ) . ( 530, 596

په پښتو کي د نظر، خيال، فکر، سوچ، اند، ليد، کتنه، انګور او داسي نورو ټکي تر � ليد لوري � غوره برېښي؛ مثلاً که له چا څخه پوښتنه وسي : � په دې اړه څه فـــکر کـــوې ؟ �، � په دې اړه څه خيال لرې ؟ � يا � تاسي دې مسألې ته څنګه يا له کمه اړخه ګورئ ؟ � يوې مسألې ته څنګه يا له کمه اړخه کتل، د پارسي � ديدګــــاه � او � چشـــم انداز � مفهومونه په خورا اسانۍ، ساد‌ګۍ او دقت سره بيانوي . که نور هر بدو بلا له ځانه را باسي؛ او ژبه د خپلو ذوقونو له مخي د عامو خلګو له ورځنيــــــو محـــاورو څخه مځکه او اسمـــان ليـري کـــوي، بايد موږ هم د � سوچه کولو � په نامه هغه ټکی په ټکی پښتو کړو؟ دا کار خو نه علمي تاداو لري؛ او نه هم د ښاغــلو � سوچـــه کــــوونکـــو � د � سوچه پښتو � هيله تر سره کولای سي .

د صدراعظم يا وزير اعظم حقوقي اصطلاح له ډېرو اوږدو وختونو راهيسي، زموږ د هيواد د اساسي حقوقو په تاريخ کي ځای مونډلئ دئ . اشرف الوزرأ- شاه ولي خان ( بګي خان ) د احمدشاه بابا د حکومت صدراعظم ؤ . سيد نور محمد شاه کندهاری، د امير شيرعلي خان پوه او مدبر صدراعظم ؤ، چي موږ ټول يې له نومونو سره اشنا يو . د دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري د يادوني هدف دا دئ، چي د صدراعظم کليمه له ډېرو وختونو راهيسي په دې هيواد کي باب وه . د صدراعظم ، وزيراعظم، رئيس الوزرأ ټکـــي پر پښتو سربېره په پارسي، اردو او ځينو نورو ژبوکي له ډېرو زمانو څخه جال دي . ايرانيانو د پارسي ژبي د سوچه کولو په لړ کي د صدراعظم پر ځاى د � نخست وزير � کليمه جوړه کړه ( معــين ۱: ۴٦۹۰ ) . د پښتو ژبي د� سوچه کولو � پلويانو هم له څه مودې وروسته د ايرانيانو پر پله پل کښېښود؛ او زموږ په حقوقي سيستم کي يې د يوې زړې او اشنا کليـــــمــــې پر ځاى د � لومړي وزير � ټکى راويست، چي په سل کي سل پردى ـ خته او جوله لري . د ايرانيانو د� نخست وزير � په دې ترجمه سوې بڼه کي، د نوښتګرى او پاخه منـطق هيڅ نښې نښانې نسته . سره له دې هم د داسي پېښه ګرييو او تقليدونو مخکښان ادعا لري، چي ګوندي په خپلو نوو ټکو او اصطلاحاتو سره يې پښتو د پارسي او نورو پـــــردو ژبـــو له اغېزو � ژغورلې � ده؛ او په خپل ګومان کوښښ کوي، چي له پارسي سره د چا خبره � رغنده سيالي � وکړي . په داسي حال کي، چي د سليم عقل خاوندان له ورايه ګــوري، چي د پښتو ژبي د � سوچه کولو � دې ناوړه ډولونو، زموږ سپېڅلې، اسانه او خوږه ژبه تر پخوا زياته په نورو ژبو ( له هغې ډلي په پارسي ) پوري ترلې ده . ټولو ژبپوهـــانو ته څرګنده ده، چي پښتو يوه لرغوني او اصيله ژبه ده . که څوک له پارسي يا نورو ژبو سره د سالمي او ګټوري سيالى خيال لري، نو ښه خو دا ده چي موږ هم خپله ژبه د پارسي، عــــــربي او نورو ژبو په شان پراخه او شتمنه کړو؛ لغوي، ادبي او علمي پانګې يې را ټولي، پراخي او بډايي کړو؛ د ولسي او شفاهي ادب د غوړېدو په لاره کي يې نه ســتړي کـــېـدونـکي کوښښونه وکړو؛او تر ټولو مخکي پښتو په ټولنه کي د يوې ژوندى ـ او فعالي سياسي، فرهنګي او اقتصادي ژبي مقام ته و رسوو . تر څو پښتـــو ژبه د ساينس او ټيکنالوژى، علومو او پرمختګونو ژبه نسي، د نړى له هيڅ ژبي سره د سيالى او رقابت لاپې نه سي وهلاى . موږ بايد په ټيـــنګ هوډ او سړه سينه، پښتو د علم او پوهي په ژبــه واړوو . هـــر پښتون عالِم او کمال داره که مؤرخ وي که ټولنپوه ، که ساينس پوه وي که مخترع، که شاعر وي که هونرمند بايد په پښتو ژبه نوي، علمي او هونري اثار وړاندي کــــړي؛ او په دې توګه پښتو ژبي ته، د هيواد په دننه او بهر کي لا زيات مينه وال او خواخوږي پيدا کړي .

له نورو ژبو سره د پښتو د علمي او معقولي سيالى په اړه تر دې لنډو خبرو وروسته بيرته د صدراعظم او نخست وزير اصطلاح ګانو ته راګرځو . په دې برخه کـي بايد تر هر څه مخکي دا پوښتنه را منځ ته سي، چي موږ ولي د ايرانيانو په پېښو او تقليد د صدراعظم ټکي ته د � لومړي وزير � ټـــکـى وټاکو؛ ځکه زموږ خلـــــــګ خو ټول له عمرونو راهيسي د صدراعظم له کليمې سره پوره اشنايي لري . دغه راز، � صدارت � هم افغانانو ته هغه اشنا او مأنوس ټکى دئ، چي د صدراعظم د دفتر يا اداري مانـــا لري . که موږ هم د ايرانيانو پر لار ولاړ سو، نو بايد � صدارت � ته � د لومړي وزير دفتر � و وايو؛ او په دې توګه د � صدارت � يو ټکى په درو ټـــکو ( لومړى + وزير + دفتر ) واړوو . ښه که دا ومنو، چي د صدراعظم مأنوسه او اشنا کليمه بايد هرومرو د پښتو په رنګ ور نګيړي ؛ ځکه موږ هم بايد خامخا هر څه د � سوچه کولو � په ماشين کي واچوو، نو بيا دا پوښتنه طرحه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي، چي ولي باید د ایرانیانو د � نخست وزیر � جعل سوي کلیمه ټکی په ټکی په پښتو وژباړو . موږ په پښتـــو کي صدراعظـــم ته � لـــوی وزیر �، � مشـــر وزیـر �، � ستر وزیر � او داسي نور ویلای سو، چي هم یې هرتر کیب د نورو ژبو له اغیزې خلاص دئ؛ او هم ساده او اسانه دئ . د صدراعظم اصطلاح په ځلورلسمـــــه میلادي پېړۍ کـــي له لاتین ژبي څخه انګرېزي ته ننوتلې ده؛ او اوس په پرایم رېټ prime rate ) (، پرایم لوکېشن( prime location ) ، پرایم سپاټ( prime spot ) ، پـــــرایـــــم ســـایټ( prime site ) ، پرایم ټایم ( prime time ) او داسي نورو ترکیبونو کي کارېږي . لکه څنګه چي ګورو د انګرېزي ژبي د پرایم مینیسټر ( prime minister)په حقـــــوقي اصطلاح کي هم د � پرایم � ټکی تر هر څه مخکي د مشر، اساسي، لوړ او عالي په ماناوو راغلئ دئ نه د لومړي یا اول په مانا . ( Robinson 1101)

د افغاني فرهنګ پر اسمان تلـــپاته او روښـــانه ستوري - لوی استاد عـــلامه عـبدالحي حبـیبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م ) د � اشرف الوزرأ � تر سرلیک لاندي په هغه ارزښتناکه تاریخي مقاله کي، چي د ا حمد شاه بابا د صدراعظم ( بګي خان ) د شخصیت او کارنـــــــــامو په اړه یې کښــــــــلې ده، د صدراعظم پر ځای د � لوی وزیر � اصطلاح کار کړې ده . تر علامه حبیبي وروسته په پښتو څېړنو کي بل لوی او بې ساری شخصیت - عـــــــلامه عبدالشکور رشاد ( ۱۳۰۰ ش / ۱۹۲۱م - ۱۳۸۳ ش / ۲۰۰۴ م ) هم د پټې خزانې د فرهنګ په دوهمه برخه ( ٦٣ ) کي د همدې شاه ولي خان اشرف الوزرأ ( بګي خان) له پاره د صدراعظم پر ځای د � ستـــر وزیر � نوم استعمال کړی دئ ( حبیبي، � اشرف الوزأ، � وړمه ۱ د ۱۳۵۳ وری : ۱؛ رشاد، پوهاند عبدالشکور، د پټې خزانې فرهنګ ، لومړۍ برخه ٦٣ ) . باید یادونه وکړو، چي د بګـي خان په نامه دې هوښیار او مخور خان، په ۱۱۶۰ ق کال، د بامیزو د کوچنۍ قبیلې په استازیتوب، د کندهار په � شیر سرخ � کي، د احمدشاه بابا ( ۱۱۶۰- ۱۱۸٦ ) د پاچــــا کېدو په څو کسیزه جرګه کي هم فعاله برخه لرله . احمدشاه بابا بګي خان ته د هغه د پوهې، هوښیارۍ، رېښتنولۍ او سترو خدمتونو په بدل کي، د شاه ولي خان اشـــرف الوزرأ لقب ورکړ. بګي خان خپله لور ( بلقیس) د احمدشاه بابا زوی ( شهزاده سلیمان) ته په نکاح کړې وه . اوس د کندهار د شاولي کوټ ولسوالي د همدې پوه او ستـــــــرګه ور قامي مشر په نامه نومول سوې ده.

د پښتو لغت جوړوونکي باید په دې خبره ښه سر خلاص کړي، چي د پښتو ژبي سوچه کول، یوازي پردو ټکو او اصطلاحاتو ته دپښتو رنګ ورکولو په مانا نه دئ . په بله ژبه، پردوکلیـــماتو او عبارتونو ته یوازي پښتو جامه ور اغوستل، هیڅکله زموږ درد نه دوا کوي . باید پردي خبره هم بشپړ غور وسي، چي پردو ټکو او لغتونو ته ورکړل سوی رنـــګ او روغـــن، له سلیم عقل او ژور منطق سره برابري لري که یا؟ یو وار خپلو کالو او کړو وړو ته وګورئ، چي ایا ستاسي او ستاسي د نیکونو په جامو او کړو وړوکي هیڅ توپیر او بدلون نسته . هر څوک دا مني، چي زموږ کالي، د ژوندانه وسایل او په مجموعي ډول ټول کړه وړه زموږ د نیکونو او تېرو سوو پښتونو له هغو سره هر اړخیز توپیر لري . دا توپـــیر او بدلون په هر هیواد او هره ټولنه کي لیدل کیږي . که د پر مختګ او تکامل دې زرین

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل ته غاړه ږدو، نو بیا سمدلاسه دا پوښتنه پیدا کیږي، چي ژبه او دودونه مو څنګه له پخوانیيو نسلونو سره توپیر نسي لرلای . . . د دې خبرو مقصد دا دئ، چي د ټولو لرغونو ټکو، پخوانیيو دودونو او رواجونو بیا را ژوندي کول، د ټولنیزو او طبیـــــعي قوانینو پر خلاف عمل دئ. . .

دلته د پښتو ژبي د � سوچه کېدو � په نیت د ځینو هغو بولګو او مثالونو یادونه کوو، چي ظاهراً د پښتو په رنګ لړل سوي دي؛ خو د منطق او استــدلال له اړخه کمزوري ښکاري . په دې وروستیيو وختونو کي د عربي ژبي د � جمهور رئیس � ټکي له پاره، په پښتو کي د � ولسمشر � ترکیبي نوم غوره سوی دئ . هر څوک په دې پوهېــږي، چي � ولسمشر � له ولس ( تورکي الاصله کلیمه ) او مشر ( پښتو ) څخه جوړ دئ . جمهور رئیس هم دوې بېلي برخي ( جمهور + رئیس ) لري، چي دواړه یــــــــــــې عـــــــربي دي . د جمـــــهور رئیس ټکی زموږ د هیواد د اساسي حقوقو په تاریخ کي ډېر اوږد عمر نه لري؛ ځکه په دې مځکه کي له پېړییو پېړییو راهیسي پاچهي حکومتونه وه . د جمهـــوریت او جمهـــور رئیس حقوقي اصطلاح ګاني، زموږ په هیواد کي له تاریخي پلوه په( ۱۳۵۲ش )کال، د داوودخان تر کودتا وروسته باب سوې دي . د ایران نامتو څېړونکي - استـاد سعید نفیسي ( ۱۲۷۴-۱۳۴۵ )، د پارسي ژبي د ناوړه ترکیبونو په اړه د خپلو څرګندونو په ترڅ کي، په دې اړه په زړه پوري استدلال کړی دئ، چي لنډه یادونه یې بې ګټــــي نه ده . استاد نفیسي باور لري ، چي د � رئیس جمهور � ا صطلاح دقیقه نه ده؛ باید دهغه پر ځای � رئیس جمهوری � وویل سي؛ ځکه � رئیس جمهور � په حقیقــــــت کي د یوه رژیم مشر دئ نه د ټولو خلګو. د پارسي ژبي د ناوړه ترکیبونو په باره کي، د پیاوړي محقق ، استاد نفیسي ، نظریې په هغه کتاب کي راغلي دي، چي د � در مکتــب استاد � په نامه کتاب خپور سوی دئ ( متأسفانه دا کتاب مي اوس په واک کي نه دئ ) .

د استاد نفیسي د استدلال په تایید، ریشتیا هم د نړۍ په بېلابېلو هیوادونو کي ډېر داسي جمهور رئیسان سته، چي له خپلو مخالفانو څخه د څــــــــو رایـــــو په ډېروالي، واک تر لاسه کوي . هره ورځ د یوه عالَم ګوندونو او ولسونو له ښکاره مخالفتونو او آن بغاوتونو سره مخامخ وي . پر دې سربېره د داسي جمهور رئیسانو شمېـــــر هم لږ نه دئ، چي د پوځي کودتاوو له لاري د واک پر ګدۍ ناست دي؛ او د برچې په زور پر خلګو حکومت کوي . په داسي شرایطو کي د دولــــــــــــــــت دغه راز مشـــــــــر ته څنــــــګه د � جمـــهـــــور رئیس � یا � ولسمشر � خطاب سم او پر ځای برېښي ؟ که څوک میـــرویس خان، احمدشاه بابا، خان عبدالغفار خان، خان عبدالصـــــــمد خان ، مهاتماګــــــــاندي، جواهر لال نهرواو داسي نور کسان د � ولسمشر � په نامه یادوي، په دې ډول خطاب او نوم اخیستنه کي هیڅ تېروتنه نسته؛ ځکه دا شخصیتونه په ریښتنــــــــي ډول د ولســونو مشران او مخکښان وه؛ خو د یوه رژیم مشر ته د � جمهور رئیس � یا � ولسمشر � په نامه خطاب کول ، علماً او منطقاً سم کار نه دئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اُردو ژبه کې جمهور رئيس يا دولتي مشر ته، د � صدر � عربي ټکی کاروي، چې لنډ، ساده او اسانه دئ . د پښتو په ګډون زموږ د سيمې په زياتـرو ژبو کې د عربي ژبې اغېزه، د يوه يا دوو ټکو په پښتو کولو سره نه ختميږي . زموږ د هيواد زياتره حقوقي اصطلاحات په عربي ژبه دي . دولت، حکومت، محکمه، رياست، مـــديـــريت، آمريت، عدالت، انصاف، نکاح، طلاق، ميراث، دعوه، جرم، مدعي، مدعي عليه، اتهام، الزام، قتل، جرحه، جنايت، جنحه، قباحت، مجني علـــيه، سرقت، زنا، عـــــــقد، قرارداد، اصول ، قواعد، مقررات او په سلګونو نور حقوقي او فقهي مصطلاحات ټول عربي دي . دا اصطلاحات اوس زموږ د ټولني په حقوقي او سياسي سيسټم کې داسي اخښلي او بخښلي دي، چـــي په چټکۍ سره يې ليري کول او اړول خورا لوی مشکلات پېښوي . د دې خبري مانا دا نه ده، چې حقوقي اصطلاحات بايد هرومرو په عربي يا بله پردۍ ژبه وي . که په پښتـــو کـــي داسي موزون او مناسب ټکي ومومو، چې د عربي يا بلي پردۍ ژبې مفهوم په سم او دقيق ډول افاده کړي، نو بيا هيڅ دليل نسته، چې د هغو په دودولو او تعمـــيم لاس پوري نه کړو؛ مګر دا کار بايد تر بشپړي څېړني او پلټني وروسته په کرار کرار وسي؛ ځکه د ژبې سمون او پر مختګ د عسکري کودتاوو او سياسي انقلابونو په څېـــر په څو ساعتونو او ورځو کي نه کيږي . که سره له دې ګردو خبرو بياهم هدف دا وي، چې د � جمهور رئيس � اصطلاح ته چې له اوس له څو کلونو راهيسي زموږ د ملي ټرمينولوژۍ يوه برخه ګرځېدلې ده، بايد خامخا يو پښتو ټکی پيدا سي، نو بيا ښه دا ده چې په پښتـــو کي د هغه پر ځای � دولتي مشر � يا د عربي � صدر � په څېر په لنډ ډول يوازي � مشر � وواېو، چې هم روښانه او هم سوچه پښتو ټکي دي او هم تر ډېره حده له منطق او عقــــل سره اړخ لګوي . � دولتي مشر � يا � مشر � کېدای سي د کودتا يا بلي نامشروع لاري واک ته رسېدلئ وي؛ مګر � ولسمشر �، � جمهور رئيس � ، � ملي مشر � ، � ملي قـــايد �، � ملـــي زعيم � او داسي نور د هغو کسانو لقبونه دي، چې په ريشتيا سره د ټولو خلګو او ولسونو د مشرتابه وياړ ولري.

په عربي ژبه کي څو ټکي سته، چې هر يو يې د جغرافيايي مفهوم له پلوه توپير لري؛ مثلاً محلي، ساحه يي، منطقه يي، ملي، بين المللي او جهاني . تر هـــــغـــــه ځايه، چې ماته مالومه ده د پښتو ژبې د � سوچه کولو � په لړ کي د � بين المللي � او � جهاني � دواړو عربي کليمو ته په پښتو کي د � نړيوال � ټکی جوړ سوی دئ . په داسي حـــــــال کـــــي، چـــــــي د � بين المللي � او � جهاني � تر منځ په مانا او مفهوم کي ډېر توپير سته . د � جهاني � کليمه لکه څنګه چې له نامه يې ښکاري پر هغه څه دلالـــــــت کوي، چې ګـــرده نړۍ پکښې نغښتې وي؛ د مثال په توګه د ملګرو ملتو سازمان داسي يوه جهاني مؤسسه ده، چې تقريباً د ټولي نړۍ هيوادونه، حکومتي او غېر حکومتي بين الملـــــــلي سازمــــــــانونه، ازادي بخښوونکي غورځنګونه او داسي نور بين المللي شخصيتونه پکښې را غونډ سوي دي؛ خو د اسيـــــــان(ASEAN ) ، ســـــارک (SAARC ) ايـــــــکو( ECO ) ، اروپـــــايي اتحـــــــاديې( European Union ) ، افريقايي اتحاديې African Union ) ) ، عرب ليګ ( Arab League ) او لسګونو نور په څـــــېر سازمانونه په هيـــــــڅ وجـــه نړيواله بڼه نه لري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چي په نومونو کي یې ویل سوي دي، دا سازمانونه په یوه ټاکلې سیمه یا ټاکلو هیوادونو پوري اړه لري . له دې امله د � نړیوال � ټکی د هـغو له پاره سم او دقیق نه دئ . دا سازمانونه سره له دې چي په ځینو برخو کي د بېلابېلو هیوادونو او ملتونو تر منځ اړیکي تنظیموي، په حقیـــــقت کـــي سیمه ییز یا منطـــــــقه یي خصوصیت لري .

د � نړیوال � کلیمه یوازي د جغرافیایي ارتوالي او لویښت په مانا ده؛ او په هغې کي د ملتونو یا هیوادونو تر منځ اړیکو ته هیڅ اشاره نسته . په دې خـــاطر، د هر هغه مفهوم له پاره کارېږي، چي د نړۍ په ګچه پراخوالی او لویښت ولري؛ د مثال په توګه تروریزم، نشه یي مواد، لوږه او بېکاري ټولي نړیوالي ستونزي دي . د � نـــــړیــوال � په مقابل کي زیاتره د � منطقه یي �، � ملي �، � ایالتي �، � ساحه یي �، � محلي �، � کلیوالي � او داسي نورو مفهومونه ویل کیږي، چي هر یو یې د غټوالي او ارتوالي له پلــوه یو له بله توپیر لري؛ مګر د � بین المللي � په مانا کي د مسألې غټوالي او پراخوالي ته هیڅ اشاره نسته؛ او په واقعیت کي یوازي هغو اړیکو یا همکاریو ته ګوته نیسي، چي د دوو یا څو ملتونو تر منځ په ځانګړو برخو یا ساحو کي رواني وي .

هغه کسان، چي د � بین المللي � او � جهاني � تر منځ توپیر نه مني، د ځینو بهرنییو متنونو په ژباړولو کي له پېچومو او کړاوونو سره مخامخ کیږي؛ مثلاً په دې انګرېزي متن کي د جهاني ( Universal ) او بین المللي ( International)ټکي څنګ پر څنګ راغلي دي :

" The Vienna Convention on the Representation of States in their Relations with Universal International Organisations."

ویانا کنوانسیون - له جهاني سازمانونو سره په اړیکو کي، د دولتونو د استازیتوب په اړه . یا ویانا کنوانسیون له هغو بین المللي سازمانونو سره په اړیکو کي، د دولتونو د استازیتوب په اړه، چي جهاني بڼه ولري .

له دې انګرېزي متن څخه هم په ډاګه ښکاري، چي هر بین المللي سازمان، جهاني نه دئ . په ډېرو سازمانونو کي پر بېلابېلو هیوادونو سربېره ډول ډول سیاسي، حقوقي، فرهنګي او اقتصادي سازمانونه برخه لري؛ خو د هغوی د سیاسي، پوځي، فرهنګي، اقتصادي او نورو فعالیتونو ساحه ټوله نړۍ یا حتا د نړۍ زیاتره برخه په ځان کي نه نغاړي .

دغو توپیرونو ته په یوې ځغلنده کتني سره دا نتیجه اخلو، چي د � نړیوال � او � بین المللي � تر منځ غټ فرق سته . که څوک په پښتو کي، د عـــــربــي ژبــــــــــي � بین المللي � ټکي ته ساده، اسانه، خوږه او پخه کلیمه و مومي دا به ډېره ښه او په زړه پوري خبره وي؛ لیکن تر هغه مهاله باید مــــوږ د � جهاني � او � بین المـللي � تر منځ بېل مفهومونه ګډوډ نه کړو . له بله پلوه د � جهاني � او � بین المـللي � دوو بېلو ټکو ته د � نړیوال � یوه پښتو کلیمه غوره کول، د دې ژبې د محدودولو او تنګولو په مانا دئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو هم د نورو ژبو په څېر هیڅکله د نورو ټولنو له سیاسي، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي اغېزو لیري نه سي پاته کېدای . د دې خبري مانا دا ده، چي مـــوږ نه يـــــوازي د نورو ژبو پخوانۍ کلیمې له خپلي ژبي په بشپړه توګه نسو ایستلای؛ بلکي د نورو ژبو ځیني نوي ټکي او اصطلاحات به هم په خوښۍ یا ناخوښۍ سره مـــــــــــنو . د فرهنګي راکړي ورکړي د همدې قانون پر بنسټ به زموږ د ژبي لغتونه، اصطلاحات او محاورې هم د دې هیواد د سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتـــــصادي نفوذ په تناسب، نورو ژبـــــــو تــــه ننوزي . راکړه ورکړه د بېلابېلو ولسونو تر منځ د متقابلو اړیکو انکار نه منوونکې اړتیا ده . په پښتني ټولنه کي خو پر راز راز اړیکو سربېره باید، د ګډو انساني پیوندونو عیني واقعیت هم له پامه لیري و نه غورځوو . ټول پوهېږو، پښتانه د ډیورند د نامنلي کرښي ها خوا له بلوڅو، پنجابیانو، سینــــــدیانو ( د سندهـ د ایالت اوسېدونکي) او هندي الاصله مهاجرو سره د دوستۍ او خوېښۍ اړیکي لري . د ډیورنډ کرښي په دې خوا کي خو د افغانستان له نورو ورونو قومونو سره د پښتنو ګډې کورنۍ اړیکي تر کښته پښتنو هم ډېري پیاوړې دي . له بېلابېلو قومونو، مذهبونو، فرهنګونو او ژبو سره، د داسي ټینګو او هر اړخیزو اړیکو سته والي ته په پام سره، د پښتو ژبي د سوچه کېدو هیله ګرسره علمي او عملي تاداو نه لري . د مذهبي، فرهنګي او ژبنۍ راکړي ورکړي په داسي شرایطو او حالاتو کـــــــــي باید تلاش وسي، چـــــــي د پردو ژبو کلیمې، اصطلاحات او ترکیبونه د خپلي ژبي له ځانګړتیاوو او دودونو سره سم ووایو او ولیکو . خپلي ژبي ته باید په تکـلُف او تصنُع سره د پردۍ ژبي رنـــــګ ور نه کړو . که په پارسي کي له هر مطلب سره د � می ګیریم � ټکی بدرګه کوي، دا د دوی خوښه ده؛ لکه � به بحث می ګیریم �، � به خوانش می ګـــــــــیریم �، � به بررسي می ګیـــــریم � او داسي نور . په پښتو کي د � می ګیریم � ترجمه هیڅ ځای نه لري . په پښتو کي باید و وایو : � سره ږغېـــږو �، � وایو يـــپ �، � څـــېړو يې � او نور.

## سوچه او ناسوچه ټکي باید څنګه بېل کړو؟

د � سوچه کولو � په بهیر کي کله کله داسي هم پېښ سوي دي، چي ځیني کلیمې بې څېړني او پلټني پردۍ ګڼلي سوي؛ او د دې ناسمي انګېرني له مخي د هغو پر ځای د پښتو د � سوچه ټکو � په نامه، نوي کلیمې وړاندي سوي دي . لکه څنګه چي پوهېږو د هري ژبي کلیمات، اصطلاحات او محاورې د بېلابېلو سیــــاسي، اجتـــــــــماعي ، فکري، فرهنګي او اقتصادي بدلونونو له امله خپل رنګ او جوله اړوي . هغه څوک چي د اوښتو ټکو او عبارتو پلار او نیکه و نه پېژني، بې شکه دغه راز کلیمې، ترکیـــبونه او اصطلاحات ټول پردي ګڼي؛ او په ډېري زړورتیا سره ځان ته حق ورکوي، چي هغو ته د دوی په ګومان نور پښتو ټکي او لغتونه وټاکي ( په دې اړه د نور مالـــــــومـــــــــات له پاره وګورئ : حبیبي، د پښتو لغاتو د تحقیق لاري، شل مقالې ۷، ۹۴ ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی استاد - علامه عبدالحي حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م ) په هغه ژوره څېړنه کې، چې � د پښتو لغاتو د تحقيق لاري � نوميږي، د هغو کليمو څو بولګې وړاندې کړي دي، چـــــې ځينو خلګود ظاهري جولې ( تلفظ او املأ ) پر بنسټ پردی ګڼلې دي؛ او بيا يې د همدې دليل له مخې لستوني را نغښتي دي؛ او هغو ته يې د دوی په ناسم ګومان نوري � سوچه � پښتوکليمې جوړې کړې دي . پــــــه داسې حال کې، چې د ايټيمولوژۍ او مورفولوژۍ له اړخه دغو ټکو ته په ژورې او هر اړخيزې کتنې سره له ورايه څرګنديږي، چې دا بې وزلې او رټل سوې لغتونه هيڅکله پردي نه دي . د دغو ټکو څو نمونې په دې ډول دي:

## ښکلۍ، ښکلا، کښلۍ

د ځينو په ګومان دا کليمې د عربي ژبې له � شکل � او � شکيل � څخه اخيستل سوې دي . د افغاني فرهنګ بابا، علامه حبيبي، د شيخ متـــــــي او ښکارندوی له اشعارو څخه نيولې بيا د رحمان بابا تر شعرونو پورې، د دې کليمو پراخ نظاير ښوولي دي ( حبيبي، د پښتو لغاتو د تحقيق لاري، شل مقالې ۷، ۹۷ � ۹۸ ) .

لـــــــوی استاد د همدې مقالې په يوه بله برخه کې داسې استدلال کوي : � په عربي کې � شکل � د صورت په مانا دئ، چې ښه او بد دواړه پکښې راځي؛ خو د پښتو� ښکلۍ � يـــــوازې حسين، قشنګ، او ښايسته ته وايي . � علامه حبيبي، وروسته د ډنکن فوربس د سنسکريت ژبې قاموس په استناد، د ښکلې ريښه داسې بيـــــــانوي: �Shukla � يا : � Shukle� په سنسکريت کې سپين او نوراني ته وايي . شکلته Shuklata ) (نور، سپين والی، سفيدي او شکله پکشه ( Shukla � Paksha) د سپـــــــــوږمې رڼا ده . دغه راز، د همدې معتبر قاموس په حواله زياتوي، چې کشل ( Kushal ) د روغتيا، سعادت، کامرانۍ او فرخندګۍ په معــــــــناوو راغلئ دئ . کشله ( Kushala ) خوښ، ښه، سم او درسـت تـــــــــــه وايـــــــــــي . � ( حبيبي، د پښتو لغاتو د تحقيق لاري، شل مقالې ۷، ۹۹ ) . لوی استاد، په دې ډول نتيجه اخلي، چې هم د � ښکلي � او هم د � کښلي � ريښې کــــټ مټ په دغو ماناوو په سنسکريت کې سته.

## -اپت

لوی استاد، علامه حبيبي، په پښتو کې د � اپت � ماناوې داسې شمېري :

�۱ -رنځ، زحمت او تکليف.

۲ -پر کښت او باغ يو نباتي يا آسماني آسيب راتلل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ -که دا کلمه د سړي سره د صفت په ډول راسي، مقصد يې مکار، محيل او چالاک دئ . پلانی ډېر اپت سړی دئ . په عربي کي هم افت جمع يې افات سته . مگر پښتو دا کلمه له عربي څخه نده اخيستې، ځکه چي په سنسکريت کي هم اپت (Apat) يا اپتي ( Apatti ) فاجعې، بدبختی، پرېشانی، خفـــــت او رسواتوب ته وايــــــي . � ( حبيبي، د پښتو لغاتو د تحقيق لاري، شل مقالې ۷، ۹۹ ).

معظم استاد، د � اپت � کليمې په اړه له نورو اريايي ژبو سره د پښتو د گډوالي مسأله داسي څرگندوي : � په سنسکريت کي هم د پښتو په څېر د اپــــت کــــــــال (Apat-Kal ) اصطلاح سته، چي د مرضونو، اپتونو او کاختۍ کال وي . د داسي ټکو د پېژندني له پاره بايد وگورو، چي آيا دا کلمې په آريايي ژبو کي ريښې او بولـگې لري که يا؟ که يې په آريايي ژبو کي ريښې وموندل سوې، بايد هغــــــه پردۍ ونه گـــڼو، ځکه پښتو زړه ژبه ده، چي د اوستا او سنسکريت سره نژدې اړيکي لري . کـــــه دا ريښې په آريايي ژبو کي پيدا نسوې، هغه مهال بايد هغو ته د دخيلو ټکو په سترگه وگورو، او د مفغن توب يا پښتووالي د قانون پر بنسټ له هغو سره چلند وکوو ( حبيبي، د پښتو لغاتو د تحقيق لاري، شل مقالې ۷، ۹٦ ) . د همدې استدلال له مخي د � اپت �کليمه مفغنه نه ده؛ بلکي زړه اريايي کليمه ده.

لوی استاد په پښتو لنډيبو کي د� اپـــــت � بــــــولگې داسي بيان کړي دي:

لکه شين کښت ژليو زمول کړم

را باندي راغله له آسمـانه اپتـــونه

اپت وهلي کښت ته راغلـم

نه يې شين توب سته، نه هغه خوند را کوينه

## ۲ -ابير

د پښتو ادب وتلي او منلي بابا ، لوی استاد علامه حبيبي، د � ابير � د اريايي ريښې تر څېړني مخکي، د دې ټکي د مانا په اړه داسي ليکي : � په پښتـــــــو خوشبـــويي دوا ته وايي، چي له څو اجزاوو څخه مرکبه سوې وي . په سنسکريت کي هم په دغه شکل يو خوشبويه پوډر سته، چي په ښو ورځو کي استعمالېږي� .

لوی استاد، د � ابير � اصلي اريايي بڼه او په بېلابېلو ژبو کي د دغه ټکي د تعريب سوي جولې په تړاو داسي کاږي : � په عربي کي هم عبير سته . په پارسي کـــــي هم د صندلو او گلابو او مښکو څخه مرکبه دوا ده . پارسي کټ مټ عربي بڼه اخيستې ده، خو د پښتو عبير اصلي آريايي کليمه ده، او لکه اکثر فرهنگ ليــــــکوونکي چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي عربي عبير هم له سنسکريت ابير څخه معرب سوی دئ . ځکه چي عربو د ډېرو دواوو نومونه له هنده په خپله ژبه کي قبـــــول کړي دي، لکه صنـــــدل د چنــــدڼ معـــــــــــرب او نـــور . � ( حبيبـــــــــي، د پښتو لغاتو د تحقيق لاري، شل مقالې، ۷، ۱۰۱) .

## ۳ -ابرک( Abrak )

لوی استاد، د� ابرک � د ټکي د ريښې او مورفولوژيکو بدلونونو په اړه په زړه پوري بيان لري . ابرک، يوه سپينه کاني برېښېدونکې پسته ډبره ده، چي پــــــاني پاني کيږي، او زربرخ ځني جوړيږي په انګليسي يې Mica � يا � Talcبولي . ځيني خلګ يې اشتباهاً عربي ګڼي، او ابرق يې ليکي مګر پخپله په عربي بېل نوم لري، او طـــلق يې بولي او دغه نوم له عربي څخه اروپا ته هم تللئ، او لکه المنجد چي وايي � Talc � سوی دئ . علامه حبيبي، د عربي ژبي د نامتو قاموس � المنــــــجد� په حواله ليکي، چي ابرق په عربي بله مانا لري . ياني داسي کلکه مځکه، چي ډبري او ختې پکښې ګډې وي؛ يا داسي شی چي تور او سپين وي . وروسته په � فرهنګ انندراج � کي د ابرق مانا را اخلي، چي توري او سپيني رسۍ ته يې وايي . لوی استاد باور لري، چي په سنسکريت کـــــي هم ابهرک ( bhrak A) په همدغه پښتو مــــــانا سته ( حبيبـــــــــي، د پښتو لغاتو د تحقيق لاري، شل مقالې، ۷، ۱۰۱).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴ -اپي یا هپي( Api, Hapi )

اپي په پښتو کي مار یا اژدهار ته وایي . دا چي په عربي کي افعي په دغه مانا سته دا د دې دلیل نه دئ، چي دا کلمه له عربي څخه مفغنه سوې وي . لوی استاد، په خپله عالمانه او مستنده څېړنه کي د دې کلیمې ریښې په پښتو ادب او ولسي محاورو کي ثابتوي؛ لکه څنګه چي د خوشال خان خټک دکلام یوه بولګه داسي ښیي :

مه لړم شه، مه اپي شه

غم فزا، راحت زدا

یا دا لنډۍ:

موزي اپي مار راته بس دئ

اپي ماران دي د موزیانو په ګورسینه

لوی استاد، علامه حبیبي، وروسته د همدې ټکي د مصدر په اړه داسي زیاتوي : � په ژبه کي اپ یا هپ ژر ژر خوړولو ته وایي، چي کټ مټ په همدې معنا په هندي ژبه کي هم سته . په پښتو کي وایي : هــــپ يې کړل یعنی بلعید . بل مصدر يې اپیېل یا هپېدل دي . نو اپي یا هپي بلعیدو ته وایي ( حبیبي، د پښتو لغاتو د تحقیق لاري، شل مقالې ۷، ۱۰۲ ).

## ۵ -اتبار( Etbar )

لوی استاد د � اتبار � د سوچه اریایي ټکي ښلابښلي ماناوي داسي شمېري:

�اتبار د عزت، اعتماد، روښناسۍ او یقین په معناوو دئ، مثلاً زلمی د اتبار خاوند دئ . یعني روښناس او با عزت دئ . اتبار وکړه، چي خبره داسي ده . یعـــــــني یقین وکړه، چي داسي ده . د علي خان خټک په دې بیت کي د ویسا او اعتماد په معنا:

چي ډېر دوست يې ګڼې لا دي ډېر دښمن شي

د هر چا تر منځه ورک ویسا، اتبار شو

دا کلیمه کټ مټ په سنسکریت کي د ډېر معاشرت او رفت او آمد په معنا ده، چي اوسنۍ معنا ته ډېره نژدې ده . � ( حبیبي، د پښتو لغاتو د تحـــــــقیق لاري، شل مقالې ۷، ۱۰۲ ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦ -اتيات(Atyat )

بله هغه کليمه، چي خلګ يې په تېروتني سره د � احتياط � مفغنه بڼه ګڼي، د � اتيات � ټکی دئ، چي ژوره اريايي ريښه لري . د استاد المحققين، علامه حبـــــــــيبي، په نظر � اتيات � په توجه، غوَر او تدقيق سره د يوه کار کولو ته وايي؛ لکه څنګه چي وايي : اتيات کوه غوزار نسې ! پردې سربېره ، د صبر او تقوا په مانا هم د دې کلـــــــــــــيمې د استعمال يوه بولګه داسي وړاندي کوي :

اتياتي ياره راته ګوره!

نن دي کاله ته په روا نکاح در ځمه!

لوی استاد، د � اتيات � د اريايي ريښې د زباتولو له پاره، په سنسکريت کي د اتيت (Atit) کليمې يادونه کوي، چي د زاهد، متقي او پارسا په مـــاناوو راغلې ده . د سنسکريت دا مانا د پښتو له � اتيات � او � اتياتي � سره مشترکه ريښه لري ( حبيبي، د پښتو لغاتو د تحــقيق لاري، شل مقالې ۷، ۱۰۲ - ۱۰۳).

هغه کسان چي بې څېړني او پلټني، د خپلو اشنا او مأنوسو ټکو پر ځای نوي کليمې، ترکيبونه او اصطلاحات جوړوي، بايد په دې واقعيت ځانونه ښه خبر کړي، چي زموږ د ژبي ډېري کليمې او لغتونه له نورو اريايي ژبو سره ګډې ريښې لري . داسي ټکو، اصطلاحاتو او عبارتونو د تاريخ په اوږدو کي تر بېـــلابېلـو سياسي، اجتماعي، فکري، فرهنګي او اقتصادي بدلونونو وروسته، خپله اصلي بڼه تر ډېري ګچي اړولې ده . په نورو ژبو کي د هغو پراخ کارېدنګ په دې مانا نه دئ، چي ګوندي داسي ټـــــــــکي پښتوله پردو ژبو څخه اخيستي دي؛ اود دې غلط تحليل له مخي بايد، د هغو پر ځای د چا خبره له سره نوي � سوچه � پښتو ټکي او ترکيبونه جوړ سي . د داسي کليــمو او اصطلاح ګانو له پاره د نوو ټکو وضعه کول، هيڅ علمي او منطقي جواز نه لري؛ ځکه په زياترو اريايي ژبو کي دهغو اصلي ريښه تر اوسه ژوندۍ ده. داسي ټکي او ترکيبونه له پېړييو پېړييو راهيسي په پښتو ژبه او ادب کي باب دي؛ خود پښتو ژبي د ځينو بې خبره لغت جوړوونکو په ګومان يې يوازنۍ ګونا ( ګناه ) دا ده، چي په نورو اريـــــايي ژبـــو مثلاً پارسي او هندي يا ځينو سامي ژبو لکه عربي يا ځينو تورکي الاصله ژبوکي هم په خورا پراخ لاس کارېږي.

انسان د لوی څښتن داسي مخلوق دئ، چي تل له تنوع او رنګارنګۍ سره مينه لري . په انسان کي د پلټني او نوښتګرۍ ناپايه مينه، له محدودو پـــــــولو او يـــو رنګۍ سره ښکاره تضاد لري . دا د انسان خوی او فطرت دئ، چي تر يوه رنګ په څو رنګونو، تر يوې کليمې په څو کليمو، تر يوې راديويي او تلـــويزيوني شبکې په څو شبکو او کانالونو خوشاله کيږي؛ خو د ورځپاڼو، مجلو، راديويي او تلويزيوني شبکو ډېروالی يې په زړه کي د سينما، ژونديو ننداړو، نڅاوو، موسيقۍ او نورو هونرونو ميــــــنه هم نه لړوي . ژبپوهان، اديبان او شاعران بايد په خپلو علمي او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هونري اثارو کي د ژبي لغوي او ادبي پانګي لا پسي پراخي او بډايي کړي؛ نه دا چي په خپلو حق او نا حق لغت جوړونو سره، په خلګو کي د ژبي د فردي کولو او انحصاري کولو پر لور ګامونه پورته کړي .

د افغاني فرهنګ په پراخ اسمان کي تلپاته او ځلانده ستوری، علامه حبـــــــــــيبي، په يوه ځغلنده علمي کتنه کي، د ژبي دسوچه کولو ناکام بهير ته داسي ګوري :

�د ژبو د سپېڅلتوب او خالص کولو شوقيان په هر ولس کښي هر وخت ډېر وي، مګر دا شوق او هوس کوم پوخ اساس نه لري . زما په عقيده د فطـــــــرت له سيره مخالف يو بې ځايه هوس دئ . ژبه خو په حقيقت کښي فقط د افهام او تفهيم آله ده، نو چي يو ملت په ځينو الفاظو يوله بله ښه سره پوهېږي او هيـــــــــخ مشکلات نه وي ورته، څه ضرور دئ، چي دوی به نوي لغات او کلمات له ځانه تراشي يا به ځيني وحشي او نامأنوس الفاظ د مدني او منلو الفاظو پر ځـــــــای دروي ؟ � ( حبيبي، د ژبو مشترک کلـــمات، شل مقالې ۷، ۷۳).

البته د دې خبرو مفهوم دا نه دئ، چي لوی استاد په پښتو کي د نوو ټکو او اصطلاحاتو د جوړولو کورټ مخالف دئ . لکه څنګه چي پوهېږو، هره ژبه او له هــغې ډلي څخه پښتو د خپل بشپړتيا له پاره نه يوازي د خپلو لرغونو پانګو بيا را ژوندي کولو او دودولو ته اړتيا لري؛ بلکي له بېلابېلو طبيعي او غېر طبيـــــــعي بدلونونو سره ګام په ګام د نوو ټکو، نوو ترکيبونه او نوو اصطلاحاتو جوړول، د پښتو ژبي د بشپړتيا بله ضروري او مهمه لار ده . د دې تر څنګ د هغو کليمـــــــو، عــــــــبارتونو، تعـــــــبيرونو او اصطلاح ګانو کارونه هم د پښتو ژبي د پراختيا او پر مختيا پوخ ضمانت کوي، چي له پېړيو پېړيو راهيسي زمونږ د خلګو په ژبه، ادب او نورو برخــــــــو کــــــــي د يوه نه بېلېدونکي عنصر په توګه اخښلي او بخښلي دي.

د لوی استاد، علامه حبيبي، د لوړو علمي نظريو په رڼا کي د پښتو ژبي د کمال او بشپړتابه مسأله تر بېل سرليک ( په پښتو کي بايد د خپلو او پردو ټکو تر منځ څنګه اندول وسي ؟ ) لاندي په لنډه توګه څېړو.

## په پښتو کي بايد د خپلو او پردو ټکو تر منځ څنګه انډول وسي ؟

په هر ه ژبه کي د خپلو او پردو ټکو تر منځ معقول انډول، ډېره ارزښتناکه مسأله ده . که د دې معادلې ټولو اړخونو ته بشپړ پام ونسي، د ژبي د ودي او پرمختګ بهير له سختو کړاونو او خنډونو سره مخامخ کيږي . له دې امله بايد پوره هڅه وکړو، چي له يوې خوا د خپلو مندو او پلرونو ژبني، فرهنګي او تاريخي ميراثونه خوندي کړو؛ او له بلي خوا په ژبه کي د اوس او راتلونکو وختونو له غوښتونو سره سم، د نوو پر مختياوو لاره پرانيزو . په بله وينا بايد له يوې خوا، خپله ژبه د نورو ژبو او دودونو له ورانوونکو يرغلونو وساتو؛ او له بلي خوا د خلګو په ژوند کي ژورو سياسي، اجتماعي، کلتوري او اقتصادي بدلونونو ته په پاملرني سره د ژبي د اسانۍ، سادګۍ، خوږوالي او عموميت لاره غوره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو . دې لوړ مقصد ته رسېدل، يوازې هغه وخت ممکن دئ، چې زموږ ژبپوهان، اديبان او ليکوال له دې حساسې مسألې سره علمي او منطقي چلند وکړي . د ژبې د افراطي سوچه کولو هڅې او د پردو ژبو ، فرهنګي او فکري جريانانو د پراخو يرغلونو په وړاندې لاس تر زنې کښېنستل دواړه په واقعيت کې د ژبې د محدوديت، ورانۍ او زوال لارې دي.

د پښتو ژبې او ادب لوی او بې سارې استاد - علامه عبدالحی حبيبي ( ۱۲۸۹ ش / ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش / ۱۹۸۴م ) په يوه علمي او ژوره شننه کې، د پښتو ژبې د بشپړتوب لارې او اصول داسې شمېري:

�۱ -د پښتو لغاتو او کلماتو ټولول او مواد يې راغونډول او قاموسونه يې ليکل.

۲ -هغه کلمات مخصوصاً پلټل او ميندل، چې په ژبه کښې اوس سوچه لغات نه لري، او د پرديو ژبو کلمات مستعمل دي.

۳ -تر پلټنې او استقرأ وروسته که د کومې کلمې لپاره په ژبه کې لغت مينده نسو، او له هرې خوا تر پلټنې وروسته يأس حاصل سو، نو د پرديوکلماتو په عوض کې نوې پښتو کلمات وضع کول او رواجول.

۴ -د نوو شيانو او اختراعاتو لپاره اوس نوې نومونه د پښتو پر اصولو وضع کول يعني پر نوو شيانو نوم ايښوول . � ( حبيبي، د پښتو نوې علمي اصطلاحات به څنګه وي ؟ شل مقالې ۷، ۱۰٦ ).

د علامه حبيبي په دې څلورو اصولواو لارو کې د پښتو ژبې د بشپړتابه ټولې هغه خواوې را غونډې سوې دي، چې نن يې ژبپوهان د ارکاييزم(Archaism ) ، ډياليکټيزم( Dialectism ) ، له نورو ژبو راغلي يا دخيل ټکي (Adaptism ) او نيلوجيزم (Neologism ) بولي . په دې برخه کې د مسألې ځينو اړخونو ته لنډه کتنه کوو:

## الف ) د پښتو د لرغونو ټکو او اصطلاحاتو بيا را ژوندي کول او په بېلابېلو لهجوکې

د مروجو ټکو خپرول او عامول

د هرې ملي ژبې په شان، د پښتو د سوچه والي، سپېڅلتيا او شتمنۍ راز تر هر څه مخکې د دغې لرغوني ژبې د پخوانيو ټکو، اصطلاحاتو، ترکيبونو، محاورو او نورو ادبي - کلتوري اثارو په را ژوندي کولو، خوندي کولو او دودولو کې نغښتی دئ . که د خپلومندو او پلرونو د ژبنيو او نورو فرهنګي ارزښتونو په ساتنه او بابولو کې پرله پسې کوښښونه ونه کړو، د پښتو ژبې د اصالت او سپېڅلتيا تر ټولو لوی او پوخ تاداو کرار کرار نړېږي . دا لو ی فرهنګي اپت د وخــــــت په تېرېـــدو سره ، د پښتنو د لرغـــونو شاعرانو، ليکوالو او پوهانو له ډول ډول علمي، ادبي، ديني،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي او فرهنګي اثارو سره د ننني نسل، په تېره بيا راتلونکو نسلونو اړيکي د پرې کېدو تر پولې کمزوري کوي؛ او په پای کي د پښتو ژبي ډېري ارزښتمني خزاني له لاسه وزي .

لوی استاد- علامه حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) په دې اړه داسي استدلال کوي : � که زموږ ژبه ارته او سوچه نسي، نو به په وطن کي د عِلم خپرونه هم ممکنه نه وي . جرمنيانو، يونانيانو، تورکانو، عربانو، ايرانيانو ټولو د خپلي ژبي پخوانۍ کلمې را ژوندۍ کړي دي . . . � د لوی استاد په باور، پښتنو ته هم دا حتمي او ضروري ده، چي د خپلي ژبي پټي او قيمتي خزانې راټولي کي، او خپله ژبه مستغني او د پردو له اغېزو خوندي کي . � ( حبيبي، د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي ؟ شل مقالې۷ ، ۱۰۷ ) .

لوی استاد زياتوي :� که د پښتو ټول لغتونه، کلمې، اصطلاحات، ترکيبونه او تعبيرونه په علمي او معقوله لاره را ټول سي، نو به پښتو پردو لغاتو ته هيڅ اړه نسي؛ ځکه چي د دې ژبي مواد او کلمات ټوله په غرو او رغو او ليري بيديا وو کي مهجور او متروک پاته دي . � (حبيبي، د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي ؟ شل مقالې۷ ، ۱۰۷).

علامه حبيبي، د پښتو د لرغونو ټکو، ترکيبونو او اصطلاحاتو د را غونډولو په اړه، دغه لاري په ګوته کوی :

�۱ -د ژبي مينان بايد د لغاتو ټولول خپله ملي وظيفه وګني، او هر څوک دي يې علمي مرکزونو ته د ضبط او نشر لپاره وسپاري.

۲ -سياري ډلي بايد د پښتونخوا غرو او رغو ته ولېږلي سي.

۳ -له ادبياتو او پښتو اثارو څخه دي استفاده وسي . د پښتو کلماتو ذخيرې دي له کتابو را ويستلي سي، او د قوم پر اصطلاح دي تطبيق او ضبط سي.

۴ -د پښتو قاموسونه دي په عِلمي لارو وليکل سي، چي د کلماتو د استعمال مختلف تحولات او موارد ولري.

تر هغه مهاله، چي د پښتو لرغوني ټکي، ترکيبونه او اصطلاحات په دقيقه او علمي توګه راټول؛ او په نوو علمي قاموسونوکي خپاره نسي، د پښتو د پخوانيو لغوي پانګو بيا ژوندي کول او دودول ګران کار دئ . � ( حبيبي، د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي ؟ شل مقالې۷، ۱۰۹ ).

د معظم استاد، علامه حبيبي، په نظر که پردۍ کليمې ګرځنده ډلو ته ورکړل سي، چي په هره سيمه کي يې پښتو ټکي وپلټي، نو به هيڅ داسي کليمه پاته نسي، چي پښتو معادل ونه لري . لوی استاد، تر پلټني او ګروېږني مخکي د نوو ټکو د جوړولو او بابولو په اړه ليکي : � ځيني کسان سته، چي د داسي کلماتو لپاره تر تحقيق او پلټني دمخه لغات وضع کوي، او بيا غواړي چي رواج يې هم کي، مګر چي موږ په خپله ژبه کي د ځانه زړه کلمه ولرو، نو نوې کلمه وضع کول غلط کار دئ . هو که موږ پوره پلټنه وکړه، او په ژبه کي مو داسي سوچه پښتو کلمه نه کړه مينده،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له هري خوا مأيوس سو، هلته که نو موږ د پرديو کلماتو په مقابل کي نوي وضع کوو، البته ښه به وي، مثلاً آخور اوس په موږ کي خورا مروجه کلمه ده . په مقابل کښي يې د ښاري محاورو پښتو هم نه لرو. يو وخت چا د دې لپاره � بسنخرى � نوم وضع کاوه، وروسته دا نوم موږ په سوچه پښتو د مروتو په محاوره کښي وموند، چـــي � پمبې � يــې بولي . نو چه اصله او موضوعه زړه کلمه وي، نوي ته حاجت نسته . په دې ډول تر پلټني دمخه شيانو ته نومونه وضع کول ژبه خرابول دي . � سګک � په مروجه محاوره کښي پښتو نوم نه لري . چا د دې لپاره د ترجمې په ډول � کوترى � نوم ښه ګڼلئ دئ، مګر تر پلټني وروسته ښکاره سوه، چي دا شى په پښتو کي � غربې � بولي . نو که تر وضع دمخه پلټنه سوې واى، غلطي به نه پېښېده . � ( حبيبي، د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي ؟ شل مقالې٧، ١٠٩ ).

لوى استاد د همدې څېړني په يوه بله برخه کي د پښتو لغت جوړوونکو د تلواري او سرسري چلند په اړه داسي کاږي : � ډېر پوهان په وضع کي خورا تلواري دي . دوى ژر ژر نومونه تجويز کوي، مګر زه وايم که تر دې دمخه پلټنه وسي، حاجت وضع ته نه پاتيږي . پخپله ژبه دغه مواد لري . موږ يې د وضع حق هم نلرو . . . ما ډېر پښتـــــــانه ليدلي دي، چي په دې کار د علم له خوا نه ور ګډيږي، او هر څوک خپل عندي افکار پر ښکاره کوي، او له ځانه په ژبه کښي نوي مواد او کلمات راباسي . زه پخپله د دې کار ډېر مخالف يم، ځکه چي ببله علمي لاري داسي اقدامات د ژبي له پاره مضر ګڼم . هر کار خپله لاره لري، که پر خپله لاره ورسو عيب نه لري . � ( حبيبي، د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي ؟ شل مقالې ٧، ١٠٥ ).

د پښتو ژبي او ادب وتلئ او منلئ بابا، علامه حبيبي، په هغه مقاله کي چي � پخواني کلمات او نوي مفاهيم � نوميږي، د پښتود لرغونو ټکو، ترکيبونو، تعبيرونو او اصطلاحاتو د بيارا ژوندي کولو او رواجولو يوه بله لاره وړاندي کوي، چي هغه د ټولنيز ژوند پر بېلابېلو نوو شيانو او پېښو باندي د پخوانييو نومونو ايښوول دي . شک نسته، چي د ژبي ځيني کليمې او اصطلاح ګاني په خلګو کي له اوږدو وختونو را هيسي په يوه او بله مانا دود وي . د انساني ژوند په پرمختګ سره په ژبه کي نوي پېښي او نوي څيزونه پيدا سي . ژبپوهان او اديبان د خلګو په ژبه او ادبياتو کي دا دود سوي او اشنا کليمې په نوي او پرمختللي ژوند کي د يوه بېل مفهوم له پاره استعمال کړي؛ او په دې ډول خپلو مړو او هېرو سوو ټکو ته په يوه نوي چاپېر کي د بيا ژوند کېدو او بابولو امکانات برابر کړي . د ي کار ته د ژبپوهني په اصطلاح � تولـــيد � او په نوي محيـــط کي دود سوو ټکـــو ته � مؤلدات � وايي . ژبپوهان په ژبه کي د نوو ټکو د جوړولو پر ځاى دکليماتو توليد غوره ګڼي؛ ځکه لرغوني ټکي دخلګو په ژبه او ادب کي ژوري ريښې لري . خلګ په يوه او بل ډول له هغو سره پېژندګلوي لري؛ او بيا رواج يې تر نوو ټکو ډېر اسانه وي . د نړۍ په نورو ژبو کي هم دا کار په خورا ټينګار او جديت سره سوى دئ؛ د مثال په توګه عربانو د استاذ، دبابه، سياره، طياره، مسلسل او داسي نورو په څېر خپل زاړه لغتونه د پروفيسر، جنګي ټانک، موټر، الوتکي، ماشينګڼ او نورو پر ځاى کار کړه . ايرانيانو هم د خپلي ژبي ځيني پخواني ټکي؛ لکه دانشګاه، دانشکده، دستور، پيشوند، پسوند او په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسگونو نور په لږ او ډېر بدلون سره د پوهنتون، پوهنځی، گرامر ( پښویه )، مخ وندي یا مختړ( سابقه ) شاوندي یا شاتړ ( لاحقه ) پر ځای دود کړه . پخوا د دې مفهونو له پاره په پارسي کي زیاتره عربي نومونه کارېده.

لوی استاد، پر نووشیانو او مفهومونو باندي د زړو لغتونو او اصطلاحاتو د بیا جال کولو په باره کي، داسي په زړه پوري مثال وړاندي کوي : � په پښتو کي له قدیـــمه د' تون ' ادات د ظرفیت له پاره موجود ؤ، کله چي موږ دغه ادات لومړی پلا په نومونو کښي استعمال کړ، ځینو خلکو ونه مانه او انتقاد یې پر وکړ، مگر وروسته چي په پوهنتون، روزنتون او درملتون او نورو کښي استعمال سو اوس گورو، چي خلک یې په ډېره مینه استعمالوي . په پښتو ژبه او گرامر کي هم موږ ډېرو اصطلاحاتو ته ضرورت لرو، او باید د فونیم، مورفیم، کلمې، سلایبل او کلام په مقابل کښي خپل پښتو کلمات او اصطلاحات ولرو ( حبیبي، پخواني کلمات او نوي مفاهیـــــم، شـــــل مقالــــې ۷، ۵۲ ).

د لرغونو ټکو د بیا را ژوندي کولو په اړه، دلته دا پوښتني پیدا کیږي، چي ایا د پښتو هره لرغوني او نامأنوسه کلیمه باید د ټولنیز ژوند پر نوو مفهومونو له سره کښېښول سي ؟ ایا هر پخوانی ټکی، په ژبه کي له نوو راغلو ټکو سره د مقابلې وس لري که یا ؟ ایا خلگ د ژوندانه په نوي چاپېر کي د هري لرغوني کلیمې منلو ته تیار دي که یا ؟ دې پوښتنو ته یوازي د ټولنپوهني له قوانینو سره سم علمي جواب وړاندی کېدای سي . د تکامل او پرمختگ قانون ته په ژوري پاملرني سره باید دې مسلَم حقیقت ته غاړه کښېښول سي، چي ځیني زاړه او متروک ټکي د کلیماتو د ژوند او مړیني له اصل سره سم کله کله په نوي محیط کي د بیا ژوند کولو وړتیا نه لري؛ ځکه داسي ټکي خلگو ته تر مروجو او نوو جوړو سوو کلیمو ډېر گران او ناآشنا وي . طبیعي ( د زمانې تېرېدل، د جغرافیایي چاپېر بدلون . . . ) او غیرطبیعي ( سیاسي، اجتماعي، فکري، فرهنگي، اقتصادي . . . ) عوامل ډېر ځله خلگ له خپلو لرغونو ژبنییو، کلتوري او تاریخي پانگو څخه دونه لیري کوي، چي د نورو ژبو ټکي او اصطلاحات د خپلو لرغونو کلیمو او ترکیبونو په پرتله ډېر مأنوس او اسانه احساسوي . په بله وینا، یوازي هغه لرغوني کلیمات، ترکیبونه او اصطلاحات په نوي چاپیر کي د بیا ژوند او ودي امکان لري، چي د خلگو په ژبه او ادب کي تینگي او پیاوړي ریښې ولري؛ او په نوو ماناوو سره د جال کېدو له پاره د وگړو د سیلم عقل او لوړ ذوق غوښتنو ته مثبت جواب ووایي . معظم استاد، علامه حبیبي، د پښتنو د توري او قلم د بابا - خوشال خان خټک ( ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰هـ ق ) په اشعارو کي د د غو نظایرو په وړاندي کولو سره استدالال کوي، چي کولای سو د � ویی � او � وی � په څېر زړې او متروکي کلیمې په ژبپوهنه او گرامر کي د کلیمې او جملې له پاره استعمال کړو:

چي بې تل تر تا را تېر کړم

دا ویی د زړه وباسه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال خان خټک په بل ځای کي وايي:

یو ویی د دلاسا راته پرې نږدې

ځان که هر ځو خپل مين ته مرور کړم

یا

دا ویی زما دراز دئ

دا منزل دورو دراز دئ

چي په نيم ويی يې کارکيږي د خلق

د خلاصی مي همېشه کاندي جدال

بیا هم د خوشال خان خټک کلام دئ، چي وايي:

دا ووی مي خوش دئ چي چا ویلي دي

ډېر مي په زړه باندي ښه لګېدلي دي

لکه څنګه چي ګورو، د � ویی � او � ووی � ټکي په پښتو ادب کي ژوري ريښې لري . د همدې دلايلو له مخي کېدای سي، په ژبپوهنه او ګرامر کي

�فونيم � ته ږغ، � ګرافيم � ته توری،� مورفيم � يا کلمې ته ويی، انګرېزي سيلېبل يا د څو ږغونو مجموعې ته � ګړ � ، د څو ګړو مجموعې ته ووی ( کلام ) او د څو وويو يا جملو مجموعې ته وينا ووايو؛ او په دې توګه خپله پخوانۍ لغوي پانګه را ژوندۍ کړو (حبيبي، پخواني کلمات او نوي مفاهيم، شل مقالې ۷، ۵۲ -۵۳).

اما څرنګه چي لوی استاد هم په دې مقاله کي څو واره اشاره کړې ده، داسي زاړه او متروک ټکي بايد يوازي په ګرامر او ژبپوهنه کي، د هغو عربي او اروپايي ټکو پرځای په کار ولوېږي، چي موږ يې په خپله ژبه کي مناسب او موزون معادل ټکي نه لرو . پوهنتون ( پوهنه + تون )، پوهنځی ( پوهنه + ځای)، روزنتون ( روزنه + تون )، درملتون ( درمل + تون )، ننداړتون ( ننداره + تون ) او داسي نور هغه ترکيبي کليمې دي، چي د پښتو له زړو ټکو څخه د نوو مفهومونو له پاره جوړې سوي دي؛ او اوس د ټولني د بېلابېلو طبقو او قشرونو خلګو په خوښۍ سره منلي دي؛ خو د دې پرخلاف ځينو عسکري نومونو؛ لکه بريدمن، تورن، جګړن، ډګرمن، پړک، کنډک، غونډ او داسي نورو ( چي پر يوه ځانګړي شخص يا ځانګړي عسکري واحد دلالت کوي) يوازي په يوه تنګ او ټاکلي چاپېرکي د بيا ژوندي کېدو چانس موندلئ دئ . موږ اوس په خپلو ورځنيو خبرو کي نه وايو، چي پلانی بريدمن، تورن يا جګړن سړی دئ . دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګه د � یوه ټولۍ خلک �، � دوه کنډکه بزګران �، � درې غونډه ختګران � او داسي نورو په شان اصطلاحات زموږ په ورځنیو محاورو کي نور ځای نه لري . پښتانه باید د دغه راز سوچه پښتو نومونو په ساتنه او خوندي کولو کي، چي له نېکه مرغه اوس زموږ د ملي ټرمینالوژۍ یوه ارزښتناکه برخه ده، د زړه له کومي هڅه او کوښښ وکړي . د دې پوښتني جواب چي ولي د داسي سوچه پښتو ټکو دکار اخیستني لمن زموږ د ټولنیز ژوندانه نورو برخو ته پراخه نسوه، هم باید د د طبیعي او ټولنیزو بدلونونو په قانون کي ولټوو . په بله وینا طبیعي او غیر طبیعي عواملو د دغه راز پښتو ټکو او ترکیبونو پر ځای داسي نوري کلیمې، عبارتونه او اصطلاحات را منځ ته کړه، چي کرار کرار یې زموږ د اصیلو پښتو کلیمو او عبارتونو ځای ونیو . دا د یوه، دوو یا څو کسانو ګونا نه وه، چي ولي یې د خپلو مندو او پلرونو وياړلې ژبه په سم ډول و نه پالل ؛ او پر ځای یې د پردو ژبو بې خونده او ناسمو ټکو، ترکیبونو او تعبیرونو ته مخه کړه . په دغه راز فرهنګي ناورینونو کي یوازي د هغو سرکښه بدلونونو لاس دئ، چي زیاتره یې واک او قیضه زموږ په لاس کي نه وي، نو ځکه اوس ناڅاپي نه ده، چي د بیټک، اچانک، ګبراو، میلاو، جي، ټیک، ګنټه، بروسه، ماچس، کمره، روډ، پلازا، اسپتال، سکول، کالیج، یونیورسیټي په شان سلګونه پردي ټکي د ډیورنډ د کرغېړني کرښي د ها خوا پښتنو په ښایسته او خوږه پښتو ګډ سوي دي؛ او نن هغوی ته د پښتو تر سوچه او لرغونو ټکو ډېر ساده او اسانه برېښي . د زماني قهر زموږ برو پښتنو په ژبه هم خورا ډېر پردي ټکي را ګډ کړي دي، چي اوس د مانا او استعمال له پلوه د پښتو تر ځینو متروکو او مهجورو ټکو ډېر ساده او اسانه دي . په دې ډول، نتیجه اخلو چي موږ ټولو پښتنو ته د سوونو کلونو تر ژورو او اوږدو بدلونونو وروسته، نور د امیر کروړ ژبه په سمه او بشپړه توګه د پوهېدو وړ نه ده . د پلار او نېکه زوړ کُوسی تل تر تله زموږ سره نه سي پاته کېدای . باید خپله ژبه او دودونه د نوو بدلونونو په رڼا کي پراخ، شتمن او پرمختللي کړو . که نه نو زموږ ژبه او دودونه به ډېر د پردو ژبو او فرهنګونو د ورانوونکو یرغلونو تر اغېزې لاندي خپل هر څه له لاسه ور کړي؛ ځکه بشري پرمختګ نوي غوښتني او اړتیاوي وړاندي کوي، چي دې ټولو ته معقول او منطقي جواب یوازي د لرغونو او نابابه ټکو په خوندي کولو او را ژوندي کولو سره نه کیږي .

لوی استاد، علامه حبیبي، په خپلي ژوري علمي شنني سره، د محمد هوتک د � پټې خزانې � په تعلیقاتو کي، د دغه ارزښتناک کتاب ځیني لرغوني او متروک ټکي د ادبي او تاریخي اثارو په رڼاکي څېړلي دي . دا کلیمات او ترکیبونه پخوا زموږ د خلګو په ورځنیو خبرو، دیني، ادبي او تاریخي لیکنوکي په پراخه توګه کارېده؛ خو د زمانې ژورو بدلونونو اوس د هغو زیاته برخه د ټولني د نورو ژوندییو موجوداتو په څېر، په خاورو کي ښخ کړي دي؛ او بیا را ژوندي کول یې د مړو انسانانو د راژوندي کولو په څېر الهي معجزې ته اړتیا لري . خلګ یې سره ټولو تبلیغاتي کوښښونو، د ګرانۍ او نا اشنایي په خاطر منلو ته تیار نه دي . په دې ډله کي لونل، اشلوک، ګروهېدل، مېرڅمن، میرڅی، پاړکي ، ګرونګي او په لسګونو نور زاړه ټکي شامل دي . د دې خبري مقصد دا دئ، چي موږ باید د پښتو د لرغونو ټکو، عبارتونو او اصطلاحاتو په بیا دود کولو کي داحساساتو او افراط لاره غوره نه کړو . د پښتو ادب له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلاسیکو اثارو څخه د کومي نابابه او زړې کلیمې را اخیستل، هغې ته د بیا ژوند سملاسي پاسپورټ یا لایسنس نه ورکوي . په بشپړ باور سره د یوې ژوندۍ کلیمې په توګه د دغه راز ټکي بابول د هري نوي کلیمې په څېر له ځینو خنډونو او ستونزو سره مخامخ کېږي . که په ژبه کي د دې کلیمې پر ځای بله عامه، اسانه او خوږه کلیمه جال سوې وي، نو د دې زړې کلیمې بیا را ژوندي کول هم د نوو کلیمو په شان د مروجو ټکو د زورور مقاومت له امله بې حتمي ماتي بله لار نه لري؛ خو که په ژبه او ادب کي تر اوسه هم د زړې یا متروکي کلیمې له پاره وړ او موزونه کلیمه نه وي جوړه سوې، نوخلګ په خوَب او میني سره د خپل زاړه او هېر سوي ټکي بیا را ژوندي کولو ته غاړه ږدي . د همدې استدلال پر بنسټ باید، د نورو ژبو او فرهنګونو تر یرغلونو مخکي د نوو مفهومونو له پاره د خپلو لرغونو ټکو په بیا ژوندي کولو او جال کولو کي نه ستړي کېدونکي کوښښونه وکوو .

په پښتو کي داسي ټکي هم سته، چي پر خپلو ژورو او ټینګو اریایي ریښو سربېره، د زمانې د غوسې او بې رحمۍ په وجه اوس د مړو اومتروکو ټکو په ډله کي راغلي دي؛ د مثال په ډول � کوټ � ، � کوټوال � او � کوټوالي � داسي اریایي کلیمې دي، چي د غزنویانو له زمانې څخه تر ځلویښت - پینځوس کاله مخکي پوري هم زموږ په ژبه، ادب او اداري نظام کي خورا باب وې؛ مګر په ټولنه کي سیاسي، اجتماعي او فرهنګي بدلونونو اوس د � کوټ � پر ځای کـــلا (د عربي قلـــــعه مفغنه بڼـــه )، د � کوټوال � پر ځای سرحدار، قلعه دار، امنیه قومندان، د پولیسو قومندان او د � کوټوالۍ � پر ځای � امنیه قومنداني �، � سرحدي قوأ �، � ژاندرمري � او داسي نوري کلیمې درولي دي ( حبیبي، پټه خزانه، د ۱۵ او ۴۷ مخونو لمنلیکونه) . د کوټ ټکی لا تر اوسه د ځینو ځایونو په نومونو کي تر سترګو کیږي؛ خو د کوټوال او کوټوالۍ ټکي نور د مرګ او نابودۍ په حال کي دي

## ب ) د پښتو په بېلابېلو لهجو کي د لغوي، ادبي، علمي او فرهنګي پانګو پلټل او راټولول

لکه څنګه چي د پښتو ژبي او ادب بابا، لوی استاد علامه حبیبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) هم په ټینګار سره یادونه کړې ده د پښتو ژبي لغوي، ادبي، فرهنګي او علمي سرچینې زیاتره د پښتنو په کلو او بانډوکي پرتې دي . ځیني ارزښتناکي پانګي د زمانو له جور و ظلمه ببخي له منځه تللي دي؛ او ځیني نوري یې زموږ د بې غَوْرۍ له امله ورځ په ورځ د تباهۍ په حال کي دي . پښتانه منورین او د پښتني میراثونو د خوندي کولو ټولي اداري باید په ګډه د خپلو خورو ورو پانګو په را غونډولو کي یوبل ته لاس ور کړي . که د پښتنو په غرونو او دښتونو کي دا ګران بیه لغوي، ادبي، کلتوري او علمي زېرمي را ټولي سي؛ اوله نوو علمي لارو چارو څخه په کار اخیستني سره، خلګو ته د قاموسونو، اطلسونو،کتابونو او نورو ګټورو سرچینو په بڼو وړاندي سي، هیڅ شک او تردید نسته، چي پښتو ژبه به د پخوا په پرتله ډېره غني او بډایه سي . په ډېرو ځایونو او حالاتو کي به ببخي د دې اړتیا نه وي ، چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبپوه یا ادیب بې ځېرني او پلټني له ځانه لغتونه او اصطلاح ګاني جوړي کړي؛ او په خپلو جعل سوو ټکو، ترکیبونو او اصطلاحاتو سره د پوهانو، څېړونکو، په تېره بیا عامو وګړو مخالفت او مقاومت را وپاروي .

د پښتنو په بېلابېلو سیمو کي د لغوي پانګو، شفاهي او کتبي ادب د راټولولو په اړه یوه بله ارزښتناکه خبره داده، چي راغونډېږي سوي کلیمې یا اصطلاح ګاني باید د شخصي ذوق، لهجه یي تمایلاتو او نورو ناسمو کړنو له مخي د یو بل پر ځای و نه درول سي . کله چي د پښتو ژبي پخواني او هېر سوي کلیمات، ترکیبونه او اصطلاحات په علمي لاره راټول او خپاره سي، یوازي ولسونه د اسانی، سادګی، خوږوالي او پوخوالي پر بنسټ په هغو کي د چاڼ کولو حق لري؛ مثلاً پښتانه د � طفل � د عربي ټکي یا د � کودک � د پارسي ټکي له پاره � کوچنی �، � کمکی �،� ووړ �، � وړوکی �، � وړکوټی �، � ماشوم � � معصوم �، � حیوان � او داسي نورو ټکي کاروي، چي ځیني یې سوچه پښتو، ځیني یې پردي او ځیني نور یې په پښتني کټو کي ایشېدلي یا په بله اصطلاح مفغن سوي ټکي دي . د ذوق څښتنان هیڅکله ، په دې ډله کي د � معصوم � او � حیوان � کلیمې نه خوښوي؛ ځکه له یوې خوا پردي ( عربي ) ټکي دي، چي ویل او لیکل یې موږ پښتنو ته ګران دي؛ او له بلي خوا د پوخوالي او لوړ ذوق غوښتنو ته جواب نه وایي . هیڅ هوښیار او پوه پښتون نه غواړي، چي خپل بچي ته د � کوچني �، � کمکي �، � واړه �، � وړکوټي � او نورو پر ځای د � حیوان � لغت استعمال کړي . هغه کسان، چي کوچنی یا ووړ د حیوان په نامه بولي، د ښه او لوړ ذوق څښتن نه بلل کیږي . دغه راز ، د پښتو په بېلابېلو لهجوکي د � فریاد� پر ځای غلبله، کوکاره، بلغاکه، غړانګه، ناره، سوره، چیغه، کرږه، کوکه، بوغاره ( بغاره )، بروه، سانده، کوربل، غوغا، انګولا او داسي نوري کلیمې استعمالیږي ( کاکړ، او حبیبي، سپېڅلې پښتو ۲۰۴) . دا ټول ټکي د پښتو لغوي پانګه ده . باید کوښښ و نه سي، چي په دغو ټکو کي یوازي یو لغت د نورو ټولو پر ځای ودرېږي؛ او په دې توګه د پښتو د ډېرو سپېڅلو او مروجو کلیمو وژلو او ورک کولو ته لاره هواره سي . د لته د یوې یا بلي لهجې د اصالت، اکثریت او اقلیت یا د پښتو د هري لهجې ځینو ټکو او اصطلاحاتو ته د ونډې ورکولو په شان خبري، هیڅ علمي اساس او تاداو نه لري . د پښتو ژبي بېلابېل قاموسونه یا سیندونه باید د پښتو د ټولو لهجو لرغوني او متروک ( ارکاییک ) ټکي د هغو له سم / سمو تلفظونو، ډول ډول ماناوو، بېلابېلو بدلونونو، ادبي نظایرو او جغرافیایي موقعیت سره خلګو ته وښیي . خلګ په خپله خوښه د � ښه منلو او ناوړه پرېښوولو� له قاعدې سره سم، تر ټولو ښه او خونده ور ټکي اخلي او ناوړه پرېږدي؛ مګر له بده مرغه په دې برخه کي تر اوسه سمه لاره نه ده خپله سوې . د پښتو ژبي د اوسني دور ځینو ژبپوهانو او ادیبانو په یوه او بل ډول کوښښ کړی دئ، چي په پښتو لهجو کي دود ټکي، ترکیبونه او اصطلاحات له خپلو وضعه کړوکلیماتو سره یو ځای د معیاري او کره پښتو په توګه، پر نورو خلګو وتپي . په دې اړه خبري نور نه اوږدوو؛ ځکه هغه چي ښکاره دي، بیان او استدلال ته اړتیا نه لري؛ خو دا خبره باید په څرګندو او روښانه ټکو ووایو، چي موږ باید هیڅکله یوه سوچه، اصیله او زړه پښتو کلیمه د بلي په رواجولو سره له منځه یو نه سو؛ ځکه ټولي لرغوني او زړې کلیمې زموږ د سپېڅلي پښتو اررښتناکه لغوي پانګه ده . داسي ستره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانگه باید هیڅکله په پوهي یا ناپوهۍ سره له لاسه و نه باسو . د معیار مقام ته د پښتو د سوچه کلیمو یا نوو جوړو سوو ترکیبونو رسول، یوازي د سلیم ذوق په خاوندانو اړه لري . له پښتو سره د خواخوږۍ او دلسوزۍ مدعیان باید په ژبه کي له خپلو نفسي تمایلاتو او راز راز خطرناکو لوبو لاس واخلي . همدغه رنګه باید د پښتو ژبي د سپېڅلتیا او بډایتوب په هیله هیڅکله تر اوبو دمخه ګاولي و نه باسو . د دې پښتو متل مانا دا ده، چي هر پردي ټکي او اصطلاح ته د سم پښتو لغت او اصطلاح د موندلو په خاطر باید، لومړی د خپلي سپېڅلي او شتمني ژبي په بېلابېلو لهجو کي څېړنه او پلټنه وکوو؛ د پښتو د کلاسیک، منځني او معاصر پېر د ټولو اثارو پاڼي واړوو؛ او هري ستونزي ته د حل لاره و مومو . که مو د خپلو ولسونو په ژبه او دودونو، ادبي او علمي اثارو کي د هغې له پاره د حل څرک پیدا نه کړ، بیا نو په علمي او معقولو لارو سره د نوي ټکي، نوي ترکیب او نوي اصطلاح په جوړولو لاس پوري کړو؛ او په دې کار کي هم د اسانتیا، سادګۍ، خوږوالي او پوخوالي له چوکاټه و نه وزوو.

## ج ) په پښتو ژبه کي د دخیلو او مغفن سوو ټکو پالنه( Adaptism )

د پښتو ژبي د بشپړولو په لړ کي د لرغونو کلیمو او اصطلاحاتو پر بیا ژوندي کولو، د دې ژبي په بېلابېلو لهجو کي د لغوي، ادبي او علمي پانګو پر راټولو او خپرولو سربېره، بله مهمه موضوع دهغو ټکو، عبارتونو او اصطلاحاتو دخوندي کولو مسأله ده، چي د طبیعي او غېرطبیعي عواملو له امله یې، د اوږدو پېړییو په ترڅ کي پښتو ژبي او ادب ته لاره موندلې ده ؛ اوس زموږ له سوچه پښتو کلیماتو او اصطلاحاتو سره داسي اخښلي او بخښلي دي، چي جلاکول یې د سلیم عقل له مخي نه کېدونکی کار برېښي.

د � ایا پښتو ژبه سوچه کېدای سي ؟ � تر سرلیک لاندي مو د لوی استاد- علامه حبیبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) د عالمانه نظریو په رڼا کي، د مغفناتو د بېلابېلو ډولونو په اړه ځیني ټکي وړاندي کړه، دلته یوازي د دې خبري پر یادوني ټینګار کوو، چي مغفنات د پښتو ژبي ډېره ارزښتناکه او په زړه پوري لغوي پانګه ده . په نړۍ کي داسي ژبه نسته، چي په هغې کي د نورو ژبو او تهذیبونو اغېزې له ورایه نه وي څرګندې . دا ډول دوه اړخیزې یا څواړخیزې اغېزې، په بشري ټولـــــنو کي د بېلابېلو طبیـــــــــــعي او غېر طبیعي عواملو زېږنده دي . په پښتو کي هم د مغفن سوو ټکو او اصطلاحاتو تر شا ډېري اوږدي تاریخي کیسې پرتې دي؛ هر ټکی، عبـارت او اصطلاح ځانـــته خـــــاص دلایل، علتونه او عوامل لري . د دې لیکني په لومړنیو څپرکو کي مو د دغه راز علتونو او سببونو په اړه څو لنډې خبري وکړې، دلته د دې حقیقت په وړاندي کولو بسنه کوو، چي دې ټکو په پښتني ټولنه کي، د خپلي اوږدې استوګني په ترڅ کي اوس کورنۍ افغاني رنګ اخیستی دئ . باید په هیڅ ډول کوښښ ونه سي، چي د پښتـــــو ژبي او ادب دا ستره او نه بېلېدونکې زېرمه د وچو تعصوبونو او تنګه نظره احساساتو پر بنسټ زیانمنه سي . موږ باید هم � پلورل � ووایو او هم د � خرڅ � له مغفن ټکي څخه جوړ سوی مصدر � خرڅول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



� . د � خرځ � له مغفن ټکي څخه اوس په پښتو کي د � خرڅوونکي ( پلورونکي )، خرڅیلاو ( خرڅلاو )، خرڅه ( خرچه، مصرف یا لګښت ) خرڅاوو یا خرڅي ( خراج، لاس خلاصی، لګوونکی، مصرف کوونکی )، خرڅښت، خرڅېدنګ، خرڅوَنګ، خرڅېدل، خرڅېده، خرڅګیر ( په بندرونو کي د مالیې یا محصول مامور )، خرڅون، خرڅونی یا خرڅېدونکی ( مال، جنس، متاع ) او داسي نورو په شان ټکي جوړ سوي دي، چي هر یو یې د پښتنو په بېلابېلو سیمو کي کارېږي . که څوک د � خرڅ � ټکی په دې کرېږي، چي د � خرج � یا � خرچ � له پردی کلیمې څخه مشتق سوی دئ؛ او پر ځای یې په سرټمبګۍ سره یوازي د پښتو سوچه ټکی ( لګښت ) دروي، په حقیقیت کي نه یوازي د � خرڅ � له کلیمې سره بې ځایه دښمني کوي؛ بلکي له دې ټکي څخه هغو مشتق سوو ترکیبونو او عبارتونو ته هم د شک او تردید په سترګه ګوري، چي له پېړییو پېړییو راهیسي په پښتنو کي جال او دود دي . داسي کارونه په حقیقت کي د تکامل او پرمختګ د قوانینو پر ضد عمل دئ، چي بې ناکامۍ هیڅ نتیجه نه لري . په هره ژبه کي د لغوي، ادبي او علمي پانګي غځوالی او ارتوالی، د هغې ژبي د شتمنۍ او بډایتوب په مانا دئ . د دې اصل له مخي هیڅوک حق نه لري، چي په لوی لاس زموږ پراخه او غني ژبه نېستمنه کړي.

ځیني داسي کلیمې سته، چي هم په پارسي کي کارېږي؛ او هم په څه اړولې ګونه په پښتو کي؛ لکه هندوانه ( ایرانیان په خپله پارسي کي د � تربُز � ټکی نه کاروي )، سپیست، سین، میهن او داسي نور، چي په پښتو کي هم استعمالیږي . د پښتو د لوېدیزي ( لوېدیځي ) لهجې ویوونکي هغو وښو ته � شپیشتي � وایي، چي ځیني پښتانه او ټول دري ژبي یې � رشقه � بولي . د سین ( د شاهین لرغونې بڼه ) ټکی، چي د پارسي ژبي په � سیندخت � او ځینو نورو ترکیبونو کي استعمال سوی دئ، په پښتو کي د� شئین � یا د � شیین � په بڼه ویل کیږي . � کَواره � هغه لرغونې پښتو کلیمه ده، چي سوونه کلونه مخکي پارسي ته ننوتې وه او د � کبار � په بڼه په پارسي ادب کي کارېده . وروسته پارسي ژبو د دې ټکي پر ځای د � سبد � ټکي ته مخه کړه؛ او د � کبار � اصیل اریایي ټکی یې پرېښود؛ خو له نېکه مرغه د پښتو په لوېدېزه لهجه کي تر اوسه د � کواړي � او � سودې � دواړه ټکي خوندي او ژوندي دي . پر دغو مثالونو سربېره، د د داسي کلیمو او ترکیبونو شمېر ډېر زیات دئ، چي ریښې یې په اوستا، سنسکریت ، پښتو، زړه پارسي ( فرس قدیم ) ، پهلوي، هندي او ځینو نورو اریایي ژبو کي مشترکي دي . د پښتو ژبي د نوو لغتونو او اصطلاحاتو جوړوونکي باید د لغت جوړوني پر مهال دې حساسو او باریکو ټکو ته په ټینګه پام وکړي . هیڅکله هر هغه ټکي او اصطلاح ته د دوی په ګومان د � سوچه � پښتو کلیمې د جوړولو کوښښ و نه کړي، چي د نورو ژبو ( مثلاً پارسي، اُردو ، هندي، پنجابي، سنسکریت او نورو ) ویوونکي یې په خپلو خبرو او محاورو کي کاروي . دا ټکي له لرغونو زمانو څخه په پښتوکي هم باب دي؛ خو له بده مرغه چي د زمانو سرو او تودو یې د پراختیا او تعمیم مخه نیولې ده . ځیني یې یوازي د پښتو په ځانګړو او محدودو لهجو ( ګړدودونو ) کي کارېږي ؛ او ځینو یې د کلیماتو د ژوند او مرګ د اصل له مخي، ورو ورو خپل ځای نورو ټکو او ترکیبونو ته پرېښی دئ . د افغاني فرهنګ نومیالی او تلپاتي استاد، علامه عبدالحي حبیبي، په هغه مقاله کي، چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د � پښتو ځيني نوي موندل سوي کلمات � نوميږي، د اريايي ژبو تر منځ د داسي ګډو ټکو ځيني بولګې ( نمونې )، د هغو ريښې او مورفولوژيک بدلونونه په ډېره علمي توګه بيان کړي دي ( د زيات مالومات له پاره و ګورئ : حبيبي، � د پښتو ځيني نوي موندل سوي کلمات، � کابل ۱۲ د ۱۳۵۳ کب : ۱- ۹ ) .

لوی استاد، د ژبو تر منځ د مشترکو ټکو په لړ کي د پزي يا پوزي ټکی داسي شني : � پوز، پوزه او پزه ټول له اريايي ريښې څخه دي؛ او عنصري توري يې ' پ، ز ' دي . دا اريايي کلمه له ډېري پخوا په عربي ګډه سوې ده؛ او د انتقال تر قانون لاندي تللې ده، پېرۍ پېرۍ پر تېري سوي دي او تر اوسه هم په عربي کښې موجوده ده . که موږ له ځانه سره د ژبي د تخليص او سوچه کولو فيصله وکړو، نو بايد چـي د پښتـــو ( پزه ) ور پرې کړو، ځکه چي دا کلمه خو هم په پارسي او هم عربي کي سته . حال دا چي په پښتو کي موږ بل نوم هم نه ورته لرو او نه نوی نوم ورته وضع کولای سو، نو نا چاره يو چي د پښتو ( پزه يا پوزه ) ومنو او دا لغت له لاسه ونه باسو . په دې ډول ډېر مشترک لغات او په سوو سوو کلمات لرو، چي بايد په خپله ژبه کي يې پرېږدو او خپل اصلي مال يې وګڼو او په دې يې و نه کړو، چي دا لغت خو په نورو ژبو کښې مستعمل دئ ( حبيبي، د ژبو مشترک کلمات، کابل ۲ د ۱۳۲۴ غويی : ۱- ۳ ) .

برهان المحققين - علامه حبيبي د همدې استدلال په دوام ليکي : � د پښتو او دري او هندي ژبو ډېر لغات سره مشترک يا سره نږدې دي . دا ځکه چي يو خو په ريښه کي سره شريک دي؛ او بل دا چي د دغو خلقو په منځ کي تل اقتصادي او تجارتي او فرهنګي روابط او تګ راتګ موجود ؤ، نو ډېر کلمات له غربه شرق ته نقل سوي، يا له شرقه غربي خوا ته تللي دي . ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ۵۹ ) .

لوی استاد، د دغي څېړني په يوه بله برخه کي د اريايي ژبو د ګډوالي او ورته والي يوه بله بولګه داسي بيانوي : � د پښتو آس، د دري اسپ، د سنسکريت اشوڅوني سره نږدې دي . د پښتو ډېوه او د سنسکريت ډېوه سره مشترک دي، د پښتو لس او د هندي دس او د دري ده د تبديل تر خاص قانون لاندي دي؛ او ځکه چي هيڅ ژبه له مشتروکو لغاتو او کلماتو څخه نه وه خالي، نو ايا د يوې ژبي تخليص د نورو ژبو له اثره څخه ممکن دئ ؟ زما په عقيده يې ! اما دلته بايد دا خبره هم وکم، چي د ژبي سوچه کول خو بالکل ممکن نه دي، مګر د ژبي بنياد قوي کول او روزل او پالل ښه کار دئ . په ژبه کي چي کوم کلمات اوس مستعمل دي، هغه په دې ګناه ايستل، چي له بلي ژبي څخه راغلي دي، معقول کار نه ښکاري . مګر دغه کلمات په ثقافتي تعامل کي اچول او له هغو څخه کاراخيستل ډېر ښه کار دئ .

معظم استاد، د اريايي ژبو د ګډوالي او ورته والي پر بنسټ، د پښتو ژبي د سوچه کولو دعوه له لويه سره بې ځايه ګڼي؛ او داسي استدلال کوي : � د دنيا ژبي څو کورنۍ دي؛ او هره ژبه په يوه کورنۍ پوري اړه لري . د هري کورنۍ ژبي بيا ځانته ريښه او بنسټ لري، چي هغه بنسټ د يوې کورنۍ ژبو لپاره مشترک دئ؛ او ډېري ژبي په ځينو خصوصياتو کي سره نښتي وي، نو که موږ دغه نښتون او اشتراک پرعلمي اساس باندي ومنو، نو د ژبي د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالص توب دعوې به پرېږدو . مثلاً آريايي ژبې چي په هند، افغانستان، پارس، خراسان کي ويلي کېدې، ټولي له يوې ريښې څخه را ټوکېدلي دي، نو ځکه اوس د دغو ژبو لغات سره مشترک او نږدې دي . په دغو ژبو کې پښتو له سنسکريت ، اوستا، پهلوي، او دری سره ډېره خپلوي لري؛ بلکه د دغو ژبو ډېر زاړه او لرغوني کلمات اوس لا هم پښتو ساتلي دي . د پښتو اوبجه هغه د پخوانو آريايانو وېجه ده، د پښتو اوسنۍ ورشو د پخوانو تاريخي ژبو ( ورشو ) ده . د پخوانۍ دری ( اير- هير ) د پښتو اورو يا اير دي . د پښتو هټ له هندي ژبو سره مشترکه کلمه ده . دغسي هم رود، ديوال، بڼه، پيغاره او داسي په سوو کلمات يې له دری سره مشترک دي، بلکه بڼه او پېغور اوس دری زبانان نه وايي، مگر پښتانه يې وايي . دا مشترک لغات زموږ دي، او کورټ يې موږ له ژبې څخه نه باسو . دغسي هم له عربي څخه ډېر مغنن کلمات لرو، چي اوس زموږ سوي دي؛ او خاص د پښتو مال دئ، او نه ښايي چي پردي و گڼل سي . کيسې، پاتا، ميرات، ناره، تپوس، ماشوم له دې ډلي څخه دي، چي اوس پوره پښتو بلل کيږي . � ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ٦٠ ).

لوی استاد، وروسته د لغوي راکړي ورکړي د بهير څرنگوالي ته داسي کتنه کوي : � د لغاتو دانتقال په دوره کي له يوې ژبې سره ډېر ليري کلمات هم گډېږي؛ او داسي الفاظ هم ورته را درومي، چي اصلاً د هغې ژبې له کورنۍ څخه هم نه وي، مثلاً سنسکريت چي يوه آريايي ژبه ده، او عربي چي له سامي کورنۍ څخه ده . په پخوانو تجارتي روابطو کي د لومړۍ ژبې ډېر الفاظ عربو ته تللي؛ او په عربي ژبه گډ سوي دي، لکه اپت، چندن، مشکاة،کيور، نانبول، چي په عربي کي آفت، صندل، مسک، کافور، ننبول ځيني جوړ سوي دي . اوس چي موږ گورو، دغه لغات په پښتو کي هم سته . اپت، چندن، مشک او کاپور ټول مستعمل دي . نو دا الفاظ د سامي عربي ژبې او د آريايي ژبو تر منځ مشترک گڼل کيږي،او په فارسي کي هم بيرته په عـــــربي شکل مستعمـــل دي ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ٦٠ - ٦١ ) .

لوی استاد، د بېلابېلو بدلونونو له کبله د يوې کليمې پر ځای د بلي کليمې د را پيدا کېدو او عامېدو په اړه داسي ليکي : � په پخوانيو آريايي ژبو کي، د � م او ن � عنصري توري ، په پيل کي د ارادې په مانا کارېده ؛ وروسته په سنسکريت کي د � من � ټکي د � زړه � مانا پيدا کړه؛ ځکه پخوا خلگو داسي انگېرل، چي � زړه � د انسان د حرکاتو، افکارو او احساساتو مرکز دئ . د امير کروړ جهان پهلوان په وياړنه کي هم د � من � کليمه د � زړه � په مانا کار سوې ده . وروسته په پښتو کي د � ارادې � او � زړه � په ماناوو د � من � لرغونی ټکی په بشپړه توگه له منځه ولاړ؛ او پر ځای يې � زړه � ودرېد . که څه هم د � من � کليمه مړه سوه؛ خو ډېر اولاد او زامن ځني پاته سول . د دې زامنو په ډله کي يې د � منل �، � مننه �، � منښت �، � مننگ �، � منوونکی �، � منلی �، � مني � او نورو يادونه کولای سو . اما که موږ د ( ارادې ) لپاره مثلاً بله کلمه ونه لرو نو کولای سو، چي د قديم ( من ) د دغي معنی لپاره مستعمل کړو . که څه هم او س زموږ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستعمله ( اراده ) هم ښه کلمه ده، او په ژبه کښې داخله سوې ده او ضرورت هم نه لرو، چي متروکه، مهجوره او نتلې کلمه يې پر ځاى ودروو . � ( حبيبي ، د کلماتو مرگ او ژوند، شل مقالې ۷، ۷۸ ) .

د پښتو ژبې او ادب په تاريخ کي تلپاته ستورى ، علامه حبيبي، د همدې مقالې په يوه بله برخه کي د کليماتو د نوو ماناوو او مفهومو د پيدايښت په لړ کي د � ود � د مړه سوي اريايي ټکي ريښه او مشتقات داسي په گوته کوي : � وده، ويده، ويدا، ودنه، واده، ودول، ودېدل، ودون، ودوونکى، ودېدونکى، ودېدونې، ودېدون، ودېدنه، ودونه او نور ټول له يوه مادې څخه زېږېدلي دي، چي هغه د� ود � ټکى دئ، چي وروسته له هغه څخه د � ويدا � کليمه پيدا سوه . آرياييانو تر مېلاد څورلس سوه کاله دمخه خپلو علمي او ديني سندرو ته' ويدا' ويل، چي د پوهني مانا لري . په سنسکريت کي هم د � ود � ماده سته، چي د عِلم او پوهي په مانا ده . � ( حبيبي، د کلــــماتو مـــرگ او ژونـــد، شـــل مقالې ۷، ۷۷- ۷۸ ) .

لکه څنگه چي لوى استاد کاړي د دې کورنۍ پلار ( ود ) اوس مړ دئ؛ او څوک يې نه وايي؛ خو بچيان يې تر اوسه پاته دي . په پښتو ژبه کي داسي ټکي خورا ډېر دي، چي ريښې يې اوس زموږ په ژبه او ادب کي ببخي مړي دي؛ خو د نوو ټکو او ترکيبونه په بڼه د هغو نوي نسلونه ورځ په ورځ ډېرېږي . دا خبره د کليماتو د مړيني او ژوند پر قانون د سموالي او ريښتينوالي مُهر لگول دي . د دې قانون په منلو سره اوس هيڅ د اريانۍ ځاى نه پاتيږي، چي د زمانې په تېرېدو سره به زموږ خورا ډېر لرغوني ټکي او اصطلاح گاني خپل ځاى نوو ټکو او ترکيبونه ته پرېږدي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د) د نوو ټکو جوړوَنه یا نیولوجیزم(Neologism )

د دې واقعیت په منلو کې اوس هیڅوک شک او تردید نه لري، چې ژبه د یوه ټولنیز مخلوق په توګه له بېلابېلو طبیعي او غیر طبیعي بدلونونو سره ګام په ګام څېره اړوي . که د پښتو ژبې تاریخ ته هم پام واړوو له ورایه ګورو، چې په دې ژبه کې هم له راز راز بدلونونو سره سم ډول ډول کلیمې، ترکیبونه، اصطلاحات او نورې ژبنۍ پانګې را منځ ته سوي دي . کله کله یې د نورو ژبو لغتونه او الفاظ اخیستي؛ او کله کله یې خپل سوچه ټکي هم په دایمي یا مؤقتي توګه له لاسه ور کړي دي . د اوستا، سنسکریت، هندي، یوناني، پارسي، عربي، تورکي، مغولي، انګرېزي، روسي او ځینو نورو ژبو ډېرې نښې نښانې همدا اوس هم زموږ په ژبه کې ښکاره دي . د دوو اړخیزو یا څو اړخیزو اغېزو اړیکو دا قانونمند طبیعي بهیر په هره ټولنه او هر چاپېر کې روان دئ . په نړۍ کې د بېلابېـــلو ګړندیو تحولاتو، په تېره بیــا اریانـــوونــکو سیاسي، فرهنګي، تخنیکي او اقتصادي پرمختګونو له امله هره ورځ د نوو ټکو، نوو تعبیرونو اونوو اصطلاح ګانو لوی سېلاو زموږ پر لور را روان دئ؛ د مثال په توګه دکمپیوټر په اختراع او عامېدو سره نه یوازې په خپله د کمپیوټر ټکی؛ بلکې د هغه د ډېرو برخو او سامان آلاتو بې شماره ټکي او اصطلاحات هم د پښتو ژبې په ګډون د نړۍ زیاترو ژبو ته ننوتل؛ او هره ورځ د دغه راز ټکو او اصطلاح ګانو د را ننوتلو لاره پرانیستې ده . چې نورو ژبو په څېر د پښتو ژبې لرغوني لغوي پانګې ، د دغو نوو اختراعاتو او نوو مفاهیمو د افادې له پاره څه نه لري؛ نو ځکه خلګ په ناچارۍ سره هر څه یا په خپله اصلي بڼه یا د نورو ګاونډیو ژبو په ترجمه سوې بڼه اخلي . که د پردو ټکو او اصطلاحاتو دې وحشتناک او بې رحمانه فرهنګي یرغل ته لاس تر زنې کښېنو، ډېر ژر به زموږ د لرغوني او سپېڅلې ژبې جنازه هم په خاورو کې ښخه سي . همدې سترو خطرونو ته پام کولو سره، په پښتو کې د نوو ټکو او اصطلاحاتو جوړول، یو داسې عیني ضرورت دئ، چې تل باید له پامه و نه غورځول سي . د نوو ټکو، ترکیبونو او اصطلاحاتو جوړونه هم پوهه ده او هم هونر . پوهه یا عِلم په دې مانا، چې د نوو لغتونو د جوړولو له پاره باید لغت جوړوونکی د ژبپوهني، لغت پوهني، ادب پوهني او د علومو له ځینو نورو اړونده څانګو سره اشنایي ولري؛ ځکه هر څونه چې د نوو ټکو، عبارتونو او اصطلاح ګانو په جوړولو کې له علمي اساساتو او لارو ګټه واخیستله سي، په هغونه اندازه معقولې او منطقي نتیجې تر لاسه کېږي . د نوو ټکو او اصطلاحاتو جوړول د شعر، موسیقۍ، انځورګرۍ او نورو نوښتګرو کارونو څېر پر پوهې سربېره هونري او ذوقي بڼه هم لري . ډېر ځله یو څوک د شعر، موسیقۍ، انځورګرۍ او نورو تخلیقي هونرونو په اړه ژوره پوهه او په زړه پوري مالومات لري؛ خو نه سي کولای په خپله څه هونري هستونه وکړي . بالعکس کله کله څوک د شعر، موسیقۍ او نورو ابداعي ایجاداتو په باره کې د خاصې پوهې او صلاحیت خاوند نه وي؛ خو د خپل فطري او هونري ذوق پر بنسټ خورا په زړه پوري شعري او هونري هستوني کوي . په پښتو کې د دغه راز شاعرانو او هونرمندانو شمېر خورا زیات دئ . د نوو ټکو او اصطلاحاتو په برخه کې هم دا خبره کټ مټ همداسې ده . ډېر ځله د پښتو نوي ټکي، ترکیبونه او اصطلاحات د داسې باذوقه کسانو له خوا جوړ سوي دي، چې حتا پوره لیک لوست نه سي کولای . د دې پر خلاف داسې مثالونه او بولګې هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرِ نه دي، چي د مسلكي ژبپوهانو او اديبانو له خوا وضعه سوي كليمات، تركيبونه او اصطلاحات د عامو خلگو له خوا نه وي منل سوي . په هر حال، ژبه د خلگو او ولسونو مال دئ . هر څوک ( لوستی او نالوستی ) بشپړ حق لري، چي د خپلي مورنۍ ژبي د پياوړتيا او غنا له پاره، د اړتيا پر مهال نوي ټكي او اصطلاح گاني جوړي كړي؛ خو هيڅوک حق نه لري، چي خپل جوړ كړي لغتونه او تركيبونه د معياري او كره ټكو په توگه پر خلگو و تپي؛ او د نورو له خوا وضع سوي كليمات، تركيبونه او اصطلاح گاني په بېلابېلو نومونو وكړي . د نوو ټكو د معياري توب او كره توب پرېكړه د خلگو په لاس كي ده . خلگ د اسانۍ، سادگۍ، لنډوالي، خوږوالي، پوخوالي، عموميت او ځينو نورو اصولو په رڼا كي د څو نوو ټكو او اصطلاحاتو له منځه تر ټولو غوره اخلي؛ د مثال په ډول په پښتوكي له اوږدو زمانو څخه په تحقيقي ليكنو كي د اِستِناد سوي اثر له پاره د � سند �، � حوالې � ،� مدرک �، � مرجع �، � منبع �، � ماخذ �، � ريفرينس � او داسي نورو ټكي كارېده . په دې وروستيبو كلونوكي زمونږ ښاغلو لغت جوړوونكو د همدې پردو ټكو له پاره د � اخځ �،� اخيستنځی � ،� اخځليک � او داسي نورو په شان پښتو ټكي هم جوړكړه . پخواني پردي ټكي نه يوازي په پښتو؛ بلكي ډېرو نورو سامي او اريايي ژبو كي له سوونو كلونو راهيسي دود دي؛ مگر يوازنۍ گونا يې دا ده، چي زمونږ د لغت جوړوونكو په نظر پردۍ ريښه او جوله لري . دا چي په پښتو كي د � ماخذ � د پېژندل سوي او اشنا ټكي پر ځای واقعاً بل ټكي ته اړتيا سته كه يا او دا چي په پښتو كي زمونږ د لغت جوړوونكو دا نوي وضعه سوي ټكي د فصاحت او بلاغت له پلوه له لرغونو پردو ټكو سره سيالي كولای سي كه يا ؟ هغه مهمي او اساسي پوښتني دي، چي زمونږ ټولو په ذهن كی پيدا كيږي . دې پوښتنو ته تر جواب وړاندي كولو مخكي د � ماخذ � عربي تركيب ته يوه لنډه او سرسري كتنه كوو، چي زمونږ هر پوه او محقق لوستونكي يې، د پښتو د اوسنيو جوړو سوو تركيبونو سره په غوَر پر تله كړي .

د ماخذ / δa x́ ā m / [ د خ په زْوَر ] عربي تركيب اصلاً د � ما � او � خذ � له دوو بېلو ټكو څخه جوړ سوی دئ . د � ما � ټكی د څه يا څه شي په مانا دئ، چي د � الی �، � بِ � ، � لِ � او � حتی � تر اداتو وروسته د � چيري �، � تر كومه ځايه �، � كومي لاري �، � له څه شي سره �، � له څه سره �، � ولي �، � څه له �،څونه � او داسي نوري ماناوي لري . د خذ / δ a x / ټكی د � اخذ � له مصدر څخه اخيستل سوی دئ، چي د اخيستلو په مانا دئ . د ماخذ ټكی په تركيبي ډول د سرچينې، ريفرينس يا هغه اثر په مفهموم دئ، چي ليـــكوال يا څېـــــړونكی په خپله تحقيقي ليكنه كي گټه ځني اخلي يا په هغه اِستِــــــناد كوي . د مــاخــذ جمع په عـــــربي كي د مـــآخـــذ / δ ı́ x ā am / [ د خ په زبر ] ټكی دئ، چي په ليكلو كي له يكړ يا مفرد حالت سره يوازي د مد توپير لري . په وينگ كي مفرد حالـــت د � خ � په زْوَر او جمـــع يې د � خ � په زبر سره ويل كيږي . په مفرد حالت كي مقصور الف ( ا ) او په جمع كي ممدود الف ( آ ) كار سوی دئ ) 6 � 8 ,888( Wehr .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عربي ماخذ کي د � ما � او � خذ � دوه بېل ټکي په داسي ډول سره يو ځای سوي دي، چي څوک د دوو بېلو ټکو ګومان هم نه پرکوي . په بله ژبه دا ترکيبي نوم سره له لنډوالي او اسانۍ، جامع مفهوم افاده کوي . د � ما � او � خذ � دوو بېلو ټکو په يو ځای کولو کي يوازي د � ا � توری حذف سوی دئ . سربېره پر دې، د دې ټکي د مفرد او جمعي په حالت کي ډېر لږ توپير سته، چي دا په خپله هم د دې ترکيبي کليمې د اسانۍ او سادګۍ په مانا دئ . تر دې شېګڼو چي تېر سو دا ترکيبي لغــت له سوونو کــــــــلو را هيسي په پښتو او نورو ګاونډيو ژبو کي دود دئ . شک نسته، چي د� اخيستنځی � په ترکيب کي د دې ترکيبي ټکي دوو متشکله برخو ( اخيستل + ځای ) ماناوي له ورايه څرګندي دي؛ خو زه په خپله د � ماخذ � د لنډوالي او اسانۍ خوند نه پکښي وينم .

که څه هم نحت ( د بېلابېلو کليماتو په يو ځای کولو يا موښلولو کي امتزاج او تخفيف ) د ژبپوهني له اړخه روا او حتا ضروري کار دئ؛ خو ژبپوهان د نوو ټکو او اصطلاح ګانو په جوړولو کي د کليمو د ډېر امتزاج او ترخيم پلوي نه کوي . په دې مانا چي نوي ترکيبي ټکي بايد تر وسه وسه په داسي توګه وي جوړ سوي، چي د ترکيبي ټکو جوړوونکي برخي يا متشکله عناصر پر خپل اصلي حال پاته وي؛ که نه نو هغه نوی ترکيب، چي د څو ټکو له لنډوالي او يو ځای توب څخه جوړ سوی وي، خلګو ته په پوهېدو کي سختي پېچومي پيدا کوي؛ مثلاً � نبخه � د پښتو ژبي ترکيبي ټکی دئ، چي په حقيقت کي د � نه � ، � يم � ، � خبر � له درو بېلو ټکو څخه جوړ سوی دئ . داسي ترکيبي ټکي په اسانۍ سره خلګو ته د پوهېدو وړ نه دي .

د همدې تيوريک بحث په رڼا کي اوس هر څوک په اسانۍ سره کولای سي، چي د عربي ژبي � ماخذ � د پښتو د � اخځ �، � اخيستنځی � او � اخځليک � په وړاندي و ګوري . دا خبره بايد هېره نه کړو، چي منحوت ترکيبونه بايد له لنډوالي او سادګۍ سره سره، د مانا او مفهوم له اړخه هم هيڅ ستونزه ونه لري . په بله وينا داسي ترکيبونه بايد تفسير او تشريح ته اړتيا و نه لري . د � اخځ � په ترکيبي نوم کي ريشتيا هم د لنډوالي او اسانۍ قاعده مراعات سوې ده؛ خو زه په خپله يې د مانا په پوهېدو کي ستونزه لرم . د دې ترکيبي ټکي د جوړوونکو برخو اساسي عناصر ، توضيح او تفسير ته اړتيا لري . ګومان کوم، چي د � اخ � برخه يې د � اخيستل � د مصدر لنډه يا ترخيم سوې بڼه وي؛ او � ځ � توری د � ځای � لنډه بڼه، چي هر څوک يې په اسانۍ سره پېژندلای سي؛ خو د� اخ � مخفف توري د � اخيستل � ټکی په سمه توګه نه سي بيانولای . په بل عبارت په دې دوو تورو کي د � اخيستل � د مصدر جوړوونکي عناصر نه دي ښوول سوي؛ نو ځکه يې څوک واردواره په مانا نه پوهيږي . لغت جوړوونکی بايد تل د دې ترکيب د بيان او څرګندوني له پاره نور مالومات وړاندي کړي، که نه نو لوستونکی به تل له بې ځايه سرخوږي سره لاس او ګرېوان وي . دلته په لنډ ډول هغو التباسونه ته يوه اشاره کوو، چي د � اخ � د ټکي په لېدو سره د لوستونکي په ذهن کي پيدا کيږي . � اَخ / x́a / � [ د الف په زْوَر ] د ږغ نوم يا اسم صوت دئ، چي په پښتو او پارسي کي د کرکي، نفرت، کاهښت، درد او تکليف د بيانولو له پاره ويل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي ( عمید ۱: ۱۱۱ ) . دغه راز، � أُخ / x o / � [ د الف په پېښ ] هم د ږغ نوم یا اسم صوت دئ، چي په پارسي او پښتو کي د خوښی، خوند، افسوس، ارمان او ویش و واخ له پاره کاریږي ( عمید ۱: ۱۱۱؛ امرخېل ، او نور ۱: ۱۱۷ ) . سربېره پردې دوو صوتي ږغونو، د � اَخ / x ́a / � [ د الف په زْوَر ] عربي ټکی د ورور، ملګري، ګاونډي او دوست په مانا دئ، چي اخوان او اخوة یې د جمعي حالتونه دي ) عمید ۱: ۱۱۱ ؛ . ( Wehr 9په دې توګه ګورو، چي په � اخځ � کي استعمال سوی � اخ � له درو بېلو ټکو سره د التباس مشکل هم منځ ته راوړي . دې شکلي او مانوي ( معنوي ) ستونزو ته په کتو سره د � اخځ � وضعه سوی لغت تر � اخیستنځی � هم کمزوره ښکاري.

د اینټرنیټ له را پیدا کېدو سره د ویب سایټ ( website ) اصطلاح هم منځ ته راغله . د پښتو ځینو لغت جوړوونکو هغه په � ویبپاڼه � ترجمه کړه؛ ځینو � اینټرنیټ پاڼه � وبلله؛ ځینو نورو د � جالپاڼي � نوم پرکښېښود؛ او په پای کي ځینو نورو د هغې اصلي بڼه ( ویب سایټ ) � تر ژباړل سوو پښتو ټکو اسانه او ښه و ګڼله . د معیاري مقام د تر لاسه کولو له پاره به د دې ځلورو - پینځو ټکو تر منځ څه موده سخت ټکرونه او جګړې رواني وي . وروسته به په ټولنه کي د بېلابېلو بدلونونو د اغېزمنتیا پر بنسټ ، یوه کلیمه له نورو میدان وګټي؛ او نور ټول سیال ټکي به د ژوند او هستۍ له نعمته بې برخي کړي . لکه څنګه چي د پښتو ژبپوهني، ادب او تاریخ بابا - لوی استاد علامه حبیبي( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) په ټینګار سره یادونه کړې ده ژبپوهان، لغت جوړوونکي، شاعران او لیکوال باید هیڅکله ژبه تر خپل ذوق، احساساتو او فکر قربان نه کړي؛ ځکه هره ژبه د یوه قوم په ټولو خلګو پوري اړه لري؛ او تل د ولس په غېږ کي وده او پرمختګ کوي . په بله وینا، د ژبي او ادب پوهان باید په ژبه کي له ناروا تصـــــــرف څخه لاس واخلي . . . ( حبیبي، آیا د ژبي واګي د چا په لاس کي دي ؟ شل مقالې ۷، ۵ - ٦ ) . د ناروا لاس وهني یوه بڼه دا ده، چي څوک د خپل نفس د غټولو په موخه، حق او ناحق لغتونه را وباسي؛ په ژبه کي هر نوي یا مروج پردي ټکي ته بې پلټني او څېړني له ځانه کلیمې او ترکیبونه وضعه کړي؛ او بیا یې په هر ځای کي د کره او معیاري ټکو په توګه تبلیغ کړي . په خواشینی سره، په پښتو کي اوس د غه راز لغت جوړونه خورا پراخه سوې ده.

د افغاني فرهنګ وتلئ او منلئ استاد ، علامه حبیبي، دغه راز خبرداری ورکوي، چي ژبه په حقیقت کي فقط د افهام او تفهیم آله ده . که خلګ په اسانی سره د یوبل په ژبه ښه وپوهیږي، نو ژبپوهانو او لیکوالو ته د دې اړتیا نه سته ، چي له ځانه نوي لغات او کلیمات وتراشي؛ او په خلګو کي د منلو الفاظو پر ځای ځیني وحشي او نامانوس ټکي ودروي . . . ( حبیبي، د ژبو مشترک کلمات، شل مقالې ۷، ۷۳).

دغو خبرو او دلایلو ته په پاملرني سره دا نتیجه اخلو، چي په پښتو ژبه کي باید د خپلو او پردو ټکو د د قیق انډول په خاطر، تل د ټولنیزو قوانینو له حُکمونو سره سم عمل وکړو؛ د ژبي د بشپړتابه ټولو برخو او څنګونو ته ټینګ پام وکړو؛ په هره برخه کي یې د افراط او تفریط په کلکه مخه ونیسو؛ که نه نو په لوی لاس به د خپلي خوږې او سپېڅلي ژبي په له منځه وړلو یا کرغېړن کولو کي برخه واخلو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پښتو کې التباسونه او ناوړه ترکیبونه

د � معیاري � او � سوچه � پښتو په لار کې لیونییو هلوځلو، نن سبا د پښتو په ویلو او لیکلو کې ډول ډول التباسونو او ناوړه ترکیبونو ته لاره پرانیستې ده . پښتو ژبه د علمي، ریښتني او منلي معیار پر ځای د ځینو کسانو د ناسمو او غیر علمي لاس وهنو له امله پر کږه لاره روانه ده . دغه راز، د ژبې د سوچه کولو خیالي او موهومو کوښښونو اوس زموږ اسانه او خوږه پښتو له داسې کړکېچنو، بد ذوقه او ناوړه ترکیبونو ډکه کړې ده؛ او ورځ په ورځ یې لمنه پراخیږي، چې له یوې خوا په هیڅ وجه د پښتو له واقعي سوچه کولو سره مرسته نه کوي؛ او له بلې خوا یې ساده، روانه او په زړه پوري پښتوخپلو اصلي ویوونکو ته ستونزمنه او گرانه کړې ده . دلته د د ې موضوع د دوو بېلو اړخونو په اړه تر جلا جلا سرلیکونو لاندې څو لنډې خبرې کوو.

## الف) التباسونه او گډوډۍ

د تېل سوي � معیاري � پښتو پلویانو د پراخو جعل سوو کلیمو او نامنلو معیارونو په وړاندې کولو سره، زموږ په اسانه، ساده او خوږه ژبه کې ډېر التباسونه او گډوډۍ پیدا کړې دي . د پښتو ژبې په وینگ( ویلو ) او کښنگ ( کښلو )کې دې ناوړه لاس وهنو، نه یوازې بهرنییانو ته پښتو ژبه تر بلې هرې ژبې لانجمنه کړې ده؛ بلکې موږ پښتنو ته یې هم د خپلې مورنۍ او پلرنۍ ژبې په پوهېدو کې لوی خنډونه او ربړونه پېښ کړې دي . په ژبه کې دا ناسم او خپلسري تصرفات، د پښتو ژبې د ودې او پرمختگ پر ځای، د هغې د بې خوندۍ او وروسته پاته والي شرایط او موجبات برابروي . د پښتو ژبې تکړه لیکوال او څېړونکي، ښاغلي محمد معصوم هوتک، په هغه مستنده او مستدله لیکنه کې، چې � پرمعیاري ژبه دمعیارپه ژبه یوه څېړنه � نومېږي، د دغه راز التباسونو او گډوډییو په اړه اوږدې خبرې کړې دي ( گران لوستونکي کولای سي د ښاغلي هوتک علمي او تحقیقي لیکنه پرکتابي ډول سربېره ، د اینټرنیټ له لارې د بېنوا ویبپاڼې د برېښنایي کتابتون په برخه کې هم ولولي ) . له دې امله په دې لیکنه کې هڅه کوو، چې د دغه راز التباسونو او گډوډییو د لا روښانتیا په هیله د ځینو نورو بولگو په راوړولو سره بسنه وکړو.

## ۱ -د اوږدې او لنډې � ی � تر منځ التباس او گډوډوي

پر پښتو ادب سربېره، زموږ په ورځنییو خبرو کې په سلگونو داسې بولگې او مثالونه سته، چې په هغو کې د اوږدې ( مجهولي ) او لنډې � ی � تر منځ ښکاره او روښانه توپیر سته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چي پوهېږو، په پښتو کي د هغو ټولو ښځينه ( مؤنث ) نومونو، د جمعي په حالت کي لنډه � ی � راځي، چي په پای کي يې زورکی راغلئ وي؛ او په ويلو کي يې خج يا فشار ( Accent ) پر لومړي سپوڼ (هجا) وي ؛لکه : ښځه، کلوښه، ژرنده، ژوره، برخه، څنډه، کمبله، کوډله او داسي نور، چي د جمعي صيغې يې بايد د ښځي، کلوښي، ژرندي، ژوري، برخي، څنډي، کمبلي، کوډلي او داسي نورو په بڼه وليکلي سي . دغه رنګه، په پښتو کي بايد د هغو ښځينه ( مؤنث ) ټکو د جمعي صيغې په مجهوله يا اوږده � ی � وليکلي سي ، چي په اخير کي يې زور راغلئ وي؛ او په وينګ کي يې خج ( فشار ) پر دوهمه څپه ( هجا ) وي ؛ لکه پلوشه، وړانګه، ډېوه، جلوه، ناره، ګيله، ټوټه، کيسه، کينه او داسي نور، چي د جمعي صيغې يې بايد داسي وليکلي سي : پلوشې، وړانګې، ډېوې، جلوې، نارې، ګيلې، ټوټې، کيسې، کينې او داسي نور.

د دي ګرامري قاعدي له مخي د � چي �، � مي �، �کي � او داسي نورو په څېر ظرفي حالتونه د � چې �، � مې �، � کې � او داسي نورو په شان ليکل، د اوږدي ( ې )او لنډي ( ي ) تر منځ ګډوډي را منځ ته کوي؛ ځکه د � چې �، � مې �، � کې � او داسي نورو په ليدو سره څوک له ورايه داسي انګېري، چي ګوندي د ليکوال يا شاعر مقصد د � چې يې �، � مې يې �، � کې يې � لنډه بڼه ده .

د پښتو ادب د منځنۍ دورې په اثارو او د پښتو ژبي د لوېديزي ( لوېديځي ) لهجې په اوسنيو محاورو کي د� کي � او � کې �، � مي � او � مې �، � چي � او � چې � تر منځ واضح او ښکاره توپير سته . د پښتو ګرامر د اصولو او قواعدو له مخي � کي � له ظرفي اداتو ( Prepositions) څخه دئ، چي تل په يوه ځای يا مظروف کي د شخص يا شي حالت بيانوي . په انګليسي کي د همدې موخي يا هدف له پاره ، له نومونو سره د � in� اضافي توری کاروي، چي په حقيقت کي د جوملې د مبتدا او خبر يا فاعل او مفعول تر منځ اړيکي ټينګوي؛ لکه :

He is in the office. She is in the garden. They are in the park etc.

په پښتو کي ظرفي ادات کټ مټ د انګرېزي په شان دي؛ مثلاً موږ وايو: په کوڅه کي، په خونه کي، په کور کي، په پوهنتون کي، په ښار کي او داسي نور .

�کې � په حقيقت کي د � که يې �، � چې � د � چې يې �، � مې � د � مه يې �، � نې � د � نه يې � لنډه يا مخففه بڼه ده؛ او له � کي �، � چي �، � مي �، � ني � او داسي نورو سره په مانا کي لوی توپير لري؛ د مثا ل په توګه موږ وايو : � کې در نه کړ � = � که يې در نه کړ �، � نې در کوم � = � نه يې در کوم � او داسي نور . داسي توپيرونه د پښتو ژبي د زياتره لويو او وتلو شاعرانو په ديوانونو کي هم له واريه مالوميږي؛ د مثال په ډول د پښتو د لوی عارف شاعر- علي محمد مخلص ( تر ۱۰۶۹ ق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري په يقيني توګه ژوندی ) د ديوان په يکړه او يوازنۍ خطي نسخه کي د � ی � د دغه ډول ظرفي او اختصاري حالتونو تر منځ توپيرونه سوي دي . د هغه کلام دئ، چي وايي:

و هر چاتې د صفات معرفت ورکړ

زه د ذات په معرفت تر کل بهتر يم

بل ځای وايي:

دواړه کونه په خدمت ورته ولاړ دي

چه له حقه يې توفيق د همت بيا مند

د پښتنو د عارف شاعر، علي محمد مخلص، په شاعرۍ کي د اوږدې او لنډې � ی � د توپير يوه بله بولګه:

بسته در د جبروت به پر ګشاد شي

ملکوت د جبروت د در کليده

د روحانو حقيقت به ور څرګند شي

مقيم روح د حيوان يو، جاري تفريده

په دغو بيتونو کي � تې � د � ته يې � لنډه بڼه ده؛ او د � دي � او � شي � په ټکو کي ظرفي � ی � راغلې ده . اوس نو که � دي � او � شي � د� چې، کې، مې � په شان په مجهوله يا اوږده� ی � وليکو، نو نه يوازي د بيتونو مانا اړوي؛ بلکي د بيتونو ګرامري جوړښت هم مځکه او اسمان توپير مومي؛ ځکه په دغو بيتونو کي دمفرد غايب شخص په اړه خبري کيږي . که همدا ټکي په اوږده � ی � وليکو هلته مخاطب ته بيان دئ؛ او د لومړي بيت په لومړۍ ميسره کي د � پر ګشاد � له تر کيب سره هيڅ سمون نه لري؛ ځکه دغه ترکيب دريم شخص ته اشاره کوي . دغه رنګه په دوهم بيت کي هم د � شي � ظرفي حالت د � شې � په خطابي حالت اوړي، چي هغه هم د د دوهم بيت په دوهم ميسره کي د � ور څرګند � له ترکيب سره هيڅ برابري نه لري؛ ځکه د� ور څرګند � ترکيب له ورايه جوتوي، چي شاعر د دريم شخص ( د پټو حقيقتونو د پلټوونکي ) په اړه خبري کوي.

تر علي محمد مخلص وروسته، د پښتو لوی نازک خيال شاعر ( حميد بابا) وايي:

نور به ګور لره حميد وړي کومه شمعه ؟

کې په ګور نه کا د ښکلي مخ پر تو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علي محمد مخلص او حميد بابا په مخکنييو بيتونو کي د � تې � او � کې � ټکي د � ته يې � او � که يې � په اختصاري يا مخففه بڼه کار سوي دي؛ او که يې� ته يې � او � که يې � په بشپړه ډول وليکو، د بيت په ميسرو کي د وزن له اړخه جدي سکتګي او ستونزه پيدا کيږي .

د اوږدې او لنډې � ی � توپير، د رحمان بابا په يوه بيت کي داسي بيان سوی دئ:

چه د څنګه مي دلبر په لاس کښي جام دئ

نن اورنګ د زمانې زما غلام دئ

که د اوسني نامنلي معياري ليکدود له لارښوونو سره سم ، د رحمان بابا په دغه بيت کي د � مي � او � کښي � ظرفي يا ګاني په اوږده يا مجهوله � ی � وليکو، نو د بيت په مانا کي جدي ستونزه پيدا کيږي؛ ځکه په دې حالت کي � مي � له ظرفي حالت څخه د � مي يې � بڼه غوره کوي ؛ او د دې بڼې په غوره کولو سره د بيت ګرامري جوړښت او وزن ، مځکه او اسمان توپير کوي . د رحمان بابا په لوړې او خوږې شاعرۍ کي هيڅکه داسي بيت نسته، چه هلته دي د ګرامر او وزن داسي ستونزي تر سترګو سي.

زموږ د وخت حساس او خوږ ژبی شاعر، پياوړی ليکوال او څېړونکی - فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا (۱۲۹۲ش/ ۱۹۱۳م - ۱۳۶۳ش/ ۱۹۸۵ ) په خپل � پرېشانه افکار � کي د � بياباني ګل � تر سرليک لاندي داسي وايي :

چي لا مست په زلميتوب ؤ، د هغه مراد زړګی يم

نور صورت يې خاوري سوی، زې د مينې سور غمی يم ( بېنوا ۱).

د پورته بيت په دوهمه ميسره کي د � زې � ترکيب په حقيقت کي د � زه يې � لنډه بڼه ده؛ خو په بيت کي بايد هرومرو د � زې � په بڼه راسي؛ ځکه بشپړه بڼه يې د بيت وزن خرابوي .

د پښتو ادب په ځينو پخوانييو نسخو کي د املايي تشتُت او رنګارنګی په لړ کي يو او نيم داسي مثالونه او بولګې هم سته، چي � ی � ګاني د يو د بل پر ځای ليکلي سوي وي . ښايي دا کار د کاتبانو او ناسخانو د بې خبرۍ او بې پروايۍ له کبله وي؛ او يا هم د دې حقيقت ښکارندوی وي، چي په هغه زمانه کي د بېلابېلو خلګو له خوا د � ی � ګانو تلفظ جلا جلا بڼې او جولې لرلې . داسي مثالونه د پښتو د نورو سترو او منلو شاعرانو په کلام کي هم خورا ډېري دي.

لکه څنګه چي ګورو، د پښتو په نوي � معياري � ليکدود کي د � کي � او � کې � تر منځ توپير نسته . هره ظرفي � ی � په اوږده يا مجهوله � ی � ليکي؛ او په دې ډول د مانا له پلوه لويې پېچومي را منځ ته کوي . دلته د � ی � ګانو له ګډوډۍ او التباس څخه دکليمو په مانا کي د لويو بدلونونو څو نمونې وړاندي کوو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-بلي (روښانه، لګېدلي ،مشتعل، برافروخته ) ؛لکه بلي ډېوې، بلي شمعي او داسي نور له بلې ( هو، آري ) سره التباس پیدا کوي .

-رېبي [ په پارسي کي درو می کُند ] ( د � رېبل � له مصدر څخه د غایب مفرد له پاره د ساده ماضي زماني فعل ؛ لکه احمد شپیشتي رېبي .) له رېبې ! [ په پارسي کي درو می کُنی! ] ( د � رېبل � له مصدر څخه، مخاطب شخص ته د جاري فعل صیغه) سره ګډوډي پیدا کوي ؛لکه : احمده شپشتي رېبې!

-ولي ( چرا ؟)؛ لکه ولي کار ته رانغلې ! له ولې ( جوی ها، انهار )سره د جدي تېروتني لاره هواروي.

-کوي (د � کول � له مصدر څخه د دریم مفرد شخص له پاره، د ساده ماضي زماني فعل ؛ لکه احمد هره ورځ لوبي کوي .) له کوې! [ په پارسي کي می کُنی! ] ( د � کول � له مصدر څخه د مخاطب له پاره د جاري زماني فعل) سره التباس مومي؛ لکه احمده خونه جارو کوې !

په همدې ډول د خوري او خورې، شرېي او شرېې، څیري او څېرې او نورو لسګونو ټکو تر منځ په مانا او ګرامري جوړښت کي لوی توپیرونه سته . � احمده انار خورې؟ � او � احمد انار خوري . � دوې بېلې جوملې دي؛ ځکه په لومړۍ جوملې کي احمد دوهم مفرد شخص دئ، چي پوښتنه ځني سوې ده؛ او فعل یې جاري بڼه لري؛ په داسي حال کي چي په دوهمه جوملې کي احمد دریم مفرد شخص دئ، چي د وینا پر مهال حاضر نه دئ؛ او د خوړلو فعل یې ساده حال بڼه لري . که په دواړو جوملو کي د خوړلو فعل په اوږده یا مجهوله � ی � و لیکل سي، نو په دواړو جوملو کي احمد د حاضر شخص په توګه بیانېږي، حال داچي حقیقت داسي نه دئ . لومړۍ جوملې د پوښتني یا سوالیې په ډول او دوهم جوملې د بیانیې په ډول ویل سوې ده . په هره ژبه کي د زماني په اړولو سره، فعل بېل شکل غوره کوي؛ لکه په انګـــــــــــرېـــــــــــزي کـــــــــــي:

سره � Ahmad, are you eating pomegranate ? � له� Ahmad eats pomegranate everyday.� مځکه او اسمان فرق لري.

د حمید بابا په یوه غزله کي یو بل مثال ته پام وکړئ:

لکه ته و ساده رویبو ته پخسېږې!

نه پخسیږي و نارنج ته رنځور هسي ( د حمید بابا د دیوان خطي نسخه .)

که د حمید بابا په دغه بیت کي د � پخسېږې ! � او� پخسیږي � دواړه ټکي په اوږده یا مجهوله � ی � ولیکل سي، نو د بیت مفهوم کاملاً له منځه ځي؛ ځکه په لومړۍ میسره کي د � پخسېږې ! � ټکی دوهم شخص ( مخاطب ) ته خطاب دئ؛ چي خبري نېغ په نېغه اروي ؛ او فعل یې ساده جاري بڼه لري . په دوهمه میسره کي د � نه پخسیږي � ترکیب مفرد غایب شخص ته اشاره ده؛ او د جوملې فعل د ساده حال په زماني پوري اړه لري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دوو مشابه کلیمو یو نمونه وړاندي کیږي، چي د جمعي په صیغه کي یې د اوږدې او لنډې � ی � تر منځ لوی توپیر سته :

کډه / ədạ́k / [ خج یا فشار پر لومړۍ څپه ] ۱) کوچ، د کور سامان ، د کور وسایل، بار و بُنَه ؛ ۲) له یوه ځایه بل ځای ته د کور د سامانونو وړل؛ ۳) د پښتو په ځینو لهجوکي مېرمن، ماینه، ماندینه، دکوچنیانو مور، ارتینه، اورته، اروته، ارتینه، کور ودانه، کوروالا او داسي نور .

کډه / a ́ ḍ a k / [ خج یا فشار پر دوهمه څپه ] ژور ځای، کنده، ډب او داسي نور .

لکه څنګه چي ښکاري، کډه / ədạ́k / او کډه / a ́ ḍ a k / دوې بېلي کلیمې دي، چي پر وینګ سربېره په مانا کي هم یو له بله ډېر توپیر لري . اوس نو که د دواړو ټکو د جمعي حالت په اوږده � ی � ولیکل سي، د دې د وو کاملاً جلا کلیمو د مانا او مفهوم په لحاظ ناوړه التباس پېښیږي . د دواړو ټـــــکو) کـــــډې / ɪdạ́k / او کډې / é ́ ) / ḍ a k دجمعي حالتونه یوه بڼه غوره کوي ؛ او دا ورته والی په پای کي دا څرګنده تېروتنه او ستونزه پېښوي، چي دواړي بېلي کلیمې د) کډې / é ́ ) / ḍ a kجوله واخلي .

په پښتو کي دوه ټکي خورا ډېر کاریږي، چي یو یې په لنډه � ی � او بل یې په اوږده یا مجهوله � ی � لیکل کیږي . دا دوه بېل ټکي د ریښې، تلفظ او مانا له پلوه مځکه او اسمان توپیر لري؛ مګر په مجهوله� ی � د دواړو کښل لویي سرګردانۍ پېښوي . دا دوه ټکي دا دي:

مستي / masti / ۱ (بې خودي، بې هوښي، نشه، وجد، بې حالي؛ ۲) لوبي، بازۍ، ساتېرۍ.

مستې / maste ́/ له شیدو څخه جوړ سوي خواړه ، په پارسي کي ماست؛ په هندي او اردو کي دهی او په انګرېزي کي یوګورت. (yoghurt = yogurt )

اوس که د � معیاري � لیکدود له مخي دا دواړه بېلي کلیمې په مجهوله یا اوږده � ی � وکښلي سي، د دواړو تر منځ د ګډوډۍ او التباس جـــدي ستـــــــــونزه پیدا کیږي . ژبپوهان، ادیبان او شاعران باید په ژبه کي د خلګو ستونزي لیري کړي؛ هر څه د خلګو په ژبه بیان کړي؛ خو دلته ګورو چي هغوی په خپلو لاس وهنو او تصرفاتو سره عمداً خلګو ته مشکلات او پېچومې پېښوي . دا کار هېڅ علمي اساس نه لري.

له ګرامري پلوه، اوږده یا مجهوله � ی � د شیدې، مستې، شلومبې، منې، دانې، پلوشې، ازانګې په څېر ټکو کي کاریږي، چي ځیني یې ښځینه نومونه ( شیدې، مستې، شلومبې ) او ځیني یې د ښځینه نومونو د جمعي صیغې دي ( منې، دانې، پلوشې، ازانګې ) . په دغو ټکو کي � ی � اوږد ږغ لري؛ خو په چي، کي، مي، سي، ځي، سړي، زمري، قومي، ملي او داسي نورو ټکو کي کار سوې � ی � پوست او نرم ږغ لري . د دې د دوو ږغونو تر منځ غبې توپیر سته . اوس نو که دا ټکي؛ مثلاً ځي، سړي، زمري، قومي، ملي او نور په اوږده � ی � ولیکل سي، باید

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شيدې، مستې، شلومبې او نورو په شان ووېل سي . په داسي حال کي، چي هيڅوک دا ټکي د سرې، زمرې، قومې، ملې په ډول نه وايي؛ ځکه په اوږده � ی � د دې ټکو ويل، د مانا له اړخه بدلون راولي؛ د مثال په توګه سرې د تودې په مقابل کي استعمالېږي، چي له سرِي سره په ږغ او مانا کي مځکه او اسمان تفاوت لري . که څوک د� چي، مي، کي � ظرفي � ی � له دې قاعدې باسي؛ او په اوږده � ی � يې کاږي، نو دا کار خو نه يوازي له � چي يې �، � مي يې � او � کي يې � له ترکيبي بڼو سره التباس را منځ ته کوي؛ بلکي د هغو پښتنو له تلفظ هم سره د ښکاره اختلاف او بېلوالي لار غوره کول دي، چي د چي، کي، مي، سي، ځي، سرِي، زمرِي، قومي، ملي په شان ټکي ټول په نرمه يا معروفه � ی � وايي .

که د پښتو ژبي دځينو لهجو په ورځنييو محاوروکي اوس دا باريک او حساس توپيرونه له منځه تللي دي، د اندېښنې او پرېشانۍ وړ خبره نه ده؛ ځکه ژبه د ټولنيز چاپېر په غېږ کي زېږي، لويېږي؛ او په پای کي مري . ځيني ځانګړتياوي او خصوصيتونه له لاسه ورکوي؛ او ځيني نوري په خپله لمن کي را نغاړي . د ژبو د تکامل قوانين هم داسي عمل کوي . بايد د اسي توپيرونه د يوې او پراخي پښتو له نورو ويونکو زده کړو؛ او په دې توګه د ګډوډوييو او التباسونو مخه ونيسو، که نه نو له لويه سره څه اړتيا ده، چي په پښتو کي پينځه بېلابېلي � ی � ګاني ليکو او پالو، د پارسي په څېر به يوه � ی � ليکو او هر څوک به يې له خپلي لهجي سره سم تعبيروي؛ خو دا کار له څه اسانۍ او سادګۍ سره سره، علمي او منطقي تاداو نه لري . د ږغ پوهني ( فونولوژۍ ) د قواعدو او اصـــولو له مخــــــي بايد هـــــــــــر ږغ ( Phoneme ) ته بېـــل تـــــــــــوری (Grapheme ) يا نخښه ( Symbol ) و مومو ؛ ځکه د ډول ډول ږغونو له پاره ديوه توري کارول، له يوې خوا پوخ علمي او منطقي جواز نه لري؛ او له بلي خوا په زده کړه او ښوونه کي بې شماره ربړونه پيدا کوي . هيڅوک به له دې خبري سره هوکړه ونه کړي، چي د موټر او موټرسايکل، يا خره او آس له پاره يو نوم استعمال سي؛ لکه څنګه چي د دغو وسيلو او موجوداتو تر منځ لوی توپيرونه سته، په ژبو کي هم د بېلابېلو ږغونو تر منځ همدونه توپيرونه ليدل کيږي . په پای کي د وړاندي سوو څرګندونو او مثالونو پر بنسټ دا سمه نه ده، چي و وايو : په کوڅه کې، په کور کې، په پوهنتون کې، په خونه کې او داسي نور؛ ځکه په دې ګردو جوملو کي ظرفي � ی � کارسوې ده؛ او بايد د مجهولي � ی � په ليکلو سره يې له � که يې � سره ګډوډ نه کړو.

## ٢ -د فعلي او نرمي � ی � تر منځ التباس

ځيني کسان فعلي � ی � يوازي په امريه جوملو کي کاروي؛ لکه وخښئ، وخورئ، وګورئ او داسي نور ، په داسي حال کي چي د تللئ، کتلئ، وتلئ، ليدلئ په څېر فعلونوکي هم د فعليه � ی � ږغ نغښتی دئ . که سرِی، زمرِی، ګردی، چينجی، لسی ( د لسو افغانو نوټ يا لوټ )، شلی ( د شلو افغانو لوټ ) او داسي نور نومونه په سخته � ی � ليکو، نو څنګه کېدای سي د تللئ، کتلئ، وتلئ، ليدلئ په شان فعليه کليمې هم په دغه راز � ی � وکاږو؛

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د دې دوو ډلو کليماتو تر منځ د ږغ او ګرامر له پلوه بېلوالی سته . همدغه راز، په جومله کې د ضمير او فعل له پاره، د يو ډول � ی � کاروَنه، د دې د دوو بېلو ټکو په پېژندنه او سم وينګ کې لويه ګډوډي پېښوي؛ مثلاً دی ښه سړی دئ . دی په کور کي دئ . په دې جوملو کې لومړی � دی � د مفرد غايب شخص له پاره اشاري ضمير دئ؛ او دوهم � دئ �، چې د جوملې په پای کې راغلئ، د جوملې فعل دئ . د دې دوو � ی � ګانو تر منځ په ګرامري څرنګوالي کې هم توپير سته . په انګرېزي ژبه کې هم د پښتو په شان، د دې دوو ټکو تر منځ همدا توپيرونه جوَت دي؛ د مثال په توګه که تېري پښتو جوملې په انګرېزي و واړو : He is a good man. He is at home.

په دې دوو جوملو کې د � He � او � is � تر منځ مځکه او اسمان فرق سته � He � . په داسې حال کې، چې د جوملې د مبتدأ يا فاعل کار کوي، د دريم شخص له پاره اشاري ضمير دئ؛ خو � is �د جوملې فعل دئ . د دې فعل اصلي حالت � be � دئ، چې � am, are, is � يې د حاضري زمانې، � was, were �يې د ماضي زمانې، � been �يې د نيژدې ماضي زمانې او � being � يې د جاري زمانې له پاره کارېږي .

شک نسته، چې د پښتو د بېلابېلو سيمو خلګ د � ی � ګانو په کاروَنه کې د خپل سيمه ييز تلفظ دود او دستور پالي . موږ د ځينو نورو په څېر د � ی � ګانو په وينګ يا تلفظ کې د کتني وړ توپيرونه لرو . دا اختلافونه او بدلونونه طبيعي خبره ده؛ خو د پښتو د يوه منلي معيار له پاره بايد د ټولو پښتنو بېلابېل تلفظونه په پام کې و نيول سي . دا خبري په پښتو کې د اکثريت او اقليت يا هري لهجې ته د فيصدۍ او د ونډې ( څه ستا او څه زما ) پر بنسټ نه سي حل کېدای . ژبني توپيرونه د اکثريت او اقليت ( زه نه پوهېږم په پښتو کې څوک اکثريت او څوک اقليت دي ؟ چا دا شمېرني وکړې ؟ او تر کومه ځايه د باور وړ دي ؟ ) يا فيصدۍ او ونډې پر بنسټ حلول، هيڅ علمي او منطقي تاداو نه لري . اکثريت او اقليت، يا هر چا ته د هغو د وګړو په اندازه ونډه ورکول، ټول د سياست د ډګر خبري او مقولې دي . بايد په دې خبره سر خلاص کوو، چې د خپلسرو او ناسمو معيارونو په تپلو سره، خلګ له پښتو کرکه پيدا کوي؛ خپله ژبه ورته پردۍ کېږي؛ او په دې ډول زموږ د سپېڅلي او ربړېدلي ژبي ژوند او پرمختګ له لوی کړکېچ سره مخامخ کيږي . له دې امله بايد د پښتو ژبي تکامل او بشپړتيا هيڅکله د څو محدودوکسانو د هوسونو او غوښتونو قرباني نه سي . هر څوک له خپل وس او ځواک سره سم کولای سي، د ژبي په شتمنۍ او پرمختګ کي برخه واخلي؛ خو هيڅوک د دې حق نه لري، چې د پښتنو د ستر قوم د اسانه او خوږې ژبي واګي په خپل لاس کي ونيسي؛ او له خپلو شخصي غوښتنو سره سم يې معيارونه وټاکي . خلګ داسي خپلسري او تپل سوي معيارونه هيڅکله نه مني؛ او په پای کي بې ناخوالو او ګډوډيو هيڅ ګټه نه لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ -د � په � او � پر � ګړوېدي

د اوسني تپل سوي معياري ليکدود په لړ کي يوه بله ستونزه د � په � او� پر � تر منځ ګډوډي ده . د � په � او� پر � ادات په حقيقت کي هغه توري دي، چي د جوملې له نورو برخو سره د نوم ( اسم ) يا ضمير اړيکي ټينګوي . په انګرېزي کي هم د ( on, in, over, to, for, from, under, underneath ) او نورو په شان ادات هر يو پر خپل ځای کارېږي؛ او د هغو تر منځ ګډوډي په جوملې کي د مانا له پلوه بې خوندي را منځ ته کوي . په انګرېزي ژبه کي د هيواد، ښار، کلي، کوټې، خوني، څنګله او داسي نورو له پاره د � in � ادات کاروي؛ لکه څنګه چي وايي:

in the room, in our village, in the town, in the forest, in our country, etc.

John E. Warriner, English Grammar and Composition 18.) )

په پښتو کي هم د � په � او � پر � تر منځ ډېر توپير سته . د يو بل پر ځای د � په � او � پر � په کارولو سره د جوملې مانا ډېره اوړي؛ د مثال په توګه که ووايو : احمد يې په چاړه و واهه يانې احمد يې په چړې سره يا د چړې په وسيله وواهه . په دې ځای کي چاړه د وهلو يا ټپي کولو آله يا وسيله ( instrument ) ده . اوس نو که په جومله کي د � په � پر ځای د � پر � ادات کار کړو، جومله داسي بڼه پيدا کوي : احمد يې پر چاړه وواهه . د دې خبري مانا دا ده، چي احمد يې د چړې له امله وواهه . په بله ژبه چاړه يې د شخړې او بلاخره وهلو علت وه . که څوک وايي په څه يې وهې ! مانا يې دا ده، چي په څه ( کومه وسيله يا آله) يې وهې : په لښته، په ډانګ، په چلاخه يا څه شي ؟ که څوک ووايي پر څه مي وهې ! يانې ولي مي وهې ! د وهلو سبب او وجه (cause, reason ) مي څه دئ؟ په همدې ډول � احمد پر انګرېزي ليکني کوي � او � احمد په انګرېزي ليکني کوي � د مانا په لحاظ دوې جلا جوملې دي . که څوک ووايي پوهاند ډاکټر محمدحسن کاکړ پر انګرېزي ليکني کوي، مانا يې له ورايه دا ده، چي ښاغلی کاکړ د انګرېزي ژبې په اړه ليکني کوي؛ خو که د دې پر ځای و ويل سي : پوهاند ډاکټر محمدحسن کاکړ په انګرېزي ليکني کوي . د دې جوملې مانا دا ده، چي ښاغلی کاکړ خپلې تاريخي څېړني په انګرېزي ژبه کاږي . دلته د � په � ادات د انګرېزي ژبې له پاره، استعمال سوی دئ، چي د ليکنو او څېړنو وسيله ده . په سترخان ( سترخوان، خوان ) يانې هر هغه څه چي په سترخان کي پېچلي وي . پر سترخان يانې هر هغه څه چي پر سترخان پراته وي . په لومړۍ جومله کي بايد سترخان پېچلئ وي؛ او په دوهمه جومله کي بايد سترخان خامخا هوار وي . په انګرېزي کي هم دغه راز مثالونه خورا ډېر دي؛ مثلاً وايي �.on the table � : يانې پر مېز سربېره � .in the table � يانې په مېز کي، چي هدف يې د مېز جعبه يا الماری ده .

په مکاني او زماني ظرفونو کي د � په � او � پر � بېلول ډېري باريکۍ لري . په ځيني مکاني ظرفونو کي � په � او � پر � دواړه استعمالېږي؛ خو د جوملو په ماناوو کي بدلون راځي؛ د مثال په توګه : احمد په کور کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ . کاملاً سمه جومله ده . که و وایو احمد پر کور دئ . دا جومله هم سمه ده؛ خو مانا یې دا ده، چې احمد له کوره چیرې نه دئ تللئ . یا احمد له کاره بېکاره سوی دئ؛ او اوس پر کور ناست دئ . که و وایو په دښت کې اور بل دئ . یا پر دښت اور بل دئ . دا دواړې سمې جوملې دي که و وایو په مځکه کې یې کوکنار کرلي دي . دا سمه جومله ده . همدغه راز، دا جومله هم هیڅ بدي او غلطي نه لري، چې و وایو : پلاني پر مځکه اوبه وپاشلې . په دې جوملو کې یوازې د حدودو او موقعیت توپیر سته . که چیرې یو شی په بل شي کې اینښوول سوی وي، نو په دې وخت کې باید د ظرف له پاره هرومرو � په � استعمال سي نه � پر � ؛ لکه په جېب کې، په جعبه کې، په کور کې، په باغ کې، په موټر کې او داسې نور . په داسې حالاتو کې تل له � په � سره ظرفي � کې � یا � کښې � کاریږي . په بله وینا، هر چیرې، چې ظرفي � ی � راغلې وي، هلته د � پر � ادات نه سي راتلای . که یو شی په بل شي کې نه وي دننه؛ بلکې په سربېرن ډول د هغه پر څنډو یا یوې برخې پروت وي، نو د داسې شي د موقعیت یا ځای ځایګې له پاره باید � پر � استعمال سي نه � په �؛ لکه د مېز پر ژۍ، د کتاب پر څنډه، د سیند پر غاړه، د کندهار - کابل پر لویه لاره او داسې نور . په انګرېزي کې هم کټ مټ همدا قاعده باب ده؛ مثلاً په هرځای یا شي کې د بل شي د ظرفیت او موقعیت له پاره وایي� in the pocket � : ، in the � car � ، in the garden � ، in the house � ، in the drawer �؛ خو پر یوه شي باندې د بل شي د سربېرن اینښوولو له پاره د � on � او � over � ټکي کـــــاروي؛ لـــــکه He lives over the � mountain. �،

� on Kabul - Kandahar ، � on the bank of the river. � ، � over the phone. They chat � A Practical English Grammer او داسې نور� flags waved above/over our heads. � ، highway. � 98-99. ) , A. J. Thomson, & A. V. Martinet (

د زماني ظرفونو له پاره هم دغه قاعده په پام کې نیوله کیږي . که کومه پېښه په یوه ټاکلې زماني موده ( پېړۍ، کال، موسم، میاشت، هفته، ورځ ) کې وسي، د هغو له پاره � په � کاروو نه � پر �؛ د مثال په ډول وایو : � په یویشتمه پېړۍ کې �، � په ۱۳۸۰ کال کې �، � په ژمي کې �، � په برات کې �، په � تېره اوونۍ یا تېره هفته کې �، � په دوشنبه �، � په جمعه � او داسې نور ؛ خو د ساعت له پاره د � په � پر ځای د � پر � ټکی غوره بلل سوی دئ؛ لکه چې وایو : � د سهار پر اتو بجو �، � د شپې پر یولسو بجو � او داسې نور؛ خوکله چې په ظرفي ډول د ساعتونو یادونه کیږي، بیا هم د � په � او � کې � د یو ځای والي قاعده تطبقیږي؛ لکه � په درو ساعتوکې �، � په لسو ساعتوکې � . دلته داسې نسو ویلای : � پر درو ساعتو کې �، � پر لسو ساعتوکې � او داسې نور.

د پښتو په مدونه شاعرۍ کې هم کله کله د � په � او � پر � تر منځ ګډوډۍ لیدلې کیږي . داسې التباسونه او ګډوډۍ ښایي تر ډېره حده، د خطي نسخو د کاتبانو او ناسخانو د لاس وهنو یا تېروتنو له امله وي؛ خو دا ګومان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم باید له پامه لیري نه سي، چي کېدای سي د � په � او � پر � تر منځ ګډوډي، د پښتو په بېلابېلو لهجو کي د دغو اداتو په اړه د توپیرونو او رنګارنګۍ پر بنسټ، د پښتو ژبي دیواني ادب ته لاره موندلې وي .

د پښتو ادب د زیاترو پخوانییو متنونو په چاپي نسخو کي پر ځینو مانوي ( معنوي ) ټکو سربېره د لیکدود مسأله هم د متن سموونکو، دشخصي ذوق او انګېرني ، فکري تمایلاتو او لهجه یي ځانګړتیاوو په خاطر، بشپړ اتبار او اصالت نه لري، نو ځکه دلته د پښتو ادب د عارف شاعر - علي محمد مخلص ( تر ۱۰٦۹ ق پوري په یقیني توګه ژوندی ) دپښتو دیوان له یوازنۍ او یکړي خطي نسخې څخه څو بیتونه وړاندي کوو، چي د � په � او � پر � ټکي یې په ځینو بولګو کي سم او په ځینو کي ناسم دي:

د علي محمد مخلص دغزلي په یوه بیت کي راغلي دي :

چه دعِلم چراغ نلري پر زړه کښي

دجاهل کس به په کومي وینا ویاړ وي ( د علي محمد د دیوان خطي نسخه .)

د دې بیت په لومړۍ میسره کي د ظرفي حالت ( زړه ظرف او عِلم یې مظروف دئ ) له پاره د � پر زړه کښي � تر کیب لیکل سوی دئ، چي سمه بڼه یې � په زړه کښي دئ � . په دوهمه میسره کي، د وینا له پاره، چي دلته دآلې یا وسیلې ) په انګرېزي کي ( instrument دنده اجرا کوي، په سمه توګه د � په � ادات کار سوی دئ نه � پر � . شاعر � په کومي وینا � وایي نه � پر کومي وینا � چي دا کار د پښتو د لوېدیزي ( لوېدیځي ) لهجې له اوسني ګړدود سره بشپړ سمون لري.

نوس، شیطان غله یې و وزي له درونه

چه پر زړه کښي یې د ذکر چراغ بل شي

***

په یوه بل بیت کي وایي:

په هغه بهار څوک څه لره هوس که

چه په مخه یې غارمه د سخت اهاړ وي ( د علي محمد د دیوان خطي نسخه .)

لکه څنګه چي ګورو د مخلص د دیوان دخطي نسخې په دې بیت کي هم د � بهار � او � مخه � له پاره د � په � ټکی راغلئ دئ؛ چي د پښتو له اوسنۍ لوېدیزي لهجې سره یوه بڼه لري . شاعر نه وایي، چي : پر هغه بهار څوک څه لره هوس که - چه پر مخه یې غارمه د سخت اهاړ وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکي وايي:

په هغه بهار څوک څه لره هوس که

چه په مخه يې غارمه د سخت اهاړ وي ( د علي محمد مخلص د ديوان خطي نسخه .)

د علي محمد مخلص په عرفاني کلام کي، د � په � او � پر � د اداتو ځيني نوري بولګې :

د زړه غوږ که دي شنوا شي و به واروې!

په هر ني کښي د يوه نايي آواز شي ( د علي محمد مخلص د ديوان خطي نسخه .)

په دوهم نيم بيت کي � نی � ظرف او � نايي � مظروف دئ؛ له دې امله يې بيا هم د هغه له پاره د � په � ادات کار کړی دئ نه � پر . �

هر زنده يې د نَفَس په مهار ونيو

ښه مولا مانند سروان زنده بصير دئ ( د علي محمد مخلص د ديوان خطي نسخه .)

د مخکني بيت په لومړۍ ميسره کي، مهار د نَفَس د نيولو آله ده؛ نو ځکه يې د � په � ادات ورته استعمال کړی دئ نه � پر.�

چه پر نوس فتحه يې بيامنده يقين کړه!

هغه کس به په دوه کَوْنه کښي منصور وي ( د علي محمد مخلص د ديوان خطي نسخه .)

د پورتني بيت په لومړۍ ميسره کي د يوه شي په وړاندي د بل شي د موقعيت له پاره ،په سم ډول � پر � او په دوهمه ميسره کي د � په دوه کَوْنه کښي � ظرفي حالت له پاره بيا هم د اوسنۍ سمي قاعدې له مخي د � په � ادات کارسوی دئ نه � پر . �

خو په يوه بله ميسره کي د مخکنۍ قاعدې پر خلاف، له ظرفي � کښي � سره د � پر � ادات کاروي؛ په داسي حال کي، چي سمه بڼه يې � په � دئ نه � پر . �

د مخلص کلام دئ، چي وايي:

هر چه پټ شي پر زمين کښي

سمه بڼه يې داسي ده:

هر چه پټ شي په زمين کښي ( د علي محمد مخلص د ديوان خطي نسخه .)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه � پر � د سربېرن شي له پاره راځي؛ او یو شي هغه مهال پېښېږي، چي د بل شي له خوا پوښل سي . په مځکه کي یو شي هغه وخت پېښېږي، چي په کي ښخ یا وپوښل سي، نه داچي د مځکي پر مخ پروت وي .

ځیني ځایونه، له ظرفي � کښي � سره د � پر � ټکی کاروي؛ مثلاً وايي:

. . .پر زړه کښي

په داسي حال کي، چي له ظرفي کښي سره د � پر � توري کارول، د وتلي او منلي عارف شاعر، علي محمد مخلص، له مخکنییو شعري نظایرو سره ښکاره تضاد لري .

د علي محمد مخلص په دغو بیتونو کي هم د � په � او � پر � تر منځ ګډوډي لیدله کیږي:

څوک پر زر و سیم مین څوک په اسپانو

ځني نشي په خوراک د ګوشت، اثمار سېر ( د علي محمد مخلص د دیوان خطي نسخه .)

لکه څنګه چي ګورو، په لومړۍ میسره کي له قاعدې سره سم د � زر و سیم � له پاره � پر � او د همدې میسرې په پای کي د قاعدې پر خلاف، د اسپـــانو له پـــاره � په � کارسوی دئ، حال دا چي د ګرامر له اړخه زر و سیم او اسپان دواړه مفعولي حالت لري . د پورتنۍ میسرې په دوهم نیم بیت کي خوراک ته له قاعدې سره سم د � په � ادات کارسوی دئ نه � پر � . شاعر نه وايي ، چي : ځني نشي پر خوراک د ګوشت، اثمار سېر .

په جهان به پېښ ظلمت شي

چه نور پټ د ولایت شي

په جهان به برغو پو که

پر عالَم به قیامت شي ( د علي محمد مخلص د دیوان خطي نسخه .)

د پورتنۍ څلوریځي په لومړۍ میسره کي د جهان له پاره د قاعدې پر خلاف � په � ؛ خو په وروستۍ میسره کي د عالَم له پاره له قاعدې سره سم � پر � استعمال سوی دئ، چي دا کار هم د � په � او � پر � تر منځ د ګډوډۍ یوه بله بولګه ده . دا کار ښایي د مخلص د دیوان د کاتب یا ناسخ تېروتنه وي؛ او یا هم پر علي محمد مخلص باندي د خپلي مورنۍ او پلر نۍ لهجې ګډه اغېزه وګڼله سي ( د مخلص مور په تیراه کي د روښاني طریقت د مشهور خلیفه - درویش دادو دولتزي خدایدادخېل - لور وه؛ او پلار يې - ابوبکر کندهاری - د شال یا اوسنۍ کوټي اوسېدونکی کاسۍ پښتون ؤ، چي هغه مهال د لوی کندهار یوه برخه وه) ځکه په پورتنیو بیتونو کي د � په � او � پر � تر منځ ګډوډي د پښتنو په مختلفو لهجو کي د ژبنیو جوړښتونو د بېلابېلو وریانټونو یوه انکار نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منونکې نمونه ده . په ژبه کې د کلیمو د جلا جلا ورياتټونو دود له ډېرو پخوا زمانو څخه تر اوسه روان دئ . اوس هم ځيني ليکوال مالوم، خوشال، مانا او داسي نور په اصلي عربي بڼه ( معلوم، خوشحال، معنی ) لیکي . د کليماتو په بړغونو او مخرجونو کې هم داډول توپیرونه خورا ډېر دي؛ مثلاً د پښتنو په بېلابېلو لهجو کې د يوه ټکي له پاره د زموږ، زمیږ، زمیګ ، زموګ او زمونګ . . . ورياتټونه د يادولو وړ دي .

خو د مخلص د پښتو ديوان د يوازنۍ خطي نسخې تر دقيقي او هر اړخيزي څېړني وروسته دا نتيجه اخيستل کيږي، چې د خطي نسخې په ليکدود کې، څو محدودو تېروتنو په غالب ګومان د نسخې د کاتب له خوا لاره موندلې ده؛ ځکه د هغه د ديوان په ډېرو غزلو کې د � په � او � پر � تر منځ بېلوالی، د دې حقيقت ښکارندوی دئ، چې مخلص د دې د دوو اداتو تر منځ توپير په سم ډول پېژانده.

## ۴ � -له � که � تر � ؟

د پښتو په ځینو لهجو کې د � له � او � تر � د اداتو تر منځ ګډوډي او التباس ليدل کيږي؛ مثلاً ويل کيږي پلانۍ له ځانه تېر دئ . په پښتو کې د دوو نومونو یا دوو صفتونو د پر تله کولو له پاره اصلاً د � تر � ټکی کاريږي؛ خو په ځينو لهجو کې د � تر � پر ځای د � له � ټکی کاروي؛ د مثال په توګه وايي : احمد له محموده کوښښي دئ . د دې جوملې سمه او غوره بڼه دا ده : احمد تر محمود کوښښي دئ . دغه راز په دې دوو جوملو کې : � سور رنګ تر تور رنګ ښايسته دئ . � او � سور رنګ له توره رنګه ښايسته دئ . � لومړۍ جوملة د فصاحت او بلاغت له پلوه، خونده وره او غوره ګڼله کيږي . په ځينو جوملو کې د � له � او � تر � ادات په ګډه د ځای، وخت، وګړو او شيانو تر منځ د جلاوالي د څرګندولو له پاره کاريږي : له کابله تر کندهاره، له کلي تر ښاره، له احمده تر محموده، له مېزه تر چوکۍ، له سهاره تر ماښامه او داسي نور.

په دې جوملو کې � له � د دوو ځايونو، دوو کسانو، دوو زماني واټنونو، د دوو شيانو تر منځ د بېلوالي پيل؛ او � تر � يې وروستۍ پوله ښيي.

که په پورتنيو جوملو کې د � له � پر ځای د � د � ادات کار سي، بيا هم د جوملې مانا څرګنده ده؛ مثلاً د سهاره تر ماښامه، د کابله تر کندهاره . د پښتو ادب په بېلابېلو اثارو کې د دې ډول جوملو مثالونه او بولګې خورا ډېري دي.

د پښتو په ځينو لهجو کې د � له � پر ځای د � ته � ادات کاريږي؛ د مثال په توګه وايي : احمد ښار له تللئ دئ . احمد نن کور له نه راځي . کتاب مي د مېز خوا له ايښی دئ . په دې وروستۍ جوملة کې د � خواله � ټکی، چې په حقيقت کې د � خوا ته � بل ورياتټ دئ، د � خواله � له ټکي سره التباس مومي، چې د راز،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همرازی، پټو خبرو، راز ونیاز، غم شریکۍ او داسي نورو په مانا دئ . په داسي جوملو کي د � له � ادات له خپلي لومړنۍ مانا سره ګډوډي پیدا کوي . ښه به دا وي، چي داسي ووایو : احمد ښارته تللئ دئ . احمد نن کور ته نه راځي . کتاب مي د مېز خوا ته یا د مېز څنګ ته ایښی دئ او داسي نور.

لکه څنګه چي مو مخکي هم یادونه وکړه ، د پښتو په بېلابېلو لهجو کي د مختلفو ټکو د التباس او ګډوډۍ مسأله دلته نه ختمېږي . متأسفانه دا فهرست ډېر اوږد دئ؛ او د خورا اوږدې او مفصلي لیکني غوښتنه کوي . دلته په دې لنډ بیان کي د دې خبري یادونه ضروري ده، چي پښتنانه ژبپوهان، لیکوال او څېړونکي باید پر دغه راز التباسونو سربېره د � و � د بېلابېلو ډولونو ( معدوله، معروف او مجهول ) او د ځینو ټکو په پای کي د زورکي د التباس ستونزي ته هم جدي پام واړوي . دکوزي پښتونخوا له ځینو لیکوالو پرته، نورو پښتنو لیکوالو د دې دوو مشابه ټکو تر منځ توپیر نه دئ کړی:

زړه / əṛz / [ د ز په سکون ] دل، قلب، زړونه جمع .

زړه / /a ṛ a z[ د ز په زورکي، خج پر دوهمه څپه ] پخوانی، قدیمي، قبلي، تېره سوې، کهنه، ګذشته، زړې جمع.

په لیکلو کي د دې دوو ټکو د بېلولو له پاره دیوې کوچنۍ نخښې کاروَنه په اسانۍ سره دا التباس له منځه وړي .

دغه راز د � و � د درو ډولونو تر منځ په لیکلو کي هیڅ توپیر نسته . خوان(n ā x) ، کور( ork ) ، سور( sur ) ، ولایت ( t aγā wal ) ټول په یوه راز � و � کښل کیږي، حال داچي د فونولوژۍ له اړخه د � و � د دې ټولو ډولونو تر منځ لوی توپیرونه سته . په خوان(n ā x) کي � و � نه ویل کیږي ( په خواست، خواهش، خویش او ډېرو نورو ټکو کي هم � و� همدا بڼه لري ) ؛ په کور ( ork )کي اوږد یا مجهول � و � او په سور ( sur )کي لنډ یا معروف � و � کار سوی دئ . د � و � د دې ږغونو تر منځ ډېر توپیر سته ، باید په لیکنه کي یې بېلوالی وسي، چي د هر ډول ګډوډي او التباس مخه ونیول سي؛ او خلګ یې په ویلو کي له هیڅ ربړ او تکلیف سره مخامخ نه سي . لوی استاد - علامه حبیبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) په پښتو ږغپوهنه یا فقه الصوت کي د هغه � و � یادونه هم کوي، چي په سر کي یې زورکی وي؛ لکه کټو( دېګلی )، ببو او داسي نور ( حبیبي، پښتو ږغپوهنه یا فقه الصوت ، شل مقالې ۷، ۱۴۲ . )

## ب ) په پښتو کي ناوړه ترکیبونه

لکه څنګه چي مو مخکي یادونه وکړه، په پښتو کي د � سوچه کولو � او � معیاري کولو � لیونیو کوښښونو، زموږ ژبي ته د خورا ډېرو ناوړو او بې خونده ترکیبونو د را ننوتو لاره هواره کړې ده . دا ناوړه او بد ذوقه عبارتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازي په پښتو رنګ لړل سوي دي؛ خو په پښتو ادب او ولسي دودونو کي هيڅ ځای نه لري . له دې امله يې د پښتو ژبې د سپېڅلتيا او سوچه کولو پر ځای، په نورو ژبو پوري د دې لرغوني او سپېڅلي ژبې د تړلو خدمت کړی دئ . پښتو يې د ټکي په ټکي او بې خونده ترجمې په ژبه اړولې ده؛ او له خپلي اصلي پښتني روح څخه يې بې برخي کړې ده . پښتانه د داسي ککړو او جعل سوو ترکيبونو په ويلو او ليکلو سره هيڅکله احساس نه کوي، چي دخپلو پلرونو او مندو په ژبه خبري کوي . دلته د داسي نادوده ټکو، ترکيبونو او اصطلاحاتو ځيني بولګې وړاندي کوو، چي د پښتو ژبي ټول مينه وال يې په ځير سره وګوري؛ او په خپله قضاوت وکړي چي پښتو د ځينو کسانو په احساساتي او ليونييو ټوپونو سره نه سوچه کېدای سي؛ او نه هم د معيار مقام ته رسيږي.

## -صورت نيولئ دئ

دا ناوړه ترکيب د پارسي ژبي د � صورت ګرفته � ټکی په ټکی ترجمه ده، چي په پښتو ژبه او ادب کي هيڅ ځای نه لري؛ مثلاً په پارسي کي وايي : � درين بخش پيش رفت قابل توجه صورت ګرفته است . � يا � در زندګی ما تغيير بزرګ صورت ګرفته است . � که څوک په پښتو کي ووايي : � زموږ په ژوند کي ستر بدلون صورت نيولئ دئ . � په حقيقت کي يې ډېره ناوړه، بې خونده او بې مانا جومله ويلې ده. پښتانه دا جومله داسي وايي : � زموږ په ژوند کي ستر بدلون راغلئ دئ . � يا � زموږ په ژوند کي لوی بدلون پېښ سوی دئ . � صورت او د هغه نيول په پښتو محاورو کي ډېر پردي او نابابه ترکيب دئ . که څوک د سوچه پښتو د بابولو په هيله په خپلو خبرو او ليکنو کي د � صورت نيو لئ دئ � په شان ترکيبونه کاروي، په واقعيت کي يې پښتو د سوچه کولو پر ځای په پارسي ژبه او ګرامر پوري تړلې ده.

## -جوړوي، تشکيل ميدهد

د � جوړوي � ټکی هم د پارسي ژبي د � تشکيل ميدهد � هو به هو ترجمه ده؛ مثلاً په پارسي کي وايي : � اين مبلغ بيست فيصد ( يا درصد ) مجموع کمک هارا تشکيل ميدهد . � يا � افزايش اخير در قيمت های اجناس، چهل فيصد معاشات کارمندان دولت را تشکيل ميدهد . � او داسي نور.

زموږ ځيني ژورنالستان او ليکوال دغه راز جوملې په دې ډول ترجمه کوي : � دغه پيسې د مرستو په سلو کي شل جوړوي . � يا � د شيانو په بيو کي وروستۍ زياتوالی، د د ولت د کارکوونکو د تنخاوو په سلو کي څلويښت جوړوي . � او داسي نور .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د � تشکیل میدهد � تر کیب له پارسي ژبي او ګرامر سره بې خونده نه ښکاري؛ خو د � جوړوي � په بڼه د هغه ترجمه، په پښتوکي هيڅ مانا او ښکلا نه لري . پښتانه په خپلو ورځنيو محاورو کي د داسي مفهومونو د بيانولو له پاره وايي : � دغه راشه، د مځکي د ټولو پيداوارو په سلو کي شلمه برخه ده . � يا � زموږ د بودجې په سلو کي اتيا بهرنۍ مرستي دي . � د � جوړوي � ترکيب په دغه راز جوملو کي هيڅ ځای او هيڅ مانا نه لري.

## -دلته کي، هلته کي، په کوم کي چي ، څوک چي او داسي نور

د� دلته کي � � هلته کي � � په کوم کي چي � او داسي نورو په څېر ترکيبونه له هندي او أردو ژبو څخه پښتو ته راغلي دي . په هندي او اردو کي وايي : يهـــاں پر ) يهاپر(، وهاں پر ( وهاپر )، � جهاں پر �، � جِس ميں �، � جو � او داسي نور؛ خو پښتانه اصلاً په خپلو خبرو او مکالمو کي داسي ناوړه ترکيبونه نه لري . پښتانه د داسي اشاري ضميرونو له پاره دلته، هلته، دوري، هوري، په هغه کي، په هغه کښي او داسي نور وايي . که څوک ووايي : � دلته کي جشن دئ . � په دې جومله کي له ورايه د بلي ژبي ناوړه او بې خونده اغېزه ښکاري . د دې جوملې سم، اسانه او لنډ ډول دا دئ، چي وويل سي : � دلته جشن دئ . � د � کي � ټکی له هندي او اردو ژبو څخه د ځينو پښتنو په لهجه ګډ سوی دئ؛ او په داسي جوملو کي يې ويلو او ليکلو ته هيڅ اړتيا نسته . لوستونکي ګوري، چي د پښتو ډېر ساده او واضح عبارت څنګه د بلي ژبي د ناوړه اغېزې له امله ستونزمنه او کږکېچنه بڼه اخيستې ده . د دې پر ځای، چي ووايو : � دلته کي ډېر پښتانه اوسيږي . �، � هلته کي ډېر دوکانونه دي . � � اردو ژبه ډېر لوی شاعران لري، په کوم کي چي علامه اقبال لاهوري هم شامل دئ . � يا � دا خواږه د هغو خلګو دي، کوم چي په بهر کي ناست دي . � ولي په خپله سوچه، ساده او خوږه پښتو دا جوملې داسي و نه وايو : � دلته ډېر پښتانه اوسيږي . �، � هلته ډېر دوکانونه دي . �، � اردو ژبه ډېر شاعران لري، چي په هغو کي يو علامه اقبال لاهوری دئ . � او � دا خواږه د بهر ناستو خلګو دي . � يا � دا خواږه د هغو خلګو دي، چي بهر ناست دي . � د � کوم � او � کي � ټکي په دغو جوملو کي زايد او بې خونده دي.

## -پخلی کړی دئ

د ژبي ځيني اصطلاحات او محاورې په يوه کوچنۍ سيمه او لږو خلګو پوري اړه لري . د خپلي سيمي اصلي اوسېدونکي د دغه راز ترکيبونو په کارولو کي هيڅ ستونزه نه لري؛ خوکله چي د ژبي ټولو ويوونکو ته وړاندي سي، هر څوک يې په مانا نه پوهيږي؛نو ځکه يې کله کله په تېر وتني سره له نورو مفاهيمو سره ګډوي . د پخلي ټکی په دغه ترکيب کي همداسي بڼه لري، چي په ډېري اسانۍ د پخولو يا پخلي له کليمو سره التباس پيدا کوي؛ د مثال په توګه ويل کيږي : � د دولت ویاند د دې خبري پخلئ کړی دئ . � ډېر کسان، له هغو څخه د پښتو د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېدېزي ( لوېديځي ) لهجې ويوونکي په دې خبره نه پوهيږي، چي د دولت وياند ځنګه دخبرو پخلی کړی دئ . که د دې ترکيب پر ځای و ويل سي : � د دولت وياند دا خبري منلي دي . � له يوې خوا هر څوک په اسانۍ سره د جوملې په مانا او مقصد پوهيږي؛ او له بلي خوا د مانا له پلوه له نورو ټکو سره د ګډېدو او التباس ستونزه هم نه پېښوي . که څوک د افغانستان په ختيز ( ختيځ )؛ په تېره بيا لغمان کي و وايي : � حيوانان مي کورته را وستل . � د ا جومله د دوی په منځ کي چندان ستونزه نه پېښوي؛ خو که دا جومله له غور څخه تر غزني، له تخار څخه تر کراچي پوري د پښتو د لوېديزي لهجې هر ويوونکي ته و ويل سي، نو هغوی هرو مرو دا فکر کوي، چي سړي به ځاروي يا بوده ګان کور ته راوستي وي؛ ځکه د پښتو د لوېديزي لهجې ويوونکي د � حيوان � ټکی د ځاروي په مانا استعمالوي . په دې لهجه کي هيڅکله کوچني يا واړه ته � حيوان � نه ويل کيږي. . .

په دې ډول ګورو، چي د � حيوان � دکليمې مفهوم د سيمي په بدلېدو سره، مځکه او اسمان توپير مومي . داسي کليمې، ترکيبونه او اصطلاحات هم خورا ډېر دي، چي د پښتو د لوېديزي لهجې ټول ويوونکي په خورا اسانۍ په پوهيږي؛ خو د نورو لهجو ويوونکي يې په مانا ښه نه پوهېږي . د همدې استدلال پر بنسټ بايد د پښتو ژبې د ټولو لهجو لغوي او ادبي پانګې په بېلابېلو قاموسونو او کتابونو کي د لوستونکو استفادې ته وړاندي سي . په دې کار سره له يوې خوا د پښتو ژبې او فرهنګ ډېري ارزښتناکي پانګې خوندي کيږي؛ او له بلي خوا د پښتو د ټولو لهجو ويوونکي د خپلي پراخي او شتمني ژبې له راز راز لغوي، ادبي او علمي زېرمو سره بشپړه اشنايي مومي . د دغه راز فرهنګونو او کتابونو تر خپرېدو او تعميم مخکي بايد د چاپ او خپرواي په ټولو وسيلو کي د داسي ټکو او ترکيبونو له کارونې ډډه وسي، چي د بېلابېلو لهجو ويوونکو ته د مانا د پوهېدو په برخه کي ستونزي او سرخوږی پيدا کوي . د ژبپوه، اديب، شاعر، ژورناليست، ليکوال او نورو پوهو خلګو خو دا مسلکي وجيبه او رسالت دئ، چي په خبرو او ليکنو کي د فصاحت او بلاغت اړخونو ته په ژوره توګه پام واړوي.

## -ترينګلي حالات

په دې ورځو کي له راديو، تلويزيون او نورو ډله ييزو وسيلو څخه دا خبره خورا ډېره اورېدله کيږي، چي وايي : � په پلانۍ سيمه کي حالات ترينګلي دي . � مالوميږي، چي زموږ ځيني ښاغلي ژورنالستان او ليکوال د � ترينګلي � پښتو لغت د خړپړ، خراب، ناارامه ، کړکېچن، ګډوډ او داسي نورو په مفهوم کاروي . اوس نو راسئ وګورو، چي ريشتيا هم د پښتو ژبې لغتو پوهانو هم دا کليمه د خړپړ، خراب، ناارامه ، کړکېچن، ګډوډ او داسي نورو په مانا راوړې ده که يا ؟ د � ترينګلي � ټکی د ښاغلي لعل محمد کاکړ او لوی استاد- علامه عبدالحی حبيبي( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م � ۱۳٦۳ ش/ ۱۹۸۴م ) په � سپېڅلي پښتو� ( ۷۸ ) کي د تريو تندي، تريو مخي په مانا وو راغلئ دئ . په پښتو - پښتو تشريحي قاموس ( ۱: ٦۷٦ ) کي، د � سپېڅلي پښتو � پر يادو سوو ماناوو سربېره د بدمزاجه،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدخویه، مرچکي، خوشکتي، بخیل، خړوس، سخت، چړوس ماناوي هم ور زیاتي سوي دي . داسي برېښي، چي په پښتو - پښتو تشریحي قاموس کي د پښتو له لرغونو اثارو څخه رانیولې بیا تر بېلابېلو لهجو او محاورو پوري، د � ترینګلي � ګرده ماناوي را ټولي سوي دي؛ خو په دې لغوي او مجازي ماناوو کي د خرابۍ، ویجاړتیا، ګډوډۍ، بې ثباتۍ، بد امنۍ، ناارامۍ، اړودوړ، اله ګولي او داسي نورو هیڅ نښه نښانه نه تر سترګو کیږي .

تر کومه ځایه، چي زه پوهېږم د � ترینګلي � ټکی د پښتو ژبي د لوېدیزي لهجې په محاورو کي له ډېرو زمانو څخه جال دئ؛ او خلګ یې له ټولو ماناوو سره پوره اشنا دي؛ مګر د دې لهجې په محاورو کي هم دا کلیمه د تریوتندي ( عبوس )، بروس ( د خوشاله او خنده رویه ضد)، بخیل، سخت، اسي، شوم، وږي، بخیل، خسیس، چړوس، بې مروته او داسي نورو په مانا کاریږي.

سړی نه پوهیږي، چي د خړپړ، خراب، ناارامه ، کړکېچن، ګډوډ او داسي نورو په مفهوم د � ترینګلي � دا نوې مانا له کومه را پیداسوه ؟ ! مالومیږي، چي د � تر ینګلي � له پاره دا نوی مفهوم بې څېړني او پلټني، له ځانه وضعه سوی دئ . کلاتیان، کندهاریان، روزګانیان، هلمندیان، فراهیان، هراتي او غوري پښتنانه، د افغانستان په شمالي سیمو کي ځیني مېشت پښتانه، د جنوبي پښتونخوا ټول پښتانه اوسېدونکي په خپلو محاورو کي وایي : � پلانی ډېر ترینګلی سړی دئ . � یا د چا په اړه وایي : � دا تر ینګلی مخ دې ( دي یې ) پرته سي . � که تر دې هم په څرګندو او روښانو ټکو کي ووایو : د � ترینګلي � صفت یوازي د انسانانو له پاره کاریږي ، نه د پېښو، حالاتو او شیانو له پاره .

په پښتوکي د اوضاع د خرابۍ مفهوم، په خورا ډېرو ډولونو افاده کېدای سي . پر داسي ژورنالیستانو او لیکوالو چا اینښي دي، چي یا د عامو او مروَجو، ټکوپر ځای بې خونده نوي ترکیبونه جوړ کړي؛ یا د همدې � ترینګلي � په څېر د پښتو ځیني لرغوني کلیمې، عبارتونه او اصطلاحات په ناسمو ځایونو کي استعمال کړي . شک نسته، چي بېلابېلي کلیمې د وخت په تېرېدو سره نوي ماناوي مومي؛ خو دا نوي ماناوي او مفهومونه هیڅکله په ناڅاپي او تصادفي توګه نه وي پیدا سوي . لکه څنګه چي هیڅوک په تلتلک کي د غازي او شهید مقام ته نه سي رسېدای . د کلیمو او اصطلاحاتو د هري نوي مانا او مفهوم تر شا هم لویې کیسې پرتې وي . بې هیڅ پېښي او دلایلو له ځانه لغتونو ته نوي ماناوي او مفهومونه تراشل هیڅ جواز نه لري . تاسي وګورئ د پارسي ژبي نامتو ژبپوه او څېړونکي، ډاکتر محمد معین، په خپل پارسي فرهنګ ( فرهنګ فارسی معین )کي د� پیشنهاده � او � پیشنهاد � د کلیمو د بېلابېلو ماناوو له پاره د دې ژبي دغه ټول معتبر او مشهور اثار د سند په توګه وړاندي کړي دي:

دیوان خاقانی سجستانی، کلیات سعدی، فارسنامۀ ابن البلخی، تحفة العراقین، معارف، طرب المجالس، مجموعۀ اشعۀ اللمعات ، فیـــــه مافیــه او داسي نور ( معین ۱: ۹۳۵- ۹۳٦).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## -تر رياست لاندي، تر مشرۍ لاندي

په انګرېزي ژبه کي داسي ترکيبونه خورا ډېر دي، چي د لانـدي ( under ) له ټـــــکي سره پـــــه ګـــــډه کـــــاريږي؛ لـــــکه� under his leadership � : ، � under current rules and regulations �، � under Immigration Act 1906 �او داسي نور . په پارسي کي يې دا جوملې داسي ترجمه کړي دي : � تحت رهبری او �، طبق قواعدو مقررات کنونی �، � تحت قانون ۱۹۰٦ مهاجرت � . دلته زموږ د پارسي ژباړي له ښه والي او بدوالي سره هيڅ اړه او مانده نسته . غواړو په پښتو کي، د دغو ترکيبونو د سمي او معقولي بڼې په باره کي څو لنډي خبري وکوو .

ټول پښتانه ژبپوهان او څېړونکي ښه پوهېږي، چي پښتانه هيڅکله په خپلو خبرو کي د اسي نه وايي : � د پلاني تر رياست يا مشرۍ لاندي غونډه وسوه �؛ بلکي وايي، چي د پلاني په مشرۍ غونډه وسوه . په دغه راز جوملو کي، د � لاندي � ټکی په هيڅ ډول د پښتو ژبي او ادب له روحيې سره سمون نه لري . په پارسي کي وايي : � من تحت رياست فلانی کار می کنم . � په پښتو کي هيڅکله داسي نه وايي، چي � زه د پلاني تر رياست يا مشرۍ لاندي کار کوم . � په پښتو کي دا خبره په دې ډول وايي : � پلانی زما مشر دئ . � يا � زه د پلانی په مشرۍ کار کوم . � په پښتو کي د داسي مقصدونو له پاره د � لاندي � او � باندي � ټکي نه ويل کيږي . که څوک د پارسي په شان همدا خبري ټکي په ټکي پښتو ته واړوي، نو يې په حقيقت کي پښتو ژبه د انګرېزي او پارسي ژبو پر ګرامر او ژبنيو جوړښتونو برابره کړې ده؛ په داسي حال کي، چي موږ په خپله سپېڅلې او پراخه ژبه کي تر دې اسانه، ساده او په زړه پوري ترکيبونه لرو . زموږ خبري او ليکني بايد د پښتو د اصلي ويوونکي تومنه او جوهر ولري . په بله وينا، زموږ د وينګ او کښنګ ژبه بايد د هغه پردو وګړو غوندي نه وي، چي پښتو يې په نيمګړي ډول زده کړې وي؛ د جوملې سر يې د پښتو ګرامر له اصولو سره سم؛ خو پای يې د بلي ژبي پر قواعدو ولاړ وي . د هري ژبي د اصلي ويوونکي په خبرو او محاورو کي بايد د هغې ژبي سپېڅلتيا، خوند او خوږوالی له ورايه څرګند وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## -پلانی شی موجود دئ یا پلانی څيز شتون لري

دا دوه ترکیبونه هم د پردو ترکیبونو د ټکي په ټکي ژباړي يو بله ناوړه بولگه ده؛ د مثال په توګه په پارسي کي وايي : � اين مشکل از گذشته ها موجود است . � پښتانه په خپلو اصيلو او سپېڅلو خبرو اترو کي د دې مفهوم د بيان له پاره وايي : � دا ستونزه يا ربړه له ډېره وخته سته . � ، � دا مشکل پخوا هم ؤ � يا � دا ستونزه وړاندي هم وه � او داسي نور . زموږ ځيني ژورنالیستان او ليکوال، په ناپوهۍ سره، زموږ اسانه او خوږه پښتو د پارسي ژبي پرګرامري قواعدو برابروي؛ او وايي : � دا ستونزه له پخوا څخه شتون لري . � يا � دا ستونزه له پخوا څخه موجوده وه . � په دغو ناسمو جوملو کي د � شتون � او � موجوديت � ټکو ته هيڅ اړتيا نسته؛ ځکه هم جومله اوږدوي؛ او هم يې د اصيلي پښتو له نرخه د باندي باسي.

## -د دې مسألې پر سر يا د دې پر سر

په دې وروستيو کلونو کي بيا هم د پارسي ژبي د ځينو ترکيبونو؛ لکه � بحث بر سر اينست � يا � مسأله بر سر اينست � او داسي نورو په پيروي، په پښتوکي هم ځيني ناوړه او بد ذوقه ترکيبونه جوړ سوي دي، چي د پښتنو په ورځنيو محاورو کي هيڅکله نه ويل کيږي . زه نه پوهيږم، چي د کومي سيمي پښتانه وايي : � بحث يا خبري د دې پر سر دي . � يا � مسأله د دې پر سر ده . � پښتانه خو په لنډه، ساده او اسانه بڼه وايي : � خبره دا ده . . . � ، � مسأله دا ده . . . � يا پوښتنه دا ده . . . � د � دې پر سر � ترکيب، چي د پارسي ژبي د � بر سر � هو به هو ترجمه ده، په پښتو کي ببخي بې خونده، بې مانا او پوچ ښکاري . زموږ خورا ډېر ژورنالیستان او ليکوال د داسي ترکيبونو په کارولو سره په پټو سترګو، د پښتو شمزۍ ماتوي . داسي ترکيبونه زموږ ژبه ډېره ورانوي . بې شکه په خبرو يا ليکنو کي له اړتيا سره سم د يونيم پارسي، عربي، هندي يا اروپايي ټکو کارول هيڅ عيب او بدي نه لري؛ خو که د نورو ژبو ناوړه ترکيبونه او اصطلاحات په ناوړه بڼه زموږ ژبي او ادب ته لاره و مومي؛ او بيا د هري راديو، تلويزيون، ورځپاڼو او نورو ډله ييزو اطلاعاتي وسيلو له لاري د خلګو په غوږونو کي په زرونو واره پو سي، په پای کي زموږ د سپېڅلو ټکو، ولسي ترکيبونو او منلو محاورو ژوند له سختو خنډونو او کړاوونو سره مخامخ کوي.

## -پر لاره اچولئ يا پر لاره اچولي دي

په انګرېزي کي د نوي کار، نوي پروژې يا نوي مأموريت د پيل کولو پر مهال، زياتره د � launch � ټکی کاروي . د پارسي ژبي ژباړونکو هغه د � راه انداختن � په ټکو سره ترجمه کړی دئ؛ مثلاً وايي : � نيروهايی امريکايی حملات تازه براه انداخته اند . � پښتو ژباړونکي هغه داسي ترجمه کړ : � امريکايي پوځيانو نوي بريدونه په لاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچولي دي . � د داسي ترکيبونو په اروېدو سره د سړي پښتورګي له خندا چوي . سړی اريانيږي، چي � پر لاره اچول � ياني څه؟ ايا حملې يا بريدونه هم د قلم او کاغذ يا کوم بل شي په څېر پر لاره اچول کېدای سي ؟ د داسي جوملې په اروېدو سره دا پوښتنه را پيدا کيږي، چي که يرغلونه او بريدونه پر لاره نه وای اچول سوي، نو به چيري اچـــــــول کېــده ؟ په اسمان کي ؟ په درياب کي ؟ په کندو او ډبونو کي ؟ يا نورو ځايونو کي ؟ دد غو پوښتنو جواب بيا هم دا دئ، چي موږ د پردو ژبو داسي ناوړه ترکيبونه او تعبيرونه په پټو سترګو خپلي ژبي ته ننباسو، چي په پښتو کي هيڅ مانا او مفهوم نه لري . پښتانه دا جومله، چي په تکليف او تصنع سره اوړده سوې ده، په داسي اسانه، لنډه او ساده ډول وايي : � امريکايي پوځيانو نوي بريدونه پيل کړي دي . � يا تر دې هم اسانه او لنډه : � امريکايي عسکرو نوي بريدونه کړي دي . � دا جوملة بې له � پيل � څخه هم ښېخي روښانه او واضح ده؛ ځکه هر څه هغه مهال عملي بڼه مومي، چي په يوه زماني پړاو کي پيل سي . � بريدونه کړي دي � په خپله د پيل مفهوم ادا کوي . د همدې دلايلو له مخي بايد له هيڅ کار سره د � په لاره اچول � ترکيب ونه تړل سي . مظاهرې پر لاره اچول، اعتصابونه او مارشونه پر لاره اچول او داسي نور ټکي په ټکي ترجمه سوي ترکيبونه، په پښتو کي هيڅ مانا نه لري.

## -ژوند له لاسه ورکول

نن سبا د ځينو ژورناليستانو او ليکوالو په خبرو او رپوټونو کي، دا ترکيب خورا ډېر اروو، چي وايي : � پلاني خپل ژوند له لاسه ورکړ . � يا � په پلانۍ پېښه کي څو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ . � دا ناوړه او بد خونده ترکيب هم د پارسي ژبي له لاري پښتو ته لاره موندلې ده . حقيقت دا دئ، چي له خپلي ژبي او ادبه بې خبره خبريالانو او ليکوالو په لوی لاس دا خبره دونه اوږده کړې ده . زموږ خلګ په خپلو سپېڅلو او خوږو بيانونو کي هيڅکله نه وايي، چي پلاني ژوند له لاسه ورکړ؛ بلکي په لنډو ټکو کي وايي : � پلاني مړ سو . � يا � پلانی و مړ . � زه نه پوهېږم، چي ځيني کسان ولي يو اسانه او روښانه خبره، بې هيڅ دليله په دې ډول پېچلې او کړکېچنه بڼه وايي . زموږ د خلګو په ورځنيو خبرو او محاورو کي د تکلف او تصنع داسي بې ځايه استعارې ځای نه لري.

## -پلانی پرکرښه دئ يا پلانی مضمون پر ليکه سو

په دې ورستيو کلونو کي، دوه نور داسي ترکيبونه په پښتو کي باب سوي دي، چي په هيڅ ګونه د دې ژبي له دود او دستور سره سمون نه لري . دا دوه ترکيبونه دواړه له انګرېزي ژبي څخه پارسي او پښتو ته راغلي دي . په انګرېزي کي د هغه چا له پاره، چي د تليفون په مرسته يا د تليفون له لاري خبري کوي د � on line � ترکيب استعمالوي؛ مثلاً وايي � .He/ She is on line � : که چيري ځيني مواد، په انټرنيټي ويبپاڼه ( ويبسايټ ) کي د لوستلو له پاره کښېښنول سي ( upload ) ، نو په انګرېزي کي وايي، چي � .so and so is on line � پارسي ژباړونکو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسي انګرېزي جوملې د خپلې ژبې او ګرامري اصولو پر خلاف داسي ترجمه کړي دي : � فلانی روی خط است . � د پښتو ځينو پېښنه ګرو ژباړونکو هم د پارسي ترجمانانو په څېر د کمپيوټر د نړۍ دا انګرېزي ترکيب داسي ژباړلئ دئ : � پلانی پر کرښه دئ . � يا پلانی پر ليکه دئ . � کله کله چا ته وايي : � ستاسي کرښه سمه نه ده . � او کله کله ليکي : � پلانی کتاب يا مجله پر ليکه سوه� .

لکه څنګه چي پوهېږو هره ژبه ځانته جلا صرفي او نحوي قواعد، بېلابېل اصطلاحات او محاورې لري . يو مفهوم په يوه ژبه کي په يوه بڼه او په بله ژبه کي په بل ډول بيانيږي . له همدې امله که انګرېزيان په داسي حالاتو کي د آن لاين ( on line ) عبارت کاروي، هيڅ ستونزه نسته؛ ځکه دا خبره په دې ژبه کي په دغه راز ويله کيږي؛ مګر په پښتو کي د دې ترکيب ټکي په ټکي ترجمه، پښتو لوستونکو او اورېدونکو ته موضوع سمه نه روښانه کوي . په پښتو کي بايد له چا سره د تليفوني خبرو پر مهال � د تليفون پر کرښه ياست . � يا � د تليفون پر ليکه ياست . � جوملو پر ځای داسي و ويل سي : � رغ يا اواز مو اروېدل کيږي . � ، � رغ دي راځي . �، � اواز مو راځي � او داسي نور . په پښتو کي حتا دا خبره هم سمه نه برېښي، چي وويل سي : � تاسي زموږ سره وصل ياست يا زموږ سره تړلي ياست . � ځکه که د تليفون له لاري خبري کوونکی کس ښځه وي، نو د داسي جوملو ويل خو د افغاني دود او دستور له مخي ډېره ناوړه مانا لري . دا خبره هم نه منطقي ده او نه هم په زړه پوري، چي څوک و وايي : � د تيلفون کرښه مو سمه يا روښانه نه ده . � د دې جوملې پر ځای اسانه او کره جوملة بايد داسي وي : � اواز مو سم نه اروېدل کيږي . � يا � رغ مو سم نه را ځي . � او داسي نور.

دغه رنګه پر ويبپاڼو د بېلابېلو موضوع ګانو د خپرولو له پاره دا جوملة سمه نه برېښي، چي وايي : � پلانی کتاب پر ليکه سو . � د � پر ليکه سو � عبارت په هيڅ وجه پښتني روح او خڼه نه لري . عام پښتانه نه پوهيږي، چي � ليکه � څه ده ؟ هغوی خو ليکه يا کرښه د يوه سيده يا مستقيم خط په مانا پېژني . د دې پر ځای دا بڼه غوره ده، چي و وايو : � پلانی اثر د انټرنېټ له لاري خپور سو . �، � پلانی اثر پر ويبپاڼه خپور سو . � يا � پلانی کتاب د انټرنېټ له لاري لوستلو ته چمتو سو . � که د� آن لاين � مفهوم په پښتو کي هم د انګرېزي ژبې د دود او بايدې له مخي ووايو، بيا نو په پښتو کي څه نه پاتيږي، نوم يې بايد ډېر ژر له پښتو څخه په کوم بل نوم واوړل سي . په هر پښتو ترکيب او هره پښتو جوملة کي بايد د فصاحت او بلاغت اصول په پام کي ونيول سي . هر پردی ترکيب يا اصطلاح بايد په داسي بڼه وړاندي سي، چي زموږ خلګو ته اسانه، روان او خوږ و برېښي

## -جګپوړي يا لوړ پوړي چارواکي

د انګرېزي ژبې په ورځنيو خبرونو کي د � high - ranking � عبارت خورا په پېڅر کارېږي . په پارسي کي يې هغه په � بلند پايه يا بلند رتبه � ژباړلئ دئ . د پښتو پېښنه ګرو ژباړونکو هم دا انګرېزي ترکيب په همدې بڼ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونده او ناوړه بڼه ترجمه کړی دئ؛ د مثال په توګه ویل کیږي : � د پلانی هیواد جګپوړو چارواکـــو . . . � یـــــــا � د پلاني وزارت لوړ پوړو چارواکو � . . .

د � پوړ � کلیمه په پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې، چې د پښتو ژبې تر ټولو عصري، علمي او بشپړ فرهنګ دئ د طبقې، مرتبې، منزل، صف او قطار په ماناوو راغلې ده ( امرخېل، او نور . پښتو- پښتو تشریحي قاموس ۱: ۵۳۳ ).

زموږ خلګ هم په خپلو محاورو کې پوړ د منزل، چت، طبقې، پوښښ ) په انګرېزي کې , row, layer storey, floor, tier, levelاو داسي نورو ( په مانا استعمالوي . په انګرېزي کې د � high - ranking authority � ترکیب د هغه/ هغو چارواکي/ چارواکو مانا ورکوي، چې لوی او پراخ واک ولري . زموږ ځینو ژورنالیستانو او لیکوالو دا عبارت هو به هو ژباړلئ دئ ؛ خو اصلي مانا یې پر خپل ځای پر ایښې ده . د جګپوړي یا لوړ پوړي په اروېدو سره د چا په ذهن کي د ودانۍ د پوښښونو یا طبقو مفـــــــــــــهوم پیـــــدا کیږي . د � پوړ � ټکی د انسان د جسمي یا فکري لوړوالي په مانا سم نه دئ . ښه به دا وي، چې د جګپوړو یا لوړ پوړو چارواکو پر ځای د لویو چارواکو، غټو چارواکو، سترو مامورینو، لویو کارکوونکو، لویو کاردارو او داسي نورو په شان ترکیبونه کار کړو، چې زموږ د ژبې له ځانګړتیاوو او دودونو سره پوره برابري لري . د لوی منصبدار، لوی مامور، غټ کاردار او داسي نورو په څېر ترکیبونه زموږ په خلګو کې د � جګپوړو یا لوړ پوړو چارواکو � تر جعل سوي او بې مانا عبارت، ډېر مأنوس او اشنا دي . د ژبپوه، لیکوال او ژورنالیست علمي او مسلکي رسالت هم دغه دئ، چې خلګو ته ګران او پېچلي ټکي اسانه کړي؛نه داچي په لوی لاس ستونزي او پېچومي را پورته کړي.

## -دننه دننه یا دننه

زموږ د کښته پښتنو په لهجو کې له ډېرو وختو راهیسې؛ خو زموږ برو پښتنو په ځینو لهجو کې، پاکستان ته د اوږده اوترخه مهاجرت له کلونو څخه د � دننه دننه � په نامه یوه ناوړه او بې خونده ترکیب باب سوی دئ، چې اصلاً په هندي او اُردو ژبو کې استعمالیږي . دا ترکیب په هندي او اردو کې د � اندر اندر � په بڼه ویل کیږي، چې د زماني ظرفیت له اداتو څخه ګڼل کیږي؛ مثلاً په اردو کې وایي : � فلان کام دس دن کے اندر اندر ختم هوجائیګا . � یاني پلانۍ کار په لسو ورځو کي بشپړیږي . د ډیورنډ ترکرغېړني کرښې ها خوا زیاتره پښتانه او ځیني دا خوا پښتانه دا پردی ترکیب ټکی په ټکی ترجمه کوي؛ او داسي وایي : � پلانی کار په لسو ورځو کې دننه دننه بشپړیږي . � حال داچي د � اندر اندر � یا � دننه دننه � عبارت ته په اُردو او په پښتو کې هیڅ اړتیا نسته . اردو او پښتو جوملې دواړي، بې دې اضافي ټکو هم په بشپړ ډول مانا افاده کوي؛ د مثال په توګه که وویل سي : � فلان کام دس دن میں ختم هوجائیګا . � یا په پښتو کې : � پلانی کار به په لسو ورځو کي بشپړ سي . � له هره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخه سمي او مکملي جوملې دي؛ ځکه � دس دن میں � یا � په لسو ورځو کي � عبارتونو، د کار زماني حدود په سم او دقیق ډول روښانه کړي دي . په داسي جوملو کي د � دننه دننه � پر ځای د � دننه � ټکی هم اضافي او بې مانا دئ؛ د مثال په توګه په پښتو کي دا خبره سمه نه ده، چي ووایو : � پلانی کار په لسو ورځو کي دننه بشپړیږي . � اوس نو که د هندي او اُردو ژبو اصلي ویوونکي په دغه راز جوملو کي دا زاید ترکیب کاروي، خپله خوښه یې . ښایي هیڅوک یې بدی او بې خوندی ته پام هم و نه کړي؛ ځکه هره ژبه ځیني داسي ترکیبونه او عبارتونه لري، چي استعمال یې په هماغه ژبه کي بد نه ښکاري؛ خو په پښتو خبرو او محارو کي دا شان اضافي او بد ذوقه ترکیبونه هیڅ ښایست نه لري.

## -پلانی . . . پاته سوی دئ

بل ناوړه ترکیب، چي له هندي او اُردو ژبو څخه پښتو ته لاره پیدا کړې ده، د � پاته سوی دئ � عبارت دئ، چي د هندي ژبي د � رهنا � له مصدر څخه اخیستل سوی دئ؛ مثلاً په اردو کي وایي : � فلان آدمی چهہ سال پارلیمنٹ / اسمبلےکا مِمبر رهچکاهے . � د کوزي پښتونخوا وګړي همدا جومله داسي پښتو کوي : � پلانی شپږ کاله د پارلیمنټ / اسیمبلې مِمبر پاته شوی دئ . � د دې خوا ځیني پښتانه هم په ناپوهی سره دا جومله داسي وایي : � پلانی شپږ کاله د پارلمان غړی پاته سوی دئ . � د � پاته سوي � ترکیب په پښتو کي سم او خونده ور نه برېښي . هغه پښتانه، چي ژبه یې د پردو له ناوړي اغېزې په امان وي، دا جومله داسي وایي : � پلانی شپږ کاله د پارلمان یا شورا غړی ؤ . �، � پلانی لس کاله په پوهنتون کي استاد ؤ . � یا � پلانی څو کاله د کابینې وزیر ؤ . � د پښتو خوند، اساني او هونر په دې کي دئ، چي ډېري لویي پرېړې په یوه ټکي کي بیانوي . دلته هم ګورو، چي په مخکنیو درو پښتو جوملو کي د � ؤ � ټکی په یوازي سر د هندي او اردو ژبو د درو ټکو ( پاته سوی دئ )جواب وایي .

که څوک په ژبه کي، د یوه معقول او منطقي دلیل له مخي یو نیم پردي ټکي کاروي، دا څه لوی عیب او نه بخښوونکې ګونا نه ده؛ مثلاً که د کوزي خوا پښتانه د � ولسي جرګې � پر ځای د � قومي اسمبلې �، د � مشرانو جرګې � پر ځای د� سینیټ �، د � غړي � پر ځاي د � مِمبر � ټکي استعمالوي، دا ډېره د اندېښنې وړ خبره نه ده ( که څه هم باید تر وسه وسه کوښښ وسي، چي تر اشد ضرورت ها خواپه پښتو کي د پردو ټکو جدي مخه ونیوله سي )؛ ځکه ټولي ژبي د ټولنیز ژوند د اړتیاوو له امله، په یوه ډول د ډولونو د نورو ژبو کلیمې، ترکیبونه او اصطلاحات اخلي . ځیني ټکي او ترکیبونه د یوه هیواد دملي ټرمینالوژي یوه برخه وي، چي د هغه هیواد په جغرافیایي حدودو کي یې د هري ژبي ویوونکي باید په خوښی سره ومني . تر دې استثناً چي تېر سو که یو پردی ترکیب، په خپله اصلي یا ژباړل سوې بڼه، زموږ په ژبه کي د سلیم ذوق، اسانی او سادګی د اصولو پر خلاف وي، نو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته باید د داسي ناوړه ترکیبونو جدي مخه ونیوله سي، چي پر پردي توب سربېره زموږ د ژبي اصـــــــــیل جوړښت ورانوي.

## -تر سره سوی دئ

دا ناوړه ترکیب هم د � صورت نیولئ دئ � په شان، له پارسي څخه پښتو ته لاره موندلې ده . په پارسي کي وایي : � فلان امر توسط فلان شخص انجام یافـــته است . � ځینو پښتو ژباړونکو دا جومله داسي ژباړلې ده : � پلانی کار د پلاني کس له خوا تر سره سوی دئ . � یا � پلانی کار پلاني ترسره کړی دئ . � په دې دوو جوملو کي د � تر سره � ترکیب له پښتو ژبي او پښتني دود سره هیڅ سمون نه لري . زموږ خلګ وایي : � پلاني، هغه کار کړی دئ . � ، � هغه کار پلاني کړی دئ . �،� دا د پلاني کار دئ . � یا � دا د پلاني له لاسه دئ . � که څوک په دغه راز جوملو کي، د پارسي پر پله ګام ږدي او هرومرو په جوملهٔ کي د � تر سره � ترکیب ګډوي، نو ښایي دا پوښتنه ځني وسي چي ولي د � تر سره � پر ځای � تر پایه � نه وایي ؟ ځکه په پارسي کي هم د � انجام � یا � پایان � ټکی کار سوی دئ . په داسي حال کي، چي � سر � د پیل یا آغاز په مفهوم دئ.

حقیقت دادئ، چي دلته � تر سره � یا � تر پایه � دواړه پښتو ته د ناوړه ترجمې رنګ ورکوي؛ او له هر ډول پښتني جوهره یې بې برخي کوي . پښتو د زیاتره پردو ټکو او ترکیبونو پر ځای خپل سوچه، خواږه او اسانه ترکیبونه لري . د خپلو ساده، اسانه او په زړه پورو عبارتونو پر ځای د نورو ژبو د ناوړه ترکیبونو کاروَنه داسي مانا لري، لکه څوک چي له ورېښمین ټوکر سره د بورۍ یا کرباس ټوټه پیوندکړي؛ یا بالعکس د بورۍ یا کرباس له ټوټې سره د ورېښمین ټوکر یوه ټوټه وګندي . دا دواړي ټوټې د ځرنګوالي له اړخه ډېر توپیر لري؛ نو ځکه ښنګ پر ښنګ نه ایسي .

## -سرته رسولئ یا پای ته رسولئ دئ

د ناوړو ترکیبونو په لړ کي، نن سبا دوه نور داسي عبارتونه هم خورا ډېر کارېږي، چي د پښتو ژبي او ادب له سپېڅلي طبیعت سره سمون نه لري . دا دوه ترکیبونه هم له پارسي څخه پښتو ته راغلي دي؛ مثلاً په پارسي کي وایي : � فلانی تحصیلاتش را در رشتهٔ تاریخ انجام داده است . � یا � فلانی تحصیلاتش را در رشتهٔ تاریخ بسر رسانیده است . � ځینو پښتو ژورنالیستانو او لیکوالو د � انجام داده است � یا � بسر رسانیده است � پارسي ترکیبونه په پښتوکي د � پای ته رسولي دي � یا � سرته رسولي دي � په بنو ژباړلي دي . ځیني ژورنالیستان او لیکوال د� سرته رسول � او ځیني نور د � پای ته رسول � عبارت غوره ګڼي . حقیقت دا دئ، چي سر او پای د یوه جسم دوې مخالفي یا متضادي برخي دي . د یوه مقصد له پاره د دوو متضادو ټکو ( سر او پای ) کارول نه منطقاً سم برېښي؛ او نه هم په پښتو کي ژوري ریښي . ښه خودا ده، چـي و وایو : � پلاني په تاریخ کي زده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، بشپړي کړي دي . � يا په لنډ ډول : � پلاني په تاريخ کي زده کړي، کړي دي . � په لومړۍ جومله کي د � بشپړ � ټکی له يوې خوا د سر او پای دواړو ماناوي افاده کوي؛ او له بلي خوا د پښتو ژبي له دود او دستور سره پوره برابري لري . د دغو دلايلو پر بنسټ، دا جوملې غوره او آن سمي نه دي، چي و وايو : � پلاني خپلي زده کړي تر سره کړي دي . � يا � پلاني خپلي زده کړي پای ته رسولي دي . � او داسي نور.

## -پلانی جنایتکار ده، پلانی قاتل ده

له ځينو ژورناليستانو او ليکوالو څخه هم اروېدل کيږي، چي د نارينه ( مذکر ) فاعل له پاره د ښځينه فاعل صيغه کاروي، د مثال په ډول که ووايو، چي احمد ښوونکی ده . په حقيقت کي مو احمد ( نارينه ) په ښځه واړوه . بايد وويل سي : � احمد ښوونکی دئ . � د پښتو گرامر له مخي، که د جوملې فاعل نارينه ( مذکر ) وي، بايد فعل هم نارينه بڼه ولري . ددې پر خلاف که د جوملې فاعل ښځينه ( مؤنث ) وي، نو د جوملې فعل هم بايد له فاعل سره سم ښځينه صيغه ولري . په دې ډول بايد تل ووايو : � پلانی جنايکار دئ . � يا � پلانی قاتل دئ . � ځکه د جوملې فاعل ( د جنايت يا قتل کوونکی ) نارينه دئ . بالعکس د � ده � فعل بايد له تل ښځينه ( مؤنث ) فاعل سره استعمال سي؛ لکه : � هوسۍ ښايسته ده . �، � غوا لنگه ده . � او داسي نور .

## -دوه ورځي، دوه مياشتي، دوه ښځي، دوه رمې، دوه ورځپاڼي. . .

د پښتو په ځينو لهجو کي، له ښځينه نومونو سره د نارينه نومونو د جمعي صيغې کاروي، چي سم کار نه دئ؛ د مثال په توگه د � نجلۍ �، � کښتۍ �، � خونه � او داسي نورو ټکي ښځينه نومونه دي، چي د جمعي په حالت کي يې بايد هرومرو د ښځينه جمعي صيغه کار سي؛ لکه : دوې نجوني، دوې کښتۍ، درې خوني، دوې رمې او داسي نور . د � دوه � عدد بايد له نارينه نوم سره استعمال سي؛ لکه دوه سړي، دوه ښوونکي، دوه ډاکټران، دوه کورونه او داسي نور . د همدې قاعدې پر بنسټ، ، دوه ورځپاڼي، دوه جوملې، دوه ښځي، دوه مياشتي، دوه ورځي، دوه دقيقې، دوه ثانيې سم نه دي . سمه بڼه يې داسي ده : دوې ورځپاڼي،، دوې جوملې، دوې ښځي، دوې مياشتي، دوې ورځي، دوې دقيقې، دوې ثانيې او داسي نور.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## -احمد زموږ خپلوان دئ، موږ غريبانان يو، ډېر خلق راغلئ دئ، په دې کتابتون کي ډېر ښکلي کتابونه شته دئ

د پښتو په ځينو لهجو کي، کله کله له يکړ ( مفرد ) نوم سره د جمعي صيغه راوړي، چي سم نه دئ؛ د مثال په ډول ويل کيږي : � احمد زموږ خپلوان دئ . � لکه ښکه چي گورو د جوملې فاعل ( احمد ) يکړ يا مفرد دئ؛ خو د هغه له پاره د جمعي صيغه (خپلوان ) کار سوې ده . د دې جوملې سمه بڼه داسي ده : � احمد زموږ خپل دئ . � کله کله د دې دود پر خلاف، په جوملې کي د جمعي له پاره د يکړ فاعل د فعل صيغه کاروي؛ لکه : � ډېر خلق راغلئ دئ . � لکه ښکه چي پوهېږو خلق يا خلگ/ خلک، جرگه، پوځ، لښکر، رمه، کميسيون، هيئت، بورډ او داسي نور هغه ډله ييز يا کولکټيفي نومونه دي، چي له خپل يوازيتوب سره سره، پر ډېرو کسانو دلالت کوي . د دغه راز نومونو له پاره بايد خامخا فعل د جمعي بڼه ولري؛ لکه : غونډي ته ډېر خلق ( خلگ/ خلک ) راغلي وه . � په دې ډول دا جوملې، چي وايي : � په دې دوکان کي ډېر ځيزونه شته دئ . �، � په دې کتابتون کي ډېر ښکلي کتابونه شته دئ . � او داسي نور سمي نه دي . بايد په لنډه او اسانه بڼه ووېل سي : � په دې دوکان کي ډېر ځيزونه يا شيان سته . �، � په دې کتابتون کي ډېر ښکلي کتابونه سته . � ځيني وختونه د � جمع الجمع � صيغي هم په پښتو محارو او ليکنو کي تر سترگو کيږي؛ مثلاً وايي : � موږ غريبانان يو . � دلته د � غريبانان � ټکی دجمع الجمعي ( هغه حالت، چي يو نوم دوه پلا جمع سوی وي ) بڼه لري . د جوملې سمه بڼه بايد داسي وي : � موږ غريبان يو . � ځکه غريبان د غريب د جمعي حالت دئ؛ او دوهم ځل جمع کولو ته يې هيڅ اړتيا نسته.

## -تر غور لاندي نيول، تر بحث لاندي نيول، تر محاکمې لاندي نيول، تر ازمايښت يا ازمويني لاندي نيول

دا او د دوی په شان نور ترکيبونه هم د پارسي متنونو د ترجمې په لړ کي، پښتو محاورو او ليکنو ته ننوتي دي . په پارسي کي وايي : � فلان مسأله را مورد غور و بررسی قرار می دهيم . � يا � فلان پيشنهاد را مورد بحث و مداقه قرار می دهيم . � دا چي دا پارسي جوملې څونه د پارسي ژبې له ورځنيو محاورو او مکالمو سره ورته والی لري، زموږ د دې ليکني موضوع نه ده؛ خو � تر غور لاندي نيول �، � تر بحث لاندي نيول � او داسي نور په هيڅ وجه پښتو روح نه لري . پښتانه په خپلو کلو او پټو کي دا جوملې داسي وايي : � پر پلانۍ خبره به غور وکوو/ وکړو . �، � پلانۍ خبره وڅېړو . � يا � په دې اړه به خبري وکوو/ وکړو . � او داسي نور . � تر محاکمې لاندي نيول �، � تر ازمايښت يا ازمويني لاندي نيول � او داسي نور ناوړه ترکيبونه هم د پښتو په اصيلو محاورو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي جال نه دي . دا پردي او بدذوقه ترکيبونه هم د بې خبره کسانو له خوا د پردو عبارتونو د ټکي په ټکي ترجمې له لارې پښتو ته راغلي دي . ځيني خو لا د � محاکمې � او � محکمې � تر منځ هم هيڅ توپير نه کوي . په داسي حال کي، چي دا دوه بېل حقوقي اصطلاحات دي؛ او کاملاً جلا ماناوي لري . محاکمه / am a k āḥ u m ́/ ( د ميم په پېښ او د کاف په زْوَر ) هغه عربي ټکی دئ، چي په محکمه کي يو پر بل باندي د دعوې کولو په مانا دئ، چي په انگرېزي کي يې � trial, hearing� اوپه ايراني پارسي کي يې � دادرسی � بولي ( عميد ۳ : ۲۱۸۸ )؛ خو محکمه / am a k ḥ a m ́/ ( د ميم په زْوَر ) هغه حقوقي مؤسسه يا اداره ده، چي د خلگو د بېلابېلو دعوو يا شخړو په اړه پرېکړي کوي . په انگرېزي کي يې� court � ، په ايراني پارسي کي يې � دادگاه � او په ځينو هندي الاصله ژبو کي يې � عدالت � بولي . په دې ډول دا خبره سمه نه ده، چي وايي : � پلانی محکمه کيږي . � د دې جوملې سمه او دقيقه بڼه داسي ده : � پلانی محاکمه کيږي . � ياني د پلاني د تور په اړه حکم کيږي.

## -تر پوښښ لاندي راغلئ دئ

ايرانيان او د هغو په پيروی زموږ پارسي ژبي ژورناليستان او ليکوال ، اوس د تلويزيوني او راديويي خپرونو په اړه، يو نوی ترکيب کاروي، چي د پښتو ژبي او ادب په سپېڅلي جوړښت کي هيڅ ځای نه لري . دا نوی ترکيب د� تحت پوشش قرار داده است � په ډول کارېږي؛ د مثال په توگه وايي : � تلويويزون آريانا، سه ولايت ديگر را تحت پوشش خود قرار داده است . � په پښتو کي زموږ پېښه گر ژورناليستان، ژباړونکي او ليکوال دا جومله ټکی په ټکی ژباړي؛ او داسي وايي : � آريانا تلويزيون، نور درې ولايتونه تر خپل پوښښ لاندي راوستي دي � .

په پښتو کي د � پوښښ � ټکی د چت، طبقې، منزل، پوړ او داسي نورو په مانا دئ؛ مثلاً پښتانه وايي : � د هغه ودانۍ پوښښ کمزوری دئ . � يا � دا ودانۍ لس پوښښه لري . �، چي په لومړۍ جومله کي د چت او په دوهمه جومله کي د پوړ، منزل يا طبقې ) په انگرېزي کيlevel storey, stage, floor, tier, layer, row , او داسي نورو ( په مانا کار سوی دئ . د پښتو په دغه راز جوملوکي د � پوښښ � د ټکي کاروَنه، په ړندو سترگو د پارسي ژبي د سمو او ناسمو ترکيبونه پېښې دي . که مخکنۍ پارسي جومله په اسانه او روانه پښتو واړوو، داسي بڼه يې غوره گڼله کيږي : � آريانا تلويزيون په نورو درو ولايتونو کي خپروني پيل کړي دي . � يا � د آريانا تلويزيون خپروني، اوس په نورو درو ولايتونو کي ليدلي کيږي . � ځکه دغه راز جوملې به هم د ويلو او مانا له اړخه اسانه وي؛ او هم به په هغو کي د بلي ژبي بې خونده او ناوړه اغېزه نه وي نغښتې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## -له پلاني ښخه ملاتړ کوو ، له پلاني ښخه ننګه کوو یا له پلاني سره ملاتړ/ دفاع کوو

دا څو بې خونده ترکیبونه هم له پارسي ښخه په پښتو ګډ سوي دي . په پارسي کي وايي : � از فلان شخص حمايت می کنيم . � يا از فلان کار دفاع می کنيم . � په دې ډول په پښتو کي : � له پلاني ښخه ملاتړ/ ننګه کوو . � يا � د پلاني کار دفاع کوو . � د پارسي ترکيبونو هو به هو ترجمه ده . ښه به داوي، چي ووايو : � د پلاني ملاتړ کوو. �، � د پلاني ننګه کوو . �، � د پلاني تر شا ولاړ يوو . �، د پلاني پر خوا يوو . �، د پلاني په پره کي يوو . �، � د پلاني دفاع کوو . � او داسي نور . د � ښخه � او � سره � ټکي له ملاتړ سره کاملاً اضافي دي؛ او دغو جوملو ته کوږې پردی رنګ ورکوي . د � ښخه � ټکی په ځينو نورو جوملو کي هم بې ځايه او اضافي بڼه لري؛ لکه : � له کابل ښخه تر کندهار پوري �، � له سهار ښخه تر ماښام پوري � که دا جوملې په دې ډول وليکو : � د کابله / له کابله تر کندهاره � ، يا � د سهاره/ له سهاره تر ماښامه � نه د جوملې په مانا کي بدلون راځي؛ او نه هم بې ځايه اوږديږي . په حقيقت کي لويه جومله په داسي کوچنۍ جومله اوښتې ده، چي هم ساده ده، هم اسانه.

## -له علاج ښخه/ ځنی عاجز دئ، له توان ښخه/ ځنی وتلئ دئ

د مخکني ناوړه ترکيب په څېر، د ځينو ليکوالو او ژورناليستانو په ليکلې پښتو کي، کله کله داسي جوملې تر سترګو کيږي، چي د ټکي په ټکي ترجمې رنګ او جوله له ورايه پکښې ښرګنده وي؛ مثلاً ويل کيږي : � ډاکټر يې له علاج ښخه عاجز دئ .�، � پلانی کار يې له توان ښخه وتلئ دئ . � يا � پلانی له کور ښخه وتلئ دئ . � او داسي نور . د پښتو په ختيزه لهجه کي، زياتره د � ښخه � پر ځای د � ځنې � ټکي کاروي؛ او نوره ټوله جومله په هماغه بڼه وايي . په داسي جوملو کي د � ښخه � ترکيب د پارسي ژبي د � از � هو به هو ژباړه ده، چي له پښتو ژبي او پښتني جوهر سره هيڅ برابري نه لري؛ ځکه په پارسي کي وايي : � داکتر از علاجش عاجز است . �، � فلان کار از توانش بيرون است . � يا � فلانی از خانه برامده است � .

په پښتو کي د داسي جوملو له پاره د � ښخه � يا � ځنې � ټکو ته هيڅ اړتيا نسته؛ د مثال په توګه که و ويل سي : � ډاکټر يې له علاجه عاجز دئ .� � طبيب يې علاج نه سي کولای . �، � د پلاني کار توان يا وس نه لري . �، � پلانی د کوره / له کور ه وتلئ دئ . � يا � پلانی په کور کي نسته . � او داسي نور ګرده داسي جوملي دي، چي د پښتو اصلي ويوونکي يې په خپلو خبرو او مکالمو کي وايي؛ او د بلي ژبي له هر ډول ناوړه اغېزې ښخه ژغورلي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## -تر معالجې یا درملنې لاندې دئ

د مشهورو تېروتنو په لړ کې یو هم دا ترکیب دئ، چې له پارسي څخه پښتو راغلئ دئ . په پارسي کې لیکل کېږي : � فلانی تحت معالجه قرار دارد . � یا � فلانی تحت تداوی قرار دارد . � د دې جوملو پښتو بڼه کټ مټ د پارسي ترجمه ده . سړی نه پوهېږي، چې ولې باید ناروغ هرومرو تر معالجې یا درملنې لاندې وي؟ که څوک ووایي : � پلانی پر معالجه یا درملنه پروت دئ . � نو په جومله کې څه بې خوندي او ګډوډي راځي؟ لکه څنګه چې دا جوملـه د خلګو په محاورو کې جال نه ده، تر معالجې یا درملنې لاندې خبره هم له منطق سره څنګ نه لګوي . زموږ عام خلګ خو په پښتو کې، د داسې مفهومونو د بیان له پاره په روښانه او څرګندو ټکو وایي : � پلانی علاج کوي . � یـــــــا � پلانی دار درمل کوي . �، � پلانی دارو درمل خوري . � او داسې نور . د همدې دلایلو په رڼا کې، ټول هغه ترکیبونه په هیڅ ډول پښتني تومنه نه لري، چې د نورو ژبو په پیروۍ د لاندې او باندې په شان ټکي له ځانه سره زیاتوي؛ مثلاً : تر مطالعې لاندې، تر څېړنې لاندې، تر ارزونې لاندې، تر کتنې لاندې او داسې نور .

## -نوموړی

ځینې لیکوال او ژورنالیستان د عربي ژبې د � مزبور �، � مذکور �، � متذکره �، او د پارسي ژبې د � یاده شده �، � نامبرده � او داسې نورو په څېر کلیمې په پښتو کې په � نوموړي � ترجمه کوي؛ مثلاً که څوک په پارسي کې ووایي : � شخص مزبور به جرمش اعتراف نمود . � نو په پښتو کې یې زموږ ځینې ژباړونکي داسې ترجمـــــــه کـــــــوي : � نوموړي پر خپل جرم اعتراف وکړ . � یا � نومړي خپل جرم ومانه � .

د پښتو په لرغونو ادبیاتو کې، د � نوموړي � ټکی د نامتو، مشهور، نامدار، نومیالي، نومَوَر، نامي، یا هغه چا په مانا کارسوی دئ، چې په نېکو او ښو کارونو کې یې نوم وړی وي . د پښتو د عرفاني شاعرۍ ځلانده ستوري - علي محمد مخلص ( تر ۱۰٦۹ ق پورې په باوري توګه ژوندی ) په یوه بیت کې، د الله سبحانه و تعالی بې مثله ذات ته داسې خطاب کوي :

دا کتاب تا تمام کړی ته دانا، ګویا، نوموړی

زه مظهر د ستا د عِلم ته صاحب د عِلم و رأی یې! ( د علي محمد مخلص د دیوان خطي نسخه )

په دې ډول د � نوموړي � ټکی د یاد سوي کس په مانا سم نه دئ . د � نوموړي � ناسمه مانا په حقیقت کې د � مزبور �، � مذکور �، � متذکره �، � یاده شده �، � نامبرده � او داسې نورو ژباړل سوی مفهوم دئ، چې په پښتو ژبه او ادب کې ځای نه لري . هیڅ پښتون په خپلو ولسي خبرو او محاورو کې نه وایي : � نوموړي پر خپل جرم اعتراف وکړ . � بلکې پښتانه د غایب مفرد شخص له پاره د هغه ( که نارینه وي ) یا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ( که ښځینه وي ) ضمیرونه کاروي . یاني ( یعني ) وایي : � هغه یا هغې خپل جرم و مانه . � که غایب کسان د جمعي په حالت کې وي، د هغو له پاره په دې ډول د جمعي اشاري ضمیر کاروي : � هغوی خپل جرم ومانه . � په دې ډول ګورو، چې په داسې جوملو کې د � هغه � یا � هغې � په استعمال سره د نوموړي ( نوم + وړي )له اصلي او منلي مفهوم ( نامتو، مشهور، نامدار،نامي ، نومیالي، نومَوَر) سره د هرډول مانوي ( معنوي ) التباس مخه نیوله کیږي.

## -خاورو ته سپارل، بخاک سپردن

په پښتو کې د مړي د � خاورو ته سپارلو � اصطلاح هم له پارسي څخه راغلې ده. په پارسي کې عام خلګ اصلاً د دې مقصد له پاره زیاتره د � دفن � عربي ټکی کاروي . که څوک سره له هغه هم، په پارسي کې د عربي � دفن � پر ځای د� بخاک سپردن � ټکي وایي، له دې خبري سره هیڅ مخالفت نسته؛ خو زموږ د کلو او بانډو پښتانه هیڅکه � خاورو ته سپارل � نه وایي . زموږ خلګ په لنډ او اسانه ډول وایي : � پلانی مو ښخ کئ /کړ . � د ښخولو ټکی تر خاورو سپارولو ډیر اسانه، ساده او منطقي دئ؛ ځکه هر مړی په حقیقت کې تر خاورو لاندې کیږي . د خاورو سپارولو مفهوم څرګند او روښانه نه دئ . � خاورو ته سپارل � یو مجازي مفهوم دئ . کېدای سي مړی یا بل شی پر مځکه یا خاورو پروت وي؛ خو ښخ سوی نه وي . داسي خاورو ته سپارل هیڅکله د ښخولو په مانا نه دئ . د ښخولو په سپېڅلې او سوچه پښتو ټکي کې هیڅ بدي نسته . باید پردی جعل سوی ټکی د ښخولو پر ځای و نه دروو.

## -ټاکل او غوره کول

ځیني ژورنالستان او لیکوال، د ژبي د � سوچه کولو � په هیله هڅه کوي، چې د دوی په ګومان د هري پردۍ کلیمې په وړاندې خپله موزونه یا ناموزونه پښتو کلیمه دود کړي . په دې کار کې کله کله د دوو نسبتاً بېلو مفهومونو له پاره هم یو ټکی کاروي؛ او په دې ډول د خپلي ژبي لمن تنګوي . له دغه ډول ټکو څخه یو هم د عربي ژبـــــي د � انتصـــاب � او � انتخاب � لغتونه دي . لکه څنګه چې پوهېږو � انتخاب � د چاڼ کولو، غوره کولو یا په سیاسي او حقوقي مفهوم د خلګو له منځه د یوه کار له پاره د چا د ټاکلو په مـــانـــــا دئ ( عمید ۱: ۲۸۰ ) . په انګرېزي کې د� انتخاب � له پاره د Choose � او � Elect ټکي کاریږي .

د � انتصاب � عربي ټکی د دربدو، کارکولو، ګومارلو، مقرر کولو یا منصوبولو په مفهوم دئ ( عمید ۱: ۲۸۱ ) چي په انګرېزي کې هغه ته د � Appointment � ټکی کاروي . د دې د دوو ټکو په حقوقي مفهوم کې ډېر توپیر سته . موږ نسو کولای د پارلمان وکیل او یوه غیر انتخابي کس دواړو ته د � ټاکلو � ټکی استعمال کړو؛ ځکه د پارلمان وکیل اصولاً د خلګو له خوا غوره کیږي؛ او نور غېرانتخابي کارکوونکي لکه وزیر، معین، رییس، مدیر او نور د حکومت له خوا ټاکل کیږي . د دولتي او خصوصي کارکوونکو یا بل هر چاپه � ټاکنه � یا � ټاکلو � کي د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب یا غوره کولو حقوقي مانا نه ده نغښې، په بله ژبه د � ټاکلو � ټکی اصلاً دا خبره نسي بیانولای، چي د پام وړ کس د خلګو په رایه تر مقامه رسېدلئ دئ که د چارواکو په خوښه ؟ بالعکس د انتخاب او انصاب عربي ټکي له ورایه ښيي، چي ټاکل سوي کسان د خلګو له خوا غوره سوي دي که د چارواکو له خوا. په دې ډول که د دواړو له پاره د � ټاکلو � کلیمه کار کړو، په حقیقت کي مو د انتخاب ( د خلګو له خوا په رایو غوره کول ) او انتصاب ( بې رايي اخیستني تعیین کول یا مقررکول ) تر منځ هیڅ توپیر ونه کړ . حال دا چي، د دې دوو ټکو تر منځ په مانا کي لوی فرق سته . په دې ډول � د ټاکنو قانون �، � پلانی پر پلاني مقام وټاکل سو � او داسي نوري جوملې د لوستونکي او اورېدونکي په ذهن کي التباس او ګډوډي پیدا کوي . په دې کي هیڅ بدي نسته، چي موږ هم د انتخاباتو دخیله؛ خو ډېره پخوانی، مروجه او عامه کلیمه په خپله ژبه او ادبیاتو کي خوندي کړو . همدا اوس په عربي، پارسي، اردو او ځینو نورو ژبو کي د انتخاب او انتخاباتو ټکي په پراخه توګه کارېږي . موږ هم اړتیا نه لرو، چي په خلګو کي دا زړې او اشنا کلیمې د پردیتوب په ګونا و باسو؛ او پر ځای یې ستونزمن پښتو ټکي وړاندي کوو . د دې استدلال پر بنسټ دا عامه، اسانه او په زړه پوري ده، چي د ټاکنو د قانون پر ځای د � انتخاباتو قانون � او د ټاکنیزو مبارزو پر ځای انتخاباتي مبارزې/ منډې تړې و وایو . د منتخب شخص له پاره � غوره سوی استازی � � انتخاب سوی استازی � یا په لنډ ډول � استازی � او د حکومتي واکمنانو له خوا ګومارل سوي کس/ کسانو ته د � ټاکل سوي/ ټاکل سوو � یا � ګومارل سوي/ ګومارل سوو � ترکیبونه استعمال کړو . دا ځکه چي انتخاب او انتصاب دوه بېل لغوي او حقوقي مفهومونه دي او باید سره ګډ نه سي.

## -خلګ يې له ځانه سره وړي دي

ځیني ژورنالستان او لیکوال، په خپلو خبرو او لیکنو کي د � وړی � او � بېولئ � تر منځ توپیر نه کوي . څه موده مخکي مي د یوې مشهوري رادیو له پښتو خپروني څخه واورېدل، چي یوه خبریال يې په خپل رپوټ کي و ویل : � طالبانو درې کسان له ځانه سره وړي دي � .

د ځینو ژوندیو موجوداتو په تېره بیا انسانانو له پاره د � وړل � مصدر کارول، سم نه دئ . باید د � وړل � پر ځای د � بېول � له مصدر څخه کار واخیستل سي؛ او دا جومله په دې ډول و ویل سي : � طالبانو درې کسان بېولي دي . � د � وړل � مصدر د بې روحه څیزونو له پاره کارېږي؛ لکه : � احمد کتابونه وړي دي . �

په پارسي کي زیاتره دځینو نومونو د بیان او روښانولو له پاره یو بل ټکی هم بدرګه کوي؛ لکه � یک میل تفنګ �، � یک عراده موتر �، � یـــک رأس ګوسفنـــــد �، � یک حلقه چاه � ، � یک باب مکتب �، � یک پایه ماشین � او په لسګونو نور، چي د � میل �، � عراده �، � رأس � ، � حلقه �، � باب � ا و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



� پایه � ټکي ټول زاید او اضافي دي . که وویل سي : � یک تفنگ �، � یک موتر �، � یک گوسفند �، � یک چاه �، � یک کتاب �، � یک ماشین � ، � یک مکتب � او داسي نور مفهوم په بشپړه توگــــه روښانه دئ . دا چي په پارسي کي ژورنالیستان او لیکوال څه وایي او څه لیکي، دلته زموږ د څېړني موضوع نه ده . هغه څه چي په پښتو کي باید په ټینگه پام پر وسي، د پښتو ټکو، ترکیبونو او اصطلاح گانو پښتني خټه او جوهر دئ . په دې مانا چي زموږ کلام باید کاملاً پښتني روح او پښتني تومنه ولري . خپلي جوملي باید په داسي ډول وړاندي کړو، چي زموږ عام خلگ یې په خپلو ورځنیو مکالمو او محاورو کي وایي . دا غوره گڼل کیږي، چي په پښتو کي تل په ساده او لنډ ډول و وایو : � یو توپک یا یو ټوپک �، � یو موټر �، � یو پسه �، � یو څا �، � یو کتاب �، � یو ماشین �، � یو کور �، � یو ښوونځی � او داسي نور . هغه ځوک چي په پټو سترگو د پارسي پر پله پل ږدي؛ او وایي : � شل کرۍ ماینونه ونیول سوه �، � پلاني یوه پایه سټلایټ فون اخیستی دئ � یا � د کورنیو چارو وزارت څو عرادو موټرونو ته اړتیا لري � په حقیقت کي د پښتو د ملا تیر ماتوي .

د افغاني فرهنگ د معاصر پېر تر ټولو مخکښ او وتلی استاد - علامه عبدالحي حبیبي، له خپلو څرگندونو او تبصرو سره، په پښتو کي د ناوړو عبارتونو له ډلي څخه ځیني په دې ډول یاد کړي دي:

## نقش پر غاړه لري . دا څنگه پښتو ده ؟

رول لوبوي : یعني څه؟ د ا د کوم ځای پښتو ده ؟

لوی استاد، علامه حبیبي، په پښتو ټکو کي د بې خونده او ناوړه ترکیبونو په ډله کي، د � نقش � د کلیمې په اړه داسي کاږي : � دا کلمه هم د ایران له مطبوعاتو څخه راغله، او اوس په دواړو ژبو [ دری او پښتو ] کي بې تحقیقه داخله سوه . � نقش بازی کرد � په � نقش ولوباوه � ترجمه سو یا مهم نقش لري، چي د � نقش مهم دارد � ترجمه ده . نقش، چي عربي کلمه ده، دغه معاني نه لري، او ناحقه په پښتو را گډه سوه . په پښتو کي باید و ویل سي : � لویه برخه یکي لري . � یا � لوی لاس یکي لري . � � در آن قضیه نقش مهمی بازی کرد � دا خو د اصلي ژبي تعبیر هم نه دئ، مگر په پښتو کي دغه مطلب بل راز اداکیږي : � هغه شخړه یې وشلوله . �، � پر هغي شخړي یې ډېره اغېزه وکړه . � ( حبیبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۳).

لکه څنگه چي د پښتو بابا - علامه حبیبي یادونه وکړه . ځیني د � نقش � عربي ټکی په پښتو کي د رول (role ) په کلیمه ترجمه کوي، چي هغه په خپله هم انگرېزي لغت دئ . البته نه داسي انگرېزي ټکی، چي زموږ خلگ له پېړیو ورسره اشنا وي؛ لکه ریوټ ) د ریوټ کلیمه د انگرېزي ژبي د ریپورټ � report � له لغت څخه اخیستل سوې ده؛ او زموږ خلگ یې په دې هیواد کي د لویو تاریخي پېښو پر بنسټ ، په بشپړه توگه پېژني ( او داسي نوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليمې . زموږ ځوان ژورناليستان او ليکوال په پټو سترګو ليکي : � پلانی، په پلاني کار کی لوی رول لوبوي . � يا � پلانی په پلاني کار کي ستر رول لري . � زه نه پوهيږم، چي موږ ولي بايد د خپلو اسانو او خوږو پښتو ټکو پر ځای، بې هر ډول لغوي يا تاريخي دلايلو، انګرېزي ټکـــــــي استعمال کړو . � پلانی په پلاني کار کي لويه برخه لري . �، � پلانی په پلاني کار کي ستره ونډه لري . � يا � پلانی په پلاني کار کی لوی لاس لري . � ګرده زموږ د خلـــګو هغه خوږې، ساده او رواني جوملې دي، چي په ويلو او ليکلو کي يې هيڅ ربړ او سختي نسته.

## رياست يې پر غاړه ؤ . څنګه ؟

-ت

ماس ونيسو. يعني څه ؟ او که يې طرف ښځه وي نو. . .

يو لړ خبري، يو لړ معلومات، يو لړ مکتوبونه، يو لړ هر څه

.دې ته په پښتو کي ضرورت نسته . يو څو خبري، يو څه معلومات، يو څه مکتوبونه کافي دي . دا د يک سلسله ناوړه ترجمه ده، او د پښتو د ګلونو په لړ کي يو اغزی.

د ورځي له پلوه، د شپې له پلوه

.دا هم د ترجمې ناوړه اثر دئ .( از طرف صبح يا از طرف شب ) .

لوی استاد، علامه حبيبي، کاږي چي په پښتو کي د � ورځي �، � شپې � ټکی کافي دي . � له پلوه � نه غواړي . د ورځي باران وسو او د شپې کور ته ځم . � له پلوه � زايد او ناوړه دئ.

تر څو چي؟

په اکثرو ځايو کي � تر څو � ته ضرورت نسته . پخپله چي يې مقصد افاده کوي ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۳ � ۲۴ ).

له امله او لامل ؟

د برهان المحققين او ارشد المؤرخين ،لوی استاد علامه حبيبي ، په نظر � امله � اصلاً مجرده نامستعمله کليمه ده . که مستعمله هم وي، نو د � عمله � د ټکي مغفنه بڼه ده . لوی استاد باور لري، چي دا کليمه بايد هر ځای و نه نښلوله سي . اوس يې دوني تعميم کړی دئ، چي نه ښايي . دا اوس لکه د يوناني طبيبانو بدرقه داسي ګرزېدلې ده، په هره دوا يې ګډوي ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۴ ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دي چي د � له کبله � ترکيب د پښتو د منځنۍ دورې په ځينو اثارو کي خال خال تر سترګو کيږي؛ خو زموږ د کلو او بانډو سپېڅلي پښتانه اصلاً په خپلو ورځنيو محاورو کي د � له امله � او � له کبله � ترکيبونه نه کاروي . د ژبي د بدلون او اوښتون په بېلابېلو پړاوونو کي داسي ډېر پېښيږي، چي ځيني ټکي، ترکيبونه او اصطلاح ګاني د باد او باران په شان ژبي ته را ننوزي؛ او د موسم تر اوښتو وروسته بيرته پر خپله لاره ولاړ سي . د ځينو هيڅ نښه نښانه پاته نسي؛ او ځيني د خپلو بچو او لمسو له لاري په يوه بله بڼه او جوله ژوندته دوام ورکوي . دا بدلونونه په حقيقت کي د کليماتو د مړيني او ژوند نه دريدونکی بهير دئ، چي هر څوک يې بايد د زړه په غوښت و مني .
د همدې استدلال پر بنسټ، زموږ د خلګو په ولسي ادب کي د دغو مفاهيـــمو له پاره وايي : � د پلاني کار عِلت څه ۇ ؟ � ځيني وايي : � د هغه کار سوَب ( سبب ) څه ۇ؟ ، � پلانی کار ولي وسو؟ �، �پلانی کار ولي پېښ سو ؟ �، � هغه کار پر څه پېښ سو؟ �، � د هغه کار وجه څه وه؟ � يا � په دې خاطر چي ژمی را نيژدې کيږي، نو ځکه مي تاوده کالي را برسېره کړي دي . � او داسي نور . زموږ ځيني ځان غوښتوونکي ژورناليستان او ليکوال په زور او جبر سره کوښښ کوي، چي دا ډول ترکيبونه پر خلګو وتپي . دا چي اوس له ډېرو وختونو په مطبوعاتو کي باب سوي دي پرېږدئ، چي د خلګو د سليم ذوق ازموينه په بري سره تېره کړي؛ خو تر دې ازموينښت مخکي بايد د لوی استاد، علامه حبيبي، له ژوندي مثال سره سم، د يوناني طبيبانو د متحدالمال دارو په څېر په هره نسخه ګډ نه سي . په هر ځای کي بې موجبه ونه ويل سي ؛ لکه څنګه چي وايي : � پلانی مامور د پلاني کار د کتني له امله ځي . � يا � که پر اسمان يو لړ اوريځي پيدا سي، نو به له دې امله باران واوري � .

د لوی استاد په عقيده، په دغو دواړو جوملوکي د � له امله � ترکيب سم نه دئ . د دې جوملو سمه بڼه دا ده، چي وويله سي : � پلاني مامور د پلاني کار د کتني له پاره ځي . � ، � سبا به پر اسمان يو څه اوريځي را وخېژي، نو به باران و اوري . � ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۴ ) . دلته د سليم ذوق څښتن په اسانۍ سره قضاوت کولای سي، چي د لوی استاد بيان کټ مټ زموږ د سپېڅلو او بې الايشه خلګو په څېر ساده، روښانه او بې وله دئ . خبره يې په داسي ډول ادا کړې ده، چي عام خلګ يې په خپلو محاورو کي کاروي؛ او بې تکليفه هر څوک په پوهېږي.

فاضل استاد - ګل پاچا الفت ( ۱۲۸۷- ۱۳٥٦ ش ) ، په خپله � لغوي څېړنه � کي ليکي : � کبل، لامل دواړه لفظونه په علت او سبب ترجمه شويدي، مګر په محاوره او خبرو اترو کښې هيڅکله داسي نه ويل کيږي، چه د دې کار کبل څه شی دی يا څه لامل لري . ځکه چه د علت او سبب معنی پکښې نشته . د دې دواړو لغتونو صحيح استعمال په دې ډول دئ : ته د څه لامله دا کار کوې ؟ زه له دې کبله تاته څه نه وايم، چه خپه به شې! � ( الفت ٦٦ � ٦٧ ).

دا ۇ د پښتو د وو وتلو او منلو استادانو، علامه حبيبي او استاد ګل پاچا الفت، د نظريو په رڼا کي د � له امله �، � لامل � او � کبل � لغوي څېړنه؛ خو په عمل کي ګورو، چي د دې لويو استادانو نظريو ته په نه پاملرني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د � له امله � او� له کبله � پر افراطي کاروني سربېره، د � لامل � ټکی هم په هره ليکنه او وينا کي څو ځو ځلي تر سترګو کيږي . ښايي د ژبي د � سوچه کولو � پلويان يې په دې انګېرنه هر ځای د عامل، علت، سبب، وجهي، بابت او نورو پر ځای استعمالوي .، چي ګواکي � لامل � پښتو ټکی دئ؛ او په دې ناسم ګومان پښتو د پردو ژبو له ناوړه اغېزي څخه ژغوري.

## -پاملرنه

د لوی استاد له باور سره سم، دا نوې جوړه سوې کليمه هم خورا ډېره او بې ځايه کاريږي . په راديو، تلويزيون او نورو خپرونو کي اروو، چي وايي : پامـــلرنه وکړئ ! پاملرنه مو راګرزووو . دا دواړه عبارتونه د پارسي د � توجه کنيد � يا � توجهٔ تان را جلب مي کنيم � ترجمه ده . مګر داسي پاملرنه په پښتو ويوونکو خلګو کي نسته . دوی وايي : پام کوه، پام ورته کوه، پام پسي کوه، پام پر کوه ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۴ ) .

که پاملرنه د فعل په توګه کار سي، د جوملې په ګرامري جوړښت کي ستونزه نه پيدا کيږي؛ لکه : � ستاسي ناروغۍ ته په پاملرني سره مي، پر تاسي ږغ و نه کړ . دلته د � پاملرني � کليمه د پام کولو په مانا ده؛ خو که دا ټکی د نوم په څېر استعمال سي، مانا يې له ګرامري اړخه مشکل پېښوي؛ مثلاً که و ويل سي : � پاملرنه واړوئ ! �، � پاملرنه را وګرزوئ ! �، � پاملرنه وکړئ ! � او داسي نور � سمه مانا نه لري؛ ځکه په پاملرنه ( پام لرل ) کي په خپله د پام کولو فعل شامل دئ . که بل فعل ور سره يو ځای سي، نو د دوو فعلونو يو ځای والی د جوملې جوړښت بې خونده کوي . په داسي حالاتو کي بايد هرومرو و ويل سي : � پام واړوئ ! �، � پام وکړئ ! � او داسي نور.

## -دپاره/ لپاره

دا ټکی هم د ځينو ژورناليستانو او ليکوالو په ليکنو او ويناوو کي ډېر بې ځايه استعماليږي؛ د مثال په توګه ويل کيږي : � د څلرم ځلي د پاره/ لپاره � چـــــي کټ مټ د � برای نوبت چهارم � ترجمه ده . دلته په پښتو کي � د پاره � زايد دئ؛ لکه پلار زوی ته څلرم ځلي وويل . دلته داسي نه وايو، چي د څلرم ځل لپاره يې ورته و ويل ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتني ۲۴ ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## -منل

د � منل � مصدر په پښتو کې خورا ډېر اشتقاقونه لري، چې په هغو کې � منه �، � منښت �، � منلئ �، � منوونکی � او داسې نور په پښتو کې ډېر لیدل کیږي . له څه مودې راهیسې دا ټکی د پارسي ژبې د � بارياب � یا � پذیرفت � د نيمګړي او ناوړه ترجمې په بڼه کاريږي؛ لکه څنګه چې وايي : � پلاني پهلوانان و منل . � لوی استاد، علامه حبيبي، د � منل � د کليمې دا مانا نوې او نامأنوسه ګڼي . د ده په نظر دا جومله په دې ډولونو ډېره اسانه او روښانه بريښي : � پلاني له پهلوانانو سره وکتل/ وليدل . �، � پلاني له پهلوانانو سره خبرې وکړې� .

## -په ملي یا نړیواله کچه/ ګچه

په دې وروستيو کلونوکي د � کچه/ ګچه � پښتو لغت، په خپرونو او خبري وسيلو کې بېخي ډېر ايسته او دوري کيږي . دا ټکی د پښتو په ختيزه لهجه کې د � کچه � یا � کچ � په بڼه او په لوېديزه لهجه کې د � ګچه � په ډول ويل کيږي . مانا يې، مقياس، پيمايش، اندازه ( زياتره د اوږدوالي اندازه ) او داسې نور دي ( امرخېل، او نور. پښتو - پښتو تشریحي قاموس ۴: ۲۴۵۱ او ۲۶۹۹ . )

ځيني ژورناليستان او ليکوال هرځای دا کليمه د عربي � سطح � یا انګرېزي � level � په وړاندې کاروي؛ چې اوس د پارسي ژبې له لارې پښتو ته راغلې ده؛ مثلاً که په پارسي کې ځوک ووايي : � این مسابقه در سطح بين المللی صورت می ګیرد . � زموږ ځيني ژورناليستان او ليکوال ، د دې جوملې په پښتو ترجمه کې داسې کاږي : � دا سيالي په نړيواله کچه کيږي . � ځيني ځيني خو يې تر دې هم په ناوړه بڼه داسې وايي او ليکي : � دا سيالي په نړيواله کچه تر سره کيږي . � په پښتو متن کې، د کچې یا ګچې ټکی بې خونده او بې ځايه بريښي ؛ ځکه زموږ ولس هيڅکله � ګچه � یا � کچه � په داسې جوملو کې نه وايي . پښتانه وايي : � دا سيالۍ په ټوله نړۍ کې کيږي . � یا � ټوله نړۍ په دې سياليو کې برخه اخلي � .

## -يو شمېر

له څو کلو راهيسې د شمېر او شمېرو ټکي هم دونه استعماليږي، چې د چا زړه بدوي . د لوی استاد، علامه حبيبي، په عقيده � يو شمېر � د � يکتعداد � ناوړه او زموخته ترجمه ده . يو شمېر خلګ ، يو شمېر کتابونه، يو شمېر ليکوال، يو شمېر هر څه . پښتانه په هر ځای کې د� يو شمېر �کلیمه نه کاروي . ځيني کتابونه، څو کتابونه، څو خبرې، هغه ترکيبونه او عبارتونه دي، چې زموږ خلګ يې په خپلو محاورو کې وايي ( حبيبي، پښتو نثر ته کره کتنې ۲۴- ۲۵ ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی استاد، په دې اړه د خپل عالِمانه استدلال په یوه بله برخه کې داسې زیاتوي : � شمېر او شمېرل د تعدد طبیعت لري . ' یو ' څنګه شمېرل کېږي ؟ ! هغه څه چې تر یوه زیات وي، بیا یې نو شمېر ممکن وي . دا ناوړه ترجمه د انساني منطقه هم لیرې ده . � ( حبیبي، پښتو نثر ته کره کتنې ۲۴- ۲۵ ).

## -لاس ته راوړنه، لاس ته راوړني

دا ناوړه او نازېبا ترکیب هم د بهرنیېو ژبو له لارې په پښتو کې جال سوی دئ . ایرانیانو د انګرېزي ژبې د � Achievementکلیمه په � دست آورد � ترجمه کړې ده . په پښتو کې د پارسي � دست آورد � ټکي په ټکي ژباړې د � لاس ته راوړني � نامعقول او بې خونده ترکیب پیدا کړی دئ.

زه نه پوهېږم، چې د کومې پښتنې سیمې خلګ د � بري �، � بریالیتوب �،� بریا �، � سوبې �، � کامیابۍ �،� غلبې �، � پرمختګ �، � بشپړتیا � او داسې نورو په ځېر، لنډ، خواږه، اسانه او اشنا ټکي پر ېږدي؛ اوپر ځای یې � لاس ته راوړنه � وایي . د � لاس ته راوړني � مرکب نوم، نه یوازې اوږد او بد ډوله دئ؛ بلکې له منطق او عقل سره هم چندان اړخ نه لګوي . ځکه هغه څه، چې تر لاسه کېږي هرومرو بری، سوبه او ترقي نه وي . ډېر ځله داسې هم پېښ سوي دي، چې څوک له ډېرو کوښښونو سره سره ، د بریالیتوب یا پرمختګ مخ نه ویني؛ په داسې حال کې چې د انګرېزي اچیوومینټ) Achievement ( ، پارسي � دست آورد � یا پښتو � لاس ته راوړني � مجازي مانا همدغه � بری �، � بریالیتوب �،� بریا �، � سوبه �، � کامیابي �،� پرمختګ �، � غلبه �، � فتحه �، � تحقق �، � تکیمل �، � اجرأکول � او داسې نور دي .

په دې ډول، د� لاس ته راوړني � جعل سوی ترکیب نه یوازې ولسي ریښه نه لري؛ بلکې د بري یاپر مختګ له پاره وړ او موزون ترکیب هم نه دئ .

## -تشریف راوړل

د ناوړو ترکیبونو په لړ کې، یو هم د � تشریف راوړلو � ترکیب دئ، چې د پارسي ژبې له � تشریف آوردن � څخه د ترجمې په بڼه پښتو ته راغلئ دئ؛ مثلاً په پارسی کې وایي : � فلانی تشریف آورده است � ، � فلانی تشریف برده � او داسې نور . ځینې ژورنالیستان او لیکوال په تکلف او تصنع سره کوښښ کوي، چې د نامأنوسو ټکو او ترکیبونو په جعل کولو یا ترجمه کولو سره ، د چا خبره ژبې ته � ادبي � رنګ ورکړي . د دوی داسې � ادبي ژبه � نه د خلګو له سپېڅلې او خوږې ژبې سره سمون لري ؛ او نه هم په ریښتنې توګه د ولسونو د ژبو او ادبیاتو استاریتوب کولای سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د کلو او حجرو سپېڅلي پښتانه هيڅکله په خپلو خبرو او محاورو کي نه وايي، چي پلاني تشريف راوړی دئ . يا پلاني تشريف وړی دئ . پښتانه خپلو مشرانو ته د درنښت او عزت په خاطر د بابا، اکا، ماما، مشر، سپين ږيري، مور، خاله، ترور، ترله، خور، ورېنداري او داسي نورو په نامه خطاب کوي؛ او په ساده ډول وايي : � پلانی اکا راغلئ دئ . �، � پلانی ماما تللئ دئ . � او داسي نور .

که راغلئ يا تللئ شخص د هرڅونه عِلمي، روحاني او ولسي وياړ څښتن هم وي، پښتانه د هغو له پاره د درناوي او عـــــزت نورعبــــــارتــــــونه کـــاروي نـــــــه د � تشريف راوړلو � پردی ترکيب.

## -له دې څخه بحث کوو، له دې موضوع څخه خبري کوو

د هغو ناوړه ترکيبونو په لړ کي، چي له پارسي ژبي څخه پښتو ته راغلي دي، يو هم دا بې خونده او بد ذوقه ترکيب دئ، چي وايي : � له دې مسألې څخه وروسته بحث کوو � يا � له پلانیِ موضوع څخه وروسته ږغېږو � او داسي نور . په پارسي کي وايي : � ازين مسأله يا آن موضوع بحث می کنيم . � چي هغه هم له په خپل وار له اروپايي ژبو څخه ورته راغلئ دئ . دا ترکيبونه زمونږ په عامو خلگو کي نسته . هيڅ پښتون په خپلو ورځنيو محاورو کي داسي ترکيبونه نه کاروي . داسي جعل سوي ترکيبونه او عبارتونه په واقعيت کي د هغو ژورناليستانو او ليکوالو له خوا دود سوي دي، چي پارسي يا نور متنونه، په پښتو ژبه ترجمه کوي . پښتانه داسي مفهومونه په دې بڼه وايــي : � دا خبره به وروسته سپينوو �، � په دې باره کي به وروسته ږغېږو �، � وروسته دې موضوع ته راځو � ، � دا موضوع به وروسته څېړو � او داسي نور.

## -نه راځي

له هندي او اردو ژبو څخه د ناوړو ترکيبونو په ډله کي، يو هم د � نه راځي � بې خونده ترکيب دئ، چي د کوزو پښتنو په ختيزه لهجه کي خورا ډېر کارېږي . دا ترکيب په هندي او اردو کي د � آنا � له مصدر څخه اخيستل سوی دئ . زمونږ زياتره کښته پښتانه دا ترکيب ډېر وايي او ليکي : � ما له د دې کلي نوم نه راځي . � ،� ماله لامبو نه راځي . �، � ماله ټرک چلول نه راځي . � اوپه لسگونو نوري داسي جوملې، چي په پای کي د � نه راځي � ترکيب کاروي . په دې ټولو جوملو کي د ويوونکي مقصد د زده کړي يا پوهي ټکی دئ . په پښتو کي د � زده کړي � ترکيب خورا اوږد تاريخ لري . د پښتو ډېرو پخوانو شاعرانو او ليکوالو په خپلو اثارو کي دا ترکيب کار کړی دئ؛ د پښتو د عرفاني شاعرۍ ځلانده او تلپاته ستوري - رحمان بابا ( ۱۰۴۲- ۱۱۲۸هـ ق ) په يوه بيت کي داسي وايي:

اوده پروت يې دا دي نه زده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په خوا لرم سفر

بل ځای وایي:

تر میزر لاندي چا څه زده

چه دختر ده که مادر ؟ ( د رحمان بابا د دیوان خطي نسخه .)

د پښتو د نوښتګر او تخیلي شعر مخکښ - حمید بابا ( تر ۱۱۴۸ ق پوري په باوري توګه ژوندی) په یوه بیت کي وایي:

که په ځاځکي صبر زده کړې ته صدفه !

په ګوهر به دي سینه شي مشرفه ( د حمید بابا د دیوان خطي نسخه .)

په دې ډول، په پښتو کي د جوملې خوندور او سم ډول دا دئ، چي په دغه راز جوملو کي د � نه راځي � پر ځای د � نه زده کړي � یا � نه پېژندني � عبارتونه استعمال کړو؛ ځکه هم اسانه دي او هم سوچه پښتو؛ د مثال په توګه باید ووایو : � په دې ټکي نه پوهېږم . �، � د پـــــلاني نوم نه پېـــــژنم � یا � تـــول درسونه مي زده کـــــړي دي . � او داسي نور.

## -زما په نظر باندي، زما په خاطر باندي. . .

د پښتو ژبي د بېلابېلو لهجو ځیني ویوونکي په ورځنیو خبرو کي د � باندي � ټکی په بې ځایه ډول کاروي؛ مثلاً وایي : � زما په نظر باندي که پلانی کار داسي وسي . . . �، � زما په خیال باندي دا خورا ښه کار دئ . � یا � پلاني دا کار زما په خاطر باندي وکړ . � او داسي نور . که د دغو جوملو جوړښت ته پام وکړو، له ورایه ګورو چي د باندي ټکی نه یوازي کاملاً اضافي او بې ځایه دئ؛ بلکي جوملو ته یې نوره بې خوندي هم پېښه کړې ده . ښه به دا وي، چي په دغه راز جوملو کي د باندي کلیمه اصلاً استعمال نه کړو ؛ او پر ځای یې و وایو : زما په نظر که پلانی کار داسي وسي . . . ، زما په خیال دا خورا ښه کار دئ . یا پلاني دا کار زما په خاطر وکړ . او داسي نور، چي هم جوملي لنډوي او هم یې په پوهېدو کي د پېچلتیا او ګران والي مخه نیسي. دغه رنګه، په ځینو نورو جوملو لکه: پلاني پر ما باندي انتقاد وکړ. احمد پر محمود باندي برید وکړ . ستا پر ما باندي پور پاته دئ . او داسي نورو کي هم د باندي ټکی کاملاً زاید او بې ځایه دئ . له دې ټولو جوملو څخه د باندي کلیمې په ایستلو سره نه یوازي جوملې په ویلو او لیکلو کي لنډېږي؛ بلکي ماناوي یې هم تر پخوا ډېره روښانه او واضح بڼه مومي . لکه څنګه چي بزګران او بڼوال په ډول ډول بوټو او ونو کي د وچو او بې ځایه ښاخونو په پوچي کولو سره، د بوټو او ونو وده چټکوي، همدغه راز باید موږ هم کوښښ وکړو، چي په خپلو خبرو کي د اضافي، بې ځایه او پېچلو ټکو مخه ونیسو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو کې د ناوړو ترکیبونو شمېر ډېر زیات دئ . د ټولو را غونډونه او څېړنه د دې لنډو خبرو تر حوصلې وتلئ کار دئ . دلته مو د پښتو پوهو او حساسو لوستونکو ته له خرواره یو موټ وړاندې کړ، چې په دې اړه سترګې پرانیزي؛ او هر ځای ښه له بدو جلا کړي؛ خو په دې برخه کې د دې خبرې یادونه ډېره ضروري ده، چې د نړۍ هیڅ ژبه ( هستمنه یا نېستمنه) د پردو ژبو له لغوي پانګو او نورو فرهنګي ارزښتونو پرته، د بشپړتیا پوړییو ته نه سي رسېدای . ټولې ژبې د یو بل لغوي پانګو، علمي اصطلاحاتو او نورو کلتوري پرمختګونو ته اړتیا لري . پښتنو هم د تاریخ په اوږدو کې هیڅکله د پردو ټکو، عبارتونو او اصطلاحاتو په وړاندې د تعصب او دښمنۍ لاره نه ده غوره کړې . په دې ژبه کې له اوستا، سنسکریت، هندي او پهلوي څخه نیولې تر عربي، دری، تورکي او ځینو نورو ژبو پورې، د پراخو ټکو او اصطلاحاتوکاروَنه ټول د دې خبرې روښانه ثبوت دئ . د ژبې د یومخیز سوچه تابه په لار کې افراطي هڅې باید په هیڅ ډول د پردو ژبو د ناوړو ترکیبونو د شړلو له موضوع سره مغالطه نه کوو؛ ځکه د پردو ژبو دخیل او مفغن سوي ټکي په پښتني چاپېر کې، زموږ له قوانینو او دودونو سره سم ژوند کوي . په بله وینا دغه راز کلیمو او اصطلاح ګانو یا په افغاني ټولنه کې تر ډېرې ګچې پښتني جوله اخیستې ده؛ او یا په خپل نوي پښتني چاپېر کې لږ تر لږه د پښتو د ژبنیو قواعدو او ګرامري اصولو تابع دي . د دې پر خلاف، هغه څه چې د ناوړو ترکیبونو په نامه زموږ سپېڅلې او لرغوني ژبې ته را ننوزي، په حقیقت کې له هغو کسانو سره ورته والی لري، چې له پردو هیوادونو زموږ کورني چاپېر ته راځي؛ مګر په هیڅ راز زموږ ژبې، ادب، کلتور او نورو کورنیو قوانینو ته غاړه نږدي . په زور او بې شرمۍ، تکلف او تظاهر غواړي زموږ د کور ارامه او سوکاله فضا خړه پړه کړي . ناوړه ترکیبونه او عبارتونه هم په پښتو کې د قیقاً همداسې بدمرغي پاروي . د پښتو لغوي او ګرامري جوړښت ورانوي؛ د هرې ورځې په تېرېدو سره، زموږ د اصیلو ټکو او عبارتونو ځای نیسي؛ او په پای کې دسپېڅلې پښتو جنازه په خاورو کې ښخوي . له دې امله باید زموږ بیان هیڅکله د پردۍ ژبې رنګ او روح ونه لري . خبرې او نظریې باید د خپلې ژبې له صرفي او نحوي دودونو سره سمې ووایو؛ نه دا چې په پوهې یا ناپوهۍ سره، د پردو ژبو د ژبنیو خصوصیتونو پر پله پل کښېږدو؛ او ژبه له خپلې اصلي او ولسي تومني څخه بې برخې کړو . ژبه د خلګو او ولسونو تر ټولو ارزښتناک او ګران قیمته میراث دئ، باید په هغه کې له بې ځایه لاس وهنو او تصرفاتو ډډه وسي . ژبپوهان، ادیبان، شاعران، څېړونکي او پوهان ګرده د ټولني په غېږ کې سترګې غړوي؛ اود خلګو په سپېڅلې ښوونځي کې زده کړه کوي . په دې خاطر دپوهو کسانو ټولې علمي او مسلکي برياوې د هغوی د ټولنيز چاپېر زېږنده دي . پوهان او ماهران، یوازې د پخو اسنادو او پیاوړو دلیلونو په رڼا کې کولای سي، د هغو عامو او څرګندو تېروتنو په سمولو کې برخه واخلي، چې د بېلابېلو عواملو په وجه یې د خلګو په ژبه، کلتور او نورو مهمو برخوکې ځای موندلئ دئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

الفت ، گل پاچا . لغوی څېړنه . کابل : پښتو ټولنه، ۱۳۲۱.

امرخېل، څېړنوال عزیزالله، او نورو . د پښتو- پښتو تشریحي قاموس . څلور ټوکه . د میدیوتیک اوډنه او چاپ . کابل : د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۸۳ .

بېنوا، عبدالرؤف . پرېشانه افکار . کابل : پښتو ټولنه، ۱۳۳۵ .

حبیبي، پوهاند عبدالحی . آیا د ژبي واګي د چا په لاس کي دي ؟ . شل مقالې ۷. د مطیع الله روهیال ټولونه او اوډنه . کندهار : نارنج خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳. ۱- ٦.

� . ---اشرف الوزأ . � وږمه ۱ د ۱۳۵۳ ورى :۱� ۳.

. ---پخواني کلِمات او نوي مفاهیم . شل مقالې ۷ . د مطیع الله روهیال ټولونه او اوډنه . کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۳. ۵۰- ۵۴.

. ---د پښتو ادبیاتو تاریخ . دوه ټوکه . کابل : د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځۍ . ۱۳۲۵. لومړی ټوک.

. ---د پښتو ادبیاتو تاریخ . دوه ټوکه . کابل : پښتو ټولنه . ۱۳۳۸ . دوهم ټوک.

. ---پښتو او پخوانۍ آریایي ژبي او د ځینو لغاتو مقایسه او پرتله . شل مقالې ۷. د مطیع الله روهیال ټولونه او اوډنه . کندهار : نارنج خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳. ۴۵- ۴۹.

. ---د پښتو ځیني نوي موندل سوي کلِمات . کابل ۱۲اد ۱۳۵۳ کب : ۱- ۹.

� . ---د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښي . � کابل۳۱ : ۱ ( ۱۳۴۰ ) . ۲۱- ۲۴.

. ---د پښتو لغاتو د تحقیق لاري . شل مقالې ۷. د مطیع الله روهیال ټولونه او اوډنه . کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۳. ۹۴- ۱۰۳.

�. ---د پښتو لغوي تطور . � کابل ۲۷۹- ۲۸۱ ( ۱۳۲۹ ) ۱۲۷- ۱۴۷.

. --پښتو نثر ته کره کتني .کابل : د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، پښتو ټولنه، ۱۳٦۰.

. ---د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي ؟ شل مقالې ۷ . د مطیع الله روهیال ټولونه او اوډنه . کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۳. ۱۰۴- ۱۲۸.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. ---حواشی و تعلیقات پټه خزانهٔ محمد هوتک . کابل : پښتو ټولنه ، ۱۳۲۳ .

. ---زبان دو هزار سالهٔ افغانستان یا مادر زبان دری ( تحلیل کتیبهٔ بغلان ) . کابل : انجمن تاریخ کابل . ۱۳۴۳.

� . ---د ژبو مشترک کلِمات . � کابل ۲ د ۱۳۲۴ غویی : ۱- ۳ .

. ---ژبي او د تکامل قانون : آیا د ژبو سوچه کول ممکن دي ؟ شل مقالې ۷ . د مطیع الله روهیال ټولونه او اوډنه . کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۳. ۱۹۶- ۲۰۴.

� . ---قرب زبان پشتو به پارسی باستان . � یغما ۱ فروردین ماه ۱۳۳۵ . ۲۰- ۲۴.

. ---د کلِماتو مرگ او ژوند . شل مقالې ۷ . د مطیع الله روهیال ټولونه او اوډنه . کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۳. ۷۴- ۸۰.

. ---نظری به ادبیات پښتو . کابل : د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی . ۱۳۵۷.

مومند،عبدالحمید، حمید بابا. د دیوان خطي نسخه . c.11 . بریټیش کتابتون . لندن.

سربنی، عبدا لرحمان، رحمان بابا. د دیوان خطي نسخه . or 4493 . بریټیش کتابتون . لندن.

رشاد، پوهاند عبدالشکور. د پټي خزانې فرهنگ . دوې برخي . کابل : د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ، ۱۳٦۲ . لومړۍ برخه.

� . ---د خیرالبیان لیکدود . � خیر البیان د بایزید روښان، کابل : د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۳ . ۵۵ � ۸۰.

عمید، حسن . فرهنگ عمید . سه جلد، چاپ دوم، تهران : امیر کبیر، ۱۳٦۵.

لعل محمد کاکړ، او عبدالحی حبیبي . سپېڅلې پښتو . قندهار : طلوع افغان، ۱۳۱۸ .

مخلص، علي محمد. د دیوان خطي نسخه . or. 6756 بریټیش کتابتون . لندن.

معین، دکتر محمد . فرهنگ فارسی .٦ جلد. تهران : امیر کبیر، ۱۳٦۳.

هوتک، محمد معصوم. پرمعیاري ژبه دمعیارپه ژبه یوه څېړنه / www. benawa.com /. د پښتو ژبي اړوند کتابونه.

Dictionary of Legal Terms. London : Brockhampton, 1997.

Gifis, Steven H. Law Dictionary. New York, 1992.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Gilmour, Lorna, Editor. Collins Thesaurus. Glasgow: HarperCollins, 2005.

Robinson, Mairi. Editor in chief. Chambers 21st Century Dictionary. Great Britain: Chambers, Cambridge University

Press, 1996.

A Practical English Grammer , 4th ed. London: Oxford University Press, 1985. , Thomson, A. J. & A. V. Martinet

John E. English Grammar and Composition. New York: Harcourt, Brace & World, Inc. 1958. Warriner,

Wehr, Hans. A Dictionary of Modern Written Arabic. ed. by J. Milton Cowman, 3rd. ed. Beirut: Librairi du Liban,

1980.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**